

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرله پسې لمبر (۴۳)

# پښتني قبيلې

ليکوال

محقق عبداللطيف طالبي

د افغانستان جمهوريت د علومو اکاډمي

د پښتو څېړنو بين المللي مرکز

کابل ۱۳۷۰ لمريز

د کتاب نوم : پښتني قبيلې

ليکوال : عبداللطيف طالبي

د چاپ ځای : د ښوونې او روزنې مطبعه

د چاپ شمېر : ۱۵۰۰ ټوکه

مهتمم : د سرمحقق مرستيال عبدالجبار نادر

د پوهنو خطاطي د : پښتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اهداء :

د پښتونخوا نامتو او ښاغلي مؤرخ

سيد بهادر شاه ظفر کاکاخيل ته .

چې د پښتنو د تاريخ په روښانولو کې يې د قدر وړ خدمتونه کړي دي

# د عناوينو فهرست


| عنوانونه | مخونه |
|---|---|
| دلارښود استاد نظر | الف |
| تقريظونه | ج |
| دليكوال سريزه | اومړی |
| ابداليان | ۱ |
| ابراهيم خيل | ۵ |
| اپريدی | ۵ |
| اتوال | ۸ |
| اڅكزی | ۹ |
| احمدزی | ۱۳ |
| ادوزی | ۱۵ |
| ادين خيل | ۱۵ |
| اسماعيل خيل | ۱٦ |
| اسحقزی | ۱٦ |
| اكاخيل | ۱۸ |
| الكوزی | ۱۸ |
| اليزی (علی‌زی) | ۲۰ |
| الياس خيل | ۲۱ |
| امرخيل | ۲۱ |
| اندړ | ۲۲ |

| عنوانونه | مخونه |
| --- | --- |
| اتمانخیل | ۲۵ |
| اتمانزی | ۲۹ |
| اورکزی | ۲۹ |
| اورمړ | ۳۳ |
| اوریا خېل | ۳٦ |
| بابړ | ۳٦ |
| بابکر خېل | ۳۸ |
| بابی | ۳۸ |
| بارکزی | ٤۰ |
| بامیزی | ٤۱ |
| بختیاری | ٤۱ |
| بړیڅ | ٤۲ |
| بلخ یابلیخ | ٥۱ |
| بنګښ | ٥۱ |
| بنوڅی | ٥٥ |
| بیټني | ٥۸ |
| پره څمکني | ٦٥ |
| پربه | ٦٥ |
| پرملیان(فرملیان) | ٦٦ |
| پرانګیان | ٦۸ |
| پنج پای | ٦۹ |
| پسني | ٦۹ |
| پوپلزی | ۷۱ |
| پیاروخېل | ۷۲ |
| ډارن | ۱۲ |

| عنوانونه | مخونه |
|---|---|
| ټټا | ۷۳ |
| ټټور | ۷۳ |
| ترکلاڼي (ترکاڼي) | ۷٤ |
| تره خیل | ۷۷ |
| تره کي | ۷۷ |
| ترین | ۸۰ |
| تور ترین | ۸۰ |
| تڼي | ۸۲ |
| توخي | ۸۵ |
| توري | ۸۸ |
| تیج | ۹۰ |
| تیمني | ۹۱ |
| تیموري | ۹۱ |
| تیټي مده خیل | ۹۲ |
| تغر | ۹۳ |
| جبارخیل | ۹۳ |
| جدون (گدون) | ۹۳ |
| جلال زي | ۹٦ |
| جلواڼي | ۹٦ |
| جمریاڼي | ۹٦ |
| ځاځي | ۹۷ |
| ځدران | ۹۸ |
| ځمند | ۱۰۱ |
| ځمکني (ځوکني) | ۱۰۲ |
| ځو لیزي | ۱۰۵ |
| ځینزي | ۱۰۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| عنوانونه | مخونه |
| --- | --- |
| حسن خیل | ۱۰۶ |
| خاښی خیل | ۱۰۶ |
| خاکوانی دخوګیانی) | ۱۰۸ |
| ختک | ۱۰۹ |
| خدرزی | ۱۱۷ |
| خرشین | ۱۱۷ |
| خروتی | ۱۱۸ |
| خایل | ۱۲۱ |
| خوګیانی | ۱۲۱ |
| خوندی | ۱۲۴ |
| خویشکی (خیشکی) | ۱۲۴ |
| خسور | ۱۲۷ |
| داوی | ۱۲۷ |
| داودزی | ۱۲۹ |
| درانی (درانیان) | ۱۳۰ |
| درمان یاعبدالرحمن | ۱۳۲ |
| دری کوتی | ۱۳۳ |
| دفتانی (دوتانی) | ۱۳۳ |
| دلازاک | ۱۳۴ |
| دور | ۱۳۶ |
| دستورخیل | ۱۳۹ |
| دولت خیل | ۱۴۰ |
| دولتزی | ۱۴۲ |
| دینارخیل | ۱۴۳ |
| رتنزی | ۱۴۳ |

| عنوانونه | مخونه |
| --- | --- |
| رڅېړ | ۱۴۳ |
| زاخېل | ۱۴۴ |
| زمږخت | ۱۴۶ |
| زیرك (ځیرك) | ۱۴۶ |
| زیرهاڼی | ۱۴۸ |
| زیړانی | ۱۴۸ |
| ساپی | ۱۴۹ |
| سالارزی | ۱۵۴ |
| ساك (سهاك) | ۱۵۵ |
| سبری | ۱۵۶ |
| سپنلزی | ۱۵۷ |
| سپین ترین | ۱۵۷ |
| ستانکزی | ۱۵۸ |
| ستانی زی | ۱۵۸ |
| ستوریانی | ۱۵۸ |
| سدوزی | ۱۶۰ |
| سرکانی | ۱۶۲ |
| سروانی | ۱۶۲ |
| سرپپال | ۱۶۴ |
| سړبنی | ۱۶۵ |
| سلطان خیل | ۱۶۶ |
| سلیمان خیل | ۱۶۸ |
| سنتیا | ۱۷۲ |
| سنځرخیل | ۱۷۲ |
| سوری | ۱۷۳ |

| عنوانونه | مخونه |
| --- | --- |
| سیدگی (سادات) | ۱۷۶ |
| شلمانی | ۱۷۸ |
| شمل زی | ۱۷۹ |
| شیتک | ۱۷۹ |
| شیرانی | ۱۸۲ |
| شینواری | ۱۸۳ |
| طوطاخیل | ۱۸۷ |
| ادریمزی (عبدالرحیم زی) | ۱۸۸ |
| علی خیل | ۱۸۸ |
| عمرخیل | ۱۸۹ |
| عیسی خیل | ۱۹۰ |
| عیسی خیل | ۱۹۰ |
| غرشین | ۱۹۱ |
| غرغښت | ۱۹۲ |
| غلجی | ۱۹٤ |
| غوریا خېل | ۱۹۷ |
| قاضی خیل | ۱۹۸ |
| قلندرخیل | ۱۹۹ |
| قوال خیل | ۱۹۹ |
| کاسی | ۲۰۰ |
| کاکړ | ۲۰۱ |
| کرلاڼی | ۲۰۷ |
| کړوخیل | ۲۱۰ |
| کسابی | ۲۱۳ |
| کوتی | ۲۱۳ |

| عنوانونه | مخونه |
| --- | --- |
| کورم خیل | ۲۱۳ |
| ګاړی | ۲۱٤ |
| ګبری | ۲۱٤ |
| ګګیاڼی | ۲۱٥ |
| ګنډاپور | ۲۱۷ |
| ګوربز | ۲۱۹ |
| لیلی یالالی وزیو | ۲۲۲ |
| لواڼی (لوهاڼی) | ۲۲۲ |
| لودیان | ۲۲٤ |
| لودین | ۲۲٦ |
| ماکو | ۲۲٦ |
| ماموند | ۲۲٦ |
| متون | ۲۲۸ |
| متی زی | ۲۲۹ |
| محمد زی | ۲۲۹ |
| مروت | ۲۳۱ |
| مسعود (مسید) | ۲۳۷ |
| مشواڼی | ۲٤۱ |
| مشیانی | ۲٤٤ |
| معروف خیل | ۲٤٦ |
| مقبل | ۲٤٦ |
| ملاخیل | ۲٤۷ |
| ملکزی | ۲٤۸ |
| ملاګوری | ۲٤۸ |
| منډړ | ۲٤۹ |

| عنوانونه | مخونه |
| --- | --- |
| مند وخیل | ۲۵۱ |
| مند وزی | ۲۵۲ |
| موسی خیل | ۲۵۲ |
| مومند | ۲۵۲ |
| مهمن زی | ۲۵۸ |
| میاخیل | ۲۶۰ |
| میچن خیل | ۲۶۱ |
| میانه | ۲۶۲ |
| منگل | ۲۶۳ |
| ناصر | ۲۶۵ |
| ناغر | ۲۶۷ |
| نورزی | ۲۶۸ |
| نیازی | ۲۷۰ |
| وردگ | ۲۷۲ |
| وزیر | ۲۷٤ |
| هریپال | ۲۸٤ |
| هزاربز | ۲۸٤ |
| همړ | ۲۸٤ |
| هنی | ۲۸۵ |
| هوتک | ۲۸۷ |
| هود | ۲۹۱ |
| هودخیل | ۲۹۲ |
| یوسف خیل | ۲۹۲ |
| یوسفزی | ۲۹۲ |
| نتیجه گیری | ۳۰۲ |
| ماخذونـه او منابع | ۳۰٤ |

# د لار ښود استاد نظر

د محترم لطیف طالبي د دغې ډېرې مهمې پروژې په تکمیل سره د آسیا په زړه کې د یوه مهم توکم یعنې پښتنو د پېژندنې د کتاب یو بل پاڼکی ښه پر شو.

په آسیا کې به داسې توکمونه نه وي چې د پښتنو په څېر یې هم د پښتنو نسب پوهانو او مورخینو او د بهرنیو توکم پوهانو او مؤرخینو له پوې خوا نه ژوره او جدي توجه اوله بلې خوانه یې د تاریخ په پوړیو کې د نظریاتو مختلف متناوب تو پیرونه را منځ ته کړي وي. ډېر وخت دا نظر مسلط و چې ګڼې پښتانه د سامي توکمونو څخه دي د خواجه نعمت الله هروي د مخزن افغاني (۱۰۲۰ هـ. ق) نه نیولې لاتر ننه پورې د غه نظر ته افسانوي نسبلیکونه جوړ شوي، افسانوي روایات و رته خلق شوي او حتی په تاریخي ایتمو لوژیکه ژبپوهنه کې ورته د اسنادو جوړولو کوښښ شوي دي چې د کوثر صاحب طوفان او یو ریشیايي ژبې یې ښه مثالونه دي. د تېرې میلادي پېړۍ په نیمایي کې د پښتنو د سامي توب موضوع ته د پوښتنې غټه نخښه ایښوول شوه او پوهانو کښېښوده چې یا د سوالیه پوښتنې ځای ورو په ورو د چلیپا نخښې ونیو. بیا هم چانقد نمازد توکمي نوسره، چا د البانیانو سره او بالاخره چا د هندي الاصل توکمونو سره ارتباط ورکړ خو بالاخره دا وزد و څېړنو په ترڅ کې روښانه شوه چې پښتانه آریایان او پښتو یوه آریایي ژبه ده.

د پښتنو قبایلو په باب خصوصاً د لویدیځو محققینو دا اتکل بیخي په ځای ښکاري چې څه په دې خیال چې پښتانه توم ونه له سامي توکم څخه وي او څه له دې امله چې د ښوونځیو د ایجادتر وخته قلم د هغو کسانو په لاس و چې د عربي ژبې ترسلطې

لاندی وو زیات پښتنی قبایلی نوموڼه اوښتی اودعربی خوا ته راکښل شوی دی .
نواسپزی په‌یوسفزی اپریتی په‌افریدی‌لوهانی (لوهه=شوق ، اشتها)په لوحانی او داسی نورپه‌نوروا وښتی دی چی‌اوس یې د دغسی اصالت په تیرواودوېرو کی‌اچولی‌دی .
همدارنګه‌دپښتنو په با ب یوبل‌حقیقت‌هم زیاته‌څیړنه‌اوپه‌حقایقواسنادغواړی‌چی دسلیمان‌دلرغونواوسیدونکوچی‌په‌اوستایی‌عصرکی‌دسیویماز په‌نامه‌یادیدل‌اودامورګه ساکی‌قبایلوچی‌دپښتنی تولنی‌دتعمیر یوه بله‌ډیره مهمه خښته‌ده‌سره‌پوره‌توپیروشی .
ځینی کسان چی دپښتنوپه څیړ نه بوخت وواویادی داسی نظرور کوی چی پښتانه‌دخومحدودو برخوڅخه‌څ‌پاره‌شوی‌دی‌مثلاً آمومند ، ترکلانی ، یوسفزی . . . .
دغوری‌مرغی نه‌دغزنی‌اوننګرهارله لاری‌دپیښورپه وادی کی خپاره شوی‌چی هلته دمخه نه وواوپه دی توګه داهغه سیمی‌دی‌چی پښتنونیولی دی . دغه محققین ډوله دی ته نه ګوری چی لـه چایی نیولی دی ، دلتـه چی دمخه دلازاك‌پـراتـه ووهغه څوك دی .همدارنګه‌دهغوسیمو‌ډیرپخوانی اوسیدونکی سلیما نیان څوك‌وو؟ .دغو پوښتنو ته ځواب‌ورکول دیوی بلی پروژی ایجادکوی چی که ددغه مرکزدو مره توفیق په برخه شی داپروسه به هم دکوم محقق په ذریعه بشپړه کړی چی د پښتنو قبایلو تاریخی میشت ځایونه ، دایزدتاریخونه ، عوامل ، په اجتماعی ګروپونو دویش‌موجبات اوداسی نورراوسپړی .
زه چی دمحترم لطیف طالبی ددغی‌علمی پروژی لاربښودمشریم ، دغه‌اثرته په ډیره‌درنـه سترګه‌ګورم. ډیری‌پوښتنی به‌له‌محترمو لوستونکوسره پیداشی‌اودډیرو پوښتنو ځواب به هم خپله په‌دغه اثرکی خصوصاً دهغه په‌سریزه کی ومو ندل شی .
لطیف طالبی‌یوزیارکښ ، دراك‌اودڅیړنی له عهدی وتـونکی زلمی د ی دده زیاراوزحمت‌دزیاتی ستاینی‌وړدی ـ زما هم‌چی دلاربښودپه‌حیث‌څه دلاسه‌پوره‌ووپـه دی برخه‌کی می‌تری نه دی‌سپمولـی .
زه دده دغه اثردمحقق علمی رتبی ته دترفیع وړبـولم ددغی اثرد لیکلوتبریـك وركوم اوزیات بری یی غوارم .
سر محقق دوست شینواری

# تقریظ

دعلوموا کادمی دپښتو څیړنو دبین‌المللی مرکزمحترم ریاست ته!

اول- ددغې پروژې ضرورت:

انسانی ټولنه یوه متحرکه ټولنه ده. په هغې کې دزمانې په تیریدوسره بنسټیز تحولات او اوښتنې رامنځته کیږي. دغه تحولات او اوښتنې په ټولو اقتصادي، اجتماعی، کلتوري، سیاسی، دینی او هنري چارو او برخو کې پیښیږي. اجتماعی- اقتصادي تحولات او اوښتنې هغه وخت چټک او بنسټیزګا مونه اخلی چې په ټولنه کې اجتماعی انقلابات را منځته شی.

په همدې دلیل زموږ په هیواد کې هم بنسټیز تحولات او اوښتنې دافغانی ټولنې په بیلا بیلو قبیلو، قومونو او ملیتونو دهغوی په عرفونو، عادتونو، دودونو او ټولنیزو ارزښتونو کې را منځته شول. د غه اوښتنې او تحولات ډیر سریع او چټک هم دي. ټولځکه اتنوګرافیک او اتنولوجیک څیړنې په خاصه توګه زموږ د سپیڅلی هیواد په دغه اوسنی تاریخی مرحله کې داتنوګرا فرانو او نورو اجتماعی علوموپوهانو ډیره عمده د نده جوړوي. داځکه چې مخکې له هغه څخه چې زموږ دګرانو او روڼوملیتونو، قومونو او قبیلو، عرف، عادات، خوی بو نه او دودونه او اجتماعی او کلتوري ارزښتونه بدلون ومومي او له منځه لاړشی لازمه ده چې هغوي په کره او دقیقه توګه وڅیړل شی او زموږ دهیواد دویاړ نه ډک تاریخ پاڼو ته وسپارل شي:

برسیره پردې دنړۍ هروګړي په خاصه توګه ټول افغانان هیله من دي چې خپل ځان، خپله ریښه، خپل نسب او شجره وپیژنی او دخپلو او پردیو ترمنځ فرق وکړي او ځان پرې پوه کړي.

له ښه مرغه د علوموا کادمی دپښتو څیړنو بین المللی مرکز په دغه مشخص مورد کې د موقع سره سم یو اوچت او معقول ګام مخ په وړاندې کیښود او دڅیړنو

د ديپارتمنت علمي غړي محترم د محقق مرستيال عبداللطيف طالبي ته د محقق علمي رتبې ته د ترفيع له پاره د (د پښتني قبيلې) تر عنوان لاندې يې د دوه کلنه تحقيقي پروژه وټاکله چې دادي اوس بشپړه شويده او موږ او تاسو ته يې وړاندې کړې ده زه د دغه کار په موقع او ګټور عمل ګڼم.

دويم - د دغې پروژې تحليل :

ما د محترم عبداللطيف طالبي اثر له سره تر پايه پورې په دقت ولوست. ما له هغه سره له شانته کار هم وکړاو لارښوونې مې ورته وکړې. ما محترم طالبي يو پوه، متحمل او زيار ايستونکی پښتون بيا موند. زما ټولې لارښوونې يې په ورين تندي ومنلې او لازم اصلاحات او تعديلات يې په خپل اثر کې راوړل.

دغه اثر له يوې سريزې (۸ مخونو)، د مأخذونو او منابعو فهرست (٤ مخونو)؛ د قبايلو نومونه (۹ مخونو)، نتيجه ګيرې (۲ مخونو) څخه برسېره په ۳٤۱ مخونو کې ليکل شويدی.

محترم طالبي په سريزه کې د خپلې مسألې (موضوع) بيان کړې ده او د هغه حدود او ثغورې يې ټاکلي دي. په دغه سريزه کې د موضوع د اهميت بيان او د دغې تحقيقي پروژې هدفونه هم راغلي دي. برسېره پر دې، څېړونکي هڅه کړېده چې په سريزه کې ځينې سوالونه مطرح کړي چې په متن کې د هغوی له پاره ځوابونه لېدل کېږي. په بله وينا، څېړونکي په دغه څېړنه کې ځانته (فرضيې) لري چې غواړي د څېړنې په پروسه کې هغه د موجودو شواهدو او معلوماتو پر بنسټ باندې تاييد يارد کړي. په سريزه کې د ځينو عمده او مهمو کتابونو او معتبرو منابعو څخه هم يادونه شويده چې له هغوی څخه د دغې تحقيقي پروژې په اکمال کې ګټه اخيستل شويده. په دغه سريزه کې د څېړنې د ميتودولوژې يادونه هم شويده او د تحقيق هغه روش ښودل شوی دی چې د څېړنې په بشپړتيا کې ځنې کار اخستل شوی دی او هغه کتابخانه يي څېړن دوددي. څېړونکي ليکلي دي چې د هيوا د داوسنيو شرايطو له امله يې کتابخانه يي متود ځانته غوره کړيدي. نو په تأسف سره وايي چې دی قادرنه و چې د ځينې پښتني قومونو او قبايلو، خېلو او ښاخونو، کليو، باندو او استوګنځيو ته لاړشي، له نږدې نه يې وګوري او د خلکو او سپين ږيرو سره

د

څېړي وکړي اوله هغوي څخه لومړي لاس (دست اول) معلومات راغونډ کړي.

دموږ يزې څخه مخکې دپښتني قبايلو نوموونه په (۹) مخونو کې په الفبايي سيستم تنظيم شوي دي. په متن کې دقبايلو، قومونو اوخيلو نوموونه، دهغوي منشأ، دتسميې وجه، نسبي شجرې، دهغوي استوګنځي، شمېر، ځينې فوکلوري يا کې افسانې چې دځينو قبايلو منشأ ښيي راغلي او په ځنو مواردو کې دهغوي دودونه، کسب کارا وشغل څيړل شوي دي. په نتيجه ګيرۍ کې محقق په حقه سره ددغې څيړنې دښه بشپړتيا دپاره دساحوي تحقيق سپارښتنه کوي. په دغه برخه کې دمتن پر بنسټ باندې د پښتنو قبايلو دپېژندو مهمو موضوعګانو ايتنالوژيکي، حرفوي اوتجارتي خصلتونه ښيي او په پاي کې په دولړ پېشنهادونو لاس پورې کوي.

دريم- داثر ارزيابي اودکانديد ترفيع:

۱- دغه اثر په روانه پښتو ليکل شوي ده اوعبارتونه يې ابهام اوتعقيد نلري.

۲- دغه اثر دکافي فوټونوټونو اومأخذونو لرونکي دي چې په معياري او منلي شوي اصلوب ليکل شوي دي.

۳- په دغه اثر کې له مهمو اومعتبرو ومنابعو اوآثارو څخه ګټه اخيستل شوي ده.

٤- دغه اثر ديوې علمي-تحقيقي رسالې په دول سريزه، متن اونتيجه ګيري لري.

٥- په دغه اثر کې ديوه علمي-تحقيقي منلي شوي څيړنې دو ډځخه کاراخستل شوي دي

٦- دغه اثر دپښتني قبيلو عمده ښاخونه اوخيلونه او دهغوي منشأ، شجرې، استوګنځي، کسب اوشغل اوځيني دودونه ښيي.

نو داثر دپورتنيو خصوصياتو دپاره اودلوسره که چيرې محترم عبدالطيف طالبي دمحقق علمي رتبې ته دترفيع دپاوه نور ټول شرايط دعلومو دا کادمۍ د قانون او مقرراتو سره سم پوره کړي وي زه دغه اثر دهغه دترفيع دپاره دمحقق علمي رتبې ته کافي بولم اودهغه دترفيع سپارښتنه کوم.

پوهاند دوکتور الف شاه ځدراڼ

دکابل پوهنتون دعلمي چارو مرستيال

# تقریظ

د پښتو څیړنو د بین المللی مرکز محترم ریاست ته !

ستاسی د رسمی لیک په اساس می د ښاغلی عبداللطیف طالبی کښلی اثر ( پښتنی قبیلی) وکوت تردی کتنی وروسته وایم چی :

د پښتنو قبایلو څیړنه له کابو څلورسوو کالو راپه دی خوا د پښتنو نسابانو، مورخینو، دسیمی د مورخینو او هم د څینو ختیځ پوهانو له خوا را روانه ده په لس گونو کتابونه اور سایل په دی خصوص کی په پښتو، پارسی، عربی، اردو، انگریزی او آلمانی ژبو کښل شوی دی او لا په دی لاره کی نور کارونه هم پاتی دی چی د پښتو څیړنو بین المللی مرکز غوندی یوه علمی موسسه باید د دی ساحی د کارونو پاتی برخی د نوی میتود ولوژی په رڼا کی وڅیړی او تیرو کارونو ته په انتقادی نظر وگوری او داکارونه د علم له غوښتنو سره سم د تاریخی واقعیتونو پر بنا بشپړ کړی .

د تیرو کارونو انتقادی څیړنه ځکه ضرور ده چی د پښتنو د تاریخ او انسابو په زړو کتابونو کی د پښتنو دانسابو په باب راغلو خبرو کی واقعیتونه په افسانو کی داسی سره مروړل شوی دی چی د سمو او ناسمو بیلول یی سره گران کړی دی .

زموږ د پخوانیو نسابانو یوه غلطی دا هم ده چی د لومړ یو دریو اسلامی پیړ یو روحانی مشران بیتنی، سره بن او اسماعیل یی د پښتنو د زیاتو وقبایلو نیکونه گڼلی دی حال دا چی د تاریخی اسنادو په بناد پښتنو د سیاسی شهرت آغاز له اتمی میلادی سدی څخه د مخه دی نو څنگه کیدای شی چی د اولادونو د سیاسی شهرت رهبنی دی

و

یی ترا تمی هجری پیری دمخه تـللی وی او پـلرونه نیکه‌گان دی یی پـه کابولسمه هجری سدی کی پیدا شوی وی ؟

دغه پیتنی ، اسماعیل او سره بن چی پار کی یی تذکرة الاولیا او پتی خزانی راوړی دی پـه هیڅ منطقی دلیل د تېرلو موجود و پښتنـو نیکه‌گان نه شی بلل کیدای بلـکی داخلک د اسلام په صدر کی د پښتنو روحانی مشران دی چی پښتنانه احترام ورته لری . کـه فرض کړو چی موږ دغـو موجود وزیاتو وقبایلو لړی په دغو دریو تنو پوری و نښلوو نو ایا دا په زرها وو قبیلی او خیلونه چی اوس په پښتنو کی شته داگرد په دی زرو کالونو کی را پیدا شوی دی ، دومره انـکشاف یی کړی دی له افغانستانه سو بیره د منطقی په هیواد ـ ونو کی ثبت شوی دی؟

د پښتنو نیکه‌گانو بیتنی ، سره بن او غرغښت نومونه ډیر پخوانی او له اسلام نه په ډیرو دمخنیو زمانو پوری اړه لری چی نسابانو په غلطه د اسلام د صدر د زمانو خلـک بللی دی او پـه لومړیو اسلامی پیړیو کی یی د پښتنو له روحانی مشرانـو شیخ بیتنی ، اسماعیل او سره بن سره گډ کړی دی نه شیخ بیتنی بیټ نیکه دی او نه د پښتنو دومره قبایل پری پوری تړل کیدای شی .

له لوړی تشریح څخه زما مقصد دادی چی د پښتنو قبایلو د څیړنی پـه خصوص کی لا ډیر کارونه زموږ مخی ته پراته دی او ډیری مغلقی او پیچلی موضوعگانی لا شته چی موږ یی باید حل کړو . زه اوس په دا ده زړه دا ویلای شم چی د ښاغلی طالبی او نورو دغسی پروژو تکمیل ته ضرورت شته او نوری دغسی پروژی هم باید پـه کامل دقت د ساحوی ریسرچ له لـیاری بشـپړی شی. د حاضری پروژی څـا نـگړ نـی دا سی ښودلای شم :

۱ـ دا کتاب چی پښتنی قبیلو معرفی ته وقف شوی دی په دی معرفی کی د دوو سوو په شاوخوا کی پښتنی قبیلی ښوول شوی دی. دا ښوونه د غه لاندی مزایا نور هم لری :

الف ـ د هری قبیلی د نسبی اړیکو په باب څیړنی شوی دی .

ب ـ د قبیلی د او سیدو ځای او جغرافی موقعیت یی ښکی ښکاره کړی دی .

ج ـ دامکان ترحده دهری قبیلی دخیلړنو یادونه شوی ده .

۲ـ دکتاب برخونه له نسبی څیړنو سربیره دتاریخی اسنادو او جغرافیایی معلوماتو د راغونډولو او له پلوه هم په زړه پوری دی او ځینی داسی جغرافی معلومات یی هم پکی راوړی دی چی عامو څیړونکو ته یی پیدا کول ګران وو .

۳ ـ دپروژی دتحقیق میتود په زړه پوری دی ، مأخذونه او منابع یی په خپل ځای ښوولی دی له ماخذ او منابعو څخه یی دمواد و په اخیستنه کی دمعاصر تحقیق له روښانو سره استفاده کړی ده دتحقیق د روش له پلوه هم دا اثر موږ په ښو آثارو کی دروولای شو .

٤ ـ دپښتنو قبایلو د څیړنی او معرفی په باب خو په نوروژبو په ښه کتابو نه لیکل شوی دی په پښتو کی که له ترجمو تیرشو نو په دی خصوص کی تألیف شوی پښتو رسایل او کتابونه په ډیر و محدودو معلوماتو دی او یا په څو مقالو پوری محدود دیږی نو دا کتاب په خپل دغه حجم سره په دی خاصه موضوع کی په پښتو ژبه ښه او منسجم تالیف شوی کتاب دی .

٥ ـ دښاغلی طالبی پروژه د پښتو څیړنو د بین المللی مرکزله ضرور تونو سره سم د مرکزله تحقیقی پروګرامونو سره سم کښل شوی ده .

په پای کی زه ددی پروژی کارونه ښه او په زړه پوری ارزیابی کوم او ښاغلی طالبی په سوی د محقق علمی رتبی دترفیع مستحق بولم .

دپښتو څیړنو له بین المللی مرکز څخه په درناوی هیله کیږی چی له ښاغلی طالبی څخه مننه وکړی چی په یکړځان یی دومره لویه پروژه په بریالی دول سرته رسولی ده .

په درناوی

معاون سرمحقق زلمی هیوادمل

# دلیکوال سریزه

په دغه اثر (پښتني قبيلې) کې دهغه ستر ملیت په باب اتنیکه څیړنه شوې ده چې دېر لرغوني او بډای تاریخي سوابق لري او موږ یې دپخوانیو اوزړو متونو له مخې دپکهت په نامه پیژنو چې یو آریایي قوم دی او ژبه یې هم دهندواروپایي یا آریایي اویا په بل عبارت دلویدیځو آریایي ژبو په کورنۍ کې داخله او په هغو کې دباختري ژبو په جمله کې یوه ژوندۍ ادبي ژبه ده.

آریائیان دانسانانو یوه خورا مهمه دله ده چې له پیړیو پیړیو راهسې داورمدنیت خاوندان دي او دختیزاو لویدیز لوی ملتونه ددوی له پښت څخه راوتلي دي.

دآریائیانو اصلي ټاټوبي آریانا ویجه بنودل شوی ده چې دپامیر اوړې ځمکې اودآمو سرچینې وې چې د آریانا ویجه مانا دآریائیانو ځمکه یادا صیلانو او نجیبانو هیواددی.

دغه آریائي قومونه وروسته له خپل لرغوني آریانا ویجه څخه خپاره او په بخدی او باختر کې یې یو ښکلي مدنیت جوړ کړی چې ددغه لیرزد زمانه تاریخ پوهان دمیلاد څخه (۴۰۰۰) کاله دمخه اټکلوي.

څرنګه چې د زمانې په تیریدو سره ددوی شمیر زیات شو او دغه ځمکې هم ورباندې تنګې شوې نو آریایي قومونو له بخدی اویا باختر څخه ختیز او لویدیز ته سره خپاره شول چې موږ دامرکزي آریائیان پودرې برخو ویشلای شو.

۱ـ مرکزي او باختري آریائیان چې دوی دهندوکش په شمالي او جنوبي لمنو کې استوګنه درلوده اوزموږدهیواد په غرواودښتو کې سره خپاره شول چې لومړي

داباسین له څنډو د آمو او د خراسان تر دښتو پورې ددوی اصلي مرکزي هیواد و او بلخ، تخارستان، هرات، اراکوزیا، کابل، کندهار، سګستان او خراسان ددوی د مرکزي هیواد مشهوري برخې وې. دغه قبایل د مرکزي او باختري آریائیانو په نامه سره یادیږي.

۲ ـ د آریائیانو یوه بله ډله له بلخه د جنوب لوېدیځ خوا ته د هریوا (هرات) پر خوا له خراسانه تېره شوه، د پارس خاوري یې ونیولې او اوسني ایران یې تشکیل کړ چې دوی د میلاد څخه د مخه په ایران کې د ماد په نامه سلطنت جوړ کړ.

د آریائیانو دریمه ډله د باختر او هندکش له شا او خوا څخه د کابل، خیبر او نورو لارو څخه تیره شوه او د اباسین او ګنګا تر منځ یې یو ځلانده مدنیت جوړ کړ. د د غو هندي آریائیانو لیږدیدنه هم له څوارلسم قبل المیلاد پېړۍ څخه پیل کیږي.

ددوی یو مشهور دیني کتاب (ویدا) تر اوسه پورې پاتې دی چې د آریایي قومونو په تاریخ کې ډېر اهمیت لري. دغه کتاب چې د میلاد څخه (۱٤۰۰) کاله د مخه لیکل شوی دی د پښتون قوم د پیژندنې په باب بې ګټې نه دی.

په دغو آریایي قبیلو کې موږ یوازې د پکهت د قبیلې سره سر او کار لرو چې نوم یې په ریګویدا کې راغلی دی او دا څرګندوي چې دا اولس د میلاد نه (۱٤۰۰) کاله پخوا هم موجود و. په ویدا کې پکتها د پښتنو د پاچا په ډول او د پکهت د قوم نوم ځو ځایه او په پرله پسې او مکرره توګه راغلي دي چې دلته د مثال له پاره د ویدا ځینې فقرې او جملې راوړو چې په هغو کې د پکهت = پښتون نوم یاد شوی دی.

«ای اندرا! ته ډېر لوی یې له تا څخه غواړم چې موږ ته پیروري غواړي راکړې لکه مدهه پاتې تیا او نیپاتې تیا (ددوو شاعرانو نومونه دي) ته چې دې ورکړې دي هغسي چې د کنوا تېر او د تراسادسیو شهزاده او پکته او داسا و راجاته دې چې ورکړې دي.»

پاد ویدا په یوه بله سند ره کې چې راغلې دی:

«ای اسونانو! پر خپلو جنګیالیو سپاره شئ، پر خپل طلایي پلاز کښینئ ای هغو خلکو چې تاسو بډایان یاست هغه مرستې چې تاسې د پکته او دریګو سره

دوهم

وکړی نو بابهرو له خپلو دوستانو څخه بیل شو.»

په پورتنیو دوو مثالونو کې د پـکهت نوم په ځرګند ډول ذکر شوی دی.

هغه وخت چې دپـکهت قبیله دخپل لومړنـی لیږد پـه وخت کـې د هنـدوکش سهیلې برخې ته راکوزه شوه نوورووروداریاناپه جنوب ختیزوسیمو کې میشته شول چې ددوی‌سیمه‌په‌پـکتیا، پښتیخا، پختیښا، پښتنخا، پښتونخا او پښتونخوا په‌نومونو سره یاده‌شوه لـکه چې دیونان مشهورمورخ هیرودوټ (٤٨٤-٤٢٥.م)هم پخپله مشهوره جغرافیا کې‌دپښتوذکر کړی‌او دپښتنوهیواددپـکتیکا په‌نامه‌یاد وی‌چې داندوس پرغاړه واقـع دی او خلک یـې ډیرغښتلی اومیړنی دی.

دیونان یوه بل جغرافیالیـکونـکی بطلیمـوس کلودیـوس هم دپـښتنـوهـیـواد «پـکتین» یاد کړی دی.دی وایی چې پـکتین دپاروپامیزاد جنوب ته‌دی او داځای دپـکتیانو‌اصلی مسـکن دی.

بطلیموس چې ترهیرودوت راوروسته د دوهمې میـلادی پیړۍ پـه لـومړۍ نیمایـی کې‌ژوندی و په‌ځرګنده توګه دپښتنوهیوادراښیي‌او داځینې ښـکاري چې‌په دغه وخت کې هم دپښتون شهرت په نړۍ کې ډیرو اودا قوم هرچاپیژانده. داسلام په‌اوایلو کې دپښتنودهیوادپه باب بارتولـد وایـی:

سلمانانساردانو ردوهم پاچاپه (٨٤٢ ـ ق. م) یوه مخروطی ستنه جـوړه کـړې وه چې پرهغې ستنې تراوسه دبختي‌اوښانو انځورونه‌شته او د پارس دتخت جمشید په ډیرلیلک کې هم دوی ددغه بختي اوښه سره لیدل کیږی چې دلته دبختـی څخـه مقصد دپښت کلمه ده چې پښتنو باندی اطلاقیږی. (١)

دپښت، پخت، پـکتیکا، پښتیخا، پختیخا، پښتنخا، پښتونخا او پښتونخوا نومونه‌دپښتوپه کلاسیـکوادبیاتو کې‌هم‌ار غو نتوب لری چې په دغه باب اومړنی اثرد ښکارندوی‌غوری (٦٩د-٦٠٢ هـ. ق) قصیده ده چې هلته دپښتو نخا په لیلک دود راغلی دی.لـکه‌چی‌وایـی:

(١) عبدالحی حبیبی، دپښتو ادبیاتوتاریخ، لومړی تـوک ١٩-٤٧ مخونه.

پښتو نخا ښـکلي زلمي چې زغلي هندته

نږ اغليه پيغلي کاندي اتښونه(۱)

همدارازدسليمان ماکوپه تذکرة الاولياء کې دغه کلمه دپښتنخاپه بڼه راغلي ده لکه چې وايـي :

«په سن دولس شپږسوه دهجرې تللي وم اودپښتنخا په راغواوکليوگرځيدم اومراقد داوليااوواصليونومې پلټل» (۲)

همدا رازدپټې خزانې په سريزه کې دپښتنخااودباباهوتك (۶۶۱-۷۴۰ه.ق) په اشعاروکې هم درې ځايه د(پښتونخوا) په ليك دودراغلـي دی(۳).

همدارازنوردا سې ډيرمثالونه په لاس کې لروچې زموږدپورتني ادعاوولـه پاره ښه ثبوت کيدای شي.

وروسته تـرهغه چې توليدی قواووپرمختګ وکړله بلې خـوا دغوپښتنـو پـه شميرکې زياتوالي راغی نوددوی يوشمير ډلي په غوراودسليمان پرغرونواوهم ددوی ګڼ شميردهيوادپه بيلا بيلوبرخوکې ميشته شوی. همدارازيوشمير پښتانـه په ديارلسمه عيسوی پيړی کې دغزنی، پيښور، کوهاټ، بنواو کابل په شاوخواکې ميشته شول اوحتی ځينې يـې يـې داوسنې پاکستان نه تيرشول او دهند په پراخو اوارتوورشو- ګانوکې ترېنګاله پورې ورسيدل چې دد غو پښتنو له جملې څخه يـې ځينو په هندکې پياوړې پښتني دولتونه جوړکړل چې دسور يانو، لودیانو، غلجيانو اوکړلا نيو دولتونه دهندپـه تاريخ کې مشهوردی.

پښتنوچې دتاريخ په بيلابيلوپړاوونوکې يې بيلابيل قبيلوی جوړښتونه درلودل په عنعنوی توګه په لاندنيوپنځوسترو توانيزوګروپونوويشل شوی دی چې دغه پنځه سترې ډلې عبارت دی له :

۱ - غرغښتي پښتانه :

---

(۱) محمدهوتك پټه خزانه، داديباتواوبشری علوموپوهنځی د کابل پوهنتون، ۱۳۵۶ کال-۲۷مخ.

(۲) سليمان ماکو تذکرة الاولياء ۱۹ مخ

(۳) محمد هوتك بن داود، پټه خزانه ۵ -۶ مخونه .

شلورم

۲- سربني پښتانه.

۳- کرلاڼي پښتانه .

٤- بيټني پښتانه :

٥- متوزي پښتانه چې غلجي اولودي، پښتانه تري مقصددي :

دغه پنځه ډلې په ډيروښاخونو، څانګواوخيلونو باندې ويشل شوې دي چې په متن کې دهريوه تو لنيز ګروپ په ښاخونو، څانګواوخيلونوباندې بشپړاومفصل معلومات وړاندې شوي دي :

که څه هم دپښتنوقبايلوپه باب دهيوادپه دننه اودهيوادڅخه بهرداوږدوکالونو راهيسې څه ناڅه څيړنې رواني دي، خودغه څيړنې په ټيټ اوپرك ډول سرته رسيدلې دي اومنظمه بڼه نه لري : په دغه برخه کې ځينوپښت پوهانو( نسب پيژندونکو) تريوه حده پورې کار کړی دی چې زه دمثال په توګه دپټې محمد حيات خان د تاريخ حيات افغاني، دحاجي زردارخان ناغودصولت افغاني، دشيرمحمدخان ګنډا- پوردتواريخ خورشيد جهان ، دسيدبهادرشاه ظفر کاکاخيل د پښتانه د تاريخ په رڼا کې ، دحافظ الملك نواب حافظ رحمت خان بريخ دخلاصة الانساب او ځينونوروکتابونويادونه کوم چې تريوې اندازې پورې يې په د غه برخه کې رڼا اچولې ده ، خودوی کارمنظمه بڼه نه درلوده.

ماپه دغه پروژه کې دساحوی ريسرچ (څيړنې ) دامکان دنشتوالي اومحدود- يتونوسره سره هڅه کړې ده چې زموږدګران هيواددیوه ستر مليت يعنې پښتنواود هغوی داتنوګرافيکوخصوصياتوپه باب هراړخيزه څيړنه وکړم. څرنګه چې د پښتوڅيړنوبين المللي مرکزدپښتنودفرهنګ، ادب، تاريخ او اتنوګرافۍ په با ب څيړنې کوي نوله دې کبله دپښتنې قبيلې هم يوله هغوعمده اوغوره پروژوڅخه دی چې په هغې کې دپښتنوبيلابيلې قبيلې، خيلونه اوڅانګې، ددوی داستوګنې ځايونه ، شميراوترممکنې اندازې پورې دودونه پيژندل کيدای شي اوڅرنګه چې د نوي عصردبداون سره سم زاړه قبيلوی مناسبات له مينځه ځي نوله دې کبله چې د پښتنې

پنځم

قبیلو نومونه او تاریخي پس منظر څرګند ي پاتې شوي وي نو دا کار ګټور او ګټمنل شو او دیوې علمي - تحقیقي پروژې په توګه تر لاس لاندې ونیول شو.

که څه هم تر زیاتې اندازې پورې د پښتني د قبیلو د بشپړ و لو له پاره د اخیر نه په کتابي او کتابخانه یي تحقیقاتو او پلټنو ولاړه ده خو د دغو هغو موادو څخه چې ساحوي ریسرچ پرې شوي دي هم ګټه اخیستل شوې ده او د هغو موسسو څخه هم مرسته غوښتل شوې ده چې په غیر مستقیمه توګه د دغې پروژې مواد برابروي.

د غه اثر د الفباء په ترتیب منظم شوی او تقریباً د(۲۰۰) پښتنو او خواکې د هغو قبیلو ذکر پکې شوی چې په لره او بره پښتونخوا کې اوسیږي. همدا راز د دغو قبیلو څیړنه د پښتو پښتني تړلنیز و ګروپونو په چوکاټ کې ترسره شوې ده. په همدې ډول هڅه شوې ده چې د دوی د نسب شجرې هم ذکر شي چې په دغه باب د ځینو قبیلو د سپین ږیرو او مشرانو سره د نږدې څخه اړیکې نیول شوې دي همدا راز د پښتني کوچي قبیلو ذکر هم په کې راغلی دی او تر ممکنې اندازې پورې د قبیلو د تسمیې وجه هم په پام کې نیول شوې ده. که څه هم په پښتني قبیلو کې دا نومونه اکثره یا د اسلامي دورې دي یا پخوانې نومونه په اسلامي نومونو بدل شوي دي خو یو شمیر داسې نومونه هم شته چې بشپړه توګه یې د آریایي دورې جوړښت ساتلی دی . په دغه لړ کې داسې نومونه هم شته چې تر اوسه پورې نه دی معلوم چې ریښه یې په کومې ژبې پورې اړه لري او غالباً به دا هغې اریایي ژبې سره اړه لري چې باختري ژبې یې زیږولې دي . البته دا خبره باید سرسري و نه بلل شي چې د قبیلو نومونه په تصادفي ډول نه دي ایښودل شوي بلکې مسئله په دې برخه کې ډیره ژوره او جدي ده. د هر خیل او پښې نوم ځانته اساس او فولکلور لري او د غه نومونه په ایتمولوژیکه ساحه کې ځان ډیرو لرغونو زمانو ته رسوي :

همدا راز په پښتني قبیلو کې د نړۍ د نورو قبیلو څیر د وینې خپلوي هم سپیڅلې بلل شوې ده او خپل قدسیت یې تر اوسه پورې په خپل پخوانۍ بڼې سره ساتلی دی. په پښتني قبیلو کې د وینو خپلوي په بشپړه توګه پالله کیږي او داپالنه د پلار -

شپږم

واکي دزواَبطو تابع ده يعنې د پلار خپلوان چې د تربرونو په نامه يا دېږي يو له بله سره د وينې خپلوان ګنل کېږي او هغه کسان چې د وينې خپلوۍ سره اړی نه دوي دغې اخيستلو په وخت کې د ام کلنيت پوغاره لري چې د وينې د شريک والی نښه وکړي.

د پښتنو د قبيلو اړيکو په ساحه کې خپلوۍ مهم رول لوبوي يعنې يو خيل د بل خيل سره د خپلوۍ له کبله سره نږدې کېږي لکه په ځينو مواردو کې د يوه خيل د ښځې د بل خيل زارينه وو ته واده شي يا ددوو خيلو نو تومنځ د يرې ښځې سره واده شوي دي. نو پر دغه اصل ديوه او بل خيل تومينځ دخپلوۍ مزي سره ټينګ شي.

په همدې توګه په پښتني قبيلو کې د قبيلوي تشکيلاتو دريم اصل ګوندي رابطه ده. ګوندي د قبيلوي تشکيلاتو يو خاص سيستم دي په دغه سيستم کې خيلونه پرته له دې چې دخيل يا ټبر نسبي اړيکي په نظر کې ونيسي په هغه کې داخليږي چې دوي دغې اتحاد يې ته ګوندوايي لکه په کرلاني پښتنو کې تر اوسه پورې هم د تور او سپين او ګاړي او سمل په نامه ګوندونه موجود دي. په پښتنو کې خو واره ګوندونه بيخي زيات حاکم دي.

څلورم اصل چې د نږې په ټولو قبايلو کې مشترک مفهوم لري هغه الحاق يا ادغام دي چې په څه توګه خيلونه يو بل سره ګډيږي او په پښتني خيلونو کې داعرف د يو مثالونه لري لکه چې خيشکي، مهمنزي او اتمان خيل سره الحاق شوي دي يا د جدون قبيلې د سالار او منصور ځانګي چې د غو غښتو څخه بيلې شوي او د يوسفزيو سره ملحقې شوي دي او داسې نور ...

په دغه خيرنه کې ماد يو شمير معتبرو مأخذونو لکه حيات افغاني، صولت افغاني، تواريخ خورشيد جهان، پښتانه د تاريخ په رڼا کې او همداراز د قومونو او قبايلو وزارت ديو شمير چاپ شوو کتابونو څخه ګټه اخيستې ده، خو بيا هم څرنګه چې د ساحوي ريسرچ امکان زمينه برابره نه وه نو ښايي ځينې نيمګړتياوې په دغه خيرنه کې موجودې وي. هيله من يم چې زما دغه اثر په د هغه محققينو له پاره چې د پښتنو د قبيلو د پېژندنې په باب څيړنه کوي څه ناڅه مرسته وکړي:

اووم

په پای کې زه د خپل لاربنود استاد ښاغلي سرمحقق دوست شینواري څخه د ده د علمي ارزښتمنو لارښوونو څخه چې ماته یې دغې علمي پروژې په برخه کې کړي دي شکریه اداکوم. همدارازپه خپل وار سره د کابل پوهنتون علمي مرستیال ښاغلي دوکتور الفشاه محمد راڼ او ښاغلي د سرمحقق مرستیال زلمي هیوادمل د هغو علمي مرستو ستاینه کوم چې زما سره یې د دغه کتاب د لیکلو په برخه کې کړي دي .

په درناوی

عبداللطیف طالبی

د پښتو څیړنو د بین المللی مرکز

د ریسرچ دیپارتمنټ غړی

اتم

PROPERTY OF ACKU 3526

# ابدالیان

ابدالیان دافغانستان په تاریخ کی یو دیر نامتو تبردی چی دنامه ریښه یی د(۴۰۰م) شاوخوا کی مهین پوستی آریایی قبیلی ته چی ابتل (Aptal) یا أهپتالی ئومیږی رسیږی چی دغی قبیلی په باختر او تخارستان کی یوغښتلی دولت جوړ کړی او د برتانوی دایرة المعارف په استناد مورخانو یی نوم ابدلوی هم راوړی دی (۱) چی په تاریخونو کی یی بیلابیل شکلونه هپتل (اودل) = ابدل = یفتل ضبط دی.

دابدال په باب زیات افسانوی روایات هم شته چی دلته یی اخیستل بی ځایه له دی: روایتونه وایی چی داسلامی دوری په تاریخ کی لومړی نامتو سړی چی د (ابدال= اودل) په نامه یاد شوی دی دپښتنی قبیلو مشهور نیکه دی چی د خپل نامتو کهول سره دسلیمان په غره کی اوسیده. دی دترین زوی، دشرخبون لمسی اودسړبن کړوسی دی اودده نوم په پښتو ادبیاتو او پخوانیو نسخو کی (اودل) اود جمع منسوب په صورت (اودلی= ابدال) ضبط دی چی د (۴۴۰ه) یا(۱۰۴۸م) کلونو په شاوخوا کی یی پښتانه قبایل پرځان راټول کړی وو اودده له ترکمه ملک سلیمان دعیسی زوی چی په زیرک سره مشهور و پښتنی قبیلی د سلیمان له غره څخه د کندهار سیمی ته بوتلی او هلته یی میشته کړی اودخپل ژوند په پای کی یی خپل زوی ملک بارك پرمشری کښیناوه اوتر بارك وروسته د زیرك بل زوی ملك پوپل خپل نفوذ ( داوسنی بلوچستان ) ترشال اوژبه پوری ورساوه اودپنځه شپیته کالو ترمشرتوب وروسته د (۸۹) کلونو په عمر مړ شو.

---

(۱) عبدالروف بینوا، دافغانستان نومیالی، لومړی ټوك ۳۴مخ .

داسې فولکلوري روايتونه هم شته چې په لومړي سر کې دابدال نوم بل څه و، خو کله چې نوموړی دخواجه احمد ابدال چشتي حضور ته ورغی او دهغه خدمت ته یې ملا وتړله نوهغه دابدال لقب ورکړ چې دهغه ورځې څخه په دغه نامه سره مشهور شو چې اولاده یې دابداليانو په نوم سره يادېږي او پښتانه په خپلې ورځنی محاوره کې ابدال داودل په نامه سره هم يادوي (۱) خو دا روايت افسانوي ارزښت لري.

داسې روايت هم موجود دی هغه وخت چې دابدال دپلار ترين دمړيني وخت نژدې شو نو ويې غوښتل چې دخپلو دريو زامنو دجملې نه يعنې (ابدال، سپين او تور) له جملې څخه يوه تن دخپل ځای دنيولو له پاره و ټاکي همدا وو چې دتور او سپين د خپګان سره سره يې ابدال په خپل ځای وټاکه.

په (پښتانه د تاريخ په رڼا کې) ليکل شوي دي چې ابدال يا اودل د (۴۲۰ هـ) کال په شاوخوا کې ژوند کاوه.

ويل کيږي چې دابدال ترمړيني وروسته رځړ دخپلې کورنی مشر شو او ده دخپلو زامنو د جملې څخه خپل مشر زوی عيسی په خپل ځای وټاکه.

دعيسی دزامنو له جملې نه سليمان تر ټولو يوه او هوښيار سړی و نو ځکه دی په (زيرك) سره مشهور شو چې تر اوسه پورې هم پښتانه هوښيار سړي ته ځيرك وايي. که څه هم عيسی دميرك په نامه مشر زوی دراود، خو سليمان يې د هوښياری له کبله په خپل ځای وټاکه. د زيرك په څلورو زامنو کې مشر بارك نو ميده او پلار دې دکورنی مشر وټاکلی و خو څه موده وروسته مشري دپوپلزو لاس ته ورغله. (۲)


احمد شاه ابدالي چې دپوپلزيو دښاخ دسدوزو دخانګي څخه و د (۱۷۴۷) نه تر (۱۷۷۳) ع کاله پورې يوه او يه امپراتوری جوړه کړه:

درانيان چې دسړبن په ټولنيز ګروپ پورې اړه لري په دووسترو خانګو يعنې ځيرك او پنج پای باندې ويشل شوي دي چې شجره يې په لاندې ډول ده:

---

(۱) محمد حيات خان ،حيات افغاني ، دلطيف طالبي او فرهاد ظريفي ژباړه دقبايلو نشرات، ۱۳۶۲ کال -۲۰۶ مخ

(۲) حيات افغاني ۲۰۶ - ۲۰۷ مخونه .




دابدالیو کورنی د(۱۷۴۷م) نه تر(۱۸۱۸م) پوری(۱) په افغانستان باندی حکومت وکړ چی وروسته بیا حکومت بارکزیو او د هغو د یوی څانګی محمدزیو په لاس کی و(۲).

## په ملتان کی میشته ابدالیان :

هغه ابدالی پښتانه چی د کندهار له شا اوخوا څخه یی مهاجرتونه کړی دی او په ملتان کی میشته شوی اوس زموږ په زمانه کی د ملتانی پټهانانو یا افغانانو په نامه یادیږی . په دوی کی هم د نورو پښتنو په شان د (زی) او (خیل) کلمه موجوده ده . په تاریخ کی ملتان ته د ابدالیانو تګ پوره معلوم نه دی . خو د ځینو شواهدو له مخی داسی عقیده څرګندیږی چی دوی ملتان ته د هند د مغولی واکمن عالمګیر اورنګزیب او شاه عالم په وخت کی تللی دی . داسی روایت هم موجود دی چی د ابدالیانو څخه لومړی ځل په ملتان کی د جمندیازمند ښاخونه میشته شول او کله چی دغه پښتانه ابدالیان ملتان ته وکوچیدل هلته په رانګپور ګهریان واله کی میشته شول دوی به د تجارت له لاری خپل ژوند تامیناوه . د ابدالیانو هر ښاخ چی په ملتان کی میشته و ځان ته یی بیل بیل خانان درلودل . کله چی په ملتان کی د ابدالیانو شمیر زیات او پیاوړی شو نو د ځمندله ښاخ سره یی د زراعتی مسلو له کبله شخړی رامخ ته شوی او په پای کی

(۱) شیر رحمن دور، معلومات مختصر در باره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور، ۹۴ مخ.

(۲) سید بهادر شاه ظفر کاکاخیل، پښتانه د تاریخ په رڼا کی، لاهور ۱۹۶۵، زمانه پرنټنګ پرس ۱۲۸۱ مخ.

د دوی ترمنځ خونړی جګړی و شوی اود څمندپر ښاخ بریالی شول اود جمند یا(زمند) ښاخ ډیر خلك ووژل شول پاتی یی له ملتان څخه وایستل او په دغه ځای باندی ابدالیانوخپله قبضه ټینګه کړه . کله چی د دغو پیښوخبرو ډیلی دربارته ورسیدنوله هغه ځایه یی دابدالیانودخارجیدوفرمان صادر کړ هغه وخت چی د ابدالیانو دغه خبرواوریدنوهلك پلك شول . ددی خپل دری ننه استازی دډیلی پاچادربارته واستول او هلته یی دخپلو گناووعفوه وغوښتنه دډیلی پاچادو مره نرم شوچی ددوی په کور نیو باندی یی تیری بند کړ ، خوابدالی خانان اومشران یی تر دویم امره پوری بندیان کړل :

کله چی په دکن کی موهټه وواونورود مغولی دربارپر ضد په ښځا وت لاس پوری کړ اوخوځله یی مغولی لښکروته ما تی ور کړی نوپه هغه وخت کی د ابدالی قبیلی قیدیا نوله بندی خا نی نه دوتلوغوښتنه وکړه چی دوی ته ددی زمینه برابره کړی چی د مرهټه وواونوروباغیانوسره وجنګیږی هماغه وچی دوخت د ضرورت اوغوښتنی په اساس ددوی غوښتنه ومنل شوه اود یوه پوځ په ملګرتیا ابدالیا ن هم د دکن خوا ته لاړل اوپه نوموړوجګړوکی یی له ځا نه دومره زړورتیا اومیړانه وښوده چی مغولی و اکمن له هغوی نه خوشحاله اودوی ته یی د پرخلعتونه او بخشونه ورکړل اوبیا بیرته ملتا ن ته ستا نه شول چی له هماغه وخته دغه خلك زمکه وال اودملتان په ښا او خواکی د جا یدادونو اوځمکوخاوندا ن دی :

دنواب مظفر خان په دوران کی چی دملتان ډیر مشهور نواب ودلاهوروالی رنجیت سنګه په ملتان باندی تسلط وموند اونواب مظفرخان شهید شو. په ۱۸۷۵ بکرما جیتی کال کی سکانو په ملتان باندی تسلط ټینګ کړ اوهغه پښتانه چی دسکانو له عام قتل څخه خرندی پاتی شوی وو له ملتان څخه ولیږدیدل اودنواب محمدخان بهادر خیل سدوزی سیمو یعنی منکیرا اوبکهورته را غلل او کله چی منکیرا درنجیت سنګه لاس ته ور غله هغوی په دیره جاتوپه تیره بیا په دیره اسمعیل خان کی میشته شول (۱)

(۱) حیات افغانی ۲٤۱ مخ .

# ابراهیم خیل

زموږ تر کم پوهان ابراهیم خیل د غلجیو پښتو له تولنیز گروپ څخه شمیري ددوی زیات شمیر د کابل ولایت دپغمان په او لسوالي، دورد گوولایت د میدان ښار په شاوخوا دپکتیاولایت دگردیزښار په سهیلي برخه اود افغانستان په ځینونورو برخوکی استوگنه لري.

دلغمان ولایت دقرغیو په اولسوالي کی هم یوشمیر ابراهیم خیل استوگنه لري چی شمیر یی په نوموړي ولایت کی د مرکزي احصائیی د ۱۳۶۰ کال داحصا یی له مخی د (۱۷۱۹) تنو په شااو خوا کی ښودل شوی دی

داسی ویل کیږي چی ابراهیم خیل دسلیمان خیلو دقبیلی یو څانگه ده (۱)

# اپریدی

دوی د کرلاڼ په تولنیز گروپ کی شامل دی . دیوه افسانوي روایت مطابق داپریدو د مشر نیکه نوم عثمان وچی دیوه واقعی په وجه په اپریدي سره مشهور شو. حقیقت دادی چی دایوه دیره پخوانی او مشهوره قبیله ده چی د(۵۰۰) ق . م په شا او خوا کی یونانی مؤرخ هرودوټ چی د پښتنو دڅلورو قبیلو ذکر کړی دی په هغو کی دیوی قبیلي نوم « اپری ریتی » هم یا دشوی اودا اپری ریتی کلمه داپریدي سره دفقه اللغت په اساس مطابقت موندلی شي (۲)

اپریدي په خیبر دره ، کوهاټ اوتیرا کی میشته دی. ددوی دختیځ خواته پوله د ختکو سره لگید لی ده، جنوب ته یی اورکزي او بنگښ اود سپین غره څوکی، لویدیځ ته یی شینواري اوشمال ته یی دمومندو سیمه پرته ده .

---

(۱) معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل ولایت سرحدی کشور، د ۱٤ مخ چارت.

(۲) پښتانه دتاریخ په رڼاکی، ۱۳۷۸ مخ .

دخیبر دری په استوګنو قبیلو کی اپریدی ډیر زړورا و توریالی خلک دی.
دوی په هروخت کی داستعماری ځواکونو پرضد پراخه مبارزی کړی دی.
په اوسنی وخت کی داپریدیو قبیله په اتومشهورو ښا خونوبانلی ویشله شوی
چی هر یو ښاخ یی دیری ځانګی لری اوهغه دادی:

۱ـ ملک دین خیل: چی په باړه، میدان، شولوبر، تند، چوره، کجوری،
خیبردره اوشدلی کی استوګنه لری:

۲ـ قنبرخیل: په کاهودره، شولوبر، ناوه، برشولوبر، باړه او کجوری کی میشته دی

۳ـ کوکی خیل:

په دوه توری، تورځپری، راجګل، مخ رنی، لاله چینه او دجمرود نه تر
علی مسجده پوری اوسیږی.

٤ـ زخه خیل:

دخیبر په دره، ځپری کدو، بازار، الچه، کرمنه، پراګک، بنکو، شنه کمر،
توره ویاله، بوکار، سنده پل اوشدلی کی استوګنه لری.

٥ـ سه پای:

په باړه، ترخوکښ، سنده پل، لګړی او کجوری کی اوسیږی.

٦ـ کمر خیل:

په ګړی، ځاوخ، تخته کی، غلام علی، بغری، وچ پل، چهل ګزی، میرو
دره او کموزی کی استوګنه لری. (۱)

۷ـ اکا خیل:


په باړه، ګلی خیل، وران، کجوری او داکاخیلو په میره کی او سیږی.

۸ـ آدم خیل:

په اخوردره او میدان کی اوسیږی. داپریدیو قبیله په عمومی توګه په یوه

---

(۱) اضلاع، ایجنسی ها وقبایل ایالت پښتونستان ۵۹ـ۶۰ مخونه


اپریدی
ملک دین خیل
کمبر خیل
کوکی خیل
زخه خیل
سپای
کمرخیل
اکاخیل
آدم خیل
دولت خیل
عمرخیل
عبدالخیل
موتاخان
سکندرخیل
ورزخیل
بابکری
سلطانخیل
مدوخیل
کمال خیل
میری خیل
شیخ مل خیل
وند
دری پلاری
بوبی
شاخیل
نصرالدین
مغل خیل
دری پلاری
خدیداد خیل
شراکی
ککی
حسین خیل
اشوخیل

غرني سیمه کی ژوندکوی دغه قبیله په دوواداری واحد ونوکی تنظیمه شوی ده یوه دخیبر ایجنسی چی اکثریت یی اپریدی دی او په ۱۹۶۱ ع کال کی ددوی شمیر (۲۷۵۳۱۲) تنه ښودل شوی دی .

بله دکوهاټ په ضلعه کی چی هلته آدم خیل اپریدی استوګنه لری اوددوی تخمیني شمیر (۳۹۸۷۵) تنه ښودل شوی دی . همدارازپه آدم خیلوپوری مربوط بله یوه څانګه حسن خیل د پیښور په ضلعه کی استوګنه لری او په ۱۹۶۱ م کال کی ددوی شیمرد (۲٤۰۰۰) زره تنوپه شاوخوا کی ښودل شوی دی. (۱)

دلنډی کوتل، باړه، جمرود او اخوردری تجارتی مرکزونه داپریدیو په سیمه کی موقعیت لری اودغه خلك زیاتره په تنګودرو اوغرنیو سیمو کی استوګنه لری.

ددوی د کرنی ځمکی ډیری نه دی، نو ځکه اکثره د کابل او پیښور ترمینځ په سوداګری بوخت دی .

ددوی تر مینځ دوه قبیلوی فراکسیونونه (ګوند ونه) موجود دی چی دسمل اوګاری په نامه سره یادیږی: ملك دین خیل، ذخه خیل، اکاخیل، سپاه اوکمر-خیل په سمل ګوندی اوکمبرخیل اوکوکی خیل په ګاری ګوندی اوآدم خیل په کوم قبیلوی فرکسیون پوری اړه نلری .

په عمومی توګه داپریدیوسیمه په څلورو جغرافیایی برخوویشلی شوی ده چی دخیبردری، دبازاردره، داخور دری اود پیښور د ضلعی اودخیبردغرو نودلړی ترمنځ میدان څخه عبارت دی (۲).

## اتـــوال

ځلجی پښتانه اوپه اندړوپوری یوه تړلی څانګه ده چی زیات شمیریی دزابل دولایت ددای چوپان په اولسوالی کی استوګنه لری اوشمیریی د ۱۳۶۰ کال

(۱) اضلاع، ایجنسی هاو قبایل ایالت پشتونستان ۶۰ ر ۶۱ مخونه .

(۲) اضلاع، ایجنسی ها وقبایل ایالت پښتونستان ٤۱ مخ.

د مرکزی احصاییې د شمیر په اساس د (۱۸۵۰۰) تنو په شا او خوا کې ښودل شوی دی (۱) په پخوا وختونو کې د دوی زیات شمیر کوچیانی ژوند دراود. دوی به د موسی خیلو اندړو سره یو ځای دمنی په موسم کې د ناور او مالستان له غرونو څخه شلګر او قره باغ ته راښکته کیدل او اوس ددی ځای په بدل د کندهار خوا ته لیږد کاوه . (۲) خو اوس دوی زیاتره کلیوالی ژوند غوره کړی دی .

## اڅکزی

د پښتنی قبیلو په لړکی یوه مهمه قبیله د اڅکزیو غیرتی او جنګیالی قبیله ده چی زموږ پښت پوهان دوی د سړبن د ترین د ټبر گروپ څخه شمیری . اڅکزی چی په اصل کی درانی پښتانه او د ځیرک د خانگی څخه دی یو شمیر یی په افغانستان او بله برخه یی د دیورند کرښی څخه پوری ، خوا ژوند کوی .

اڅکزی په لومړی سر کی په دوو ښاخونو ویشل شوی دی چی گوجین او بادین نومیږی . د گوجین څانگی په لاندی ډول دی : حمیدزی ، ملی زی ، اشیزی ، عثمان زی ، علی زی ، نصرت زی ، غنی زی او صالح زی :

همدارازد بادین ښاخ هم په لاندنیو څانگو ویشل شوی دی : کاکوزی ، غیبی زی ، شمشوزی ، پیرعلی زی او پانیزی :

هغه اڅکزی چی په افغانستان کی میشته دی نو دوی په سپین بولدك ، ریگ ، کندهار ، هلمند ، اروزگان او هرات کی او سیږی او هغه اڅکزی چی د دیورند د کرښی پوری خوا استوگنه لری نو هغوی په گلستان ، کوزك ، خواجه عمران او غانی ، پښین او توبه کی ژوند کوی :

مشهور انګریزی مورخ مونت ستوارټ الفنستن په خپل اثر (د کابل سلطنت بیان) کی لیکی : (اڅکزی اکثره کروند گر او پوونده دی که څه

---

(۱) معلومات مختصر درباره اقوام ولایات سرحدی کشور ۱۱ او ۸۷ مخونه .
(۲) آریانا دایرة المعارف ، دوهم توك ، ۱۳۳۰ کال ۳۹۱ مخ .

هم يوه اندازه څمکه لري خودخپل ژوند لپاره په مځکي اتکاء نه لري. ددوی څاروی دخواجه عمران په غرونواودتوبې پــه هسکه سیمه کې ساتل کیـږي ، په داسې حال کې چې اوښان یې د شوراوك دشمال ختیـځ په شګـلنه سیمه کې پوول کیږي. اڅکزي پرداسې څمکه پراته دي چې یاخولغرغرونه دي اویاسپیره داګونه اویاهم خالصې شګې. ددوی دکرني ځمکې ډیرې لږ ي دي :

په کندهارولایت پورې مربوط اڅکزي دسپین بولدك په اولسوالي ، دریګ په علاقه‌داري ، دخاکریز په اولسوالي ، ددامان په اولسوالي او دکندهار پـه مرکز کې اوسیږي چې شمیر یې په کندهار کې (د ۱۳٦۰ ) کال داحصائیې له مخې (۴۲۹۳۸ )تنه ښودل شوی دی.

همدارازهغه شمیراڅکزیان چې دهلمند په ولایت کې استوګنه لري نو دوی دهلمند دولایت په مرکز ، دنادعلي په اولسوالي ، دګرمسیر په اولسوالي او دناوه بارکزایي په اولسوالي کې استوګنه لري او ټول شمیر یې د ۱۳٦۰ کال داحصائیې له مخې (٦۹٦۵) تنو ته رسیږي.

دهرات په ولایت کـې اوسیدونکـې اڅکـزي په انجیل ، پښتـون زرغـون ، ګاران اودغوریانو په اولسوالیو کې استوګنه لر ي چـې ټول شمیر یې د ۱۳٦۰ کال دمرکزي احصائیې له مخې په دغه ولایت کې ٦۲۲٤ تنه ښودل شوی دی.


دارزګان په ولایت کې اڅکـزي په ترین کوټ ، دچوره په اولسوال ي ، د خاص ارزګان په اولسوالي ، دګزاب په اولسوالي ، دکجران په اولسوالي ، دشهید حساس په اولسوالي ، ددهراود په اولسوالي اودنیش په علا قه دار ي کـې اوسیږي چې ټول شمیر یې په دغه ولایت کې (۷۰٤٤۳ ) تنه ښودل شوی دی :

ددوی اکثـره خلك دکـرني او مالداري په چا رو بوخت دي خود کنـدهار اڅکزي دکرني نه پرته دسودا ګرۍ په چاروهم بوخت دي. په کابل کې استوګن اڅکزي اکثره دلیلامي بوټانو اوجامودو کانونه لري. ددوی دکوچیانو شمیرهم زیات دی. لنډه داچې دهیواد په لویـدیـځ اوجنوب لویدیځو ولایتونو کې ددوی شمیر دمرکزي احصائیې د ۱۳٦۰ کال داحصائیې له مخې (۱۳٤٦٦۹ )تنه ښودل شوی دی.

اڅکزیانو د تاریخ په اوږدو کې د ښکیلاکګرو او استعماري ځواکونو سره ډیر جنګیدلي او د خپل هیواد په آزادۍ کې یې د هر دول سرښندنو څخه ډډه نه ده کړې چې په تاریخ کې د دوی مبارزې او کارنامې په زرینو کرښو سره ثبت دي .

د دغو ستر و مبارزینو په جمله کې چې د انګریزانو پر خلاف یې ډیرې توري وهلي دي یو هم غازي عبداله خان اڅکزی دی چې د کابل د(۱۹۴۱) م کال پـه پاڅون کې یې انګریزي ښکیلاکګروته مرګوني ګوزارونه ورکړي دي چې دده ویاړلی نوم هیڅ یو په وطن مین شاه زلمی نه شي هیرولی .

همدا راز د سهیلي پښتونخوا په ملي آزادۍ پښونکې غورځنګ کې د خان ـ عبدالصمدخان اڅکزی او خان محمدایوب خان اڅکزي مبارزې دلرو او برو پښتنو د تاریخ یو ځلانده باب دی .


اشکزی
گوجن زی
بادین زی
صالح زی
الوزی
علی زی
اشیزی
سلیمان زی
ملی زی
حمید زی
عثمان زی
نصرت زی
غنی زی
متکزی
خدرچی زی
اردو زی
کاکوزی
عیسی زی
شمشوزی
پیرعلی
پانیزی

# احمدزی

احمد زی په اصل کی غلجی پښتانه او په سلیمانخیلو ورګډیږی، خو تن د خپلی قبیلی څخه دلیری والی اود شمیر د دیروالی په سبب د سلیمانخیلو څخه جلا شمیرل کیږی دغی قبیلی اکثره خلک د ګردیز په شمال ختیځ او جنوب کی استوګنه لری. دغه قبیله دپکتیا ولایت دمهمو قبیلو په ډله کی راځی. دپکتیاولایت احمد زی دمنګلو، توتاخیلو، ځدرانیو، زرمت اودلوګر دولایت سره پوله لری ددغی قبیلی یوشمیر خلک د کوچیانو په ډول ژوند کوی اود دوی زیات شمیر د لوګردولایت دازری، التمور، سرخ آب، داوبازك په دښته اومحمدآغه کی ژوند کوی اودوی یوشمیر دننګرهار او لغمان په ولایتونو کی هم استوګنه لری.


ددوی یوه پیاوړی څانګه دموسی خلیو په نامه سره شهرت لری چی اکثره خلک یی کوچیان دی او ډیر زرور او جنګیالی خلک دی. (۱)

د ۱۳۵٤ کال درپوټ له مخی ددوی شمیر په پکتیاکی (٤٣٢٤٨) تنه ښودل شوی دی. همدا راز دننګرهار ولایت په مرکز کی د دوی شمیر (۲۳٤۰) تنه؛ په‌حصارك غلزایی کی (١٦٥) تنه دکامی په‌اولسوالی کی(۲۱۷٤)تنه‌اودسره‌رود، په‌اولسوالی کی (۱۵۷۰) تنه‌ښودل‌شوی‌دی.

د احمدزیوځینی‌څانګی‌اوخیلونه‌په لاندی‌دول دی: الله دین‌خیل، عیسی‌خیل، یحیی‌خیل، ځندی‌خیل، موسی‌خیل، ابراهیم‌خیل، معروف‌خیل، جبار خیل، ستانکزی‌او عبدالرحیم زی، چی دغه څانګی بیا په لاند نیوکو چنیو خیلونو ویشل شوی دی، چی الله دین خیل په بادین خیلو او کوچی خیلو عیسی‌خیل په سادو خیلو، بازوخیلو، محمد علی خیلو، پادشاه خیلو، خواجه خیلو، توره خیلو، اومانی خیلو.

---

(۱) معلومات مختصر در باره اقوام و قبایل ولایات سرحدی کشور ٥١ مخ


احمدزي
اللهدین خیل
عیسی خیل
یحیی خیل
ختندی خیل
موسی خیل
ابراهیم خیل
معروف خیل
جبار خیل
ستانکزی
عبدالرحیم زی
دادین خیل
کوچی خیل
شاه خیل
سلیمان خیل
بکراخیل
تاره خیل
بازی خیل
محمد علی خیل
پادشاه خیل
خواجه خیل
نور خیل
مانی خیل
کره خیل
باینده خیل
منصور خیل
فتح الله خیل
سلام خیل
کامران خیل
خانک خیل
ازک خیل

يحيى خيل

په فتح الله‌خيلو، سلام خيلو، کامران‌خيلو، خانه‌خيلو، ازك‌خيلو، او فيروز خيلو ويشل شوي دي.

څنډي خيل :

په شاه خيلو او خورم خيلو ويشل شوي دي.

موسى خيل : په کرو خيلو، پاينده‌خيلو، راوت‌خيلو او منصور خيلو ويشل شوي دي.

معروف خيل : په بابا دين خيلو، شکر خيلو، محمد خيلو، عبدالرحمن خيلو او سرکي خيلو باندي ويشل شوي دي .

پټه‌دي پاتې نه‌وي چې يو شمير احمدزي په مزار شريف، بغلان، کندز، هرات، فارياب او پروان کي هم استوګنه لري .

## ادوزي

دوي سر بنې پښتانه او د پنځ پاى دڅانګې پورې اړه لري . د دغې قبيلې شمير پنځه زره کورني ښودل شوي دي . دوي د کندهار د معروف په اولسوالي داروزګان ولايت د دهراود په اولسوالي او همدارازد هلمند په ګرمسير کي ميشته دي (۱)

د شوروي اتحاد د تاشکند ديوه عالم ستانيشفسکي ها تنوګرافيکو معلوماتو له مخې د شلمې پيړۍ په نيمايي کي د دوي شمير (۱۳۰) زره تنه ښودل شوي دي :

## ادين خيل

ادين خيل غلجي پښتانه دي او په سليمان خيلو ورګډ بڼې د دوي اکثريت د پکتيکا په مرکز شرنه او د پکتيا د ولايت د زرمت په اولسوالي کي استوګنه لري يو شمير ادين خيل دغزني ولايت د ګيرو په علاقداري کي هم استوګنه لري . (۲)

---


(۱) حيات افغاني – ۲۲۷ مخ .

(۱) معلومات مختصر در باره اقوام قبايل ولايت کشور، ۶۳۰ مخ .

# اسماعیل خیل

اسماعیل خیل دکرلان په تولنیزگروپ کی شامل دی . دوی د پکتیا ولایت د خوست په لویه اولسوالی کی د شمل سیند په جنوبی کندومندوزیو ته نزدی استوگنه لری . اویدیځ ته یی ځدران اوجنوب ته یی د تنیوقبیله موقعیت لری .د مندوزیو د قبیلی په ختیځ اودشمل دسیندپه شمالی څنډوکی هم اسماعیل خیل استوگنه لری . د دوی شمیرد ۱۳۶۰ کال د مرکزی احصائیی د سرشمیرونی له مخی (۱۶۰۰۰) تنه ښودل شوی دی . ددوی عمده شغل کرنه ده او یو شمیر خلک یی په دولتی چاروهم بوخت دی(۱) :

## اسماعیل خیل




# اسحق زی(ساکزی)

دوی د نسب د شجری له پلوه د سړبن په تولنیزگروپ کی شامل دی چی عموماً دکوچیانو په دول ژوند کوی ددوی . په افغانستان کی په لاندی توگه میشته دی :

---

(۱) معلومات مختصر در باره اقوام وقبایل سرحدی کشور ، ۶۳ مخ .

## د کندهار په ولایت کې :

د کندهار په مرکز، د میوند په اولسوالۍ، د پنجوایي په اولسوالۍ، او د معروف په اولسوالۍ کې چې ټول شمیر یې د کندهار په ولایت کې د ۱۳۶۰ کال د احصائیې له مخې (۳۵۴۲۴) تنه دی .

## ۲ - د هلمند په ولایت کې :

د هلمند په مرکز، د کجکي په اولسوالۍ، د ریګستان په علاقه داری، د خانشین په اولسوالۍ، د نوزاد په اولسوالۍ او د نهر سراج په اولسوالۍ کې استوګنه لري چې ټول شمیر یې په نوموړي ولایت کې (۵۲۵۲۸) تنه بنودل شوي دي .

## ۳ - د فراه په ولایت کې :

د فراه د ولایت په مرکز او د لاش جوین په اولسوالۍ کې استوګنه لري چې ټول شمیر یې په نوموړي ولایت کې (۱۴۸۳۹) تنه بنودل شوي دي (۱)

## ٤ - د هرات په ولایت کې :

په هرات کې دوی د انجیل په اولسوالۍ، د پښتو زرغون په اولسوالۍ، د ګلران په اولسوالۍ، د کشک په اولسوالۍ، د غوریانو په اولسوالۍ او د کهسان په اولسوالۍ کې استوګنه لري چې ټول شمیر یې په نوموړي ولایت کې (۱۲۰٤۲) تنه بنودل شوي دي چې په دې اساس د هیواد په لویدیځو ولایتونو کې د دوی مجموعي شمیر (۱۱٤۸۳۳) تنو ته رسیږي.

حیات افغاني لیکي: اسحاق زي د کندهار او لویدیځ ته په شګلنه سیمه کې د ارغنداب د سین په غاړه د بست تر کلا پورې او همدا راز خو سیمې یې د چلت د سیمې په سهیلي برخه کې چې د هلمند د سیند په ختیځه غاړه کې دي استوګنه لري. ځینې خلک چې د ځمکو خاوندان دي په فراه، شین ډنډ، لاش او جوین، د هرات جنوب لویدیځ، د سیستان شمال او هم ځینې یې په هرات کې میشته دي.

---

(۱) معلومات مختصر در باره اقوام سرحدی کشور- ۲۷ مخ .

کله چې زه په ۱۳۵٦ کال کې میمنې ته تللی وم د میمنې د ښار په لویدیځ پنځه کیلومترۍ کې ما یو شمیر کوچیان ولیدل چې په کیږدیو کې اوسیدل او ځانونه یې اسحاقزي پښتانه معرفي کړل او ویل یې چې دوی اوړی او ژمی همدلته اوسیږي او کوم بل ځای ته لیږدونه کوي (لیکوال)

# الیزی (علی زی)

الیزی سربنی پښتانه دی اوددرانیانو دپنځ پای دښاخ څخه شمیرل کیږی اکثره یې دهلمند دولایت دنادعلی، کجکی، بغران، موسی کلا، گرمسیر او دنوزاد په اولسوالیو کی استوگنه لری. ددوی نه پرته دوی دارزگان، کندهار، فراه اودهرات په ولایتونو کی هم په لاندی ډول استوگنه لری:

۱ ـ دارزگان په ولایت کی: دگزاب اوشهرستان په اولسوالیو کی.

۲ ـ دکندهار په ولایت کی:

دکندهار په مرکز، ددامان په اولسوالی، دمیوند په اولسوالی، دارغستان په اولسوالی اودمعروف په اولسوالی کی.

۳ ـ دفراه په ولایت کی:

دبالابلوك په اولسوالی اودفراه دولایت په مرکز کی.

دهرات په ولایت کی:

دانجیل په اولسوالی، دگوزری په اولسوالی، دکشك په اولسوالی، دغوریانو په اولسوالی، دزنده‌جان په اولسوالی، دکهسان په اولسوالی، دادرسکن په اولسوالی اودشین ډنډ په اولسوالی کی.

دالیزیو اوالکوزیو ترمینځ پوله یوازی دهلمند سیند دی. ددوی سیمه هم دالکوزیو دسیمی سره ورته والی لری. ددغی قبیلی څوڅانگی په پنجاب کی هم میشته دی. ددغه ښاخ یوه کورنی دراولپنډی دضلعی په اسلام گړه کی دحسن ابدال څخه دری میله ختیځ خواته استوگنه لری.

دوی اکثره دکرنی په چارو بوخت دی. ددوی ټول شمیر په لویدیځ اوجنوب لویدیځ افغانستان کی د ۱۳۶۰ کال دمرکزی احصائیی له مخی (۲۱۴۹۵۵) تنوته رسیږی.

همدارازدشوروی اتحاد نامتوپوه ستانیشفسکی په حواله د(۲۰)پیری په نیمایی کی یی شمیر (۱۵۰) زره تنه ښودل شوی دی .

## الیاس خیل

دوی‌غلجی‌پښتانه دی . زیات شمیریی کوچیان او د ننګرهار او کابل تر منځ وادی کی ژوندکوی . لزشمیرخلک یی محمکی لری ،خودیرشمیریی کوچیا ن دی د دوی د شمیر په باب تراوسه پوری‌ماسره کوم بشپړاومو ثق معلومات نشته .


## امرخیل

دوی غلجی پښتانه دی اوپه سلیمان خیلو پښتنوورګډیږی . و یل کیږی چی د دغی قبیلی مشرامربابانومیده چی زیارت یی د ننګرهار د سیمی په شا و خوا کی دی . دامرخیلوزیاتره خلک د میدان په ولایت کی استوګنه لری چی په د غه ولایت که ددوی‌داستوګنی سیمه دنرخ علاقه داری اوچاریکه ده.دمیدان امرخیل په لاندنیوخیلونوویشل شوی دی:یارخانخیل، الله‌دوش خیل، یوسفزی، ممی‌خیل، غونداخیل اوبورخیل .

همداراز د دی دو همه لویه برخه په ننګرهارکی ا ستوګنه لری.د ننګرها ر د ولایت امرخیل د سوه روداولسوالی د پیتاوی امرخیل په‌کلی کی چی د در ونتی بندته‌نژدی پروت دی‌استوګنه‌لری.همداراز د همدی‌ولایت د چپرهار د علاقه داری په سپین جومات اوسنګینه کی هم د دوی یوشمیر کررنی شته . دوی عموماد کرنی اومالداری په چاروبوخت دی . همدارازځینی امرخیل په بامیانوکی هم ا و سیزی چی‌هغوی کوچیانی ژوند لری. په همدی ترګه په لغماند پکتیکااوولایت په کتواز او د جوز جان د ولایت دآقچی‌په‌سیمه کی‌هم یوشمیرامرخیل ژوندکوی(۱)

---

(۱) د افغانستان د علومو اکادمی‌دژبواواد بیاتود مرکز غړی ښاغلی سرمحقق عزیزاله امرخیل څخه را غوندشوی‌معلو مات .


غلجي
ابراهيم
موسى
اندړ
بايزيدخيل
جلالزي
كلن خيل
خواجه خيل
مرجان خيل
پير خيل
موسى خيل
ابراهيم زي
غاني خيل
الله يار
مصري
پوټي خيل
بشال خيل

# اتمانخیل

اتمان خیل دکوزی پښتونخوا یوه مشهوره قبیله ده چی په یوه واحده سیمه کی استوگنه لری ، خو په دریو اداری واحدونو یعنی د باجوړ ایجنسی ، مومندو ایجنسی او دملکنډ ایجنسی پوری مربوط دی (۱)

د دوی دسیمی شمال ته پنجکوړه ، لویدیځ ته یی باجوړ او د مومندو غرونه ، ختیځ ته یی سوات او جنوب ته یی اشنغر موقعیت لری (۲)

دنسب شجری څخه څرگندیږی چی اتمان خیل هم دکرلاڼی پښتنو په ټولنیز گروپ کی شامل دی . ددغی قبیلی خلك دخوارلسمی عیسوی پیړی په پیل کی دیوسفزیو دقبیلی په گډون دتالك او گومل دغرونو نه دکابل او ننگرهار له لاری پیښور ته لاړل او له هغه ځایه په دوابه او اشنغر کی دیوسفزیو سره یو ځای په غم او ښادی کی شریك شول . کله چی ددلازاکو ، یوسفزیو او نورو قبیلو ترمینځ دلنگرکوټ په میره یا گړی کپوره کی جگړه پیښه شوه نو په دغه وخت کی دغه قبیله سره له دی چی دلازاك ددوی سره په قومیت کی نژدی وو د یوسفزیو پرخو او دریدل او په دی توگه یی دلازاکو ته ماتی ورکړه ، خو یوسفزیو د اتمان خیلو سره کومه نیکی ونه کړه . دوی بیا له هغه ځایه څخه تیرا ته ولیږدیدل او کله یی چی دهغه ځای څخه هم لاړ ونه لنډ شول نو بیا دارنگ برنگ سیمی ته راغلل چی تر اوسه هماغلته میشته دی (۳)

داتمانخیلو سیمه په عمومی ډول غرنی ده چی دلویو او کوچنیو روڅخه جوړه شوی ده چی و اره سیندونه یی د سوات په سیند کی چی په دغه سیمه کی دا بازو په سیند مشهور دی توئیږی .


ددغی سیمی په شمال کی د(باجوړ سیند ) بهیږی چی ترکلاڼی او اتمان خیل

---

(۱) اضلاع ، ایجنسی ها و قبایل ایالت پښتونستان ، ۵۲ مخ .

(۲) پښتانه دتاریخ په رڼا کی ، ۱۳۸۸ مخ .

(۳) حیات افغانی ، ۲۳۷ ۲۳۸ مخونه .


اتمانخیل
بوتہ کوره
ماندل
علی زی
اصیل
میاملا
شموزی
مامدخیل
عمرخیل
کیدوخیل
کمپل خیل
خمارخیل
بلوخیل
سرکانی
عمرخیل
سرنی خیل
سره مینه
تبائی
شبنکی

## اتمانزی

دوی سرپنی پښتانه دی اودمندړیوښاخ گڼل کیږی . اتمان زی د یوسفزیو دسیمی په ختیځه برخه کی دا باسین پرغاړه اود مهابن د غوره په سهیلی لمنوکی پراته دی. توپی، مینی، کوټه اومر غزدوی دسیمی مشهورکلی دی(۱)

داتمان زیو نورخیلونه په لاندی ډول دی: اکازی، کنازی اوعلیزی : د سدواولاده که څه هم په اتمان ورگډیږی مگرځان ته یی بیل نوم غوره کړی دی. داتمانزی قبیلی دری، واړه ښاخونه د شیخ ملی دویش له مخی برابری پملرنی برخی لری چی د غه دری واړه ښاخونه په برابر ډول دځپل نیکه ځمکه کری او ورڅخه استفاده کوی:

همداراز دعلی زیو دطاهرخیلی څانگه ډیره مشهوره اوپه گند گهرنومی سیمه کی میشته دی . ویل کیږی چی اتمان زی(۱۲۰۰) وسله وال کسان لری. (۲)

## اورکزی


اورکزی دپښتنو یوه مشهورقبیله ده چی زموږتوکم پوهان(نسب پیژندونکی) یی دکرلاڼ دټولنیزی ډلی څخه شمیری .

اورکزی دکوهاټ په شمال لویدیځ، دسپین غره په ختیځ اودتیراه دجنوبی گڅیو په سیمه کی استوگنه لری. شمال ته یی د اپریدیو قبیله، شمال لویدیځ ته یی پره ځمکنی، لویدیځ ته یی توری، سهیل ته یی بنگښ اوختیځ خوا ته هم داپریدیو اوبنگښو سره پوله لری .

دحیات افغانی په حواله دغی قبیلی داویوښاخونوشمیر پنځوته رسیږی چی پیاوروسته په نورووړو وړوڅانگو اوخیلونو باندی ویشل شوی دی اودغه خیلونه دادی :

---

(۱) پښتانه دتاریخ په رڼاکی ۱۳۲۱ مخ .
(۲) حیات افغانی ، ۲۶۷-۳۰۰ مخونه.


اورکزی
اسمیل زی
موسی زی
لشکری زی
دولت زی
محمدخیل
ستوری خیل
یا علی زی
همسایه
لنڈی زی
خواجه خیل
علی زی
فیروزخیل
اتمانخیل
بیزوتی
باما ستوری
تیراستوری خیل
علی شیرزی
ماموزی
برمحمدخیل
عبدالعزیزخیل
مانی خیل
سه پای
رابیه خیل
اخیل
ماماازی
بعریرخیل
خادی زی
عیسی خیل
سادا خیل
علی خیل
ملاخیل
میشتی
شیخان

# اورمړ

دهغواورمړوچې خپله ژبه یې ساتلې ده په ژبه کې له خیرنو معلومېږي چې په مشکله کیدای شي هغه دپښتوژبې یوداسې لهجه (دیالکټ) و ګڼل شي چې په خورالرغونې زمانوکې له پښتوڅخه بیل شوی دی ځکه چې ددغې ژبې فونولوژي مورفولوژي، نحو (سین تاکسیس) لیکسیکالوژي او نورژبنې خواص دغه ژبه له پښتوڅخه لرې کوي اودپښتودیوه لهجې (دیالکټ) په صفت نه بلکې دنوې ځانګړې ژبې په توګه یې حدود ټاکي.

داورمړودتوکم په باب هم علمي تاریخي استاد وایې چې دابه دیوه لرغوني توکم له نسله وي چې په ختیځ آریایي لهجې (دیالکټ) یې خبرې کولې(۱) نوپه دغه توګه اورمړ یوبیل ملیت دی چې له پښتنوڅخه بایدبیل وګڼل شي اوهمدغه نظر علمي نظر دی.

خوځرنګه چې دپښتنودانسابوتولومنابعود پښتنویوه ښاخه بللې ده اوښایې کوم اساس هم ولري نو موږددغه علمي نظرپه پام کې نیولو نوسره دانسابومنابعو سره دآشنایې په خاطر داورمړوپه باب معلوما ت وړاندې کوو:

دشجرواوروایاتومطابق اورمړ دشرخبون زوی اودسړبن لمسی دی. دی عمر دین نومېده اوپه اورمړ مشهوردی. په موجوده وخت کې اورمړ دوزیرستان په کانیګرم، دافغانستان دلوګرپه برکې برک او دپېښور دضلعې په دریوکلیوکې پاسنی اورمړ، منځنی اورمړ اولاندنی اورمړ کې میشته دي (۲)

دحیات افغاني مؤلف محمد حیات خان لیکي: «جوته ده چې داورمړ پسلار امرالدین دشرخبون له پنځوزامنونه نو چني و. ده یوزوی درلودچې اورمړنومېد چې دغه قوم هم دده په نامه سره نومول شوی دی نوتر اوسه پورې هم په دغه

---

(۱) دزیات تفصیل له پاره وګورئ دافغانستان ژبې اوتوکمونه (۱۶۸-۱۶۹) مخونه.

(۲) پښتانه دتاریخ په رڼا کې ۱۲۸۲ مخ.

نامه سره یادیږي. دده په باب داسې ویلی کیږي چې د اورمړ کوم زوی په چې په کوم ځای کې پیداشونود هماغه ځای نوم یې ورباندې ایښوده او په یوه منظومه شجره کې چې میاعمرخمکني (رح) ویلی ده په هغه کې اورمړ ته شل زامن منسوبوي چې په دې ډول دي:

سنګتوی، مستوی، مشکور، شکتوی، زیق، مشوی، جلویان، دهری، کانی ګورم، حوان، کزیخ، خصران، زنګګ، داچا، ملانی، سسیدانی خان، دوتوی، سین، خلیل او بوکی (۱)

دد وی داستوګنې سیمه د سلیمان دغره هغه برخه ده چې اوس پکې د مسیدو او وزیرو قبیلې اوسیږي. د کانی ګورم ښار چې د وزیرو او مسید و د بدر په علاقه کې پروت دی هغه داورمړ وله خواجوړ شوی دی چې اوس هم داورمړو پنځه ښاخونه په کانی ګورم کې په دې ډول سره میشته دي: خیکنی (٦٠) کوره، خرم جانی خلویښت کورنی، ملاتانی (٦٠) کوره، بیکنی (۲۰۰) کورنی او چرانی (۲۰) کوره، چې ټول (۳۸۰) یا (٤٠٠) کورنی پخپل پخوانی ټاټوبی کې اوسیږي پاتې اورمړ تقریباً د پنځه سوه کالو راهیسې دکاختې او بیا دوزیرو دقبیلې دظلمې له امله له دغه ځایه لوګرته چې دکابل په سویلې برخه کې موقعیت لري ولیږدیدل او هلته میشته شول چې تراوسه هم دلوګرد علاقې د برکي برك په په سیمه کې اوسیږي او اکثره خلك یې اورمړ دي.

اورمړ خپله یوه خاصه ژبه لري چې د پښتو ژبې سره څه مشابهت نه لري داورمړو داپخوانی ژبه دکانی ګورم اورمړو تر اوسه پورې هم دځانه سره خوندي ساتلې ده او په خپلومینځو کې پرې ګړیږي اوخبرې پرې کوي خو دلوګر او پیښورو اورمړو خپله پخوانی او اصلي ژبه هیره کړې ده. داورمړو داصلي ژبې دموجودیت نه ځینې عالمان دې عقیدې ته مایل دي چې اورمړ به شایددې ملك د یرو پخوانیو

---

(۱) حیات افغانی، ۲٦۱ مخ.


استوګنو اخلاف وی او دپښتنو دګاوندیتوب اویوځای استوګنی په وجه یی دپښتنو تهذیب اوتمدن خپل کړی وی.

په اوسنی زمانه کی اورمړ په خوی بوی، عادتونو، دودونو، دستورونو، ژبه، تهذیب اوثقافت کی کټ مټ دپښتنو په شان دی اوپه ظاهره کی ددی خبری هیڅ څه شوا- هدنه معلومیږی چی ګوندی دا خلک به د پښتون اولس نه بیل خلک وی:

دلوګرداورمړوشمیرد(٤٠٠)او(٥٠٠)تنوترمینځ دی اودوی دعبدالصمدخان، نورالله اوتقی په کلیوکی ژوندکوی.

داورمړبن شرخبون بن سړبن

دنسب شجره




(١)پښتانه دتاریخ په رڼاکی ١٢٧٦ مخ.

## اوریاخیل

دوی غلجي پښتانه دي او زیات شمیریې د کابل ولایت د پغمان په اولسوالي کې استوګنه لري .هلته ددوی مشهور کلي او سیمه دخالداریو په نامه سره یادیږي.
یوشمیر اوریاخیل د کابل لویدیځ سیمو ته او په تیره بیاد میدان پـه ولایت کې هم استوګنه لري (۱)

یوزیات شمیر اوریاخیل دپکتیادولایت دزرمت (زرملی ) په اولسوالي کې هم استوګنه لري .دلغمان دولایت داوریا خیلو شمیرد(۱۳۶۰) کال داحصائیې له مخې (۱۲۱۸۸) تنه ښودل شوی دي چې دلغمان په مرکز مهترلام اودقرغیو په اولسوالي کې اوسیږي .

همدارازیوشمیر اوریا خیل دپروان و لایت دقـره باغ پـه اولسوالي کې هم میشته دي .

## بابړ

دنسب دشجرې له لیدلو نـه ځرګندیږي چې بابړ په اصل کې دشیرانیو یوه څانګه اوسربنی پښتا نه دي، خو ددوی اولادې ځان ته بیل نوم غـوره کړ او اوس په مطلق ډول دبابړو په نامه سره یادیږي (۲) .

دوی یو ډیر ښه متمدن قوم دي . دوی په سوداګری ډیر ښه پوه او په عمومي ډول ددامان په قومونو کې تر ټولو لوشته من او غوریدلي دي .(۳)

بابړ دمیاخیلو په سهیل کې استوګنه لري چې لویدیځ ته یې سختې غرنی سیمې پرتې دي اودیوه غرنی وادی ځنډ ی ددوی ملک ته رسیږي اوله هغه ځـایه څخه

(۱) معلومات مختصردرباره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور ٤١ مخ.

(۲) حیات افغانی ۲۵۵ مخ .

(۳)الفستین، دکابل سلطنت بیان، دوهم ټوک، دد کتور محمد حسن کاکړ ترجمهٔ، کابل : ۱۳۶۱ کال ۶۲ مخ.

یوه غرنی ویاله راوځی چی د دغی غرنی ویالی په ذریعه ځمکی خړوبیږی ددغی وادی څخه یوه لاره لویدیځ افغانستان ته تللی ده خوخلك وربا ندی ډیر تګ اوراتګ نه کوی لکه چی د غویلوری اویاګوملی په لاروبی چی کوی. ویل کیږی چی د بابرو قوم د ستوریانی د قوم څخه پرته د نورو تولو پښتنو څخه وروسته د شیرا نیو له غرنی سیمی څخه را ووتل اود چوهدوان په سیمه کی میشته شول . بابر د نورو پښتنی قبیلو په نسبت ډیر حلیم ، آرام اود ښه چلند خاوندان دی. د کابل دوا کمن سدوزی تیمور شاه په وخت کی د با بړ ود قوم مشر ته دامین الملك منصب ورکړل شو.
دپروفیسورسیال کاکړ په حواله یوه شمیر بابړ په ژوب، کو ته او پشین کی هم میشته دی اوهمدارازدسند په ګړی یاسین ، سلطان کوت اوشکا رپور کی هم میشته دی . دننګرهار دجلال آباد په ښار کی هم ددوی څو کورنی د بابړ یا نو په کلی کی هستو ګنه لری.
دحیات افغانی دمولف په قول هغه بابړ چی په اوار وسیمو کی اوسیږی نود هغوی شمیر تقریباً څلورزره کورنیو ته رسیږی د بابړ و یوه لویه څانګه د سلیمان له غرو نه هغه خوا په سیره (Sehra) کی اوسی . دغه سیمه د شیرانیو سیمی ته نژدی پرته ده اوبابړیان له دوی سره نژدی اړیکی لری اوله هغوی سره په کړووړو او رواجو کی ورته دی.
دلویدیځ افغانستان په ځینو ځایونو کی هم بابړلیدل کیږی لکه چی د کندهار په ښار کی هم څو کوره، دپنجوایی په اولسوالی ، کندهارته نژدی په سوزنای کی چی دارغنداب دسیمی پوری تړلی ده هم ددوی څو کلی شته دی. همداراز په کابل، لوګر او دکونړ ددری په ځینو ځایونو کی هم زیات شمیر بابړ او په ځینو ځایونو کی په لږشمیر میشته دی. دحیات افغانی مؤلف لیکی: «له هغو مختلفو روایاتو څخه چی تر اوسه لاس ته راغلی دی دا سی اټکل کیدای شی چی هغه بابړ چی په لویدیځ افغانستان کی په خواره واره دول ژوند کوی دهغوی شمیر د (۵۰۰) کورنیو نه زیات نه دی»

دکندهار ولایت په مرکز او دپنجوایی په اولسوالی کی دبابر وشمیر(۱٤٥۰۹) تنو په شاا وخوا کی ښودل شوی دی.(۱)

## بابکرخیل

دوی غلجی پښتانه دی ددوی یوشمیر دځاځی میدان او خوست ترمینځ دباك په علاقه داری کی استوګنه لری چی د دغی سیمی داوسیدونکو شمیر(۸۰۰۰) تنه ښودل شوی دی او اکثریت یی بابکرخیل تشکیلوی :

دلغمان ولایت دخان کلا، هرمل او سه سده په کلیو کی هم یو شمیر بابکرخیل استوګنه لری چی دلغمان ولایت کی د دوی شمیر د (٥٤۷) تنو په شاوخوا کی ښودل دی. یوشمیر بابکرخیل دکابل او ننګرهار تر منځ دسروبی اولسوالی په جګدلك او تیزین کی هم استوګنه لری : دغه راز دخاك جبار دعلاقه داری د خورد کابل په کلی کی هم یوشمیر بابکرخیل استوګنه کوی چی دکابل ولایت دبګر امیو په ولسوالی پوری مربوط دی .

دپکتیا ولایت دخوست دلوی اولسوالی دباك د علاقه داری بابکرخیل اکثره دکرنی په چارو بوخت دی او په یوه شنه او اوره سیمه کی ژوند کوی :

## بابی

د غرغښت په ټولنیز ګروپ کی یو هم دبابی یا بابیانو قبیله ده خو ددیرو هڅو او کوښښونو سره سره مو د دی قبیلی په باب ډیر معلومات ټولا سه نه کړل . داسی ویل کیږی چی بابی په خپلو ځلو روزامنو باندی د ځاورو مټو بړو پوری توجه وا ئیل


(۱) معلومات مختصر در باره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور ۹۲ مخ .

میکائیل ، عزرائیل او اسرافیل نومونه ایښی وو خو وروسته یې د پښتنو د انتقاد او تنبیه په وجه د غو نومونو ته تغییرورکړ. (۱)

حیات افغانی لیکي : که څه هم د بابی قبیلي شمیرولږ دی خو زیات خلک په ښو او اوچتو کسانو نه زیات دي خو په پښتو کې بابیان په کندهار او کلات نصیرخان کې ډیر با همه سوداګران دي او دخپل ښه غوره سلوك او نوم چال چلند په وجه د ښه ژوند څښتنان او اکثره یې شتمن دي (۲)

همدارازد دغې قبیلي خلك په میرانه کې هم ښه شهرت لري : د بابی قبیلي خوراك او پوښاك اکثرو په لوړه سویه او د د رانیانو په څیر دی . با بیان د شمیر په لحاظ بیخي لږ او وګړي یې په کلات ، بوري ، کندهار او کویټې په شابو نومي کلي کې میشته دي . همدارازد دوی یو شمیر په هند کې استوګنه لري او د ځینو روایتو نوله مخې د هند د جوناګړ او ګجرات نوابان د بابیانو له جملې څخه وو . (۳)

د شوروي د نامتو انتوګرافو ستانیشفسکې په حواله د (۲۰) پیړۍ په نیمایي کې د دوی شمیر (۸۵) زره ښودل شوي دي .




---

(۱) حیات افغانی ۳۳۹ مخ ،

(۲) نوموړی اثر ۲۷۳ مخ .

(۳) پروفیسور ولی محمد خان سیال کاکړ ، پښتو او پښتانه په سهیلي پښتونخوا کې ، کویټه : (۱۹۷٦) ٤٦٦ مخ

# بارکزی

دوی‌سربنی‌پښتانه دی اوددرانیودزیرك یوه څانگه ده‌چې دکندهار، هلمند، فراه ، نیمروز اوهرات په ولایتونوکې استوگـنه لري. بارکزی دشمیرله مخې د پوپلزیونه زیات دی (۱) بارکزی دوزیرفتح خان له وخته دېرمشهورشول په تیره بیاهغه وخت چې له دغې څانگې نه امیـردوست محـمدخان دکـابـل په تخت کښیناست نوددوی شهـرت دوه برابره زیات‌شو اوبـارکـزیان ترلیری ملکونو پوري دشهرت خاوندان شول (۲) ددوی داستوگنې سیمې پـه‌لاندې ډول دي :

۱ـ په‌کندهارکې :

دکندهاردولایت په مرکز، ددامان په‌اولسوالي، دشاه ولي‌کوټ‌په اولسوالي، دارغنداب پـه اولسوالي، دپنجوایـې پـه اولسوالـي، دارغسـتان په ولسوالي او معروف په اولـسوالي کې اوسیـږي‌چې تـول شمیريې دکنـدهار په ولا یت کې د ۱۳۶۰ کال داحصائیې له مخې (۵۸۳٤۷) تنه ښودل شوي دي.

۲ ـ دهلمند په ولایت‌کې :

دهلمند په مرکزدنادعلي په‌اولسوالي، دواشیوپه‌علاقه داري، دناوه بارکزایي په علاقه‌دا ري، دنوزاد په‌علاقه‌داري اودنهرسراج په‌علاقه داري‌کـې استوگنه، لـري چې دهلمنـد په ولایت‌کـې یـې تـول‌شمـیر د۱۳۶۰ کـال داحصائیـې لـه مخې (۱۲۶۰۸۸)تنه ښودل شوي دي.

۳ـ دنیمروزپه ولا یت‌کې :

دوی‌دلته‌دنیمروزپه مرکزکې اوسیږي چې شمیريـې د۱۳۶۰ کال داحصائیې له مخې (۸۹۵)تنه ښودل شوي دي .

---

(۱) الفنستن، دکابل سلطنت بیان، دوهم توك، پښتوژباره دپوهاندداکترحسن کاکړ (کابل: ۱۳٦۱) ۷۸ مخ .

(۲) حیات افغاني ۲۲٤ مخ .

همدارازدکنډک اوچاربرجلك په اولسواليو کی هم اوسیږی چی ټول شمیر یې د ۱۳۶۰ کال داحصائیې له مخې په نیمروزکی (۳۲۸۰) تنه ښودل شوی دی.

**٤ـ دفراه په ولایت کی:**

دفراه په مرکز دبالابلوك اوګلستان په اولسواليو کی استوګنه لری چی ټول شمیر یې دفراه په ولایت کی د ۱۳۶۰ کال داحصائیې له (۹۰۷۶۲) تنه ښودل شوی دی.

**٥ـ دهرات په ولایت کی:**

دانجیل، ګوزری، پښتون زرغون، ګلران، غوریانو، زنده جان اوادرسکن په اولسواليو کی استوګنه لری چی دهرات په ولایت کی ددوی شمیر د ۱۳۶۰ کال داحصائیې له مخې ۳۲٤۰۷ تنه ښودل شوی دی.

دبارکزیو شمیرټول ټه دپاسه (۲۳۱۰۶۷) تنه ښو دل شوی دی . هغه سیمې چی بارکزیان پکی استوګنه لری ښې حاصلخیزه اودکرنی وړدی. دوی دپوهی اوتعلیم سره زیاته مینه لری اوځانونه اصیل پښتانه بولی(۱)

همدارازدشوروی اتحاد دانتوګرافرستا نیشفسکی په حواله ددوی شمیرد (۲۰) پیړی په نیمایی کی (۳۲۰) زره تنه ښودل شوی دی.

## بامیزی

سربنی پښتانه اوددرانیو دزیرك یوه ښاخه ده . ددوی اکثریت دکند هار دولایت په مرکزکی استوګنه لری. شمیریې د ۱۳۶۰ کال داحصائیې له مخې د (۱۹۷۰) تنو په شاوخوا کی ښودل شوی دی . (۲)

## بختیاری

تاریخ حیات افغانی دبختیاریو دقبیلې په باب لیکی: «ځینی خلك دوی سیدان بولی .دا خلك په اصلی کی له ایران نه راغلی دی چې ددغې قبیلې ډیرشمیر

(۱) معلومات مختصر در باره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور ۹۸ مخ

(۲) معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور ۹۲ مخ.

اوس هم په ایران کی استوګنه لری: دبختیار دقبیلی یوشمیر دایـران داصفهـان په لویدیځ او یوشمیر یی په بخارا کی هم ژوند کوی. په دره بندیادرابن کی ددغی قبیلی (۷۰۰) یا (۸۰۰) کورنی شته او په مرغه کی هم تقریبـاً (۵۰۰) کـورنـی استوګنه لری:

هغه بختیاری چی په درابن کی اوسیږی هغوی د میاخیلوسره په ګته او تاوان کی شریك دی : د بختیاریو دقبیلی ځینی پوونده سوداګرد ډیر کلك هو ډخاوندان دی (۱) داسی فکر کیږی چی ښایی دوی به دلودی قبایلو یوه څانـګه وی :

دمخزن افغانی لیکوال دبختیارو دقبیلی دنسب داصلیت په باره کی داسی لیکلی دی: اسحاق نومی چی اصلاً دیوه سید زوی وپه اوش نومی ځای کی چی دبغـداد له توابعو څخه دی دروزګاردپیښواوستونزوپه سبب پـه سفرلاس پـوری کـړاود سلیمان په غره کی د شیرا نیوسیمی ته راغی اود شیرانیو په قبیـله کی یی له یوی ښځی سره چی شیخی نومیده واده وکړاوله دغی میرمنی نـه یی یوازی یوزوی وشواودابوسعید نوم یی ورباندی کیښود چی نوموړی مـاشوم دبـخت اونیکـو طالعوپه اساس په بختورسره شهرت وموند اودوخت په تیریدوسره پـه بختیار باندی مشهورشوچی دده اولادی ته بختیاری وایی، خومولف ته ددغه روایت په باب صحیح ثبوت ترلاسه نه شو(۲) دغسی روایتونه ډیردی چی کله دپښتـنویوی قبیلی او کله بلی ته دسیدانو یانورو عربی الاصلوسره ارتباط ورکوی چی په حقیقت کی له افسانو څخه هیڅ زیاتوالی نه لری:

## بړیڅ

بړیڅ دپښتنویوه قبیله ده چی زموږ پښتپوهان (نسب پیژندونکی) یی د سړبن دتولنیزی دلی (Socialgroup) څخه شمیری اوددوی دوینالـه مخـی دسړبن پـه ښوخبون (ښرخبن) ښاخ ګڼل کیږی :

(۱) حیات افغانی ۴۴۱ مخ

(۲) حیات افغانی، ۶۰۹ مخ .

دهندد کمبرج په تاریخ کی دلرغونی آریایی کتاب رګک ویداپه حواله داسی لیکلی شوی دی : «دلوملکانو (پاچهانو) جنګک دویدی زمانی مشهور جنګک و . په دې تاریخی جنګک کی لس آریایی قامونه ملګری وواود بهارتیه نومی آریایی قبیلی دپاچاسوداسه پرضدوجنګیدل . په دغولسو قامونو کی یوقام پکتهان نومیده چی اوسنی پکتون = پختون= پښتون ځینی مراددی.

د دغه سودا سه پلاریا نیکه (Devadasa) هم د خپل قام نامتو پاچاو . دی دخپلی پاچاهی په زمانه کی لهځو آریایی قبیلوسره جنګیدلی اوپر هغوی یی بری موندلی دی چی یوه په هغو کی ( Brisaya )دی .

افغانی محققین لکه مرحوم استاد احمد علی کهزاد اومرحوم استاد پوهاند عبدالحی حبیبی دغه په ویدکی راغلی «بریسیه» قبیله بریځی بولی :

د بریځوخیلونه :

بناغلی استاد رشاد دشیخ بستان بریخ نومی اثرکی لیکی :

بریخ په اومړی سرکی په دووپلاروویشل کیږی یویی « اوتغ» دی او بل یی «اوسین» . اوتغ پرلاندنیوخیلونوویشل شوی دی : ۱- داود زی ۲- چوپان زی ۳- ملیزی ٤ - بدل زی ٥ - ثابت زی ٦- شکر زی او بروکی زی .

اوسین هم پرلاند نیوخیلونوو یشل شوی دی :

۱- بارکزی ۲- زکوزی ۳- مندوزی ٤- سبازی ٥ - راو زی. حافظ الملك حافظ رحمت خان بریځی چی په ۱۱٤۸ه . ق دهندوستان په روهیل کهند کی خلاصة الانساب لیکلی دی هلته داسی وایی :

اوس بریځی په خپل اصلی وطن بنوراولك کی یوازی پرد غوخیلونوویشل شوی دی .

بدل زی .

زکوزی .

مندی زی .

چوپان زی اوملیزی د یوسفزیوسیمی ته راکوچیدلی اوزیاتره بیاله هغه ځایه هندوستان ته را غـلي دي دد غـودوو ( زیو)خـلک چی په ښوراوك کی پـاتی دی ځانته خاني او د مځکو تاکلي جلا برخه لری . د شکرزیـو، را وزیـو، او نـورو ( بارك زیو، سبازیو، پروکی زیو) شمیرلږو . دوی هم په هغو دریوزیو( بدلزیو، زکوزیو، مندوزیو) کی مـدغم شوی دی :

د حافظ رحمت خان د غه لیـکنه پس لـه دوه سوه اوڅوکالوڅخـه اوس‌هم رښتیا کیږی او د ښوراوك دکرنی مځکه پرنو موږودریو زیو (بدل زیو، زکوزیو مندوزیو) باندی په دی ډول ویشلی ده :

۱ـ د بدل زیو برخـه

د پښین‌خواته له غل دری څخه تربا دوزیو پـوری(د ښوراوك ختیځه سیمه).

۲ـ د زکو زیو برخـه :

له پنج پایه څخه دریګث ترعلاقـه داری پوری :

۳ـ د مندوزیو برخه :

له کاریزه څخه د بلوڅانوترټکه (بریده) پوری (د ښوراوك لویدیزه‌سیمـه )

دلته دا هم باید وویل شی چی د مندوزیوپـه برخه شیرا نی هم اوس شریلث شوی دی او د بریڅود ځلورم خیل په توګه پیژندل کیږی . په خلاصة الانساب کی بدل زی پر دغولاندی پنځوښاخونوباندی و یشـل شوی دی :

سالارزی، بیسین‌زی، ادوړی(زی)، ملاخیل‌اودولت‌خیل.مولف‌داهم‌زیاتوی: اوریدل کیږی چی ملا خیل او دولت خیل اوس پـه ښوراوك کی نه دی پاتی د یوسفزیوسیمی ته راغلی اوزیاتره یی بیاله‌هغه ځایه هندوستان‌ته را لیږدیدلی‌دی.

په خلاصةالانساب کی داهم راغلی دی‌چی مندوزی او زکوزی هم د بدل‌زیو په څیرپر څوڅو پـښو ویشلی دی خودهغی نومونه یی نه‌دی راوړی :

دبریڅوتاتوبی :

دبریڅوپخوانی تاتوبی دبست تاریخی سیمه وه چی پښتانه یی کلا بس بولی

اوس هم هلته برېښې یا برېښان اوسېږي . دفتح خان اورابیاد نکلي قهرمان (پتي خان) دکلابست له برېښوڅخه وپه دغه نکل کې دهلمند پرغاروباندې دبرېښو ګڼه آبادي ښيي . په ۱۰۵۸ هـ.ق کال پرکندهارباندې دایران دصفوي پاچادوهم شاه عباس (۱۰۵۲ - ۱۰۷۷ هـ.ق) دحملې پـه وخت کې پـردل خان بـرېښې له خپل قبیلوي لښکرسره دایراني پوځونوپـه مقابل کې پنځه پنځوس ورځې دکلابست کلا بندي وساتله . دغه پېښه هم داښيي چې تریوولسمې هجري سدې پورې لادهلمندپرغارو پـه تېره بیاپـه کلابست کې ډېر بـرېښې مېشته ووسل اوڅو کالـه پخواچې دپتـي حیات خان پوپلزي (؟) حیات افغاني (۱۲۸۳ هـ.ق تالیف ) کړ دکلابست پـرشاو خوابرېښوخپله خاني دراوده اوخان یې اورنګ خا ن نومیده :

بـل د هلمندپر ر کینه غاره باند ی دګرمسیل اوسیستان تر مینځ په لنډ ی او پلالکه کې اوس درې سوه کوره برېښې مېشته دي اودغه برېښې دزکوزیواله ایسازي پښې څخه دي .

لنډی اوپلالـکه دوې ویالې دي چې برېښوپخپله کیندلې دي : لنډ ی ویـالـه لویدیزې اوپلالـکه والختیځې خواته واقـع ده چې ددواړو تر منځ تقریباً لس کیلو متره واټن شته . لنډی اوپلالکه له اداري لحاظه د د یشوپه اولسوالي پـورې اړه لري ددغې اولسوالي ختیزلورتـه دګرمسیل اولسوا لي پرتـه ده دادواړه اولسوا لي دهلمندپه ولایت پورې اړه لري چې مرکز یې دلښکرګاه ښار (بست) دی :

د کندهارپه ښارکې هم دبرېښانوڅوکوره شته مګرددوی داستوګنې ترټولاویه سیمه ښوراوك دی چې دلنډې اوپلالکې ویالې یې شمال غرب ته پرتې دي :

دپتي حیـات خان پـه حیات افغاني کې یـوسل اوشل کـالـه دمخه کښلې دي چې اوس په ښوراوك کې تخمیناً درې زره کـوره برېښې اوسي: دحیا ت افغاني پـه دغه شمېرکې شیراني هم راغلي دښو راوك دخلکوشمېر د« اتـلس قـریـه هـای افغانستان» په (۱۳۴۹) مخ کې لیـکلی دی تقریباً یوولس زره تنه دی چې په دغوکې تقریباً دوه زره تنه برېښان نه دي اوددغې سرشمېرنې له مخې چې په ۱۳۵۴ ش

کال په کابل کې خپره شوې ده دښوراوك دبر يڅوشمير بې له شيرانيو نهوزرو ته رسيږي. (۱)

د (Dictionary of the Pathan Tribes) په ۲۱۰ مخ کې ليکلي دي «څه بريڅي په کوټه، پيښن او ځاګي کې اوسي. دغه قبيله زياتره دافغانستان په جنوبي برخه ښوروالـك کې ميشته ده. »

داولس مجلې د۱۹۶۸ ع کال اکتوبر په ګڼه کې عابد کښلي دي: «بريڅي دکويټې دوږ ن په ښار ارودنومي ځای له عيسی خيلو سنتيا کاکړ وسره ميشته دي په کوټه کې هم اوسي» دپټان دکتاب په سلم مخ کې ليکلي شوي دي:

ددبريڅو څو کوره دکويټې دبولان دحکومت په ځاګي کې هم شته او څه بريڅي په نوشکي کې هم اوسي.

څه اکازي، الياك زي او وسمي زي بريڅي (چې له نسبي لحاظ په مندوزيو ګډيږي) په بولان کې له سنجرانيو بلوڅو سره ميشته دي او اوس يې خپله ژبه له لاسه ور کړې ده. ددغو بريڅوشمير سلو مړو ته رسيږي.»

ملك صالح محمد لهري د بلوچستان نومي کتاب په ۵۵ مخ کې ليکلي دي: په ۱۹۵۱ ع کال چې په بلوچستان کې دنفوسو شمېر وشود بلوچستان دبريڅوشمير (۴۹۶۵) تنه وو. په صولت افغاني کې راغلي دي:

«بريڅي په هندوستان کې هم اوسي دجهجر و پرګنه دبريڅا نوده. په ۱۸۵۷ ع کال چې د هندوستان دآزادولو له پاره هندوستانيان پورته شول د جهجر بريڅي رئيس هم ددغو غازيانو مل و. انګريزانو چې بری وموند دغه بريڅي رئيس يې په دار کړ.»

دجهجر پرګنه ددهلي او علي ګړه تر مينځ پرته ده په داداري لحاظ دسکندر آباد په حکومت پورې اړه لري سکندر آباد سلطان سکندر لودي (۸۹۴-۹۲۳ ه.ق) ته منسوب دی.

---

(۱) پوهاند رشاد، بريڅي اوښوراوك، دشيخ بستان بريڅ دمقالومجموعه، ۹-۱۸ مخونه ۱۳۶۰ ه کال.

بریښځی دروهیل کند په ښارونو کی هم شته په تیره بیا بریلی په بریښو دك دی.

د( Pathan په سلم مخ کی راغلی دی چی په بمبئی کی ( د بړوچ) په نامه ښار هم بریښوته منسوب دی او له دی څخه معلومیږی چی بریښځی ترگجراته پوری هم رسیدلی وو.

ښوراوك:

دښوراوك سیمه داوسنی کند هارپه جنوب غربی کنج کی موقعیت لری او داولسوالی په نامه اداری تشکیلات لری. دریگ په نامه یوه علاقه‌داری هم په دغه اولسوالی پوری تړلی ده. دښوراوك دسیمی‌شمال او لویدیځ ته ریگ( ریگستان) پروت‌دی دغه‌ریگستان په شمال کی‌دسپین بولدك‌تر‌حدودواوپه‌لویدیځ دافغانستان دغربی پولی‌پوری غزیدلی دی لمرخاته خواته یی دخواجه عمران غوردی‌چی له پښینه څخه ښوراوك‌جلا کوی :

دجنوبی ددی غرو نه یی دبراهوی بلوڅو ټاټوبی دی چی په نوشکی پوری اړه لری. دښوراوك مځکه ښوی ډاگ‌دی‌اوددغه ډاگ‌په منځ کی هیڅ غرنشته مځکه یی مټ ده اودبری بیخی نلری. د ښوراوك دمساحت په باب دصولت افغانی په ۳۴۷ مخ کی راغلی دی:

«ښوراوك نسبتاً په مربع شکل پروت دی چی هره ضلعه یی تخمیناً شپیته میله او ږدوالی لری.»

دصولت افغانی دغه لیکنه دحیات افغانی د (۱۵۳) مخ نقل دی :

د «اتلس قریه های افغانستان» په ۱۳۴۹ مخ کی دښوراوك دتړلی اولسوالی مساحت (۴۹۶۴) مربع کلیو متره راغلی دی مگر قاضی عطاوالله‌خان دپښتنو په تاریخ کی د ښوراوك تړوله علاقه تقریباً شپیته مربع میله ښودلی ده. داروابناد قاضی صاحب دغه لیکنه داسی توجیه کیدلای شی‌چی ده یوازی دښوراوك هغه‌آباده مځکه شپیته مربع میله بللی وه چی دبریښځوکروندی او ټاټوبی دی او دنوی او زاړه ښوراوك په نومونو یادیږی :

په قاموس جغرافیایی افغانستان کی د ښوراوک کلی اووه ویشت ښودل شوی دی (۱) په د غه کلیو کی تر ټولو لوی کلی دبادرزودی چی تقریباً یوزرودوه سوه تنه پکی اوسی. په زیاترو کلیو کی دوه دری کوره بواهویان هم شته چی نار ینه یی د کلی ساروانان او شپنیان دی . ښځمنی یی کمبلی، جوالونه، خورجینونه او دستر خوا لونه اوبی:

کلی او کورونه:

دښوراوک دبریځر کور په یوه ساده کودی (کودله) یاخونه کی وی. کودی یی په بیضوی شکل د غره له پنډولښتو څخه جوړه شوی ده چی څلور پنځه دانی یی یو ځای په مځکه کی له یوی خوا او بلی خوا څخه دنیمی دایری په توګه نجتی وی پرسویی کیږه وراچوی کیږه دغزوله لښتو یا نلرنو څخه تخرغوندی شی او بیی دخونی په پښښت کی یی پرتیرانو اچوی.

هغه کودی چی دژمی له پاره وی پر کیږه سر بیره یی اخیر وی. خونی یی څلور دیوالی لری چت یی له یوه او ږده تیرو او دغزه له لښتو څخه داسی جوړ کړی وی لکه عصری چادر پوښه کورونه. دغه خونی او کودی یوه د بلی وارخته په بیضوی یا مستطیل شکل یو لر پر له پسی پرتی وی. پرشاو خوا باندی (دښاری دوله کورونو په شان) دیوالونه لری او زیاتره کودلی یی دروازی وی داځکه چی په دوی کی مخ پټی او غلا نشته:

کښت او کر:

د ښوراوک دوبی دیرتود او ژمی یی معتدل دی څه شمیر تره کی او خروتی کوچیان ژمی ځانونه ښوراوک ته رسوی دښوراوک کښت په باران دی فقط یو کاریز ګی پکی شته چی پرهغه هم دوه دری کوره آباددی نوری بها ندی او به نه لری. غنم، اوربشی او باجوری په للمی دول کری. څه للمی پالیزونه هم کری.

دښوراوک دبریځر سپین زیری وایی: « زموږ نیکه ګانو چی په ښور اوک کی وارول کښت یی په باران واوله لوړی څخه یی ځمکی نه خړوبید لی. لوړه دیوه

---

قاموس جغرافیایی افغانستان، ۱۶ مخ، دکابل چاپ، ۱۳۳۸ ه .کال

رودلوم دی. دارود دتوبی له غروراوزی اوزدوالی یی(۲۵۰) میله‌دی. لوره ژوره ده غاروته یی او به نه خیژی .

سترستانه حاجی محمد نیکه خیشکی دوی تشویق کړل چی ویالی وګازی اوله لوری څخه اوبه خپلو کروند و ته وخیژوی بریځود حاجی نیکه خبره ومنله لیڅی یی راونغښتلی لوری ته یی اومه بندونـه واچول. دوی لـویی ویالی څینی وکښلی یوه ویاله دبدلزیو او زکوزیووه بله ویاله یی دمندوزیووه چی شیرانی‌هم په شریک شول‌له د غولویو ویا لوځ‌خه‌بیاکوچنی ویالی جلاکړی چی پـه دغوکی شپـز ویالی یوازی دمندوزیودی.

وروستـه‌داوبـو دهغه بـند په اغیـزه چی‌دپښین پـه‌ملوزوکی‌لوری‌تـه‌و اچـول شو دلوری‌او به ښورا وک‌ته‌ونه‌رسیدلی او ښوراوک یی‌پـه یوه بی‌او بو میره‌بدله‌کره. اوس دښوراوک دخلکو کښت وکردباران په اوبودی . څه اوبه په او ښا نـوله څاه ګانوراکازی څاه ګانی یی شپیته اویا متره ژوری دی. دڅاه‌ګانو اوزبه‌یی تروی دی نوځکه دوی ناوران (څلیرونه) هم لری . په ناورانوکی دباران اوبه‌ذخیره‌کوی‌د دڅا او ناور په اوبودښوراوک خلک خپلی ورځنی‌ارتیاوی ایسته‌کوی، څښی یی‌او‌اودسونه‌پری تازه کوی، لوښی اوکالی پـری مینځی او څاروی پـری اوبـه کوی : دڅاه ګانو اونا وروزنواوبه دومره نه دی‌چی‌دکښت وکوله پاره هم څینی کار وا خلی . د ښوراوک مځکه ډیره ده او اوبه یی لږی دی ځکه نوځینو مځکوته دکرهنی وار پسله څلورو پنځو کالاووررسیږی له‌غه امله‌یی نومځکه خورا زوروره وی، ډیرحاصل‌کوی اوسری‌ته یی حاجت نشته .

د ښوراوک ټول خلک په پښتوخبری‌کوی اود خلکو په محاوره‌کی‌یی دمتلونو ډیراستعمال داسی څرګند یږی‌چی دفولکلوری ادب خزانه یی ډیره بډایه‌ده .

دبریڅو یوزیات شمیر پـه هندوستان کی استوګنه لری اودا هغه پښتا نـه دی چی دافغانی فا تحینو سره هند ته ورغلی دی اوس یی پاتی کسان‌ځانونه هغو کسانه ته‌منسوب ګڼی چی دهندوستان په تاریخ کی نوم اونښان لری :

بوله دغو کورنیو څخه د حافظ رحمت خان بریخ کورنی ده چی اصلاد کندهار د ښوراوك وو چی په رو هیلکنډ کی حکمران و . حافظ رحمت خان په هند کی دابدالی احمدشاه دفتوحاتو ملگری واو دده زامن اوورپورونه درو هیلکنډ ډیر مشهور حکمرانان وو . پخپله حافظ رحمت خان دافغانی فرهنگ په بدایتوب کی ډیره لویه برخه اخیستی وه او ځینی داسی تاریخی متون د ده په پا ملرنه د ورکیدو او هیری څخه ژغورل شوی دی چی هغه نن دلویو علمی اسنادو په جمله کی ډیر هسك ځای لری.

تواریخ حافظ رحمت خان چی پیرمعظم شاه ته منسوب دی اصلی متن یی د حافظ رحمت خان په سپارښت لیکل شوی دی اودا یودا سی غنیمت اثردی چی دپښتنی اقوا مواوقبایلو دلیږد یدنواونورو اجتماعی اوسیاسی مناسباتو ډیری خبری په کی پرتی دی .

له دغی کورنی څخه چی د ښوراوك ته منسوب ده بل ډیرلوی سړی جنرال بخت خان وچی د هندوستان دخلکو په هغه سترقیام کی یی دآزادی ساتونکو رهبری وکړه چی په ۱۸۵۷ ع کال کی دانگریزانو پرضد را اوچت شو .

د ۱۸۵۷ کال په دسمبر کی انگریزانو دډیلی پرښاریرغل وکړ کورگانی پاچا بهادرشاه ظفرپه ډارسره انگریزانو ته ځان تسلیماوه خوجنرال بخت خان هغه ته دادورکاوه چی دانگریزانو مخه به ونیسی. جنرال بخت خان دانگریزی قواوو په وړاندی دومره خنډونه ایجاد کړل چی دکشمیری دروا زی اولال کلا ترمنځ لنډه فاصله انگریزانوپه پنځه ورځی ووهله .

دی جنرال پاچادتسلیمیدو څخه ونه شو گرزولای نو کله چی پاچاتسلیم شو جنرال بخت خان له ډیلی څخه لکسنهوته ولاړاو له هغه ځایه دهندوستان غرونو ته وختو اوپسی ورك شوچی بیایی چاپته پیدانه کړه.

دښوراوك خلك وایی : «کله چی دډیورنډ کرښه تاکل کیده نوښوراوك دافغانستان څخه دباندی شوی وخوسمندرخان بریخ دخپلوسپروسره پرکوټه حمله اوکړه

اودومره لوی خطرونه یې ا نګریزانو ته متوجه کړل چې هغوی په دی راضی شول
چې پښوراوك دډیورنډ دکرښې هغې خوا ته کړي .

بړیځان قوی خلك دی او د کار څخه دفراغت په وخت کې بیل بیل سپورتونه
لري چې عمده سپورت یې غیژده. دمیلوپه ورځو اوودونوکې اتڼونه کوی او
دبړیځواتڼ ځان ته نوم لري. دوی په اتڼ کې توپکونو ته حرکت ورکوی او کله
چې اتڼ یې ګرم شی نوپه توپکو ټکان هم کوي. دسپوږمۍ په ۱٤شپه په سپوږمۍ
رڼایی ځوانی ښځې اوپیغلی اتنونه کوی اوسندری وایی .
دزوی دزیږیدنه نیکمرغی بولی اوپه هغه کورکی چې زوی وزیږی خیراتونه
کوی اودهلك دنوم ایښودلوپروخت سندری وایی او اتڼونه کوی .ویل کیږی چې
دښوراوك خلکوشمیراته زره تنوته رسیږی.

## بلخ یابلیخ

ددغی قبیلی خلك کله ځانونه دنیازی ، کله دولتخیل او کله هم ځانونه د لودی
داولادی نه شمیری ، خوداسی فکرکیږی چې دوی لودی پښتانه دی .دوی په پښیا له
نومی ځای استوګنه لري چې دغزنی شیخ دغره جنوب ختیځ خواته موقعیت لري .
ددغی قبیلی څخه یوه کورنی دمیانوالی دسیمی په پپلان کی استوګنه لری(۱)
دوی دلوانی وپښتنوسره داسی ګډشوی دی چې د هغوی سره یې کوم توپیر نه شی
کیدای. دغه قبیله دومره مشهوره قبیله نه ده اودشمیرپه لحاظ هم دیرلږدی (۲)

## بنګښ

بنګښ دکرلانی پښتنویوه مشهوره قبیله ده. ددغی قبیلی خلك ځانونه
قویش بولی اوپه خالدی افاغنه سره هم شهرت لری. دافسانوی روایتونوله مخې

---

(۱) تواریخ خورشید جهان - ۲۲۹ مخ.
(۲) حیات افغانی - ۲۹۹مخ.

ددوی دلوی نیکه نوم اسمعیل و. دوی وایی چی دخالد ابن ولید دزوی عبدالله نه رانیکته په لسم پښت کی اسمعیل وزیزید اووده ددووزامنوګاړه او سمل ترمنځ چی موریی د پرملی (فورملی) دقبیلی څخه وه سخته جګړه رامنځ ته شوه .

حیات افغانی لیکی : ددغی قبیلی لوی نیکه اسمعیل دګردیز دسیمی په زرمت کی اوسیده. ددوی ددی کورنی جګړی په سبب و چی دګاره اوسمل په نومونو دبنګښو په توله قبیله کی دوی ګوندی رامنځ ته شوی اودوا ړه ګوندونه په خپلومینځو کی سخته دښمنی لری. کله چی په زرمت کی د دغی قبیلی شمیرمخ په ډیریدوشوه او اهلی خوایی دغلجیو دقبیلی زورولید نوتقریباً (۵۰۰) کاله دمخه یی دغه سیمه پریښودله اوپه کورمی، پیواړاوشلوزان یی چی د سپین غره په جنوب کی موقعیت لری خپله قبضه ټینګه کړه، خودا ورکزیو او ددوی ترمنځ بدی پیداشوه(۱) په هغه وخت کی دختکو قبیلی هم د بنګښو سره مرسته وکړه. اوتر یوی سختی جګړی وروسته یی داورکزیو لاس له کوهاټ نه لنډکړ اوخپله قبضه یی وربانسدی ټینګه کړه . تر هغی وروسته هم د بنګښو او اورکزیو ترمنځ ډیری جګړی وشوی، خوپه پای کی دبنګښو او اورکزیو ترمنځ سرحد وتاکل شو، میدان اوهغه دره چی اوس بنګښ پکی استوګن دی دبنګښو اودشمال په خوا غرنیزه سیمه اورکزوته ورسیده (۲) .

دبنګښو علاقه د دری په شکل شرقاً اوغرباً دغرونوترمنځ پرته ده . ددوی لمر خاته اوجنوب ختیځ خواته ختکک، شمال ته یی اورکزی ، جنوب غربی حدیی د وزیروسره لګیدلی دی اولمراویدوته یی دکورمی علاقه پرته ده .

قاضی عطاء الله خان پخپل اثر د«پښتنوتاریخ » کی د بنګښو په باب داسی لیکلی دی : «بنګښ داپریدوا اورکزوسویل ته پرانه دی .ددوی دعلاقی

(۱) حیات افغانی - ۶۳۷ - ۶۳۸ مخونه .

(۲) پښتانه دتاریخ په رڼاکی - ۱۳۹۸ مخ

لمرخاته اوجنوب ختیځ ته ختیځ موقعیت لری جنوب ته یی وزیراو لویدیځ ته یی توری اوسیزی . ددوی ملک دیوی لویی دری په شکل دی . د دوی میدانی علاقه زرخیزه ده . میدانی علاقی ته یی کوز بنګښ وایی او دغرونو علاقی ته یی بر بنګښ وایی . دکوهاټ ښارهم دبنګښو په علاقه کی دی (۱) »

دکوهاټ دضلعی شمال ته د پیښور ضلعه اوداپریدیو او ورکزیو غرونه ، شمال لویدیځ ته یی اورکزی اوتیراه، لویدیځ ته یی کورمه ایجنسی ، داورکزیو ایجنسی اوشمالی وزیرستان اوجنوب ته یی دکرک ضلع ، دمیانوالی ضلع اوختیځ ته یی د سنددریاب دکمبلپور ضلع اوکوهاټ یوله بله څخه بیلوی .

په هنګو کی هم ډیرشمیر بنګښ استوګنه لری. او همدارازدتل ښارهم دبنګښو په علاقه کی پروت دی. هغه بنګښ چی دکورمی په علاقه او پیوار کـی اوسیزی نوهغوی دتوری دقبیلی په ذریعه مغلوب شوی دی .

دبنګښو قبیلی ځینی خلک شیعه اوځینی هم سنی مذهبه دی. دکرمی شیعه بنګښ دسپین غره په لمن اودپاره چنارشمال ته اوسیـزی چی شمیر یی د ۱۹۶۱ کال داحصائیی له مخی (۱۱۰۵۸) تنوته رسیزی .

بلند خیل بنګښ چی دتل ښارته نژدی دوزیرو په ګاونډ کی اوسیزی شمیر یی د ۱۹۶۱ کال داحصائیی له مخی ۶۴۴۶ تنوته رسیزی .

دهنګو دتحصیل نفوس چی اکثره یی بنګښ دی په ۱۹۶۱ کال کی (۹۰۱۴۸) تنوته رسیده . (۲)

میران زی دتل نه دهنګو ترشا اوخواپوری استوګنه لری اود غـه دره هم دمیران زیو یاهنګو په نامه سره یادیزی .

بنګښ په عمومی دول دکرکیلی په چاروبوخت دی خو ځینی یی د مالـګی سوداګری هم کوی . دوی زړور ، جنګیالی او ډیرمیلمه پال خلک دی .

---


(۱) قاضی عطاءالله خان ، دپښتنو تاریخ ؛ لومړی ټوک ، کابل - ۱۳۵۶ کال ، ۳۹۰ مخ .
(۲) اضلاع ، ایجنسی ها و قبایل ایالت پښتونستان ۹۳-۹۴- مخونه .

ددوی دلویو او مشهورو کلیو او ځایونو نومونه دادی : نری اوبه، تل، درسمند، هنگو، اوسترزی، کسائی، توغه، توره وړی، کټی، مد خوزه او نور (۱)

سرویلیم بارتن د بنگښو د جگړنومیرو نو شمیر (۶۰۰۰) تنه ښودلی دی چی (۴۰۰۰) تنه یی په کوهاټ او پاتی برخه یی د کورمی په سیمه کی اوسیږی .

د کوهاټ د ضلعی د بنگښو نه پرته یو شمیر بنگښ په افغانستان، د ایران د مازندران په سیمی او د هندوستان په ځینو ایالتونو په تیره بیا په فرخ آباد کی دیر شمیر بنگښ استوگنه لری :

د بنگښ د قبیلی اکثره خلک شیعه گان (شیعه مذهبه) او دگاړی دگوند پوری اړه لری.




(۱) پښتونستان کابل- ۱۳۳۰-۲۷۰ مخ .

(۲) اضلاع، ایجنسی هاوقبایل ایالت پښتونستان - ۹۴ مخ .

# بنوڅي

که‌چیري دبنوڅیو دنسب شجره په غورسره وګورونوڅرګنده‌به‌شي چې دوی په اصل کې کرلاڼي پښتانه دي. دبنوڅیولوی نیکه شاه فرید نومیده چې وروسته په‌شیتك باندې مشهور شو. دشیتك‌مورککې نومیده چې د ده دپیداکیدو پـه‌وخت کې مړه‌شوه پلاریې په ده باندې دشاه‌فرید نوم کیښود. په کوچنیوا لي کې یې د نوروښځو دشیدوسره‌تـوافق نـه درلـودپـه دې نسبت ډیر ناروغ شو. نو په دغـه وخت کې دحکیمانوله‌خوادده‌پلارته توصیه‌وشوه چې دخرې شیدې دې ورکړل شي. په‌دغه سبب دی په شیرتګ باندې مشهور شو چې دزیا ت استعمال په سبب شیرتګ په شیتك بد ل شو .

داسې روایت مـو جود دی چې شیتك درې ښځې درلودې.دیوی ښځې اولاده یې دوړاوتنې‌دي، ددویمې ښځې اولاده یې جیلم اوهویداوله د ریمې ښځې نه یې چې بانو نومیده دوه زامن دکیوی اوسوراڼي په‌نامه وزیږیدل چې د وی دمور نوم له کـبله د وی ته بانوزي ویل کیدل خوعوام پښتانه یې‌بنوڅي بولي .

دبنودسمیې دتسمیې وجه به‌غالـبادهماغې‌ښځې نـوم وي چې اولاده یې‌په‌دغه سیمه کې میشته‌وه داځکه چې ورباندې تودې چې دوی په دغه ځای کې میشته شي ددغې سیـمې نوم بنونه و. په دې باب یو بل روا یت هم موجود دی چې د اسلام ترخپریدودمخه دلته یوهندې راجا استوګنه درلوده چې نوم یې ستوام و. ده خپله یوه لورچې بانونومیده خپل یوملازم اوپهـلوان تـه چې هـنې نومید واده کړه . نوموړي داواده دځان دپاره سپکاوی وګاڼه اوښیراوی یې وکړې چې دده د دې دعاوو دقبلیدوله کبله په دغه‌ځای‌دزلي او ډیرو باران‌وشوچې‌دغه‌ملك‌او‌اوسیدونکي خلك یې تباه کړل. نوددغې پیښې په سبب ددغې سیمې نوم بنو شو .

داسې ویل کیږي چې ددوی اصلي ځای دسلیمان‌دغره ښاخ د شوال غوګښل کیږي. هغه‌وخت‌چې‌هنې‌اومنګل‌دبنو پـه‌سیمه کې میشته‌وو ددوی‌ترمنځ دبې اتفاقی پیـداشوه او پـه هغه وخت کـې د دوی پـیـر شیخ‌شـاه محمـد روحـانـي (رح)

له دوی نه په دی سبب ناراضه شو چی د پید اوارواو غلی عشر یعنی لسمه برخه چی هغه ته به یی ورکوله وربانـدی بنده کړی وه چی له هما-غه وخته نو موړی پیر د شیتك له اولادی نه دکیوی اوسورانی بنوخیو اولاده دخپل زوی شاه نیکبین سره دشوال دغره څخه دی ملك ته را ولیږل او اجازه یی ورکړه چی دهنی او منګل قومونه له دغه ځایه وباسی او دغه سیمه چی په هغه وخت کی په ډنډ باندی مشهوره وه په خپله قبضه کی راولی. څرنګه چی د شیتك اولاد ه دوزیر وقوم دغلبی او زور زیاتی نه په تنګ شوی وو نو دغه خبره یی غنیمت و ګڼله او دخانه کوچ په ډول دغه ځای ته روان شول لومړی دتوچی دسیند سهیل خواته او دګبر دغره په شمالی لمنی ورغړ کی میشته شول چی اوس هم دلته دکیوی میله په نوم یو ځای شته :

بنوخیو د خپل پیر دزوی په غوښتنه او مشوره دری کو تری را وړی دیو ی کوتری نه یی هیڅ بڼی ونه ایستلی ددویمی کوتری نیمایی بڼی او ددریمی کوتری ټولی بڼی یی وایستلی اودری واړه کوتری یی دخپل استازی په لاس دهنی او منګلو قومونو ته واستولی او داپیغام یی ورولیږه چی له تاسی څخه هر هغه څوك داستول شوی کوتری په څیر چی بڼی یی نه دی ایستل شوی کولای شی خپل مال او جایداد واخلی اولاړشی اودوی ته به هیڅ زیان ونه رسیږی او هغه خلك چی ترلږ تم کیدو ورسته ولاړشی هغه به د هغی کوتری په شان وی چی نیمایی بڼی یی وتلی وی او هغوی ته به ځانی اومالی تاوانونه ورسیږی او پښیمانه به شی او هغه څوك چی نه ځی هغه به موږ د خپل پیر په برکت دهغی بی بڼو کوتری په شان لوڅ کړو .

کله چی هنی اومنګلو د کوترو دغه حال ولید او پیغام یی واورید نو په خپلو مینځو کی یی سره سلا او مشوره وکړه چی که چیری له دوی سره جګړه وکړی نو د بریالیتوب هیله نشته همدا راز دوی دخپلی بی اتفاقی او دپیر دنارضائیت په سبب خواشینی وو او هم بنوخیو ددوی کرنی او زراعت پایمال اوه او دوی ته به یی زیانونه رسول . کله چی په دغو کوچنیو پیښو باندی شخړی را مینځ ته شوی نو بنوخی

بریالی شول . په پای کی دهنی اومنګل قومونه مجبورشول اوملك یی پریښود .

دهنی دقوم لزشمیر دهندخواته لاړل اولزشمیریی دمنګلوله قوم سره یوځای دسپین غره په سهیلی برخه کی میشته شول چی له هغی مودی را په دیخوا دشیتکو بنوځیو اولاده په دی سیمه باندی قبضه لری :

که څه هم ددوی له خوا ددغه ملك دنیولو تاکلی نیټه معلومه نه ده، خو دوی دشاه محمد روحانی (رح) په وخت کی چی د شاه رکن عالم همعصره اومریدو دلته میشته شوی دی اوشاه رکن عالم په (٧٠٥ه) کال له دی نړی نه سترګی پټی کړی دی :

## دبنود ضلعی جغرافیوی موقعیت :

ددغی ضلعی لویدیځ ته دوزیروغر ، ختیځ ته یی د شاپور دضلعی سرحد، د متهه پوابه سیمه اودجیلم دضلعی دتله کنګ تحصیل یوه برخه، شمال ته یی داویدیځ نه نیولی دسند دریاب ترښی غاړی پوری دکوهاټ ضلعی د ختټک و غونی سیمه اودهغه دریاب کیڼه څنډه ازڅه دراولپنډی دضلعی دمکهډ د سیمی سره یوځای کیږی.سهیل ته یی ددیره اسمعیل خان پواله پرته ده:

اوږدوالی یی له لویدیځ نه چی هلته دکورمی سیند د غره نه اوا ری سیمی ته راځی ختیځ خواته دشاهپورتوضلعی پوری(١٠)میله اومنځنی پلن والی یی له شمالی نه جنوب ته ترڅلویښتومیلواولزڅه زیات دی .

مساحت یی (٣٦١١) میله مربع اود (١٨٥٤)ع کال دسرشمیرنی له مخی (٢٣٦٢٥٨)تنه اوسیدونکی لری چی په دی حساب په هرمیل کی(٦٥)تنه میشته دی.

ددغی ضلعی لویه برخه چی دری پرګنی لری یعنی خاص بنو ، لکهی-مروت اوعیسی خیل دسنده دریاب دلویدیځو غرونو په ذریعه احاطه شوی دی په لیره بیاد تنګ دره چی دعیسی خیلواولکهی مروتو په پولو کی دکورمی سیندداو هامه لاری دیوځای کیدو په سبب دبنواومروتوپرګنه دغرونو په حلقو کی د لوی ځای څخه دګرد میدان په شان بریښی .

ښوېو پراخ میدان دی چی دکورمی په سین سره څرو ښېږی . دلته جوار ډیر کرل کیږی په اوړی کی یی هوا گرمه ده ، خو په ژمی کی داسی سوړوی چی انسان یی زغملی نه شی .

حاصلات یی شولی ، غنم ، جوار ، گنی ، تمباکو ، کور کمن او زنجبیل دی . له ختکیو ، توتانو ، نارنج ، بادو او غټو لیمو گانو پرته نوری میوی نه لری . (۱)

دبنو د خلکو ونی د نورو سیمو د خلکو د قد و نو په تناسب وړی دی . د دوی رنگونه زیړ او اکثراً بیضوی او متوسط اندامونه لری ددوی تنبلی وړی او سترگی یی گردی دی !

ددوی کالی او پوښاك نورو پښتنو نه ورته دی . دبنو څیو مشهور ښاخونه دادی : د میری ښاخ ، دسورانی ښاخ ، د سمی ښاخ ، دعیسکی ښاخ ، دسیناور ښاخ ، دتپی ښاخ ، دغرصنزی ښاخ او دمنداخیلو ښاخ چی دا ښاخونه بیا په ډیرو څانگو او هره څانگه بیا په وړو وړو او فرعی پښو یاندی ویشله شوی ده . (۲)

## بیټنی

د دغی قبیلی خلك د خپل اوی نیکه بیټ یا بټن د نامه له کبله په بیټنو سره شهرت لری . دا سړی په پښتنو کی ډیر مشهور نیکه دی او له پخوازمانی څخه مورخانو ده نوم او حال لیکلی دی او په پښتنی عنعنه کی دا سړی یو څو ر الوی پښتون او مشهور نیکه گڼل کیږی .

د دی عنعنی تصدیق په خارجی مورخینو کی ابوالفضل علامی (۱۰۰٦ هـ) داکبر مغولی پاچا ددربار مورخ په دی ډول کوی : « په پښتنو کی دری ورونه بیټنی ، غرغښت او سړه بن ډیر مشهور نیکونه دی (۳) . »

---

(۱) حیات افغانی - ۷۱۸ - ۷۱۹ - ۷۲۱ - ۷۲۲ - مخونه.

(۲) پښتانه دتاریخ په رڼاکی ۱۳۹٦ - ۱۳۷۹ مخونه

(۳) آئین اکبری ، لومړی ټوك ، ۱۹۱ مخ .

د بیټ نیکه نوم په تاریخونو کې بیټني اوبټن هم راغلی دی او نعمت‌الله هروی (نورزی) چې په (۱۰۱۸ هـ) یې مخزن افغاني تالیف کړی دی هم د شیخ بیټني او د ده د اولادې احوال په بشپړه توګه راوړی او څینو نوروتاریخونو ته حواله ورکوی چې مجمع‌الانساب او معدن اخبار احمدی او تاریخ ابراهیم شاهي له هغو څخه دی اوتروده د مخه کښل شوی دی (۱)

د روایاتو له مخه بټن د قیس عبدالرشید زوی دی . بیټ نیکه ( * ) د خپلو وروزورنو یعنې غرغښت اوسړبن نه په عمر کوچنی و، خو د خپل نیک خوی ، زهد او تقوی په وجه یې ډیر شهرت ترلاسه کړ. په کوچنیوالي کې یې توعربستان او عراق پوری سفرونو نه وکړل چې د دې سفرونو په ترځ کې یې ډیرو خلکوسره لیدني کتني وکړی اود هغوی د محبت نه یې فیض حاصل کړ (۲)

اخوند درویزه ننگرهاری (چې تر ۱۰۴۸ هـ) پوری ژوندی وهم د شیخ بیټني او ده داولادې ذکر کوی اودپښتنو له مشاهیرو څخه یې ګڼي خوتردغو ټولوپوی پخواني او زوړ کتاب چې دبیټ ذکر او دده اشعار په کې راغلي دي دسلیمان ماکو دبارك خان دزوی تذکرة‌الاولیادې چې له (۶۱۲هـ) وروسته لیکل شوی دی ددې کتاب هغه پوخوپاڼې چې شته دشیخ بیټني ذکرداسې کوی: «نقل هسې کاندي یارانو چې په روزګاردشیخ بیټني دده ورورچې سړبن نومید اوپرشیخ بیټني هم خورا ګران و. سړبن نه درلوده زامن او هر کله به یې ویل خپل وروره بیټني خپل زوی اسماعیل ورکړا ولوی شو د سړبن په کاله خدای مهربان داسماعیل په برکت سړبن ته نصیب کړه دومره زامن چې اوس شوګنون دهغو...(۳).»

لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي دپښتو ادبیاتو تاریخ په دوهم ټوك کې لیکلي : «دبیټ نیکه نوراحوال موږته نه دی معلوم اونه دده دژوند و خت مؤرخانو

---

(۱) د پښتو اد بیات تاریخ ، دوهم ټوك ،(۱۰۵) مخ .

( * ) په سانسکریت کې بت Bhutt د دانشمند ، فاضل اوبت د پهلوان اوسر باز په معنی راغلی.

(۳) تواریخ خورشید جهان ، ۲۰۶ مخ .

(۳) عبدالحی حبیبي ، دپښتوادبیاتوتاریخ ، دوهم ټوك (کابل: ۱۳۴) ۱۰۶ مخ .

تصریح کړی دی. فقط دپټی خزانې د لیکلو څخه ښکاری چې اسماعیل دبیټ نیکه زوی دخرښبون معاصرواودغه سړی په(٤١١ه) کال کې مړشوی دی. نوچې داسماعیل دژوند وخت د(٤٠٠ه) حدودوی ښایی چې پلاراوا کا یې هم د(٣٥٠ه) په حدودو کې ژوندی وی.

دحیات افغانی دلیکوال په حواله دی دسلیمان په غرونو کې میشته وخو تر مړینې وروسته دغزنی په شاوخوا کې ښخ شو(١)

شیخ بیټنی دری زامن درلودل چې اسماعیل، ورښپون اوکجین نومیدل اوپه دغودریوزامنوبرسیره یې یوه لورهم درلوده چې بی بی متونومیده اودشاه حسین غوری میرمن وه چې اولاده یې متوزی پښتانه دی (٢)

دبیټ نیکه په زامنو کې دوړسپون او کجین اولادی ته بیټنی وایی (٣) په پخواوختونو کې ددغی قبیلی خلك دسلیمان دغره په لویدیځه خوا کې اوسیدل او دبهلول دزوی سکندراودی دواکمنی په وخت کې دغلجیو دقبیلی دغلبی له امله له خپل پخوانی اواصلی تاټوبی نه وکوچیدل اودسلیمان دغره په لمرخاته د گومل درودپرغاړه اوپه ټانك کې میشته شول. وروسته بیا ددغی قبیلی اکثره خلك د سوداګری اونورودولتی چارودترلاسه کولوله پاره هند ته ولاړل له دی کبله چې په هغه وخت کې په هند کې پښتنوواکمنانوقدرت درلودنوله همدی کبله دبیټنی قبیلی ځینی کسان هم دلویورتبوخاوندان شول چې ترهغه وروسته فتح خان بیټنی دبنګال دعلاقې دګوردسیمې خودمختاره اومشهورصوبه دارپاګورنروچې وروسته دهغه تاج دکرلانی قبیلی لاس ته ورغی اوپه همدی دول ددغی قبیلی خوتنونوروهم دپښتنوپاچاپانوپه دوره کې امیرانوو هغه شمیربیټنیان چې دګومل په دره کې اوسیدل د هغوی په شمیر کې زیاتوالی راغی چې دخپل ملك په لویولواودنوروسیمو په نیولو یې

---

(١) حیات افغانی - ٣٨١ مخ .

(٢) نوموړی اثر٣٨٢ مخ .

(٣) پښتانه دتاریخ په رڼا کې - ١٣٣٤ مخ.

پيل وکړ ان تر دې چې (دو تي) ته چې کابهي ګرام ته نږدې موقعيت لري ورسيدل: (۱)

دوی دلته دوزيرو او مسيدو سره مخامخ شول او په هغه جګړه کې چې ددوی ترمينځ پېښه شوه ماتي يې وخوړه او بيرته تګ ته مجبور شول او دکرنګي له کلا څخه هم تښتيدلي. اوس نوموړی کلا دمسيدو دقبيلي د پښولو زيو د ښاخ دشنګی خانګي په لاس کي ده. کله چې وزيرو او مسيد ددوی دمقبوضه ملک له نيولو سره ته دهغوی په ملک باندې هم تيري پيل کړ نو په دغه وخت کې ځينې خلک له خپلو کورونو څخه لاړل او چيرته چې دوی ته پناه ورکړل شوه هلته ميشته شول، خود کجين داولادې زياتره برخه او دهغې نه دورسپون اولاده دسليمان دغره په ختيځه برخه کې ميشته دي (۲)

ويل کيږي چې په هغه وخت کې چې دګبر غرچې دېنوجنوب او دټانک شمال ته پروت دی او دورګارانبان ښاخ ورسپون بيتني په قبضه کې وچې وروسته بيا په نوموړي ښاخ باندې دګوربزو قبيلې يرغل وکړ او بې شميره ورګاري يې ووژل او ددوی ملک يې ونيوه. داسې روايت هم موجود دی چې ددغې مظلومي او ځپل شوې فرقې په مينځ کې يوه اميند واره ښځه هم وه چې ژوندي پاتي شوه او دلکي په نوم يوه ځای ته راغله او په دغه ځای کې خدای (ج) دی ته دوه غبرګوني زامن ورکړل چې په يوه باندې يې دآدم او په بل باندې يې دمعروف نوم نومونه کيښودل او کله چې دغه يتيمان دبلوغ مرحلي ته ورسيدل نو دخپلي مور نه يې دبيتني قبيلې د پاتي خلکو حال ترلاسه کړ او دګومل دري ته دکجين او ورسپون اولادی ته ورغلل او له هغوی نه يې مرسته وغوښتله او هغوی يې دخپلی مظلومی څخه خبر کړل او ورته يې وويل که چيري تاسې زموږ پخوانی ملک ونيو نو دوی برخې يې ستاسو او دريمه برخه يې موږ ته راکړی (۳)

---

(۱) حيات افغاني -۳۸۲ مخ.

(۲) نوموړی اثر ۳۸۲ مخ.

(۳) تواريخ خورشيد جهان- ۲۰۶ مخ.

دګجین اولادی دغه شرط ومانه‌اوهغه‌خوا ته یی لښکری ولیږلی او پــه هغه جګړه کی چی د دوی ترمنځ پیښه شوه کجینونه بری ورپه برخــه شو اوګور بــز وتښتېدل‌اودهغوی‌داوسنی سیمی لوید یـځ خواته ولاړل ترېریالیټوب وروسته یی مفتوحه سیمه د پخوانی شرط له مخی په دریــو برخوویشله‌چی‌دوی برخی‌دکجین اولادی ته اوپاتی‌دریمه برخه یی اصلی خاوندانوته ورکړل شوه اوددغه ویش‌په مطابق ددغی سیمی دڅاروواګی ترسره کیدی خــواوس دګبرسیمی‌اکثره ځمکی دکجین اولادی دنانی ښاخ دبیی اوګروی په ذریعه نیولی دی (۱)

بیټنی د جنوبی وزیرستان په سهیل اوددیره اسماعیل‌خان دضلعی پـه لویدیځ کی استوګنه لری چی دجغرافیوی پلوه په جنوبی وزیرستان، خوپـه اداری لحاظ په دیره اسماعیل خان کی موقعیت لری :

ددوی سیمه له ۱۲ څخه تر۱۵ میلوپوری پـلن والی او تقریباً ۵۰ میله اوږود والی لری . ددوی اصلی مرکز دجنډ ولـه پـه نامه سره یادیږی چی پـه جنوبی وزیرستان کی دټانګ پوری مربوطه سیمه ده همداراز ددغی‌قبیلی خلک په بنوکی هم استوګنه لری (۲)

په ۱۹٦۱ کال کی په بنوکی ددوی شمیرد۱۱۹۸٤ تنو او په دیره اسماعیل‌خان کی ۱۳۲۱۷ تنو ته رسیده . (۳)

کسبونــه او عادتونــه :

ددغی قبیلی اکثره خلک دکرنی اومالداری پـه څارو بوخت دی : دوی پـه خپلو کسبونو کـی تـکړه اوزیار کښ دی ددوی څخه ځینی خلک هندوستان تـه د سوداګری له پاره تګ اوراتګ کوی (٤)

بیټنی غنم رنګه پوستکی، ګردمخونه، غټی‌سترګی او منځنی اندامونه لری .

(۱) حیات افغانی- ۳۸۳ مخ .
(۲) اضلاع، ایجنسی هاوقبایل ایالت پښتونستان - ۹۸ مخ.
(۳) « « « « ۹۸ مخ .
(٤) پښتونستان، ۲۵۲ مخ.

دوی دیرمیلمه پالونکی خلک دی . د بیټینود نارینه اوښځوپوښاک د وزیروسره د
گاوندیتوب په سبب ورته والی لري. همدارازدیوالړ تو پیرونو څخه پرته ددوی دود او
دستورکښ مټ دوزیروپه شان دی :

دښواودیره اسماعیل خان نه پرته دیرشمیر بیټني په هندوستان اوداففانستان په بیلابیلو
ولایتونو کی استوگنه لري اوخلک ددغه قبیلي خلکو ته دستانه وو په توگه درناوی کوي:

همدارازدوی د مسیدو سره پخوانـي د ښمنی لري اود مروتو دقبیلي د موسی
خیلواونوتاخیلوا کثره ځمکي ددغوخلکو له خوا کرلی کیږي :

دبیټني دقبیلي ښاخونه :

ددغی قبیلي خلک په ځینو عمده څانگوویشل شوی دي چي بیاوروسته په نو-
روړوخیلونو باندی ویشل شوی دی دغه څانگی په لاندی دول دی :

دانا، تتا، کتیا، کوتي، رتن زی ، بو بائي، بویکټ، توران خیل ، کته گرام ،
مندانه ، شیخایي، ترایي اوځپلایي(۱)


۱- دکوتي ښاخ :

دکوتي ښاخ پـه اصل کی سیدان دی ځکه چي دبیټ نیکه لمسی ابراهیم بن
وړسبون یوسیدماشوم په څپل زویتوب ونیوه اوهغه یی لوی کړچي دغه ماشوم
کوتي نومید چي دکوتي ښاخ هم دده په نوم نومول شوی دی . کوتي دا براهیم
داصلي زوی دوتانی څخه نیمه برخه واخیستله نوځکه دبیټني په قبیلي کی وشمیرل
شواوس هم دده اولادی تـه سیـدان وایي چي دښوپه ضلعه کی یوه سیمه دکوتي
صادات په نامه یادیږي چي هلته یی اولاده میشته ده :

۲- دتتا، دنااوکتیااولاده :

دوی دکجین له نسل څخه دی اواوس دبیټني په قبیله کی داسی گډشوی دی
چي ددوی تر منځ هیڅ توپیرنشته. دتتااودنااولاده دشمیر دزیاتوالی په سبب دتولی
بیټني قبیلي مخکښ دی (۲)

(۱) اصلاع ،ایجنسی هاوقبایل ایالت پښتونستان ،۹۸مخ .
(۲) حیات افغانی ،کابل - ۱۳۶۲ ، ۸۸ مخ .


اسمعیل
وہسبون
کچین
بي بي متو
ابراهیم
مزیاني
ورکاري
شیخي
کیسو
بشاکي
دري
دوتاني
کوځي
چپلي
تري
نویانه
اسمعیلک
غرتون
جلدکخیل
فتح خیل
دري
آدم خیل
رسول خیل
معروف خیل
خولخیل
چارګل خیل
دمري
چاکي
سن خیل
ماني خیل
میته خیل
دون خیل
اوګري
صیرم
همداني
نسواني
بشور
خاکي
ستاري
ناجخیل
چني
شاملک
بابي خیل
دیو
سکري
بانیر
شمیر
بالمیر
یوسفخیل
تنکرلاني
لشکري
ابوالفرج
یاغي

-٦٢-

# پره څمکني

دپره څمکني قبیله د سربن په تولنیز ګروپ کې شمېرل کیږي چې د سپین غره په سهیلي لمنو کې ژوند کوي . ختیځ ته یې اپریدي او اورکزي ، او لویدیځ ته یې توري ، شمال ته یې سپین غر او د جنوب خواته یې دتوریو او اورکزیو سره پوله لري .

په ۱۹۶۱ ع کال کې د دوی شمېر ( ۳۹۱۱۹ ) تنو ته رسېدلی . دوی په یوه غرنۍ سیمه کې ژوند کوي . د دوی ځمکې اکثره للمي دي خو ښه حاصل نه ورکوي پره څمکني د افغانستان څخه د سپین غره په واسطه جلا شوي دي او کله چې افغانستان ته سفر کوي د اپریدیو او کورمې دلارو څخه ځي او په اداري لحاظ د کورمې په ایجنسۍ پورې مربوط دي . دوی غالباً د کرمان په دره کې ژوند کوي.(۱)

پره څمکني

ازی خیل | خانی خیل | خواجه خیل | اسیایی | غوربینه | ګانداره

## پربه

پربه په اصل کې کرلاني پښتانه او دخوګیانیو د قبیلې یوه څانګه ده خود یوې مودې راهیسې له دوی نه بېله شوې ده او دخوګیانیو له پاتې ښاخونو څخه دومره لیرې استوګنه لري چې پخپله هم نه پوهیږي چې له خوګیانیو سره اړیکې لري او که نه (۲) نو ځکه مودلته په ځانګړي دول وڅېړل . د پربه مشهور خیلونه دادي : مردی-خیل ، میاخیل ، بسی خیل ، سردارخیل ، محمود خیل ، تری زی ، ملی زی ، اشی زی ، دده خیل او بوچی خیل.

---

(۱) اصلاع ، ایجنسی ها وقبایل ایالت پښتونستان - ۹۲ مخ .

(۲) حیات افغانی - ۵۰۱ مخ

داسې ویل کیږي چې اومړی تولوخوګیانوپه خوست کې استوګنه درلوده خو د جهانګیرپه زمانه کې د زرمت په سیمه کې ځینواستوګنوغلجیوقبایلوپه‌دوی حمله وکړه اودوی یې د خپلې سیمې نه بې ځایه کړل . د شاه جهان‌دواکمنۍ‌په‌وخت کې په دوی کې کورنۍ‌جګړې‌پیل شوی‌اودوی‌په هغوجګړو کې ډیر کمزوري شول (۱)

دحیات افغاني اوتواریخ خورشیدجهان‌دمولفانوپه قول د دوی د وسله وا لو کسانوشمیرپه هغه وخت کې(۱۰۰۰) تنه‌ښودل شوی دی. دوی‌د خوست‌په‌سیمه کې استوګنه لري اوپه سپین‌ګوندی‌کې داخل دی . د پربه د ښاخ زیات شمیر خلك د کرنې‌په‌چارو بوخت‌دي‌خولږ شمیر یې‌دتجارت‌اوسوداګری‌کارو نه‌هم‌سر ته‌رسوي (۲)

## پرملیان(فرملیان)

پرملیان پرملیان اویافرملیان په پښتنوکې یوه ډیره لرغونې قبیله ده چې د غرغښت په تولنیز ګروپ پورې اړه لري اوځا نونه د‌کاکړو یوه ځانګه بولي . د دوی داستوګنې اصلي ځای پرمل یابرمل دی چې دسلیمان د غرو نوپه اړی اود اوسنی ارګون په سیمه کې موقعیت لري.

تاریخ حیات افغانی لیکي: پرملیان اکثراً په اورګون اودخرو تو د سیمې په‌منځنی برخه کې اوسیږي (۳)

البیروني دقانون مسعودی په دریم توك کنی دپرملیانودسیمې موقعیت د غزنی اوملتان ترمنځ ښودلی دی . همدارازدصولت افغانی دتاریخ مؤلف زرد ارخان ناغر دپرملیانو دقبیلی دموقعیت په باب لیکي :

«پرمل دغزنی په توابعو کې دیوی سیمې نوم دی اوهغه کسان چې د پرمل په سیمه کې‌استوګنه‌لري‌دپرملیانوپه نامه‌بلل کیږي (٤)»

---

(۱) پښتانه د تاریخ په رڼا کې - ۱۳۸۹ مخ .

(۲) تواریخ خورشید جهان - ۲۵۰ مخ .

(۳) حیات افغانی- ٦٤٧ مخ .

(٤) معاون سرمحقق محمد محسن پرملی، (دپرملیانوقبیله) دحقیقت سرباز دورځپاڼې ٤٧ ګڼه د۱۳٦٧کال دسرطان میاشت .

دافغانستان‌نامتواووتلی مورخ اروابناد استاد احمد علی کهزاد هم دپرملیا نود اصلی ټاټوبی مرکز (اورگون) ښودلی دی چی پرملیان پکی ژوندکوی . که څه هم دپرملیانو داستوگنی اونژادی اړیکوپه با ب دول‌دول نظریی څرگندی شوی دی اودهغوی څخه یی ځینی عقیده لری چی پرملیان دهغو یفتلی شهزادهگانوله اولادی څخه دی‌چی دعربودفتوحاتوله وخت‌نه دغز نوی‌واکمنی تر دوری پوری اوبیا تراوسه په سلیمان اوسپین غره کی اوسیږی .

همدارنگه دپرملیانو په باب دوهم نظردادی‌چی دوی به خلجی(غلجی) وی خوهغه دوبم اوقطعی نظرچی دپرملیانوپه باب صدق‌کوی هغه دادی چی دوی دپښتنودغرغښت په ټولنیزگرو پ شامل اودکاکړو پښتنواولاده ده چی موږ ددوی دپښتونوا لی دثبوت له پاره لاندینی دلایل راوړای شو . هغه وخت چی بهلول‌لودی ددیلی سلطنت ترلاسه کړ نو دیوه فرمان په ذریعه یی پښتانه قبایل‌هند ته وروبلل : په دی فرمان کی راغلی وچی ماته خدای دهندوستا ن تخت راکړ خوددی تخت حفاظت هغه څوك‌کولای شی‌چی د قوم او قبیلی خاوندوی. نوپس پښتنوته په‌کاردی چی ددوی دیرشمیرهندوستان ته راشی اونه یوا زی‌سلطنت وساتی بلکی هغه ته پراختیاورکړی اوجا گیرونه ترلاسه کړی چی ددغه فرمان په ځواب کی ډیر پښتانه قبایل په‌تیره بیا لوهانی‌اوپرملی پښتانه‌دهند په لوروړغلل.

په اوسنی وخت کی پرملیان په لاندنیوسیمو کی ژوندکوی :

۱- زوړاورگون چی داورگون داولسوالی په‌شپږ کلومتری کی موقعیت‌لری‌او ویل‌کیږی چه په دغه ځای کی دپرملیانوتقریباً څلورزره کورنی ژو ندکوی.دزاړه اورگون پرملیان په دوو ښاخونو ویشل کیږی شرف اوسپری‌چی‌شرف‌بیادبالشتی، میل‌احمد اوملت‌کلاں په څانگواوعلی خیل اوقره خیل دسپری په ښا خ پوری اړه لری .

داورگون په پرملیانوسربیره یوشمیرپرملیان دکابل دچهاردهی په کلا ی-قاضی، کلای‌غیبی، آ قاعلی شمس، ده‌مرادخان، چهلستون، سرآسیاب، موسهی

پرملیان، کلای کاشف، یوسف بنگی، برپرملی او کوز پرملی کی چی دگلباغ د سیمې پوری اړه لري او کلای غیب الله او کلای بهادرخان پر ملی کی ژوندکوی همدارازد کابل درخت شنګ ته نژدی په کوز پرملي کی هم استوګنه لري. یوشمیر پرملیان دمزارشریف په چارکنت، لوګر، غزنی، هلمندا و کندهار کی هم اوسیږی دخوشحال ختګ داشعارو دقـاموس له مخې دګوزی پښتونخواد صوابی په تحصیل او همدارازدپاکستان په پنجاب کی زیات شمیر پښتانه پرملیان استو ګنه لری. (۱)

## پرانګیان

دوی لودی پښتانه دی. ویل کیږی چی دلودی د زوی سیانی له دووزامنود جملې نه یې پرانګی مشروچی دغه څانګه دهغه په نا مه سره شهرت لری. په پیل کی ددغی قبیلی خلك په لوید ځ افغانستان کی میشته وو، خوتر هغه وروسته د غره ختیځی خواته ددامان دسیمی په ټانك اوروړی نـومی ځایونو کی یی استوګنه غوره کره. چی ډیره موده یی پردغی سیمی با نـدی قبضه دراود له څو د هند د مغولی واکمن ظهیرالدین محمد بابر په وخت کی دد ولت خیلو، میاخیلو او مروتوقبیلی او همدارازدلوانی نوروڅانګودغه سیمه په زورسره دپرملیانونه ونیوله او ډیرشمیر پرانګی ووژل شول. پاتی یی تیت اوپرك اود خپلی قبیلی لـه نـورو څانګـوسره دهندوستان په مختلفو او بیلا بیلو برخو کی میشته شول (۲)

اوس په افغانستان کی حتی څوك دپرانګی له نامه سره هم اشنایی نه لری، خود هندو ستان په بیلابیلو برخو کی دوی دلو دی پښتنو په نا مه سره استوګنه لری. دهندوستان دپنجاب دایالت په روپر اولود یانه نومی ځایونو کی هم ددغی قبیلی خلك میشته دی. همدارازدهند وستان پـه دکهن کی هم ددغی قبیلی څو کـورنـی شته:

---

(۱) محمد محسن پر ملی، «دپرملیانو قبیله» حقیقت سر باز، ۴۷ ګڼه د۱۳۶۷ کال دسر طان میاشت
(۲) حیات افغانی - ۲۸۷ مخ.

دهند مشهور رواکمنان لکه سلطان سکندر لودی اوسلطان ابراهیم لودی هم دلود یانود پرانگی ښاخ ته منسوب وو .

## پنج پـای

لکه چې د دراني په بحث کې راغلي دي درانيان دسړبن په تولنيز گروپ پوری اړه لري او په دو وستروڅانگو يعني ځيرك اوپنج پای باندی ويشل شوی دی دپنج پای ښاخونه دادی:

۱ـ نورزی.

۲ـ اسحاق زی .

۳ـ اليزی .

٤ـ ادوزی.

٥ـ ماکو .

٦ـ خاکوانی یا خوگيانی .(۱)

پته دی پاتی نه شی چې دپنج پای دخوگيانی یاخاکوانی ښاخ دی له هغو خوگيانيو له قبيلی سره يو نه شميرل شی کوم چې دننگرهاردولايت د خوگيانيو په اولسوالی کی استوگنه اری او کرلانی پښتانه دی .

## پني


دپنی قبیله په غرغښتو پښتنو کی یوه مشهوره قبيله ده .ددغی قبيلی اصلی مرکزد کاکرستان دژوب ناوه اود بوری تاریخی سيمه ده. خوبیا وروسته پنيو خپله پارنی سيمه پريښی اود لويی تاريخی پښتونخوانوروسيموته ليږدیدلی دی.هغه وخت چې پنيانوخپل اصلی تاټوبی کاکرستان پرپيښودنوځينی يی په پښين کی ميشته شول او ځينی يی دسيوی په تاريخی سيمه کی اباد شول (۲)

(۱) معلومات مختصر در باره.اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور- ۹٤ مخ .
(۲) پښتو او پښتانه په سهيلی پښتونخوا کی کويټه ، ۱۹۷٦، ۹٤ مخ .

ظفر کاکاخیل په خپل مشهور اثر «پښتانه د تاریخ په رڼا کې» لیکي: «پڼي هم د کاکړو په شان مشهوره او پخوانۍ قبیله ده او جرړې یې تر ویدي زماني رسي. د دوی ځینې خلک په افغانستان او ځینې یې په دکهن کې هم استوګن دي.» (۱)

همدارازد پڼي د قبیلې یو شمیر خلک د هند د اندهرا پرادیش په ولایت کې هم شته دي چې د هندوستان په تاریخ کې د لیدو وړ برخه لري: داودخان پڼي په هند کې یو تاریخي شخصیت تیر شوی دی.

د پڼي ابن داني د نسب شجره




(۱) پښتانه د تاریخ په رڼا کې ۱۳۲۹ مخ.

# پوپلـزی

پوپلزی دسړبن په توليزگروپ اړه لري او ددرانيو دڅيرك په څانگي پوري تړلي دي.

پوپلزی دنورو درانيو څانگوڅخه ډيره نوميالی څانگه ده ځکه چی دپښتنو پاچا ابدالي احمدشاه بابا اود ده اولاده له همدغي څانگي څخه دي. ددوی زيات شمير په کندهاراوهرات کي استوگنه لری او لږ شمير نور يي دهيواد په نورو لو يد يځو ولايتونو کي ميشته دي. دوی دکرنی په چاروبوخت دی او ډيری ښی ځمکی لری. همدا رازدزابل په ولايت کی هم يوشمير پوپلزی استوگنه لری. اوس په هريوه ولايت کی د دوی د استوگنی سيمی اوشميرښيو :

## ۱ ـ دکندهار په ولايت کی :

دکندهار ولايت په مرکز، دامان، شاه ولی کوټ ، ارغنداب، خاکريز، پنجوايی اوارغستان په اولسواليو او دغورك په علاقه داری کی استوگنه لری چی دکندهار په ولايت کی ددوی شمير د ۱۳۶۰ کال داحصائيی له مخی ۶۷۲۸۳ تنه ښودل شوی دی. (۱)

## دهرات په ولايت کی :

پوپلزيان دهرات ولايت دنظام شهيد، غور يـا نو، اوبی، کرخ اوزنده جان پـه اولسواليو کی استوگـنه لری چی دهرات په ولايت کی ددوی شمير د(۱۵۷۷۶)تنو په شااوخوا کی اټکل شوی دی .

## د هلمند په ولايت :

دناوه بارکزايي اونوزاد په اولسواليو او دواشيرپه علاقه داری کی هم يو شمير پوپلزيان استوگنه لری په نوموړی ولايت کی يی ټول شمير (۱۲۱۵۳) تنو ته رسيږی.

## د زابل پـه و لايت کی:

د ترنك اوجلدك په اولسواليو او د ميزان په علاقه داری کی استوگنه لری چی په نوموړی ولايت کی د دوی شمير (۳۸۳۸)تنو په شا اوخوا کی ښودل شوی دی.

---

(۱) معلومات مختصردر باره اقوام و قبايل ايالت سرحدی کشور ۹۸ مخ .

د ارزگان پــه ولایت کي :

پــه ترین کوټ او د خاص او روزګان، ګزاب، شهید حساس اود هراود په اولسوا لیو کي استوګنه اوي چي پــه نوموړي ولایت کي د دوی شمیر ۲۹۶٤۱ تنه ښودل شوی دی (۱)

پوشــمیر پوپلزی د با دغیس په ولایت د مرغاب اوغورماچ په اولسوالیو کي هم استوګنه لري یوشمیرپوپلزی په ملتان کي هم استوګــنه اوی چي ښا یی دوی په کوم سیاسی ملحوظ هلته تللوته اړشوی وی (۲) که څه هم ځینی پوپلزی پووندهدی خو بیــخی زیات شمیر یی د کونی پهچارو بوخت دی ددی د کوچیانو شمیر هم اړ دی.
ددوی تخمیني شمیر د (۱۲۸۶۹۱) تنو په شا اوخوا کي دی :

## پیاروخیل

دوی هم غلجي پښتانه دی او اکثریت یی په زرمت، پکتیکا او د کابل ولایت په جنوب لوید یځ یعنی دللندر په درهٔ کي استوګنه لري :

## تاړن

د تاړن د قبیلي له په باب په مخزن افغانــی کي لیکل شوی دی چي پــه اصل کي د سیدزوی و، خو کاکړ هغه په زویتوب ونیوه اوهغه یی وروزه. تاړن هم په دغی قبیله کي ښځه وکړه اواولاده یی د کاکړو د او لادی سره مخلوطه شوه چي اکثره تاړن د کند هار پــه سیمه کي میشــته اوستانه بلل کیــږی اووایي چي دوی د (طاهر آ بشناس) له اولادی څخه دی چــی د سلطان محمود غزنوی دواکمنی پــه وخت کي د او بو پیژندلو په کار کي بی ساری و(۳) د نسب د شجری د لیدلو څخه

(۱) معلومات مختصر در باره اقوام وقبایل سرحدی کشور ۹۷ مخ .
(۲) دکابل سلطنت بیان دوهم توک ۸۷ - مخ .
(۳) حیات افغانی - ۲۳۱ مخ .

وروسته دا څرګنده شوه چې داقبیله هم دغرغښت په تولنیز ګروپ کې شامله ده. ددغې قبیلې وګړي په رودملازي، زیارت، هرنایي او سنځاوي کې ژوند کوي(۱)

### د تارن یا طاهر د نسب شجره

تارن

خواجه کړي

هکالون — ادین — ابراهیم — اسماعیل — تور

## تتا

دوی په اصل کې د کجین له نسل څخه دي او اوس د بیټني په قبیله کې داسې ګډ شوي دي چې د دوی ترمنځ هیڅ توپیر نشته. ویل کیږي چې د تتا اولاده د شمیر د زیاتوالي په سبب د تولي بیټني قبیلې منځ کښې دي (۲)

## تتور

تتور د دولت خیل او تاك په لویدیځه برخه کې موقعیت لري. د دې ښاخ خلك هم د دولت خیلو او میاخیلو په شان په سوداګرۍ او تجارت بساندي بوخت وو چې د دوبۍ له خوا به په وانه او په ژمي کې به د دامان په سیمه کې او سیدل. د خانزمان خان کټي خیل د تسلط او قبضې په وخت کې دغه قبیله د لوحاني د تولو خانانو په ګډون د ده تسلط لاندې پاتې شوه. وروسته د نادرشاه افشار ایراني په وخت کې د شاه بزرګ د خاني په موده کې دغه قوم د مغولو سره د مقابلې له کبله ډیر کمزوري شو او کله چې دغه قوم په یعقوب خیل او باندې یرغل وکړ نو د یعقوب خیلو نه یې ډیر خلك وژل. خو څرنګه چې صاحب دا د خان او د یعقوب خیلانو

(۱) پښتو او پښتانه په سهیلي پښتونخوا کې - ۴۶۷ مخ.

(۲) حیات افغاني - ۳۸۸ مخ.

نورو ملکانو دگندا پوریانو نه مرسته وغوښتله گندا پوریان هم ددوی سره ملا وتړله او دتتور پر قوم یی حمله وکړه چې دیر شمیر تتور یی دیعقوب خیلو په بدل کې ووژل چې ورڅوسته بیا دغه قوم ډیر کمزوری شو (۱)

دحیات افغانی په قول ددغه ښاخ شمیر له دریوسوو کورنیوڼه زیات نه دی . ددوی دود او دستور دمیاخیلوسره ورته والی اویو والی لری اوغالباً خلک یی دکرنی په چارو بوخت دی . (۲)

## ترکلانی (ترکانی)

که چیری ددغی قبیلی دنسب شجره وگورونو څرگنده به شی چی دوی دسړبن په تړلنیز گروپ کې شامل دی. دوی د پښتنو نورو قبایلو په ډلې کې یوسفزیو، مندړو او گگیانیو ته ډیر نژدی اودغه دری واړه قبیلی دترکلانیو په گډون دښاخی خیلو یاخوښی خیلو پښتنو په نامه سره یادیږی :

دغه قبیله په ځوانیومتونو کې دمثال په توگه داخوند درویزه په تذکرة الابرار والاشرار کې عموماً دترکلانی په نامه یاده شوی ده خواوس معمولاً دترکانی په لیك دودلیکله کیږی .

یوسفزی، مندړ، گگیانی او ترکانی چې مجموعاً دخا ښی خیلو یا خوښی په نامه یادیږی ددوی اصلی اولومړنی تاټوبی دارغستان په حدودو کې دغوبهدان اوسره غره په خواوشا کې هغه ځمکه ده چې دغوری مرغی په نامه یادیږی. دوی چې دترینو په گاوند کې اوسیدل دترینو دفشاراوزور له امله یی ځپله سیمه پریښوده او دغوریاخیلوله خوا دغزنی دمقر په کڅی کی په ورکړل شوی ځمکه باندی دځه وخت له پاره میشته شول خوله غوریاخیلوسره هم خوابدی شول هغه ځمکه یی هم پریښوده چې په نتیجه کې دکابل خواته راوخوځیدل . دراتگ په وخت کې اتمانخیل هم ورسره ملگری شول. دوی دکابل په شا اوخوا ورشوگانو کې میشته شول چې په هغه وخت کې په کابل کې دتیموری کورنی میرزاابوسعید واکمن وچې

(۱) تواریخ خورشید جهان ـ ۲۲۸ مخ.
(۲) حیات افغانی ـ ۲۹۸ مخ .

وروسته يې زوی ميرزا الغ بيګ د همدغو پښتنو په مرسته په ۱۴۶۹ ع کال کې په کابل او غزني کې واکمن شو. له دغه ځايه ترکمل کيږي چې ښايي خاښي خيل پښتانه به د کابل ورشوګانو ته د پښتو لسمې پيړۍ د لومړي نيمايي په وروستيو کلونو کې راغلي وي. ميرزا الغ بيګ چې تر څو پوري کمزوري و په همدغو پښتنو به يې ځان ساته خو کله چې هغه په خپلو پښو ودرېد پښتنو سره يې مخالفت څرګند کړ. ميرزا الغ بيګ لازمه وګڼله چې د دغوی پيا وړی ځواك مات کړي هماغه و چې خاښي خيلو پښتنو مشرانو ته يې يوه ميلمستيا جوړه کړه او په چل ول يې سره يې د دغوی د (۹۰۰) تنه په شا او خوا کې مشران له تيغه تير کړل چې اديره يې د کابل د مونجان دغونډۍ په جنوبي برخه د سياسنګ دغره په لمنه کې پرته ده داپيښه په غالب ګومان د ۱۴۸۰ - ۱۴۹۰ ع کلونو په شا او خوا کې شوی ده:

تردی خونړۍ او خواشينوونکې پيښې وروسته خاښي خيل پښتانه د کابل نه د ننګرهار په خوا روان شول تر کلانيو به لغمان کې واړول:

يوسفزي، ګګيانی او اتمان خيل په ننګرهار کې اوسيدل چې په بياوروسته نوموړی دری قبيلې په سوات، دير او باجوړ کې ميشته شوی، خو ترکلانی چې په لغمان کې يې استوګنه غوره کړې وه د لغمان خلکو د دوی له لاسه په کابل کې مغولي حکمرانانو ته شکايت وکړ او د مغولي پوځ په فشار تر څه موده وروسته د لغمان نه باجوړ ته ورغلل:

محمد حيات خان په خپل مشهور اثر «تاريخ حيات افغاني» کې ليکي: «په کومه سيمه کې چې د ترکلانيو قبيله استوګنه لري يوه غرنۍ او ښکلې شنه سيمه ده چې ديره په زړه پوري آب و هوا لري. د دوی په سيمه کې د غنمو پيداوار د نورو غلو دانو په پرتله ډير دی»

قبيلوی ويش:

ترکلانی په لاندنيو ستر و ښاخونو باندی ويشل شوی دی: (۱) سالارزي (۲) ماموند (۳) ابراهيم خيل (٤) اسوزي (٥) سميل زي.

### ۱ـ سالارزی:

سالارزی په ښار، کوټکی، الیکی، ناوه ګی، چارمنګ، لرآمدك، برآمدك، لرسدین، برسدین، بو چمر کنډاو دکونړ دولایت په دانګام کی اوسیږی.

### ۲ـ ماموند:

ماموند په اومړی سر کی په دوه مهمو ښاخونو چی یوته یی (اوی ماموند) او بل ته یی (وارهما موند) وایی ویشل شوی دی دلوی ماموندو دخیلونوموني دادی: مسعودخیل، عمرخیل، یوسف خیل، سلیمان خیل او خلوزی.

دوړوماموندوخیلونه دادی: بروزی، اوریازی، برم کازی.

### ۳ـ ابراهیم خیل:

په ټوله ترکانی قبیله کی ابراهیم خیل دمشرتوب او اعتبار څښتن دی دوی اصلاً په سالارزیو ورګډیږی. خوله کومه وخته چی ابراهیم نومی دباجوړ دسالارزیو مشر دخپلی آزادی له پاره دمغولو دامپراتوری سره دیری جګړی وکړی اود باجوړ دسیمی خپلواکی یی په دیری میړانی سره وساتله دهغه ځای دېښتنو له خواده ته دخان لقب ورکړ شوچی دغه مشری تر دیری مودی پوری دده په کورنی کی پاتی شوه او اولاده یی دابراهیم خیلو په نامه سره یاده شوه:

### ٤ ـ اسوزی:

په جندول او بر اول کی استوګنه لری:

### ٥ ـ شمل زی:

چی په میران اوبراول کی استوګنه لری:

د باجوړ څخه پرته ترکلانی ددیر په ضلعه او د افغانستان دکونړ په ولایت کی هم استوګنه لری چی ددیر دضلعی ترکلانی په براول، میدان او جندول کی استوګنه لری اوشمیریی (۷٥٤۰۰) تنه ښودل شوی دی: په باجوړ کی دترکلانیو شمیر د ۱۹٦۱ کال د سرشمیرنی له مخی (۱٥۰٥۰۰) تنه وو چی د هغی جملی څخه یی

(۸۰۰۰۰) تنه ما موند او (۷۰۵۰۰) تنه سالارزي شمیرل شوي دي .

د افغانستان دکونړ په ولایت کې ددې شمیر (۳۹۹۸۲) تنه ښودل شوي دي چې په دانګام، اسمار، شنګري، شالي، ناړي، بریکوټ، دم کلي، نرنګ، سرکانو، ګنجګل، تانکو، شلتن اومروره کې استوګنه لري(۱)

## تره خیل

دوې غلجي پښتانه دي اودیرشمیر خلک یې دکابل دده سبز د اولسوالی په تره خیلو، د لغمان ولایت دتبي کونج او تره خیلو په کلیو او ځینو نورو کلیو کې میشته دي یوشمیر تره خیل په کوهدامن کې هم استوګنه لري . ددوی یوشمیر کوچیاني ژوند لري تره خیل د کرکیلې په چارو بوخت دي او یوشمیر یې دولتي ملازمتونه هم سرته رسوي .

## تـره کي

د غلجو په توخي ګروپ کې یوه دیره مشهوره قبیله ده. د حیات افغاني دمولف په قول په افغانستان کې ددوی شمیر پنځلس زره کورونو ته رسیږي ددوی زیاتره برخه د غزني ولایت په مقر، ګیلان او د ناوې په اولسوالیو او د آب بند په علاقه دار یو کې استوګنه لري چې ۲ پر ۳ برخه خلک یې په کلیو او یوه برخه یې په پوونده او کوچي دول ژوند کوي چې ددوی د شمیر په تناسب د هغوی ملک اوسیمه وره ده . ځرنګه چې د مقر د سیمې زیاته اندازه د علي خیلو او خدوزیو په لاس کې ده نوځکه دځمکې دلنږوالي له کبله یې یو پر ۳ برخه خلک په ښپنتو با او دژو یو په روزنه او پالنه ژوند کوي .

د تره کو پوونده د مني د موسم په پیل کې د کندهار خواته ځي او د پسرلي د موسم په پیل کې بیرته د مقر خواته په راتګ پیل کوي چې دهمدې کبله په پښتو

---

(۱) اصلاع، ایجنسي ها وقبایل ایالت پښتونستان (۵۰ - ۵۱) مخونه .

ژبه کی د پوونده وو تره کو په باب یو متل هم شته چی وایی :

چی چونګښی وایی قر    تره کی وایی مقر
چی چونګښی وایی غار    تره کی وایی کندهار

چی د دغه متل نه مقصد دادی چی کله دګرمی د موسم په پیل کی چونګښی د رغز پورته کوی ، نوپه دغه وخت کی تره کی کوچیانو او پووندو ته خپل وطن ته په زړه ور ګرځی او بیرته مقرته راستنیږی . (۱)

د غزنی د ولایت ښخه پرته یوشمیر تره کی د زابل د ولایت په مرکز کلات او د شاه جوی په اولسوالی کی هم میشته دی .

همدارازد هلمند د ولایت د نادعلی او ګرمسیر په اولسوالیو کی هم یوشمیر تره-کی استوګنه لری . د تره کو جنوب او جنوب ختیځ ته سلیمان خیل او توخی ، ختیځ ته یی سلیمان خیل ، شمال ته یی علی خیل ، اندړ او هزاره او جنوب ته د دیورند په کرښه د کاکړ و سره نښتی دی . ددغی قبیلی کوچیان په عمومی توګه په ژمی کی د کندهار په ویګټ او دا ښکرېو په سیمی او همدارازد کندهاوپه نورو برخو کی لیدل کیږی . ددوی یوشمیرد دیورند د کرښی نه تیریږی او د کاکړو د قبیلی سیموته لیږد کوی او تر پشینه پوری ځی (۲)

یوشمیر تره کی د ننګرهار دولایت د چپرهار د علاقداری د تره کو په کلی کی استوګنه لری چی شمیریی (۲۸۷) تنوته رسیږی (۳) سربیره پردی دفاریاب په ولایت کی هم زیات شمیر تره کی ژوند کوی .

همدا رازد دوی یوشمیرد بادغیس د ولایت دمرغاب داولسوالی د بوکن په

---


(۱) حیات افغانی ، پښتوژباړه - ۲۷۱ مخ .

(۲) معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل سرحدی کشور - ۷۳ - ۷۶ مخونه .

(۳) تو موری اثر ، ۷۳ مخ .

کلی او دهغه په شاوخوا او دنو موړي ولایت دغور ماچ د او لسوالی په څو کلیو کی هم میشته دی. د دوی شمیر د ۱۶۱۳۱۴ تنو په شاوخوا کی ښودل شوی دی .

### دتره کی ابن موسی ابن ابراهیم ابن غلجی دنسب شجره



## ترین

دنسب دشجری دکتلونه څرګندیږی ابدال چې هغه له‌نسله څخه ددرانی قبیله رامینځ ته شوی دترین زوی و ،څوګرنګه‌چی دده‌اولاده په درانی او ابدالی سره یادیږی نود ترین پاتی دوه زامنود خپل پلاریعنی ترین سره شهرت ومو ند چی په دوو لویو قبیلوویشل شوی دی تورترین اوسپین ترین اود تسمیی وجه یی داسی ښودل شوی ده. دترین هغه زوی چی لږتورزمه وهغه په تورتر ین اوبل زوی یی چی سپین رنګی وپه سپین ترین سره‌شهرت وموند. (۱)چی ددوی بحث‌به‌په خپلو خپلوځایونوکی وشی .

## تور ترین


دبریخوختیځ ته ورڅرمه پشین موقعیت لری چی دترینانوملك دی. دغه سیمه دد رانیود ملك په سهیلی برخه‌کی موقعیت لری .لویدیځ خوا ته یی شوراوك چی هلته بریخ میشته‌دی، سهیل لورته یی پشین له‌شال‌څخه‌دتکه تو په نامه په یولړغرونو سره بیلیږی. ختیځ خوا ته یی هغه غرونـه موقعیت لری چی دغه سیمه دکاکرونه بیلوی اوقطب خواته پښین ددرانیوله سیمی نه‌دشمال خواته‌غرونوسره بیله‌شوی‌ده. پشین له‌شمال‌ختیځ نه‌ترجنوب لویدیځ پوری‌نږدی اتیامیله‌اوزدوالی‌اواخری‌سوریی نږدی‌څلویښت میله دی .

پښین دشوراوك په نسبت اوچت اوسطحه یی نا هموار ه ده،خودشوراوك په پرتله دکرنی ور ده. ددی سیمی خلك په‌یوی‌کولوکی داوښانوپه پرتله زیاتره دغوایانوڅخه استفاده کوی،که څه‌هم داوښانو شمیریی زیـات دی(۲)دوی غالبا دکرنی په‌چاروبوخت‌دی‌خو ددوی زیات شمیر خلك دکند هار اوسند (اباسین) ترمنځ دسوداګری په چاروبوخت دی .

(۱) حیات افغانی - ۱۴۰ - ۱۴۳ مخونه .

(۲) حیات افغانی - ۱۴۵ - ۱۴۶ مخونه .

د دوی کره وره ددرانیو د کړوړو په خیر دی چی له هغوی سره هم په نسب اړه هم پسه ملګرتوب کی ډیر نژدی ورته والی لری (۱) د پښین یوازینی اوسیدونکی تور ترین ، سپیدان او یو څه کاکړ همسایه دی. حیات افغانی د ترینانو شمیر د (۶۰۰۰) کورنیو په شا او خوا کی ښودلی دی (۲)




(۱) د کابل سلطنت بیان، دوهم ټوک ۱۲۱، ۱۲۲ مخونه .

(۲) تواریخ خورشید جهان ، ۲۰٤ مخ .

دوی هم د کرلانړ په تړلنیز گروپ کی شامل دی او دشیتک داو لادی څخه شمیرل کیږی . دغه قبیله په دریو څانگو باندی ویشل شوی ده : اریوزی، میرخیل اوسپنکی. تنی دخوست د ښار په جنوب کی میشته دی (۱)

جنوب ته یی گوربز اومده خیل وزیرموقعت لری چی دډیورنډ کرښه مده خیل او تنی سره جلاکوی، لریدیځ ته یی ځدران، شمال ته یی دشمل سیند اواسمعیل خیل اوختیځ ته یی هم گوربز پراته دی.

دتنیو قبیله پر (۱۱۲) کوچنیو اوسترو کلیو ویشلی شوی ده(۲)ددوی لویدیځ غرډیر آباد او اکثره خلک یی په غرونو کی اوسیږی ، خوځینی خلک یی د غرو نو په لمنو کی هم استوگنه لری.

محمد حیات خان په خیل مشهور اثر تاریخ حیات افغانی کی لیکی : «ددوی اوی کلی د درگی په میدان کی موقعیت لری چی پنځه سوه کوره لری او خلک وایی چی په د غه ځای کی (۱۰۰۰) تنه وسله وال کسان شته دی (۳) . »

د درگی نه پرته چی ددوی ډیر ستر کلی دی دا لاندنی کلی یی هم مشهور دی: حصارک ، گوخه، نرخی، ایتمان ، کوچړن ، ډبر، وریځی، د بسرملکه، سنگرای، تورخیل اوورژله .

تنی ډیرجنگیالی او زړور خلک دی اوپه دووگوندیو ویشل شوی دی یعنی اریوزی اوسپنکی یوه گوندی ده اومیری خیل بله گوندی ده .

ددغو دری واړو څانگو په جمله کی د میری خیلو شمیر زیات دی. تنی د کرنی په چارو بوخت دی. ځمکی یی للمی دی، خویوه اندازه آبی ځمکی یی دویالو په ذریعه خړوبیږی .ددوی پوښاک غالباً دوړوته ورته دی.

---


(۱) پښتانه دتاریخ په رڼاکی - ۱۳۹۶ مخ .

(۲) معلومات مختصر در باره اقوام وقبایل سرحدی کشور، ۶۷ مخ .

(۳) حیات افغانی ۶۰۵—۶۰۶ مخونه.

په‌غره کی اوسیدونکی‌تڼی دوزواوداوارو سیمو اوسیدونکی تڼی دپسونو ډیری رمی ساتی . دغو ایانو گلی هم په دوی کی ډیری دی. دوی په خوراك کی دغنمو ، اوربشو اوزدنو نه استفاده کوی اوپـو ډول غر نی میوه چی پور گی یی بولی اوره کوی‌او بسیایی خوری (۱)


دتڼیو خلـك لوړی ونی، غنم رنگه اوښایسته څیری لـری اود تاریخی پلـوه ددوړو او ښـوخیو سره ورو ښـه دی. د دوی شمیر د ۱۳۶۰ کال د احصا ئیی له مخی(۲٤۱٦٤) تڼونه رسیږی (۲)




---

(۱) حیات افغانی ٦۰۵ مخ

(۲) معلومات مختصر در باره اقوام‌وقبایل ولایات سرحدی‌کشور - ٦۷ مخ




(۱) حیات افغانی ۶۰۶ مخ

# توخــــي

دغلجیو په تولنیز گروپ کی توخـي یوه مشهوره قبیله ده .توخي دهوتکـ بابا وروړ ،دباروزوی ،دتولر امسي او د غلجي کړوسي دی چي دتوخي قبیله دده په نامه سره مشهوره شوی ده (۱)

دتوخو قبیله دهرتکو دعروج نه وړاندی دغلجیو په قبیله کی لومړی مقام درلود او سلطان ملخي چي داورنگزیب همعصره و دتوخو دښاخ ډیرمشهور مشر او سردار تیر شوی دی (۲)

دتوخو سیمه د کند هار لمرخاته نه په ۸۵ میله واټن کی موقعیت لری چي په کلات غلجایي سره مشهوره او دتوخو صدرمقام گمبل کیږی . توخیان دتونلـ درود پرخنډو دپل سنگي نه نیولی تو شیباره پوری استوگنه لری (۳)

الفنستن په خپل کتاب دکابل سلطنت بیان (An Account of the kingdom of Caubul) کی دتوخیو دقبیلی شمیر د ولس زره کورني لیکلی دی ،خو دحیات افغاني د مؤلف دپښتي محمد حیات خان په قول ددوی شمیر له پنځلس زره کورنیو څخه لږ نه دی.

دارغنداب وادی چي په شمالي برخه کی دهزاره وودسیمي ترځنگـ پرته ده اوهم میزانه دتوخو په قبضه کی ده . همدا راز یو شمیر توخي دناوی دوادی په جنوبي او ښکتني برخه کی استوگنه لری. پاتی یی په شیبار ، هلتاغ ، میزان او نور وځایونو کی میشته دی .دتوخو یوه محله دکابـل ښارته نژدی پـه ده افغانانـو کی هم شته .

اوس به په لاند نیو جدو لونو کی د دوی داستوگني ځایونه او شمیر وگورو :

| دزابل په ولایت کی : | شمیر |
|---|---|
| ۱ ـ په کلات کـی . | ۱۷۴۲۷ تنه |
| ۲ـ په شاه جوی کی : | ۲۵۷۹۹ تنه |
| ۳ـ دارغنداب په اولسوالي کی . | « ۱۹۲۴۷ |

(۱) محمد هوتك بن داود ، پټه خزانه ، کابل .۱۳۳۹ ـ ۹ مخ.

(۲) حیات افغانـي ـ ۴۰۱ مـخ.

(۳) عبدالروف بینوا ، هوتـکی ها ، کابـل ـ ۱۳۳۵ ـ ۵ ـ۶ مخونـه .

| | |
|---|---|
| ٤- دشینکی په اولسوالی کی. | ٤١٥٧ تنه |
| ٥- دشمول زیوپه اولسوالی کی . | «٢٦٣٤٧ |
| ٦- دمیزان په علاقداری کی . | « ٢٤١٧ |
| مجموعاً | «٩٥٣٩٤ |

دکندهارپه ولایت کی:

| | |
|---|---|
| دولایت په مرکز کی . | ٩٩٦٩ تنه |
| دشاه ولی کوټ په اولسوالی کی. | « ٥٦٧٤ |
| دارغنداب په اولسوالی کی | « ٢٣١٨ |
| مجموعاً | « ١٧٩٦١ |

دنیمروزپه ولایت کی:

| | |
|---|---|
| دکنګ په اولسوالی کی | ١٧٠٣ «(١) |


الفنستن په خپل کتاب دکابل سلطنت بیان کی زیاتوی: «هغه سیمی چی دپارا پامیزادپه غره پوری اړه لری په هغه کی توخی استوګنه لری اوداسی معلومیږی چی دوی غریب اوخوارخلک دی (٢)»

دامیرعبدالرحمن خان دواکمنی په وخت کی دوی دیره شدیده ضربه ولیدله اویوشمیریی دخپلی سیمی څخه تبعیدشول اودافغانستان په نوروولایتونو کی میشته شول. ددوی سیمه وچه اودکرنی ځمکه یی لږه اوغالباً دخارویوپه محصولاتوخپل ژوندتیروی .

---

(١) معلومات مختصردر باره أقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور ، (٨٨ مخ).

(٢) دکابل سلطنت بیان ـ ١٢٤ ـ ١٢٥ مخونه .


رهمند
ایوب زی
حسن زی
نوح خیل
رستم
پوپل خیل
مغدو خیل
یونس خیل
باباخیل
بسوخیل
بامیو خیل
اکازی
متوزی
پیروزی
موسی خیل
شمل زی
جلال زی
میران زی
حسن خیل
عراقی
برانخیل
خویداد خیل
بابکرزی
علی شیرزی
آتی زی
شاکی خیل
ملی خیل
بهرام خیل
بهلول خیل
میان زی
ناجو خیل
نانو خیل
نورالدین
آلی زی
هوازی
ختی زی
مغل زی
کالوخیل
فقیرزی
بیری
موسی زی
شاحسن خیل
سیکاک
آدم زی
هوتک زی
پیرک زی
عیسی زی
برهانخیل
پاتوزی
کرموخیل
پیروی خیل
حسن خیل
بازک زی
عمرخیل

ئوخود تاریخ په اوږدو کې دښکیلاکګرو څواکونو پرخلاف زیاتې مبارزې کړي دي. دتیرې کوونکو مغولو سره ددوي کارنامې زموږ په تاریخ کې ثبت دي . همدا راز دانګریزانو پرخلاف په دریو جګړوکې دوی دیري توري وهلي دي، په تیره بیاد افغان ـ انګلیس په دریمه جګړه کې دتوخو جنګیالیو مبارزینو په زابل، غزني او کندهارکې تلپاتي ویاړونه ترلاسه کړي دي. دتوخو قبیلي په وطن مینو شاه زلمیانو په خپل قبیلوي یووالي او اتحاد سره تل د هیواد په ملي آزادي بخښوونکې غورځنګ کې فعاله ونډه اخیستې ده .

## توری

دوی ته توری زی هم وایي او درواياتو مطابق داقبیله هم دکرلاني تولنیز ګروپ یو ښاخ شمیرل کیږی. همدا راز دنسب په شجره کې دخوګیاڼيو یوه څانګه او دڅاخیو تر بوران هم ګڼل کیږی .

کورګاني واکمن ظهیرالدین محمدبابر هم د ۱۵۰۵ عیسوی کال په واقعاتو کې ددغې قبیلي ذکر کړی دی. ددغې قبیلي داصل په باب دمؤرخینو ترمنځ اختلافات موجود دی ځینې دوی دنسل له مخې مغول ګڼي او ځینې یې نورو ته منسوبوی خو دا اټکلونه صحیح نه بریښي. دخوشحال خان ختک دوینا مطابق دوی نسلاً کرلاني پښتانه دی او داوینا صحیح ده (۱)

توری دکورمې په ایجنسي کې استوګنه لری. شمال ته یې سپین غر، لویدیځ ته یې دپکتیاولایت، جنوب ته یې تل او بنګښ او دختیځ خواته داورکزیو دقبیلي سره ګډه پوله لری(۲)

دغه سیمه په پیل کې د بنګښو په لاس کې وه ولې دپښتني ننګ اوناموس د یوی معاملي له کبله توریانو دڅاخیو په مرسته بنګښ ددې سیمې نه وشړل اودغه سیمه یې ددوی نه ونیوله.

---

(۱) پښتانه دتاریخ په رڼاکې ـ ۱۳۹۰ مخ.

(۲) اضلاع، ایجنسیها وقبایل ایالت پښتونستا ن ۸۶ مخ.

داقبیله تر ۱۸۷۹ ع کال یعنی دانگریزانو او افغانانو ترمنځ ددوهمې جګړې پورې دافغانستان یوه برخه شمیرل کیده، خو وروسته انګریزانو جبراله افغانستان نه جلاکړه (۱)

دکورمې دایجنسۍ مساحت ۱۳۰۵ میله مربع ده او مشهورسیندیې دکورمې د سیند په نامه سره یا دیږي چې توري هم دکورمې‌دسیندپه دواړوغاړوکې‌استوګنه لري .

دتوریوقبیله په پنځوښاخونوباندې ویشل شوې ده چې په دې ډول‌دي:

علي زی، غوزدي خیل، دوپرزي، مستوخیل او حمزه‌خیل (۲)

توري شیعه مذهبه دي او د مذهبي احکامو په‌اجراکولوکې ډیرټینګ‌دي .دوی د خپل قبیلوي دود او دستورپه اساس دسیدانوډیراحترام اودرناوی‌کوي اوهریوفرد د سیدانومریدان دي . د دغې قبیلې خلك د ساداتوپه څلوروډلوویشل‌شوي دي‌چې دوی ته ډیر اعتقاد لري او د تیراه‌د سیدانو ، احمد زي سیدانو ، دکرمان‌سیدانو اودماوره سیدانوڅخه عبارت‌دي.

هغه توریان چې دتیراه‌په صیدانوپورې‌مربوط دي‌د میا مرید یا (ټینګ واندې) اوپاتې توریې د( سست واندې ) په نامه یادیږي چې دري واندې د میا مرید په مقابل‌کې یودي (۳)

د دې نه پرته توریان په سپین‌ګوندي پورې اړه لري .

د دوی په فکر ټول خلك دوه ډوله دي یوریښتوني اوپه سمه لارتلونکي خلك او بل په کږه لاره تلونکي خلك .

د توریود حمزه خیلود ښاخ تقریباً دوه سوه کورنۍ کوچیان دي چې د یخنۍ په موسم کې د خپلوښارویوسره د بلند خیلو تل ته ځي ،خودګرمي په موسم کې‌سپین غره ته ځي .

---


(۱) پښتونستان ـ ۲۸ مخ.

(۲) حیات افغانی ـ ۲۳۹ مخ.

(۳) اضلاع ، ایجنسي‌ها وقبایل ایالت پښتونستان ۸۶ مخ

حیات افغانی د دوی دوسله والو کسانو شمیر یوولس زره تنه ښودلی دی، خو سرویلیم بارتن په خپل کتاب کی د دی قبیلی د جګړنو اووسلمه والو میرونو شمیر (۶۰۰۰) تنه ښودلی د (۱)

توریان په عمومی ډول د کرنی په چارو بوخت دی. ددوی په سیمه کی وریجی، جوار، اوربشی، غنم اومی ډیری پیداکیږی . د دوی د کرنی اکثره ځمکی دکورمی درود په واسطه خړوبیږی . د ۱۹۶۱ کال د سرشمیرنی له مخی د دوی شمیر (۱۹۴۵۰) تنوته رسیده او که چیری (۱۱۰۵۸) بنګښ شیعه ورسره یوځای شی نوشمیری (۳۰۵۰۸) تنوته رسیږی (۲)




## تیـج

د دغی قبیلی په باب چی نوم یی په حیات افغانی کی دلوحانی (لوانی) دنسب په شجره کی راغلی دی نور څه معلومات نشته . همدا راز د دوی نوم هم چندان شهرت نه اری . که د دغی قبیلی نه څوك وی هغه هم په لوانیو کی داسی ورګډ شوی دی چی په آسانی سره یی توپیر نه شی کیدلای . داسی فکر کیږی چی ددوی شمیر به ډیر لږ وی .(۴)

---

(۱) پښتونستان - ۲۸۲ مخ .
(۲) اضلاع، ایجنسی ها وقبایل ایالت پښتونستان ۸۶ مخ .
(۳) اضلاع ، ایجنسی ها وقبایل ایالت پښتو نستان ۸۷ مخ .
(۴) حیات افغانی ، ۴۴۴ مخ .

## تیمنی

دوی په اصل کی غرغښتی پښتانه دی. ویل کیږی چی تیمنی دکاکړزوی و چی اولاده یی دتیمنیانوپه نامه سره یادیږی. تیمنیان دغورپه شا اوخوا اوسیاه‌بند کی استوګنه لری. تیمنیان دقبچاق اوزوری په دو وځانګوبانددی و یشل شوی دی (۱)

ددوی په درو کی غنم، جواراوزدن کرل کیږی. بادام، انارا وتوتان یکی په خپل سرا وپه‌طبیعی توګه پیداکیږی. دری بی سمسوری دی اوده‌رګوس یامرغاب په سین خروبیږی. دتیمنیو سیمه هم پراخه اووښلمنی دری لری. زوریان په سبزواریااسفزارکی اوسی. سبزواریو پراخ میدان اودغسی غرونوپه‌منځ کی پروت دی چی دځمغوزیوپه ونوسره پوښل شوی دی اودهغی لاری په ختیځ کی پروت دی‌چی له مزارنه ترهرات پوری غزیدلی دی(۲)

## تیموری

دوی په اصل کی کوچیان دی چی اکثره یی دبغلان‌او کندزپه ولایت کی خپل ابزدنه دوام ورکوی ددوی دکیزدیوشمیرد (۱۱۱۰) په شااوخواکی دی . دوی‌هم دنوروپښتنوکوچیانوپه دول غښتلی قبیلوی رغاونه اوجوړښت لری چی د هغو په سر کی دقبیلی اوقوم مشرځای لری (۳)

ددوی دو یښی ایلبند په بدخشان کی د«شیوا» سره سیمی ده چی دخان آباد تخار، اشکاشم اوفیض آبادله‌لاری‌دجو زا په میاشت کی ورځی او درا ستنیدولاره یی بیرته همدغه ده داسی ویل کیږی چی دوی‌دسرطان په‌تولنیز ګروپ پوری اړه‌لری.

---

(۱) حیات‌افغانی، ۲۴۳ مخ.

(۲) دکابل سلطنت بیان، دوهم توک، ۱۸۰ مخ .

(۳) پښتانه‌کوچیان، لومړی توک، کابل-۱۳۶۲، ۸۶ مخ.

# تیتی مده خیل

دوی په اصل کی کرلانی او داتمان زیوو زیرو پوری اړه لری ، خونن ورځ دیوی جلا قبیلی په څیر راڅرګند شوی دی. په اصل کی دمچه، منظر خیلو او مستی خیلو یو ښاخ دی، خو څرنګه چی دخپلو قبایلو څخه لیری استوګنه لری نه شی کولای چی ده ځوی سره قبیلوی اړیکی وساتی له همدی کبله ده چی دوی د تیتی مده خیلو په نامه یو جلا اتحاد رامینځ ته کړی دی . دوی دشمل دسیند په څنډو چی په وزیرستان کی دکیټو ی په نامه سره یادیږی استوګنه لری . دوی دحسن خیلو، دبکی او ممیت خیلو ترمینځ په ځوکلیو کی استوګنه لری اوددوی خیلونه په لاندی ډول : (۱)

- نظر خیل
- ذکر خیل
- ایمارته
- زنګی خیل
- اتمان خیل
- خری خیل
- لنګر خیل
- جبکی خیل
- ګوری خیل
- حسانی
- پیروشی
- ژبوکی
- پشان
- اخوند
- ګلاب خیل

---

(۱) اضلاع، ایجنسی هاوقبایل اهالت پښتونستان ۱۴۸ مخ.

دښالي خیلو احمدزیو یوه څانګه ده چې په سلیمانخیلو ور ګډیږي . ددوی زیات شمیر کوچیان دي چې یو شمیر یې په ننګرهار، لغمان او یو شمیر یې هم دغزني، لوګر او خورد کابل او خاك جبار په سیمو کې استوګنه لري .

## جبارخیل

دوی په اصل کې غلجي پښتانه دي چې اکثره یې دننګرهار، لغمان، لوګر او دکابل او جلال آباد ترمینځ سیمو کې میشته دي . په تیزین ، جګدلك ، سره رود، ګندمك او دحصارك په اولسوالۍ کې هم یو شمیر جبارخیل شته. دلغمان ولایت دعزیزخان کڅ دسیمې جبارخیل هم مشهوردي (۱) ددوی شمیر د(۱٤٦٦۷) تنو په شاوخوا کې ښودل شوی د(۲) زیات شمیر ځمکې یې شتمن او ځینې یې په دولتي ملازمتونو بوخت دي : ویل کیږي چې دوی په پیل کې په خاك جبار کې اوسیدل، خود امیر عبدالرحمن خان په وخت کې خپلو اوسنیو سیمو ته ولیږدیدل .

جبارخیل دحصارك داولسوالۍ په لاندنیو کلیو کې میشته دي . آب زنګیاني ، غوزیزه ، نادر، ګلاخیلو، حلیم خیلو، ظریف خیلو، سیاب سفلی ، چارتوت، سرندو، پرچنه ، خنجر او کڅي کې .

مشهور خیلونه یې دادي : مریم خیل ، خوګیاني خیل او نور....

## جدون (ګدون)

که څیړی دګدون دنسب شجره په غور سره وڅیړو نو څرګنده به شي چې دغه قبیله هم په غرغښتي پښتنو کې شامله ده درواياتو مطابق داخلك له پیل نه د خاښي خیلو په ګوندي کې شامل شوي دي او دقبایلي مهاجرت په زمانه کې دیوسفزیو مندړ و سره دې سیمې ته را غلي دي (۳)

---

(۱) دجبار خیلو دیوه تن سپین ږیري او مشرښاغلي لعل آغا سره دخبرو او مرکې په ترځ کې مي دا معلومات ترلاسه کړل .

(۲) معلومات مختصردرباره اقوام وقبایل ایالات سرحدی کشورده مخ جدول.

(۳) پښتانه دتاریخ په رڼاکې ، ۱۳۲۰ مخ.

دتاریخ حیات افغانی مؤلف لیکی : «ددغې قبیلې یوسپین زیږی اوثقه سړی روایت کوی چی دساهنګ این پښی په نوم یوتن دعلی ارموسی نه پرته نور دوه زامن هم درلودل چی دوی دواړه ددښمنیو په رجه دخپل قوم نه بیل شوی دی. څه موده په سپین غره کی اوسیدل او بیا له هغه ځایه هزاره او چهچه ته راغلل او اولاده یی هلته میشته شوه که دا روایت صحیح وی نو ګدون به غالباً دهغوی او لاد وی» (۱)

لکه چی دګدون دقبیلې دنسب له شجری نه څرګند یږی دغه قبیله په لومړی سر کی په دوو ښاخونو ویشله شوی ده . یعنی سالار او منصور چی بیا له هغو څخه نوری کوچنی او فرعی څانګی رامینځ ته شوی دی .

درو ایاتو مطابق دګدون قبیلې دلوی نیکه نوم اشرف و چی وروسته په ګدا یی مشهور او بیا دوخت په تیریدو سره دګدون یاجدون په نامه یادشو.

اکثره ګدون په تیره بیا سالار ده زاره غرو نو ددوړ په نامه ویالی په دواړوغاړو کی داورش ترسیمی پوری میشته دی : دګدونو ښکتنی برخه ډیره ښه شنه او حاصلخیزه ده . دجهانګیر دواکمنی په وخت کی کله چی ددلازاك قبیله لوټ او تباه شوه نودغه سیمه په تدریج سره دګدون قبیلې لاس ته ورغله ، خود لته هغه ګدون په زیاتی اندازی سره د ذکرو ړدی چی داباسین په لویدیځ او دمهابن غره په سهیلی برخه کی میشته دی. مهابن یوه لرغونی هندی کلمه ده په سنسکرت کی مها (لوی) او بن (باغ) ته وایی یعنی لوی باغ او ځنګل او ددی غره دسیمی وجه بیخی سمه ده .

دګدون د قبیلې دواړه ښاخونه یعنی منصور او سالار ددی غره له څوکی نه نیولی تر ښکتنیو سهیلی برخو پوری پری قبضه لری. که څه هم ددوی دکوچنیو باندیو شمیر تقریباً شلو ته رسیږی خو دری لویی باندی یی په ګندپ کی تقریباً له شپږو سوو څخه زیات کورونه لری چی ددغه ځای دسالار ښاخ مشهور و کلیو څخه شمیرل کیږی او داتو زیو تقریباً تولی څانګی په کی میشته دی. دغه ښاخ په دوو کلیو یعنی ګندپ او الوری باندی قبضه لری. دسالار ښاخ دمت خوازی څانګه په بینی


(۱) حیات افغانی - ۲٤٦ مخ .

نومې ځای کې اوسیږي د سالار دښاخ دسلیمان زیو ځانګه په پاده، شنې ، کولاګر او پولاچپ لی کی چی واره کلی او دمهابن په سیمه کی موقعیت لری قبضه لری.

د منصور دښاخ لوی کلی بیسلک دی او تقریباً دری سوه کورنی په کی میشته دی . دمنصور دښاخ دالدوزی او دوله زی ځانګی په بیسلک کی استوګنه لری.

همدارازخدرزی په ملکاګری کی اوسیږی. ګندپ، بیسلک او ملکاګری د غره په لمن کی موقعیت لری . ددغو کلیو اکثره ځمکی للمی دی، خو هغه شمیر بانډی چی دغرونو په لمنه کی موقعیت لری شنی ، آبی او حاصلخیزه دی په مهابن کی غنم، جوار، اووریجی ډیری پیداکیږی. ددغی قبیلی زیاتره خلک دکرنی او مالدارۍ په چارو بوخت دی. دمهابن میښی مشهوری او ښی دی. ژیړ غوړی او دودانیو لرګی له غرونو څخه راوړل کیږی او داتمان له سیمی نه پنبه او مالګه دغه سیمو ته وړل کیږی. (۱)

پته دی پاتی نه وی چی یو شمیر ګدون په کشمیر او دکیمبل پور په سیمه کی هم موجود دی (۲)




(۱) حیات افغانی ـ ۳۷۶ـ۳۷۷ـ۳۷۸ مخونه .

(۲) پښتانه دتاریخ په رڼاکی ـ ۱۳۳۰ مخ .

## جلال زی

دوی دمغلجی پښتانه دی اوداند ړیوښه خ شمیرل کیږی. دوی د اندړو په اولسوالی، شلمګو، زرمت، کتیواز او دغزنی په نوروشاا وخواسیمو کی استوګنه لری دجلالزیو یو شمیر په واغزنومی سیمه کی استوګنه لری. چی ددوی خیلونه دا دی: اللهیار، خانی خیل او مسری.

## جلوانی

که چیری دنسب شجره وګورو ونوخرګنده به شی چی جلوانی د سړبن په تولنیز ګروپ کی شامل اود شیرانیو له نسله څخه دی. دوی دشیرانیو دغرنیو سیموترڅنګ پراته دی اومشهوری څانګی یی په لاندی ډول دی:

(۱) - سالارخیل

(۲) - مروت خیل

(۳) - سپند زی

(۴) - کونکړی

(۵) - نیکی خیل

(٦) -مهار (۱)

ددوی دود او دستور شیرانیوته ورته دی. داسی ویل کیږی چی د هندوستان په ځینو سیمو کی هم دجلوانی دقبیلی خلک استوګنه لری. دجلوانیو قبیله د شمیر دلږوالی له کبله د افغانستان دمقتدرو او مشهورو قبیلو له جملی څخه نه شمیرل کیږی.

## جمریانی (ژمریانی)

په کاسیو پښتنو کی یوه ښه د جمریانیو په نامه سره یادیږی، خو په زیا ترو کتابونو کی د (ژمریانی) په ډول کښلی شوی ده او پاسنی پښتانه یی (زمریانی) بولی کاسی پښتانه دسړبن په تولنیزه ډله کی د خرشبون په ښاخ ګډیږی. شیرمحمدخان

(۱) حیات افغانی ٦٥۲ مخ.

گنداپور سل او شل کاله پخوا په افغانستان کی د جمریانیو شمیر تقریبا یوزر کوره ښودلی دی او دا یې هم زیاته کړې ده چې جمریانې د توخیو (توخو) ستانه دي(۱) :

د دغې قبیلې اکثره خلك د توخیو په ملك کی استوګنه لري، خو د کابل څخه تر کندهاره پورې په متفرق ډول په زیاتره کلیو کی یو یا دوه کوره استوګنه لري (۲)

د دوی ځینې خلك د کرنې په چارو بوخت او ځینې یې په سوداګرۍ او نوکرۍ پاندې بوخت دي. دوی د سوداګرۍ په چارو کی ورانسدې تګ کړی دی او د ښو شتو خاوندان دي (۳)

## ځاځـي

ځاځي هم د کرلاني پښتنو له جملې څخه دي. د نسب په شجره کی د خوګیانیو سره شامل دي ، خو خوشحال خان خټك په خپل بیاض کی د توري او ځاځي ښا خونه د کرلاڼ له نسل نه بللې دي.

ځاځیان د پکتیا ولایت د مهمو قبیلو څخه شمیرل کیږي. شمال ته یې غلجیا ـ یان دلوګر از ره او د ننګرهار د حصارك اولسوالۍ اولږڅه د خوګیانیو قبیله لویدیځ ته یې احمدزي، جنوب تـه یې مقبل، څمکني ، منګل او توتا خیل او ختیځ ته یې د ډیورنډ کرښه پرته ده چې د کورمې د ایجنسۍ سره پوله لري او د پیوار مشهور کوتـل ددې قبیلې په سیمه کی موقعیت لري (٤)

ځاځیان په آریوب ، د ځاځیو په اولسوالۍ ، ځاځي میـدان او د څمکنیو پـه اولسوالۍ او کابـل کی استوګنه لري :

حیات افغاني د ځاځیو په باب لیکي : «ځینې خلـك عقیده څرګند وي چې تور اوحاج دواړه ورونه او داوان د قبیلې د مونډله ښاخ نه رابیل شوي دي دوی دخپل


(۱) پوهاند رشاد ، «جمریانې افغان» د افغانیاد ، کابل ـ ۱۳۶۰ ، ۱۵ مخ.

(۲) حیات افغاني ۲۸۷ مخ

(۳) پ تانه د تاریخ په رڼا کی، ۱۳٤٦ مخ.

(٤) معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور ٤٥ مخ .

وروربند ون نه نا راضه او دسند دریاب لویدیځی غاړی ته راغلل ددوی اولاده زیاته شوه او دتور اولاده په توری او دجاج اولاده په ځاځی مشهوره شوه (۱) د حیات افغانی مولف محمد حیات خان ددوی وسله والو کسانو شمیر پنځه زره تنه ښودلی دی :




## ځدران

که چیری دنسب شجری ته وګورو نو څرګنده به شی چی ځدران هم د کرلانی ټولانیز ګروپ یوه ټپه ده .

شمال ته یی منګل، احمدزی، ګردیزی او زرمت اویدیځ ته یی، زرمت او د خروټو قبیله جنوب ته یی پیرګوتی او یوه برخه یی ددیورند د کرښی سره د مده

(۱) معلومات مختصر (در باره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور ۴۲ مخ

خیلودوزیروسره پوله لری اوختیځ لوری ته دخوست، تنې اومنګلوسره پوله لری اودپکتیا ولایت دستروقبیلوله جملې څخه شمیرل کیږي . همدارازدپکتیکاپه ولایت کې هم یوشمیرځدران استوګنه لری . (۱)

دوی په یوه غرنی سیمه کې استوګنه لري . دوی دکرنې اومالداري پـه چارو بوخت دي او د چارتوا شود صادراتوله لاری هم خپله ګوزاره کوی .ځنی خلك یې موټرلرونکي دي .ددغې قبیلې دیوی مشهوري څانګې دادی:

پیرداد خیل، زنـی خیل، ختین خیل، ببه خیل، علی محمد خیل، سپاهی خیل، ګرموښي، سپرغه‌خیل، دری خیل اومیزایي . اود ۱۳۵٤ کال د احصا ئیی لـه مخې ددوی شمیرپه پـکتیا اوپتیکاکی(۱۵٤۱۲۲)تنوتـه رسیده .

الفنستن دځدرانوپه باب لیکې : «ددوی جامې اوکره وره دوزیروپه شان دی اود خروټوپه لوردځنوزیو دګنوځنګلونوپه منځ کې له خپلورمواوګلوسره دروسی .(۲)»

په حیات افغاني کې دځدرانوپه بابـ راغلی دي: «ددغې قبیلې داستوګنې ځای دخوست اوید یخ اود زرمت دسیمې ختیځ ته شنه غرنی سیمه ده.دد وی په غرنی ملك کې رواني اوبه، شنه وابنه، ونې، دموغانوآوازونه اوسره هواانسان ته خوښي اوخوشالي وربخښي، خو سره له دې هم دکر نې ورځمکه په کې ډیره لږه ده او دغه کموالي ترهغې اندا زې محسوس دی چې تیزې پـه‌مخصوص ر, دول اواروي، خاوری وربـانـد ی اچـوي اودکـرنی لـه پـاره یې بـرابـروي‌دهمدی کبـله ده چـې ددغـې سیمې پیـدا وارد نـو مـوري قبـیلې دخلـکو لـه پـاره کـفـا یت نـه کوی او دوی دمز ور یوله پاره ګاوند یوسیموته ځي .همداراز دوی دځاه ګانوپه ژورولو اود ختیـنودیوالونوپه جوړولو کی مخصوص او ځانګړی مهـارت لری: دوی په خوړوکی د غنمو،جواروااوویجو څخه‌استفاده کوی اوخپلې خوراکې اړتیاوی دګردیز اود خوست له ښارونو څخه لاسته راوړي. ددوی په غرنی سیمه

---


(۱) معلومات مختصردر باره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور ـ ٤۹ مخ .

(۲) دکابل سلطنت بیان ـ ۷٤ مخ .

کې ځینې میوې لکه منې ، انار ، چارمغز او بادام هم پیداکیږي ، خو ددغې قبیلې خلک د سوداګرۍ له چارو سره زیاته مینه نه لري(۱).» ځنغوزي د دغې ساحې له عمده پیداوارو څخه شمیرل کیږي.

ځدران ډیر جنګیالي خلک دي او هر یو بالغ تن یې په خپل کور کې وسله لري څو د بهرني یرغل په مقابل کې د خپلې قبیلې نه دفاع و کړي .

دوی پکتیا ولایت په لاندنیو اولسوالیو کې استوګنه لري د ځدران په اولسوالي ، د سپیره په اولسوالي ، د زرمت په اولسوالي ، د تڼیو په اولسوالي ، د خوست د لویې اولسوالي په مرکز ، د پکتیا ولایت داورګون په اولسوالي ، د ګیان په علاقه داري ، د زیروک په علاقه داري او دنکي په علاقه داري کې استوګنه لري.




«۱» حیات افغانی ۴۹۳ - ۴۹۴ مخونه.

د روایاتو مطابق د سړبن زوی خرښبون دری زامن درلودل. یو یې (کند) نومیده چې دده دریم زوی غری یا غوریا نومیده چې اولاده یې په غوریاخیلو سره یاده شوه چې د مومندو، خلیلو، داودزو، زیرانو او ځوکنو قبیلې ددوی اولاده ګڼل کیږي. د خرښبون دوهم زوی ځمند یا جمند و چې د هغه د اولادې څخه خیشکي، کټاني، مهمنزي او نورخې ډیر مشهور دي. همدا راز د خرښبون دریم زوی کاسي یا کانسي و چې وروسته به وڅیړل شي .

د ځمند د قبیلې سیمه په پیل کې د کندهار په شا او خوا ارغستان ته نږدې پرته وه او د(۸۰۰-۹۰۰ ه) کلونو ترمنځ د پښین سیمه چې پشنګ هم بلله کیږي د دغې قبیلې په لاس کې وه او د ترین قبیلې دغه ځای د زور په ذریعه د دوی څخه ترلاسه کړه زمند یا جمند چې لوی مناخ یې خیشکي و په دغه ځای کې ډیر په تنګ شول. د ځمند د قبیلې نه ځینې خلک ملتان ته لاړل او هلته میشته شول او د خویشکي مناخ د غزنی له لارې کابل ته او د کابل له لارې د غوربند درې ته ولاړل او دغه ځای یې د اوسیدلو له پاره غوره کړ چې تر اوسه پورې یو زیات شمیر زمند او خیشکي هلته میشته دي (۱) په هغه وخت کې چې ظهیرالدین محمد بابر کابل ونیوه او څه موده وروسته یې په هند باندې ډیر غلې تکل وکړ نو خیشکو او همدا راز ځینو زمندو چې په غوربند کې ورته اوسیدل ګران ښکاره شول د هندوستان خوا ته رهي شول او اکثره خیشکي او ځینې زمند په خانه کوچ ډول له کابل نه د پېښور له لارې هندوستان ته روان شول او په دغه وخت کې سلیم خان زمند د دغې قبیلې سردار او مشر و (۲) دوی په هغه ځای کې میشته شول چې اوس د قصوری ښار پروت او د لاهور ختیځ ته موقعیت لري. د دغې قبیلې اکثره نارینه د سلیم خان ځمند تر مشرۍ لاندې د بابرشاه

(۱) پښتانه د تاریخ په رڼا کې- ۱۳۲۶ مخ .

(۲) نوموړی اثر-۱۳۲۶ مخ.

په لښکروکي په خدمت بوخت وواوپه هغه جګړه کي چي دهندد پښتون واکمن سلطان ابراهيم لودي اومغولي بابرشاه ترمينځ په پاني پت کي وشوه په هغه کي ددغي قبيلي (۷۰۰) تنه‌چي دبابرشاه په‌لښکروکي شامل وو، ووژل‌شول‌اوله‌همدي کبله بابرشاه‌اوهمايون په دوي‌باندي زياته‌مهرباني کوله اوهغه وخت چي‌خيشکي اوزمند په قصوري کي ميشته شول نودسپره په نوم يوه بلوڅ دخپل‌قوم ديوي دلي سره راته اوپه‌لوټ اوتالابه يي‌لاس‌پوري‌کاوه‌اوددغه‌لوټ دبندولوپه‌منظور بټلک زي، حسن‌زي، عارف‌زي، شابن‌زي، کرلاڼي اوسلمهاک چي ددغي قبيلي ښاخونه دي په برکلي کي‌ميشته شول اوخرنګه چي‌سپره به له دغه لاري يرغلونه کول نودغه لاره يي بنده کره اوبياسپره له دغه لاري‌څخه لوټ نه شو کولاي همدارازددغي قبيلي دعزيززي، جنوزي اوابراهيم زي ښاخونه ختيځ خواته په ارياښکتني کلي کي ميشته شول اوپاتي زمندچي په‌مطلق‌دول دځمنديا جمندپه‌نامه بلل کيږي دشمال خواته پريوتل ترهغه وروسته براهيم زيودجنوزي دښاخ سره ددښمني له‌کبله له دغه ځايه وخوځيدل‌اودخورجه په‌سيمه کي ميشته شول اوهمدا رازاکثروسلمهاکوچي‌دامچوزيواوحسين‌زيويي‌سره دمقابلي توان‌نه‌لاره‌نودتاندي سيمي ته لاړل اويوشميريي هم په قصوري کي پاتي شول اود بټلک زيويوشمير هم دکورنيوشخړو په سبب په هيروال کي ميشته شول.

دزمنديا جمند دقبيلي څخه خوکوره په کندهاراو پښين اوسيږي. همدارازيو شميرزمند دپروان ولايت دغوربندپه اولسوالي، دپيښورپه اشنغراونوښا ر، په مومندو، دخيبردتاريخي دري ترمنځ اودلاهورپه‌قصوري کي استوګنه‌لري‌چي هلته د(قصوريه پټانانو) په‌نامه‌سره ياديږي. همدارازددغي قبيلي دمحمدزي‌يامهمن‌زيو ښاخ هم ډير مشهوردي(۱)

## ځمکني (څوکني)

که چيري دځمکنيود نسب شجره وګورونوڅرګنده بـه شي چي دوي سړبني

(۱) حيات افغاني ـ۳۵۴ـ۳۵۵ مخونه .

پښتانه اود (کند) له ځانګې څخه دی . (کند) بیا په خپلو ار په دوولو یو ځا نګو ویشل شوی دی :

الف ـ غوری یاغوریاخیل : مومند، داودزی، زیرانی او ځمکنی .

ب ـ خښی : یوسفزی او مندړ، ترکلانی. د پښتو ناز کخیال شاعر حمید ماشوخیل دغه دوه ځانګې داسې یادې کړی دی :

چې د استاد نامې بوی اخلی حمیده
څه به نه وی خوش دماغه غوری، خښی (۱)

داسې روایت موجود دی چې دغوریاخیلو اولاده په پیل کې دکند هار په ارغستان کې میشته وه چې وروسته بیاد غزنی سهیلی اولویدیځو برخو ته راغلل چې غالباً ۹۱۰ هـ کال اود بابر د واکمنی لومړی شپې اوورځې وې . ویل کیږی چې په هغه وخت کې ددغې قبیلې تول خلك دپوونده اودمالداری په کارونـو بوخـت وو ځکه چې وروسته ددغې قبیلې دخلکو په شمیر کې زیاتوالی راغی نود غزنـی نـه کابل ته و کوچیدل اوبیاله هغه ځایه یې دننګرهار خواته مهاجرت و کړ. کله چې غوریاخیل ننګرهار ته ورسیدل نو ځمکنیو دسپین غره په لمنو کې استوګنـه غوره کړه. تاریخ حیات افغانی دتاریخ مرصع په حواله د ځمکنی قبیلې بیلتون د خپلو نـورو وروڼونه په دی دول څرګـند کـړی دی : «یـوه ورځ څلور وواړه وورو ڼو یعنی خلیل، زیران، دولت یار او ځمکنی بو پسه حلال کړی و هغه یې په خپل مینځ کې سره وویشه خـودویشلو پـه وخت کـې یـې ځمکنـی هیر کـړ او دې وروا بـرخـه یـې ورنکړه چې په دغه خـبره ځمکنـی خـپه اود خپلـو نوروورو ڼو څخـه جـلا شو اوتر نن ورځې پورې یې هم اولاده په جلاډول سره استوګنه لری» . اخوند درویزه هم د نوروورو ڼو نه دځمکنی جلاوالی مرورتوب ښودلی دی خو بنایی چې پورتنی روایت افسانوی بڼه ولری :

---

(۱) دوست شینواری «دخوګنیو زیارکښه، میلمه پاله او ننګیالی قبیله» ، جرګه مجله دریم جلد، ۱۳۶۳ کال ، ۳۸ مخ .

## د میشتی سیمی :

خمکنی په عمده توگه په دوو سیمو کی میشته دی : الف ـ دپکتیا ولایت په خمکنیو کی چی زموږ دهیواد په اداری تشکیلاتو کی یوه اولسوالی ده او دخمکنیو اولسوالی ددوی په نامه سره یادیږی . دلته د خمکنیو یوه ښکلی دره غزیدلی ده چی دپیوار دغاښی جنوب لویدیځ خواته موقعیت لری شمال ته یی دمنده یر مشهور ځنگل او لویدیځ ته یی دبکیادغرونه راخرخیدلی دی :

## ب : په تیراه کی :

د خمکنیو بله برخه دتیراه په ښکلو غرونو کی استوگنه لری : چی ختیځ ته یی اپریدی ، جنوب ته یی اورکزی او جنوب لویدیځ ته یی توری میشته دی قطب ته یی سپین غر موقعیت لری .

دوی په خرمنه او کرمنه کی استوگنه لری : دوی ډیر خوار یکښی او جنگیالی خلک دی . ښځی او نریی ټول په گډه کار کوی : دوی نورو سیمو ته ډیر لږ تگ اوراتگ کوی . ددوی داستوگنی دسیمی هوا ډیره یخه ده .

ددوی دسیمی ځمکی غالباً بارانی او للمی دی ځرنگه چی ځمکی یی لږی دی نو ددوی اړتیاوی نه پوره کوی ، خود موسم دسوړوالی له کبله په کی دغنمو ، اوربشو او جوارو ډیر زراعت او کرنه کیږی . په دغه ځای کی پنبه او وریجی نه کرل کیږی :ددوی سیمی ته دکورمی نه وریجی ، پنبه او نور کران له بنو ، بنگښو او کورمی سیمی نه راوړل کیږی . ددوی په قبیله کی دملکانو او مشرانو واک ډیر دی که څه هم دوی دکلی مشرانو ته تاکلی محصول نه ورکوی ، خود میلمنو د خرڅ له پاره یی دمشترکو ځمکو نه یوه ټوټه ځمکه ورکول کیږی : د خلکو تر مینځ شخړی هم اکثره دکلی دسپین ږیرو له خوا دجرگی په ډول او دملکانو په ذریعه حل او فصل کیږی :

خمکنی ټول سنی مذهبه دی او په پښتو ژبه خبری کوی په دوی کی دبی سواده کسانو شمیر ډیر دی : دابدالی احمدشاه دسر شمیرنی په وخت کی ددغی

قبیلې تول شمیر (۹) زره تنه او دوسله والو کسانو شمیر یې (٦) زره تنه ښودل شوی و.

دخوګنیو دقبیلې دمشهور و خانګو نومونه په لاندې ډول دي :

۱ـ ازی خیل .

۲ـ خاني خیل .

۳ـ دری خیل :

٤ـ خواجه خیل :

٥ـ مرزاخیل :

دخوګنیو یو کلي دپیښو رنه په شپږ میله واټن کې موقعیت لري چې دحضرت میاعمر (رح) د مزار په وجه مشهور دی. همدا راز دخوګنیو د کلي ختیځ ته تقریباً آ ته کروه لیرې دازي خیلو کلي پروت دی . ازی خیل دخوګنیو یوه پښه ده (۱)

پاتې خوګني په متفرق او خواره واره ډول ژوند کوي :

د۱۹٦۱ کال دسرشمیرنې له مخې ددوی شمیر (۳۹۱۱۹) تنه ښودل شوی دی :

## څولیزی

دوی غلجي پښتانه او اکثره یې کوچیان دي څولیزی چې سلیمان خیل غلجي دي زیات شمیر یې دننګرهار ولایت دروداتو داولسوالي دچپرهار د علاقداری دڅولیزیو په کلي کې استوګنه لري. ددوی یو شمیر دکابل دبګرامیو په شااو خوا کې میشته دي (۲)

د دوی شمیر دننګرهار په ولایت کې د(۳۵۰۹) تنو په شااوخوا کې ښودل شوی دی (۳)

## څینزی

څینزی په اصل کې غلجي پښتانه دي . اکثره شمیر یې د ننګرهار دولایت د

(۱) پوهاند عبدالشکور رشاد، دخوګنیو میا عمر، (کابل : دعلوموا کادمی ۱۳٦۰) ، ٦ مخ .

(۲) معلومات مختصر در باره اقوام و قبایل ولایات سرحدی کشور د ۱۰ مخ جدول .

(۳) دڅولیزیو د مشرانو او سپین ږیرو څخه زما لاس ته راغلي معلومات.(لیکوال)

حصارك غلزايي په اولسوالي كي استوګنه لري چي شمېر يې ٦٦٠ تنو ته رسېږي (١) ددوی يو شمېر د لغمان ولايت دقرغيو داولسوالي دعزيزخان كڅ په سيمه كي هم اوسيږي. پاتي څېنزي په ټول افغانستان په تېره بيا دغلجيو په سيمه كي په خوارهواره دول ژوند كوي. ددوی اكثريت دسوداګري په چارو بوخت دي .

## حسين خيل

دوی غلجي پښتانه دي. ددوی يو شمېر دلغمان دولايت په اروند و كلېو لكه ده زيارت او نورو يو شمير يې د كابل دشيو كيو په شاا وخوا او يو شمير يې هپروا ن په ولايت كي استوګنه لري. حسين خيل اكثره دسوداګرۍ په چارو بوخت دي.

## خاښي خيل

د تاريخ خان جهاني او د پښتنو د روايا تو مطابق دقيس عبدالرشيد دری زامن وو او مړي بيټني، دوهم سړبن او دريم يې غرغښت. سړبن دوه زامن در لودل خرشبون اوشرخبون. خرشبون دری زامن درلودل كاسي ، كند او څمند. د كند دوه زامن درلودل چي يو يې شيخ ايا خاښي اودوهم يې شيخ ابراهيم ياغوريا نوميدل.

يوسفزي مندړ، ګګياني اوتر كلاني چي مجموعاء دخاښي خېلو يا خوښي په نامه ياد يږي ددوی اصلي اولومړني ټاټوبي دارغستان په حدودو كي دغوندانو او صره غره په شاا وخوا هغه ځمكه ده چي دغوري مرغي په نامه سره يادېږي . دوی چي دنورو په ګاونډ كي اوسيدل تو پښتنو د فشار او زورزياتي له كبله يې خپله سيمه پرېښوده او دغوريا خيل او له خواد غزني دمقر په كښتي كي په وركړل شوی ځمكي باندي دځه وخت له پاره ميشته شول ، خو له غوريا خيلو سره خوا بدي شول. هغه ځمكه يې هم پرېښوده چي په نتيجه كي د كابل خواته واوښتيدل دراتګ په وخت كي اتمان خيل هم ور سره ملګري شول او د كابل په شاا وخوا او رشو ګانو كي ميشته شول.

---

(١) معلومات مختصر در باره اقوام و قبايل ولايت سرحدی كشور ٣١ مخ

ویل کیږي چې په کوم وخت کې مرزا الغ بیګ د سلطان ابوسعید زوی په دیر کوچنیوالي کې د ماوراءالنهر څخه کابل ته راغلی و په هغه وخت کې د خانبې خیلو مشر ملک سلیمان شاه و چې د ملک تاج الدین زوی او د ملک رخ پرلمسی و. کله چې سلیمان شاه میرزا الغ بیګ ترلاسه کړ د دوی ترمنځ دیره مینه پیداشوه ان تردې اندازې پورې چې ملک سلیمان شاه خپله لورده ته ور کړه.

اتفاقاً یوه ورځ میرزا الغ بیګ د سلیمان شاه په غیږ کې ناست و. قدوة المکاشفین شیخ عثمان بن موتی مولیزي چې د هغې زمانې د اولیاوو څخه و او د یوسفزیو خلک پیخې دده معتقدین وو پرې ورغی.

شیخ عثمان قدس سره دې په دغه حالت کې ولیدو ورته یې وویل چې « ملکه! دا څه کړې؟»

سلیمان شاه ورته وویل چې «دا شهزاده دې لویوم یې که پاچاشي نو سلطنت به یې څماشي او قوم به مې پرې عزیز او د رونـد شي» شیخ ورته وفرمایل چې «ددې ظلمي سترګې لکه یزید هسې دي چې صحابه (رض) یې قتل کړي او هلاک کړي وو دغسې به ستا قوم هم هلاک کا»

ملک سلیمان ورته وویل چې: «شیخه دارنګه مه وایه له تانه دا هسې نه ښایي زې چیرې نه چې نور څوک پرې خبر شي - ولې چې پا چایان د چا احسان نه ور کوي دي پادشاه زاده دي چې لوی شي پاچا به شي چار به یې زماشي قام به مې پرې محترم شي»

شیخ ورته وفرمایل چې «ښه ملکه! خبر مې کړې. بیا به دې ویل چې ویلي دې راته نه وو نور اختیار دې خپل.»(۱)

میرزا الغ بیګ تر هغه پورې چې کمزوری و په همدغو پښتنو به یې ځان سا ته خو کله چې په خپلو پښو ودرید د پښتنو سره یې مخالفت شو ګـنډ کړ هغه په چل ول سره د خانبې خیلو پښتنو مشران ـ ورته یوه میلمستیا جوړه کړه او تـقریباً

---

(۱) پیر معظم شاه، تواریخ حافظ رحمت خاني (پیښور - پښتوا کیډیمی ۱۹۷۱) ۶-۷ مخو نه

(۹۰۰) تنو په دغه میلمستیا کې ګډون کړی وو. ده دغه نهه سوه تنه په دیره ناځوانمردانه توګه ووژل چې هد یره یې د کابل په سیاه سنګ کې موقعیت اوی. دا پیښه په غالب ګومان د ۱٤۸۰ - ۱٤۹۰ ع کلو په شا اوخوا کې شوې ده.

تردې خونړي اوخواشینوونکې پیښې وروسته خاښي خیل پښتانه د کابل نه دننګرهار په خوا روان شول تر کلانیو په لغمان کې واړول او یوسفزي، ګګیاڼي او اتمان خیل په ننګرهار کې اوسیدل چې بیا وروسته نوموړي دري قبیلې په سوات دیر او باجوړ کې میشته شوي. وروسته تر کلانیو هم دلغمان دخلکو دشکایت له کبله چې دمیرزا الغ بیګ دربارته یې کړي و دلغمان څخه باجوړته ولیږدیدل چې تراوسه پورې ښاخي خیل هماغلته میشته دي. (۱)

## خاکواڼي

خاکواڼي چې په حیات افغاني کې دخاوګاڼي اوخاګواڼي په بڼه راغلي دي په اصل کې سړبني پښتانه او دپنج پای درانیو په ښاخ پورې تړلې یوه قبیله ده. باید دغه قبیله دهغو خوګیانیو سره چې دننګرهار ولایت دخوګیانیو په اولسوالۍ کې اوسي او کرلاڼي پښتانه دي اشتباه نه شي.

ددغې قبیلې دوګروشمیر دیرلږ دی. دوی په علیحده اوجلا توګه څمکې نه لري له دوی څخه ځینې په کندهار اوځینې یې دنورزیو دقبیلې سره یوځای پرا ته دي دوی پردوو برخو ویشل کیږي یو یې سترخاکواڼي یاخوګیاڼي او بل یې کوچنی خاکواڼي.

دوی د کندهار او هرات په شااوخوا کې په خواره واره دول اوسي او هم په غزنې کې خاګو انیو څوکلي. د ماکو دکلیو ترڅنګ پراته دي چې خلک

---

(۱) پښتانه، لومړی ټوک، کابل - ۱۳٤۹، ۵۵ مخ.

دوی دخوگیانیوماکوانوپه نامه سره یادوی (۱) ددوی شیمرد(۷۵۵۵)تنوپه‌شااو خواکی اتکل شوی دی (۲)دحیات افغانی مؤلف لیکی چی په‌دیوه‌اسماعیل‌خان کی هم‌ددوی(۸۰) کورنی‌شته‌چی مشوریی‌غلام سرورخان‌خاکوانی‌و.

## ختـــك

ختك دکوزی پښتونخواد مشهوروقبیلوپه جمله کی‌شمیرل کیږی.ختك دری زره‌کاله پخواپه‌آریایی‌کتابونوکی د ستهلك یاد ستها لك‌په شکل راغلی اود پکت له قبیلوڅخه شمیرل شوی دی «۳»

ددغی قبیلی لوی‌نیکه‌لقمان‌نومیده‌چی دکرران‌لسی‌و اود لقمان‌نه ختك ته دده دنامه‌داوښتلو دعلت‌په‌باب‌داسی افسانوی‌روایت موجوددی چی یوه ورځ لقمان‌د خپلوورونیوعثمان ، اتمان‌اوځدران‌سره‌دښکاریابل‌کوم کارلـه‌پاره‌صحراته‌تللی و.

په دغه وخت‌کی دوی څلور ځوانی ښځی چی ددوی لـه کـالیـو نه دپیغلتوب نښی ښیانی ښکاریدی ولیدلی‌چی د دوی په‌خوارا روانی‌وی.په‌دغه وخت‌کی دوی سره سلااومشوره وکړه چی دا لـوی ښکاربه‌ترلاسه‌کوی اوپـچه به وربانذی اچوی اود پچی له مخی به دوی ته یوه یوه‌ښځه ورسیږی.څرنګه‌چی لقمان ترنورومشرووبـی ویل چی‌زه به لومړی له دوی: نه یوه خوښه‌کړم په پاتی دریو بانذی تاسی پچه واچوی . په دغه وخت‌کی لقمان له هغوڅلوروښځونه یوه پرته‌له دی‌چی‌مخ یـی‌لیدلی وی‌یوازی‌دکالیوله‌مخی‌انتخاب‌کړه‌اونوروورونیو یی د پچی په اساس یوه یوه ښځه انتخاب کړه . کله چـی دوی وایدل نوڅرګـند ه شوه چی لقمان ته یوه توره اوبد ر نګه ښځه ور رسیدلی وه خوڅر نګه چی هغه ښځه د ده په نامه شوی وه له غیرته بی ومنله‌کله چی‌نوروورونیو‌بی دالقمان دغـه حالت ولید په خندا شول اوپه پښتوژبه بی وویل چی‌لقمان‌په‌ختېه‌لاړاوپه پښتنو کی

(۱) حیات افغانی - ۲۲۲ - ۲۲۸ مخـونـه

(۲) معلومات مختصردرباره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور - ۱۰ مخ

(۳) پښتونستان - ۲۲۸ مخ .

دا متل مشهور دی کله چې څوك په کوم کار کې بیرته پاتې شي او یاوغولېږي نو نور ورته وایي چې پلانی په ختړه لاړه. د دغې عجیبې پېښې له مخې لقمان د ختټك په نوم داسې شهرت وموند چې اوس د ده ټول نسل د ختټك په نامه بالې کېږي د همدې بدرنګي مېرمنه نه چې سباکه نومېده د ختټك دوه نارینه اولادونه دنیا ته راغلل چې په یوه باندې یې دتورمان او په بل باندې یې د بولاق نوم کېښود دلچې دختټکو ټوله قبیله ددغو وورونو اولاده ده تورمان هم دوه زامن درلودل چې یو یې ککې او بل یې ترې نومېده چې د خپل پلار په اولادکې ترې ډېر نومیالی سړی و او دتورمان ټوله اولاده د ده په نامه نومول شوې ده. ترې هم دوه ځامن درلودل برګ ریت او امیریاامند. (۱)

دختټکو شمال ته یوسفزي، لمرپریوتو ته یې خلیل، اپریدي او بنګښ، جنوب ته یې د بنو علاقه او ختیځ ته یې اباسین موقعیت لري.

په لومړي سر کې دختټکو قبیله دشوال په غره کې میشته وو چې نوموړی غر دسلیمان د غره یوه لویدیځه لړۍ ده چې اوس په دغه غره باندې دوزیرو قبیله تسلط لري چې له نن څخه دڅه د پاسه دری سوه کاله دمخه دوی منګلو او هني ښاخونو په ملګرتیا دخپل اصلي ټاټوبي نه بنو ته راغلل او په هغه ځمکه کې میشته شول چې نن پرې احمدزي وزیر قبضه لري. څه موده وروسته دمنګلو او شیتکو ترمینځ دښمنۍ را منځ ته شوه او منګل د شیتکو د دښمنۍ له کبله ددې سیمې پرېښودو ته مجبور شول، خو ختټکو په دې سیمې استوګنه درلوده. په پای کې د ختټکو او شیتکو ترمنځ اړیکې هم خراب شول او ختټکو هم ددې سیمې نه کډه وکړه او په کربوغه، تېرې، لاچي، شکردرې او داباسین تر غاړې پورې خپله یې قبضه ټینګه کړه څرنګه چې دغه سیمې ښې آبادې نه وې نو دوی بې له کومې شخړې او جګړې ترلاسه کړې. په دې ورځو کې له ریسی نه نیولې تر کوهاټ پورې سیمو کې داورکزیو قبیله میشته وه او دکورمې د لورنه به بنګښو هم دکوچیانو په ډول دې علاقې ته تګ اوراتګ کاوه چې داورکزیو

(۱) حیات افغاني - ۴۶۹ مخ.

او بنگښو ترمینځ په نا ځاېي توګه دښمني پیدا او جګړه پېښه شوه او ځرنګه چې له پخوانه داورکزیو او ختټکو ترمنځ یو لړ شخړې موجودې وې نو په دغه وخت کې ختټکو له بنګښو سره مرسته وکړه او کوهاټ له اورکزیو نه د بنګښو ولاس ته ورغی او دریسي، پنیاله او زیرې نه نیولې ترتوري ځیرې پورې ټولې سیمې دختټکو لاس ته ورغلې او دختټکو او بنګښو ترمنځ یو غرچې د ګنداخیلو او لاچې ترمنځ موقعیت لري سرحد وګڼل شو چې تراوسه پورې هم دغه سرحد په خپل حال پاتې دی.

ترهغه وروسته کله چې د ختټکو قبیلې په شمیر کې زیاتوالی راغی په هماغه تناسب یې خپلو مقبوضه سیمو ته هم پراختیا ورکړه او اوس یې هغه پراخه سیمه په لاس کې ده چې په پېښور کې دیوسفزیو د سیمې او د کابل یاانډې سیند له شمالي ځنډو نه نیولې تر کالاباغ، عیسی خیلو، مروتو، بنو، وزیرو او د سند ه ددریاب تر او یدیځو ځنډو پورې غځیدلې ده.

- دختټکو دسیمې اوږد والی تقریباً سلو میلو او پلن والی یې پنځوس میله ته رسیږي ځرنګه چې دمخه وویل شول ددغې سیمې ختیځ ته اباسین موقعیت لري، ولې د اباسین نه پورې غاړه هم ختټک استوګنه لري او ترماړې پورې رسیدلې دي.

دختټکو سیمه پر دوو برخو ویشله شوې ده چې یوې یې شمالي ختټک او بل یې جنوبي ختټک دی. دجنوبي ختټکو په ملک یې دمالګې کانونه موجود دي. ددې سیمې ځمکه میداني او شګلنه ده غرونه یې شنه او آبادنه دي تورې، لاچې، کرك او شکر دره ددې سیمې مشهور کلي دي.

دشمالي ختټکو سیمه هم غرنۍ ده چې له دې غرونو نه کومه استفاده نه شي کیدای. اکوړې، شیدو، نظام پور، امیر او امیر کلان ددې سیمې مشهور کلي دي (۱)

دختټکو د سیمې په اوږو برخو کې ځینې ورې ورې سمسورې درې هم لیدل کیږي او په ځینو برخو کې یې دښوونو ځنګلې ونې شته. دختټکو په علاقه کې دبها در

(۱) پښتانه دتاریخ په رڼا کې - ۱۳۸۲ مخ

خیلو د مالګی کان ډیر مشهور دی چی ددغی مالګی دکان دعایداتو له درکه د یری پیسی تر لاسه کوی .

← هغه ختیک چی دکوهات په شمالی ختیځ کی آباد دی او دکابل تر سیند ه پوری استوګنه لری داکوره ختکوپه نامه سره یادیږی .جنوب لوید یځ ختیک دتیری او جنوب ختیځ ختیک دساغری ختکو په نامه سره یادیږی .دنسبی اعتبار له مخی په دی ویش کی کوم مخالفت نشته سا غری ختیک بولاق دی خو شمال ختیځ ختیک هم بولاق بلل کیږی .دشمال ختیځ ختکو مهم مقام چی داکوړی په نا مه یادیږی دپیښور او نوښار نه ختیځ اوری ته دکابل سیند په جنوبی څنډه وکی مو قعیت لری .

دختکو په لهجه کی دنورو او وقبیلو په نسبت د(ښ) او(ږ) استعمال د(خ او ګ) په پرتله زیا ت دی .

دختکو یوه قومی څانګه که څه هم دا باسین په بله خوا په (مکود) نومی ښار ګوتی کی ژوند کوی خو ددوی عمومی پوله ختیځی خواته اباسین دی لویدیځی خواته یی دپیښور قومونه خیبریان او بنګښ او سیږی او جنوب ته یی دبنو او دامان او انی میشته دی. دوی داسی دوه بیلی بیلی څانګی لری چی سره پوره توپیر اری .شمالی څانګه یی لس زره او جنوبی څانګه یی دولس زره کورنی ګڼل شوی دی.

دجنوبی ختکو ملک غرنی اوله دبورینوسپیو غرونو څخه جوړ دی چی په ژورو اومخ په ځوړ کلیو سره بیلیږی اودبارک اوساغر خیلو نه په متشتت دول په کی میشته دی .(۱)

دختکو دسیمی اکثره ځمکی دبنجرو الی له کبله دکرنی ورنه دی دکرنی ځمکی یی هم اکثره للمی دی چی کله کله یی دارهټ په ذریعه هم خړو بوی . دختکو دسیمی پیداوار غنم ، باجری ، چنی اوجوار دی. اوس په شمال ختیځ سیمو کی هغه ځمکی چی دخاه ګانو په ذریعه اوبه کیږی په هغو کی تماکو هم کول کیږی .په دلی اوچشمی کی چی دپیښورد نوښار په تحصیل کی موقعیت اری ښه لیموګان پیدا

---

(۱) حیات افغانی - ٤٦٩ مخ .

کیږی. په تېتې نصرتي کې چې د کوهاټ تیری په تحصیل کې موقعیت لری په پریمانه اندازه انګور شته .


دختټکو دسیمې معدني پیداوار مالګه، پټکړی او د ډبرو سکاره دی .(۱)


ختټک دخپلو نورو پښتنوورونو په شان باغیرته، زړور، ننګیالی، توندمزاجه او میلمه پال دی . دختټکو یو ښه خصوصیت دادی چې لانجمنی مسألې دننوا تواو یا جرګو له لاری فیصله کوی او د جرګې له لاری پریکړو ته په ډیره درنه سترګه ګوری. دختټکو د قبیلې خلک په عمومي ډول سره ښایسته او غښتلی دی .

په اوسنی وخت کې د دوی شمیر د ۱۹۶۱ کال داحصائیې له مخې د(۳۷۸۳۰٤) تنو په شا او خوا کې ښودل شوی دی چې اکثریت د کوهاټ په ضلعه کې استوګنه لری (۲)


(۱) پښتانه دتاریخ په رڼا کې - ۱۳۸۲ مخ .

(۲) پښتونستان - ۲۲۸ مخ


لقمان بن برهان
تورمان
بولاق
تری
ککی
برکویټ
اسمعیل
میری خیل
اتوخیل
ترکی
ماشی
خواجی
مهمندی
ادریس خیل
خورم
وتړ
موسیاخیل
عماخیل
بارک
هونی
خینی
امن زی
ګل زی
کمیل خیل
شیخ علی خیل
مالک خیل
عیسی خیل
یاسین خیل
حسن خیل
اسمعیل
مندن
پښتی خیل
منډوزی
اکو
جنډاخیل
حاتی خیل
میم خیل
محمود خیل
اتماخیل
کریم خیل
بارک خیل
منډ
ناصر
شاهد
ملی خیل
احمد خیل




(۱) پښتانه دتاریخ په رڼاکی - ۱۳۶۱ مخ .




(۱) پښتانه د تاریخ په رڼا کې - ۱۳۶۱۰ مخ .

## خدرزی

دوی غلجی پښتانه دی او اکثره خلک یې د مقر په سیمه کې دعلی خیلو غلجیو سره یوځای پراته دی او د مقر په سیمه کې یوه اندازه ملکیت هم لری . کندهار له نږدې په ده خواجه نومی ځای کې هم ددغی قبیلی تقریباً دوه سوه کورنی میشته دی.(۱) د دوی خپل نسب کله سیدانو او کله درانیو پوپلزیو نه منسوبوی، خو دوی په اصل کې غلجی پښتانه دی. دحیات افغانی دلیکوال په قول په هغه وخت کې ددغی قبیلی شمیر په ټول افغانستان کې (۲۰۰۰) دوه زره کوره ښودل شوی و(۲) دوی عموماً د کرنی او مالداری په چارو بوخت دی .

## خرخین

خرخین یوه کوچنی ټپه ده چی په شمالی وزیرستان کې د دوړو د پیپی خیل کلی ته نږدې دزانګیتی او وژګی په کلو کې استوګنه لری چی په زانګیتی کې یې شمیر (۶۰) کورنیو او په وژګی کې (۱۶) کورنیو ته رسیږی. د دوی یو کلی دمده خیلو دننګی او د پیپلی ترمنځ موقعیت لری چی خرخین نومیږی دقبیلوی اتحاد له مخی پخوا د دوړو سره متحد وو، خو نن ورځ دمده خیلو وزیرو سره متحد دی .

دافسانوی روایتونو له مخې دوی دحضرت بلال (رض) داولادی څخه دی.(۳) ددوی شجره په لاندی ډول ده:

خرخین

تیرسم خیل　لیونی　لادودخیل　ملیاګی　سیره خیل　سنګرخیل

(۱) تواریخ خورشید جهان-۲۲۲ مخ .

(۲) حیات افغانی -۲۸۲ مخ .

(۳) اصلاح، اپنجنس هاو قبایل ایالات پښتونستان- ۱۱۱ مخ .

# خروټي

دغلجي په ټولنيز گروپ کې دخروټو قبيله يوه مشهوره قبيله ده. ددوی اصلي ټاټوبی دپکتيکا سيمه ده چې اکثره دگومل په اولسوالۍ، دسروبي په علاقه‌دارۍ داورگون په اولسوالۍ او دسروضه په علاقه‌دارۍ او دغه راز دخاك جبار په علاقه‌دارۍ کې استوگنه لري.

يو شمير خروټي دغزني دولايت دمقر او قره باغ په اولسواليو کې هم شته. دغه راز په شکردره او پغمان کې هم استوگنه لري. دزابل دشاه جوی په اولسوالۍ او دهلمند ولايت دناد علي او گرمسير په اولسواليو کې هم يو شمير خروټي استوگنه لري.

ددوی تسميې وجه داسې ښودل شوې ده: يوه ورځ سهاك او ايزب دواړه په يوه لاره تيريدل وړاندې يې يو بار کړی خر وليد ايزب وويل چې خر دې زما وی او سهاك وويل چې بار دې زما وی. کله چې خره ته ورنژدې شول نو ويې ليدل چې دبار يوې خواته داوربشو دوډۍ (روټه) او بلې خواته يې يو کوچنی ماشوم و سهاك دغه ماشوم خپل کورته راووست او د (خره) او (روټۍ) له کبله يې په هغه ماشوم باندې د(خروټه) نوم کيښود چې دديراستعمال په وجه په خروټي مشهور شو. کله چې خروټي دبلوغ مرحلې ته ورسيد واده يې وکړ چې دری زامن يې وزيږيدل.

ددغې قبيلې په لويديځ، شمال لويديځ، او جنوب لويديځ کې سليمانخيل استوگنه لري او شمال ته يې دزرمت سيمه موقعيت لري. همدا راز ختيځ خواته دوزيرو قبيلې سره پوله لري.

په حيات افغاني کې ليکل شوي دي: خروټي په هغو غرونو کې اوسيږي چې دکتواز لمرخواته او دسليمان دغره دغربي لوسيمو ته تر برمل پورې پراته دي. دخروټو دمللك يوه برخه دارگون سيمه ده چې په هغه کې پرمليان يا فرمليان استوگنه لري.

خروټي په ځينو هغو تنگو ميدانو باندې هم قبضه لري چې په مينځ کې يې جگ او سخت غرونه

موقعیت لري. دوی څلورلوی کلي لري چې ددغو کلیوله جملې نه سروضه لوړ مقام لـري.

خروټي غالباً دڅمکوپه کرنه بوخت دي. ددوی دکرنې ور ځمکې که څه هم دکتهوازنه ښې دي، خوپه کال کې یو ځل فصل کوی اوپه ژمي کې ددریومیاشتو لپاره لرواوروﻻنـدي پټې وي. دوی پرغـوااوواوغـوایـانـو بسا ندی یوی کوی له دې کبله چې ددوی‌سیمه غرنې ده دپسونوپه تناسب وزې ډیرې ساتـي. ددوی دیراو ـ ښان هم ساتي چې په اوارواومیدا نې برخوکې یې څروي. ددوی اکثره دو نه صهیلي سلیمانخیلوته ورته دي، خرپوونده خروټي دنوروپوونده‌وو په شان‌دي او ـ په ژبه کې یې توپیرموجوددی. دوی دوزیرو، ځـدرانـو اوپرملیا نوسره ډیره کلکه دښمني لري. دوزیرواوخروټوډ قبیلوترمنځ د دښمنی اصلی‌علت دبرمل غردی. په دغه غره باندې تل دخروټو اووزیروترمنځ وینې توییـږی. ددې شخړی اساس دابدالي احمدشاه دواکمني په وخت کې رامینځ ته شوی‌بل کیږی چې په هغه‌وخت کې دوزیرودقبیلې ملك قمبرنومیده چې‌دتوجـیاخیلوله ښاخ نه واودخروټوملك شمس‌الدین وخروټوویـل چې برمل دهغوی دی اووزیـرودغه ادعاردوله اوهغه یې خپل‌گاڼه کله چې دغه دښمني دسولې لـه‌لارې فیصله نه شوه نو په پښتوژبه‌کې یوه منظومه جوړه شوه چې ددغوحالاتودروښانولودپاره دلته‌ر اوړل کیږی:

برملـی پیغـلـه نجـل څنیـه پریشیـه

شمس‌الدین‌وایی زماده‌قمر وایی زماپه غیز کې‌ایشیه

له دغه بیت نه مقصد دادی چې بر ملـی پیغلی خپلی زلفـی جوړی‌کړی دي شمس الدین یعنی د خروټوملك وایی چې زماده اود وزیروملك قمروا یې چې په غیز کې می پرته ده یعنی زماپه واك کې ده.


په پای کې ددغه شخړی په‌سبب دخروټواووزیروترمنځ جگړ‌ورا مینځ‌ته‌شوه. خروټي هم دپرملیواوځدرانوسره‌دگاونډیتوب په سبب سخته دښمني لري. هغه خروټي چې په دایمي دول ژوندکوی د ملك دسوروالی له‌کبله لږکار کوی.

دوی دمنی دپای،ته رسیدونه وړاندی دسون دموادوذ خیره برابروی اوپه ژمی کی دوی بی کاره وی هغه‌خروتی چی غریب دی‌اود یخنی څلورمیاشتی نه‌شی زغملای نوهغوی تودوملکونوته لیږدکوی اوله ځانه سره غوایان اواوښان هم بیایی . دوی دگومل ناوی جنوبی برخی ته ځی اوپه پسرلی کی بیرته خپل مملك ته راستنیږی : ددوی رواجونه کټ مټ دناصروپه شان دی.(۱)

خروتی اکثرد مالداری اوکرنې په چارو بوخت دی، خوپه سوداگری کی هم لوی لاس لری. ددوی زیات شمیر په هندوستان کی تجارت کوی. یوشمیرخروتی کابل ولایت په پغمان، خاك جبار، دلغمان په مرکزاود قرغیو په اولسوالی اویو شمیرهم د پروان په ولایت کی اسنوگنه لری. همدارازیوزیات شمیرخروتی کوچیان هم شته. د کندزپه‌ولایت کی‌هم‌زیات شمیر خروتی‌استوگنه‌لری.

په ټول افغانستان کی ددوی شمیر (۷۷۰۶۲) تنه ښودل شوی دی خوپه دغه شمیر کی دخاك جباردعلاقه‌داری تقریباً سل یونیم سل کورنی نه دی‌حساب‌شوی :

## دخروتود نسب شجره




(۱) تواریخ خورشید جهان – ۲۲۱ مخ .

# خلیل

که چیرې دنسب شجره وګورونـوخرګـنده به شي چي خلیل دسړبن په ټولنیز ګروپ کي شامل اودغوریاخیلوپښتنوڅخه دی . دوی پـه خلیلو مومندو سره هم شهرت لري چي دپښتنولویدیځې اوشمالي خواته میشته دی . ددوی سیمه شل میله اوږدوالي اولس میله پلن والـي لـري چي بـرتهکال ، کوز تهکال ، سپـینه وری اولنډۍ ددوی مشهورکلي دي چي دباړې په ښي غاړه آباددي. (۱)

ددغي قبیلي څوکوره‌دمومندودقبیلي سره اوهمدارازیوشمیریي دبرودرانیوله څونوروکورونوسره یوځای په کندهارکي استوګنه لري .

ددوی اکثره ځمکي دباړې دسین په اوبوخړو بیږي (۲) پـه کندهارکي دوی دبرودرانیوپه‌نامه‌سره مشهوردي اودوی هلته ځانته یوه جلا محله لري . دخلیلود قبیلي خلک خپل مشرته ارباب وایي :

تاریخ حیات افغاني تقریباً څه دپاسه ۱۲۰ کـاله پخوالاددوی شمیر (۶۰۰۰) کورني اودوسله والومیروشمیریو(۱۲) زره تنه ښودلی دی . (۳)

# خوګیاڼي

ددغي قبیلي دشجرې څخه څرګندیږي چي دکرلاڼي پښتنوپه ټولنیزګروپ کي شامل‌دي‌اودننګرهارولایت دخوګیاڼیوپه‌اولسوالي‌اودماماخیلو، چپـرهار، پچیراو اګام‌په علاقداریوکي استوګنه لري‌اودننګرهارولایت دمشهوروا وغـوره قبیلاو لـه جملي‌څخه شمیرل کیږي:

ختیځ ته یې شینواري ، لویدیځ ته یې د حصارک غلجیان ، جنوب تـه یې د کورمی ایجنسي اودپیورند دکرښې سره ګډه پوله لري اوشمال ته یې دننګرهار دسره رودا ولسوالي پرته‌ده (٤)

(۱) پښتانه لومړی ټوک ،کابل : ۱۳٤۹، ۱۱۸مخ.

(۲) پښتانه دتاریخ په رڼاکي ـ ۱۳۲۵ مخ .

(۳) حیات افغاني ـ ۳۵۰ مخ .

(٤) معلومات‌مختصردرباره اقوام قبایل ولایات سرحدی‌کشورـ ۳۹ مخ .

دخوګیانیو مشهور خیلونه دادی : وزیر ، خربون ، شیرزاد ، پربه ، خدرخیل ، بارك ، در مان ، بوبوخیل ، لقمان خیل ، شادی خیل ، ابراهیم خیل ، ګلی خیل ، ملی خیل ، میرګټ خیل ، شمن خیل ، پیرالی خیل ، یحی خیل اوعلی خیل :

دوی دننګرهار دسیمی په لویدیځ اودسپین غره په شمال لویدیځ کی میشته دی چی په دوی کی دشیرزاد اولادی شمیر زیات دی (۱)

دهند دمغولی واکمن دشاه جهان د تخت کښیناستلو په لومړی کال دشادی خیلو اودبارك داولادی لقمان تر مینځ دیوی کوچنی مسئلی په سر لویی شخړی رامنځ ته شوی . دلقمان ښاخ دخدرخیلو په مرسته شادی خیل وتړکول . تر هغه وروسته شادی خیلو دغلجیو قبیلی ته پناه یووړه اوله هغوی څخه یی مرسته وغوښتله غلجیو ددوی مرستی ته ملاوتړله اودکابل د صوبه دار سیدخان په ملګرتیایی دمخالفینو سره سختی جګړی وکړی چی په د غو جګړو کی دبارك له اولادی نه تر (۹) زره تنه کسانو پوری ووژل شول . په پای کی شیرزاداو خدرخیل مطیع اوشخړی اوفساد ونه له مینځه ولاړل :

خوګیانی جنګیالی خلك دی . دحیات افغانی مؤلف ددوی شمیر پنځه زره کورنی ښودلی دی :


ددغی قبیلی ځینی ښاخونه په خوست کی هم استو ګنه لری . داسی ویل کیږی چی په پیل کی ټول خوګیانی په خوست کی اوسیدل ، خود مغولی واکمن نورالدین جهانګیر دسلطنت په وخت کی دزرمت دسیمی ځینو غلجیو قبایلو پر دوی یرغل وکړ اودوی یی له خپلی سیمی نه بی دخله کړل اوویی شړل . دشاه جهان دواکمنی په وخت کی په دوی کی کورنی شخړی اوفسادونه رامینځ ته شول چی په پای کی د یر شول (۲) ددوی سیمه شنه اوحاصلخیره ده اوزیات انار ، انځر ، انګور اوتوتان پکی پیداکیږی . اکثره خلك یی دکرنی په چارو بوخت دی خوځینی یی مالداری

(۱) پښتانه دتاریخ په رڼاکی - ۱۳۸۸ - ۱۳۸۹ مخونه .

(۲) حیات افغانی - ۳۳۸ مخ .

هم کوی. دروی په سیمه کی ددریومیاشتوله پاره واوری هم اوري .

پته دې‌پاتې نه وي چې یوشمیرخوګیانی دهیواد په نوروولایتونوکی هم استوګنه لوی . چې د ۱۹٦۰ ع کال دمرکزی احصا ئیی دسرشمیرنی لـه مخی ددوی ټول شمیر(۱۲۷۷۰۱) تنوته رسیږی چې دد ی جملی نـه یی ٥٥۷۲٦ تنه خروبون، ۳۷٤٤٦تنه وزیر او۳٤٥۳۹تنه‌شیرزاد دی(۱)




(۱) معلومات مختصردر باره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور - ۳۹ مخ .

## خوندي

دوی غرغښتي پښتانه دي. دغه قبیله دداوي دقبیلي یوه څانګه شمېرل کېږي خوندیو ته سیدان هم ویل کیږي. داسې روایت موجوددی چې داوي ابن دا نـي، چې دغرغښت لمسي و دیوي سیدي کوندی سره چې دخجند نه ملتا ن تـه دخـپلي خوردلیدلو له پاره روانه وه نکاح وتړله او هغی له خپل لومړي سید میړه نه یوزوی درلـودچې سید حسین نومیـده . نومـوړي څـاورزامن درلود بلیل، سکـندر، موسی اوعلي . دسید حسین اولاده له دی کبله چې دی دخجندود خجند ي ږ ځای پښتنو پخپلي ورځني محاوره کي په خوندی واړاوه . دوی تریوی مـودی پـوری دغرغښتیانو سره په ګټه اوتاوان کي شـریـك وو. خواوس دوی بېـیخي بېل دی اودکندهاراودهغه په شااوخوا کي استوګنه لري. او شمېریـې ډیر لږدی (١)

## خویشکی (خیشکی)

دوی هم دسړ بن دتولنیزګروپ یوه عمده قبـیله بلله کـیږي چې دځمند اولاده ده دځمند قبیله په لومړي سر کي دکندهار پهشااوخوا ارغستا ن ته نږدی میشته وه اوه (٨٠٠ـ٩٠٠) هکلو نوترمنځ دپښین سیمه چې پشنګ هم بلله کیږي ددغي قبـیلي پـه لاس کي وه اودترین قبیلي دغه ځای دزورپه ذریعه له دوی ته تړلاسه کړ. خویشکي هم چې دلته اوسیدل له دغه ځایه بې دخـله شول اوپـه مهاجـرت یې لاس پوری کـړ: دخویشکود قبیلي ځیني خملك له پښین نه ملتان ته لاړل اوهـغه ځـای یې داسـتـوګـنی له پاره غوره کړ ځیني یې غزني اودهغي لاري نه کابل ته راغلل او بیاله هغه ځایه دغور بند دری تـه لاړل اوپـه هغه ځای کي میشته شول چې تر اوسه پوري هم یوزیات شمېر خویشکي دپروان ولایت دغوربند په اولسوالي کي میشته دی . په هغه وخت کي چې مغولي واکمن ظهیرالدین محمد بـابر کابل ونیوه اوڅه موده وروسته یـې پـه هـند

---

(١) حیات افغاني ٦٣٤ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندې، باندې دیرغل تکل وکړ (۱) دخویشکو قبیله چې په غوربند کې ورته اوسیدل گران بنکاره شول دخپل یو پیر په لارښوونه دهندوستان خواته روان شول. دافسانوی روایتونو له مخې ددوی پیر دوی ته داوسپنې یو میخ ورکړ اوورته یې وویل په هغه ځمکه کې چې دغه میخ ننوزی هغه به ستاسو ملك او وطن وی .

همداوجه وه چې اکثره خویشکي (خیشگی) او زمند په خانه کوچ دول له کابل نه دپیښور له لارې هندوستان ته روان شول. په دغه وخت کې سلیم خان زمند ددغې قبیلې سردار او مشر و. دوی په هغه ځای کې میشته شول چې نن ورځ قصوری ښار پروت او د لاهور دښار ختیځ ته موقعیت لری دوی دستلج دسیند په د واړو غاړو باد دی. له همدی امله نن ورځ دوی ته «اقاغنه قصوریه» وایی (۲) لکه څنگه چې دمخه موو ویل ددوی یو شمیر دظهیر الدین محمد بابر سره پرهند باندې دیرغلي تکل وکړ دبابر په پوځ کې ډیر پښتانه هم شامل وو او همدا ووچې خیشکو دسردار سلیم خان زمند په مشری دبابر په مرسته دپانی پت په جگړه کې دابراهیم لودی سره وجنگیدل اوددوی اووه سوه تنه ووژل شول.

له همدې کبله بابر شاه اودهغه زوی همایون په دوی باندې ډیره مهربانی کوله :

هغه وخت چې خویشکي اوزمند په قصوری کې میشته شول نود سپره په نوم یو تن بلوڅ به دخپل قوم له یوې ډلې سره ددوی سیمې ته راته او ددوی نه به یې لوټ وتالا کوله .

د دغې لوټماری دمخنیوی له پاره ددوی ځینی خانگی لکه بتیک زی، حسن زی شهابن زی، سلماك ، او کزلانی دقصوری لویدیځ خواته میشته شول چې د وی ته به یې دبریا پوره تنی کلی استوگن ویل او څرنگه چې (سپره) به له دغې لارې څخه پرغلونه کول چې نو دغه لاره یې بنده کړه او بیا هغه ددغې لارې څخه لوټ نه شو کولای .

---

(۱) حیات افغانی ۳۵۲ - ۳۵٤ - مخونه .

(۲) پښتانه دتاریخ په رڼا کې - ۱۳۲۵ - ۱۳۲۶ مخونه.

ددوی ځینی ځانګی لکه عزیز زی، جنوزی، براهم زی اونورد قصوری لاهور خاته ته میشته دی اوپاتی زمند ود شمال خوا ته استوګنه غوره کړه .

ترڅه مودی وروسته دابراهیم زی اوجنوزی ښاخونو ترمنځ پولړ شخړی رامینځ ته شوی چی په نتیجه کی ددوی یوشمیر له دغه ځایه وخوځیدل اود خورجه په سیمه کی میشته شول .

په همدی توګه اکثره سلماك چی دا مجوزیواوحسن زیود ښا خونوسره یی د مقابلی توان نه درلود دتاند ه سیمی ته لاړل اویو شمیر یی هم په قصوری کی پاتی شول. همدارازدبتلك زیو یوشمیرهم دکورنیوشخړوپه سبب په هیرووال کی میشته دی.

دپښتنومشهور صوفی شاعرارزانی چی دبایزید انصاری(پیر روښان) هممصره ودخویشکو د عزیز زی له ځا نګی نه و .

په اوسنی وخت کی دخویشکود استوګنی ځا یونه په لاندی ډول دی :

۱ - دافغانستان د پروان ولایت دغوربند په اولسوالی کی .

۲ - په کندهاراو پشین کی :

۳ - د پیښورپه اشنغرکی هم ددوی یوکلی شته چی هغه دشجاعت خان شموزی په ذریعه آباد شوی دی .

٤- دپیښور دښار په تحصیل دنو ښهره کلان په قطب کی دلندی سیندپه غاړه په (خویشکی) نومی کلی کی آباد دی.

٥- د کابل سیند شمال ته دمومندوپه غرنی سیمه کی هم یو شمیرخویشکی میشته دی.

٦- دخیبر دتاریخی دری ترمینځ هم یوشمیر خویشکی استوګنه لری.

٧- دلاهورپه قصوری کی هم پښتانه خویشکی اوسیږی چی د هغه ځای خلك یی د (قصورپه پټان)په نامه سره یادوی.

دغوربند خیشکی دنوموړی ولسوالی په لاندنیو دروکی استوګنه لری .

دتیخان په دره کی، دیخدری په دره کی اودسیدانو په دره کی چی د غور بند

دخیشکو شمیرود (۲۵۰۰۰) تنو په شااو خوا کی بنودل شوی دی:

په غور بند کی ددوی دځینو مشهورو خیلونو نومونه دادی:

شاهی خیل، ملی خیل، علم خیل، چی علم خیل په لاندی ورو خیلونو ویشل شوی دی:
یارخیل، سلیمان خیل، خلیل خیل اویاروم خیل (۱)

## خیسور

ددغه قبیلی خلک ځانونه دپرانګی ابن اودی اولاده بولی حال داچی پرانګی داودی لمسی دی. خوداودی دقبیلی نوربناخونه له دوی سره دګډوالی نه انکار کوی اودوی دبل نسب څخه بولی داودی داولادی دنسب شجره چی ددی سروژو روځیړنواو تحقیقاتو په نتیجه کی ترلاسه شوه دهغی شجری په هیڅ ځای کی داودیا نوسره دخیسورد قوم یووالی (ګډوالی) تر سترګو نه شو.

که څه ددغه قوم دوګړو شمیر ډیر لږ دی، خودخپلی استوګنی ځای ته یی دیوی سیمی بڼه ورکړی ده. ددوی ملک دسنده ددریاب په لویدیځه غاړه موقعیت لری.

دخیسور دسیمی قطب ته دعیسی خیلو سیمه، لویدیځ ته یی یو کوچنی غر موقعیت لری چی پښیاله یاپلیانه نومیږی چی مروت پکی استوګنه لری (۲)

دخیسور دقبیلی اکثره خلک پوونه نیت، غنم رنګی اوډنګر دی: دحیات افغانی دمؤلف په قول ددوی شیمر له دری سوه کورونو نه زیات دی، خودخیسوروسره متفرق خلک هم اوسیږی: ددی په سیمه کی دخرماونی ډیری دی:
خیسور دعمر خیلو په نامه سره هم شهرت لری. (۳)

## داوی

کمچیوی دنسب شجره وګورونو څرګنده به شی چی داوی غورغښتی (غر غښتی) پښتانه دی چی دکاکړو دقبیلی پوری مربوط او هغوی سره ګډشمیرل کیږی.

---

(۱) دغوربند دخیشکوپه باب می درادیو افغانستان د یوه تن غړی محترم محمدالدین خیشکی څخه معلومات ترلاسه کړل (لیکوال)


(۲) تواریخ خورشید جهان ۲۲۹ مخ

(۳) حیات افغانی ۲۹۹ مخ

ددوی شمیرلزاو اکثریت یی دپښین پـه‌اجـیوم کی پراته دی، خوځینی یی په ژوب، کندهار او دپښین په کربلا،ومی ځای کی هم میشته دی .

دداوی قبیله په دریو څانګو ویشله‌شوی ده چی‌دهمړ، دمړ او خوندی‌په نا مه یادیږی خود حیات افغانی مؤرخ‌لیکی چی: دداوی دقبیلی دریم ښاخ چی خو ندی نومیږی‌دمخزن افغانی په‌روایت دداوی‌لـه‌اصلی نسب‌څخه‌نه‌دی‌بلکی‌هغه‌په‌دی دول ورسره یـوځای‌شوی‌دی چی‌ددانی‌زوی‌داوی دخپل‌پلاردژوندپه‌وخت‌کی‌د آسو نو د تجارت‌په‌منظور په‌سفر تللی‌و. په دغه‌سفرکی یوه ښکلی‌ښځه‌چی‌دسید‌حسن په‌نامه یوزوی‌ورسره وی‌یـوځای‌شوه. داوی‌لـه‌هغی ښځی نـه‌دهغی داصلی تـاتـوبی‌او وطن پوښتنه وکره‌هغی‌ځواب وکړچی له خجنده راغلی ده او داهلـک دسید زوی دی . په هغه ملک کی باندی‌کاختی (قحطی) راغلی ده‌اوزه غوارم‌چی د خپلی مشری خورسره‌ملتان ته لاړه شم داوی هغوی ملتان ته ورسول اونوموړی ښځی په‌ملتان کی د خپلی خورپه‌سلا اومشوره‌د داوی‌سره نکاح وکړه . داوی دنوموړی‌ښځی نـه خلوزامن د درلودل اوخرنـگه چی حسن خجندی ورسره ونوپښتنوپـه خپلو ورځینوخبرواترو کی د اختصار له کبله‌دی په خوندی سره مشهور کړ. (۱)

## د داوی ابن دانی د نسب شجره




(۱) حیات افغانی ـ ۲۴۲ مخ .

(۲) حیات افغانی ـ ۴۵۸ مخ .

# داود زی

دوی هم سړبنی پښتانه دی او د غوریا خیلو پښتنو په جمله کی شمیرل کیږی .
داود زی د پیښور ضلعی په میدان او د کابل سیند په سهیلی برخه کی میشته دی. شمال ته یی مهمنزی او جنوب لوید یځ ته یی خلیل پراته دی د غوریا خیلو د مهاجرت په لړ کی ددوی کردار واضح نه دی ویل کیږی چه دوی دخان گجو مرسته حاصله کړی وه او هغه په برکت د سمی په علاقه کی د کلپانی په غاړه استوگن شوی دی، خو په پای کی دوی د پیښور په قطبی علاقه کی د کابل سیند د ښا خونو په منځ کی آباد شول چی ددوی دغه سیمه ډیره زرخیزه ده(۱)

تاریخ حیات افغانی لیکی : « داسی روایت موجود دی چی دمندلو مړنی زوی داود دوی میرنی درلودلی چی د لومړی میرمنی له یی حسین اوله دویمی میرمنی نه یی د نیکو او بابو په نامه زامن لرل . کله چی مندله نړی نه سترگی پټی کړی نود هغه میراث دحسین لاس ته ورغی له همدی کبله نیکو او بابو د خپل ورور حسین د وژلو نیت وکړ او د شپی له خوا د هغه د خوب ځای ته ورغلل اودحسین په بستره باندی یی د توری څو گوزارونه وکړل خو څرنگه چی حسین د هغوی د غداری اوخیانت نه خبر شوی وپه هغه شپه په بل کوم ځای کی ویده شوی و، له همدی کبله ده ته کومه صدمه ونه رسیدله سبا سهار چی دواړو سخت زړوورونو حسین ژوندی ولید، نو دویری او شرم له کبله یی وطن پریښود. په پای کی دنیکو اولاده په هندوستان کی ځای په ځای شوه او د بابړ د اولادی څو کورونه د تیراپه شاا و خوا کی په خواره واره دول ژوند کوی او د حسین اولاده په هغه سیمه کی ځای په ځای پاتی شوه چی همدا اوس پری استوگنه لری. (۲) پته دی پاتی نه وی چی یو شمیر داودزی دننگرهار دولایت دچپرهار دعلاقه داری دداود زیو په کلی اوهمدارازیو شمیر یی دپروان ولایت دقره باغ په اولسوالی کی هم استوگنه لری:

(۱) پښتانه د تاریخ په رڼا کی - ۱۳۲٤ - ۱۳۲۵ مخونه .

(۲) حیات افغانی - ۳٤۹ - ۳۵۰ مخونه .

# درانی (درانیان)

درانیان اصلاً سړبنی پښتانه دی. دغه قبیله پخوا دابدالیانو په نامه یادیده. ویل کیږی چی احمدشاه دشمکنیو د نامتوپیر دخوب په نتیجه کی(۱) ددرانی نوم په ۱۷٤۷ع کال غوره کړ خو د دغه پورتنی روایت او حیات افغانی ترمینځ دیر توپیر شته. په حیات افغانی کی راغلی دی: کله چی ابدالی احمد شاه د افغانستان په تخت کښیناست په دغه وخت کی صابر شاه مجذوب چی یو فقیر سړی واو احمدشاه بابا ورته دیر اخلاص دراود ده نو ویل چی باید دی د (دردوران) لقب غوره کړی چی دزمانی گوهر مفهوم لری. خو ده په قبیلوی لحاظ د( دردران) لقب غوره کړ چی (دگوهرونو گوهر) معنی لری چی له دغه راهیسی ابدالیان په درانیانو سره یادیږی(۲) درانیان په لاندی ښاخونو سره ویشل شوی دی :

۱ - زیرک ۲ - پنج پای

دزیرک څانگی دادی: اڅکزی، بارك زی، پوپل زی، الکوزی محمدزی او سدوزی

۲ - دپنج پای څانگی هم په دی دول دی:

پنج پای

نورزی اسحاق زی الیزی ماکو خوگیانی یا خاکوانی

(۱) دکابل سلطنت بیان - ۸۵ مخ .

(۲) حیات افغانی - ۲۲۰ مخ .

# ددرانیو سیمه

دکندهارشااوخوا ملك اواراوپه‌طبیعی لحاظ ښایسته اوزرغون دی چی‌هم د سیند په ویالواوهم په‌کاریزونوسره خړوبیږی اودکونی لپاره یی ښه ډیره خواری ایستله‌کیږی په نتیجه‌کی یی غله ښه پریمانه ده‌اوپه باغونوکی یی ښه سابه اوغلی میوی کیږی.

ددرانیانو ختیځ‌لوری ته پروت ملك آباداودترنك دتولی دری څخه ښه حاصل کوی. ددرا نیودملك د سهیلی ختیځی برخی خصوصیت د خواجه‌عمران دغرولړی ده چی دری میاشتی پری واوری‌پاتی کیږی چی ددغه ځای اوسیدونکی پووندە اوانحکزی درانی دی .

دخواجه عمران دسلسلی په سهیلی برخه‌کی دمرغی په مقابل‌کی دتوبی پراخ ملك موقعیت لری چی لویدیځ یی په اڅکزیوپوری اړه لری په داسی حال‌کی چی ختیځه‌برخه‌یی‌چی‌ترژوب پوری غزیږی‌په کاکړو پوری متعلقه ده . دمرغی قطب ته ارغستان پروت دی چی دلوړوغروپه مینځ‌کی یوه ښایسته دره ده چی د غرنیوبو تونه ډکه ده‌چی‌یوه اندازه ځمکه‌یی کرله‌کیږی اویوشمیرکلا گانی په‌کی موقعیت لری چی دبارکزیو په‌خانانوپوری‌اړه لری، خود اوسیدونکوډیر زیات شمیریی شپانه دی:

ددرانیوملك وحشی‌ځناورلیوان، کوزان، گیدړان، سورلنډیان، هوسی اود ښکرورو‌غرڅود پرانواع لری. په غرو نوکی یی یزان ، پرانگان‌ـوته ورته ځناوراودهلمند په‌گرمسیرکی ځنگلی‌سرکوزی اوگوره خرمیندل کیږی. وحشی مرغان یی شاهین، باښی اودښکارځینی لوی مرغان‌دی. په پسرلی کی وحشی قازان، وحشی‌هیلی، لگ‌لگ، زانبی، کونگیان، کارغان، شاروگانی، کوتری، ضیسی، مرزان اوداسی نورهم‌په‌کی شته. اهلی شوی حیوانات یی اوښان سنداگان، آسان، کچری‌خره، پسونه، وزی، سپیان اوپیشوگانی‌دی .

## د درانیانو شمیر :

ویل کیږی دهغو تولو کسانو شمیر چی د درانیو په شااوخوا کی اوسیږی اټکله ته دی ، خو بنایی دا شمیر دلسو لکو تنو په شااوخوا کی وی. داسی روایت موجود دی چی ایرانی نادرشاه د دوی سر شمیر نه هغه وخت و کړه چی په دوی باندی یی حکمه و پشله او هغه وخت دوی (٦٠) شپیته زره کورنی حساب شوی دی. که چیری دغه سر شمیر نه واقعی وی دغه شمیر ډیر لږ معلومیږی او بنایی ډیر خلک په تیره بیا ښځی او درمو ځښتنان په دغه سر شمیر نه کی نه وی راغلی ځکه چی دغه سر شمیر نه د ځمکو د ویش له پاره تر سره شوی وه او مقصد یی دا و چی د ځمکه وال و شمیر معلوم او بیا ځمکه ور باندی و ویشی :

## دودا و دستور :

د درانیو قبیلی د هر ښاخ په سر کی یو مشر موجود دی چی دغه مشر عموماً د خلکو له خوا ټاکل کیږی کله کله د دغی مشری موقف په یوه کورنی کی موروثی پاتی کیږی ، خو کله کله په دغه برخه کی تغیر هم راتللای شی .

ددی قبیلی اکثره نارینه عموماً په حجرو ، مهمانخانو او یا په جوماتو نو کی سره راټولیږی او د څپل کرنی او مالداری په باب خبری اتری کوی.

درانیان ډیر میلمه پالونکی خلک دی. دوی ښکلی ځیری ، جګی ونی او سره بخون رنګونه لری. د دوی مخونه ګرد او تندی یی پراخه دی.

## درمان یا عبدالرحمن

د شجری مطابق دوی کرلانی پښتانه او دخوګیا نیو یو ښاخ شمیرل کیږی په دی دول چی :

۱- حاجی خان خیل ۲- سودی خیل ۳- اصلی احمد خیل ٤- مددی خیل ٥- کوندی ٦- منګس. دغو شپږو خانګو ته مموری هم ویل کیږی او متون هم ورته وایی. دوزی خیل هم په متونو ورګډیږی(۱) متون په اصل کی دخوست د یوی

---

(۱) پښتانه دتاریخ په رڼاکی - ۱۳۸۹ مخ.

سیمی نوم دی چی ددغه ځای اوسیدونکو ته متون یامتونی وایی. دحیات افغانی مؤلف په هغه وخت کی ددوی شمیر (۱۰۰۰۰) تنه ښودلی دی. دوی په خوست کی استوګنه لری اود کرکیلی په کاروونو بوخت دی (۱)

## دری کوتی

دری کوتی چی دپکتیا ولایت دخوست په لویه اولسوالی کی استوګنه لری په سلیمانخیلو ورګډ یزی اوغلجی پښتانه دی. دسلیمان خیل دوهم وروړ چی علی نومید اولاده یی علی خیل نومیږی چی دعلی خیلو دمند وزی دښاخ یوه څانګه اسماعیل زی دی چی دوی کوچنی څانګی یی بیداخیل اوچندن خیل دی چی د دری کوتی پـه نامه سره یادیږی او دحیات افغانی دمولف په قول ددوی څلورسوه کورنی په خوست کی استوګنه لری (۲)

## دفتانی ( دوتانی )

که چیری د دوی د نسب شجره وګوروڅرګنده بـه شی چی دوی د متوزیو دتولنیز ګروپ د لودی په ښاخ کی شامل دی چی دوزیرستان په جنوب لویدیځ کی دګومل دسیند پرغاړه استوګنه لری. دوی ډیر زړور خالك دی. دوی په قبایلی اتحاد کی د سلیمان خیلواو نورو غلجیو سره متفق دی. ددغی قبیلی زیـات شمیر د کوچیانو په توګه هم ژوند کوی. (۳)

حیات افغانی ددفتانیو په باب داسی لیکی:

لکه چی دنسب دشجری نه څرګندیږی ابرا هیم چی په لـودی سره شهرت لری دری زامن درلودل یعنی سیانی، نیازی اودوتانی. ددوتانیو څینی خـلـك

---

(۱) حیات افغانی ـ ۵۰۲ مخ.

(۲) حیات افغا نی ۴۱۰ مخ.

(۳) اضلاع، ایجنسی ها وقبایل ایالت پښتونستان ۱۱۸ مخ.

پوونده اوځینې یې هم دسوداګرۍ په چارو بوخت دي اودوی په دې برخه کې ډیرزیات زیارګالونکي دي همداسبب دي چې دوی د نوروپوونده ترمینځ د پر شهرت لري. ددوی داستوګنې اولیزد ځرنګوالي دنوروپوونده وو په څیر دي خوځینې دوتانې دوانه په سیمه کې هم میشته دي. دغه سیمه دشیرانیود قبیلي دمرپیال دڅانګې شمال‌ته دیوه میدان دپاسه په هغوغرونو کې موقعیت لري چې دګوملي خواته نشیب لري. که څه هم دوانې آب وهوایخه نه ده خو دصحت له پاره ښه ده. په دغه ځای کې ډیرغوماشې پیدا کیږي اودګرمۍ په موسم کې دوزیرو خللك دلته راځي اویوه اندازه دکرنې ورځمکې یې هم نیولي دي، خو سره‌له‌دې هم ددوتانویوه کلاویو کلي دوانه دوادي په مینځ کې موقعیت لري. دوانه د وتانې اکثره دکرنې په چاروبوخت دي اود حیات افغاني د مولف په قول ددوی شمیرداتیاوو کورونو نه لږنه دي، خود دغه کموالي سره سره وزیر نه شي کولای چې‌دوی له دغه ځایه بې دخله کړي. کله کله کاکړ شپانه هم ددوی سهیلي اولویدیځوسیمو ته خپل مالونه دڅرولوله پاره را ولي خو ددوی سره کوم کاراوغرض نلري.

هغه دوتانې چې په پوونده دول ژوندکوي نوددوی دو داو دستور کټ مټ دنوروپوونده ووپه‌شان‌دی، خو هغه دوتانې چې په وانه کې‌استوګنه لري‌نو ددوی خوراك اوپوښاك نقریبا وزیروته ورته والي لري (۱)

## دلازاك

دعنعنوي شجرې له مخې دلازاك کرلانې پښتانه دي، خو دتاریخي اسنادو په شهادت دوی د سابکي پښتنوڅلنګه ده.

درواياتومطابق دلازاك لومړني پښتانه دي چې د پېښورپه وادۍ کې دابا سين

(۱) حیا ت افغانی ۵ ٤٤٤-٤٤٦ مخونه

ترغاړی پوری استو گن شوی وواوویل کیږی چی د وی په دغـه سیمه بانـدی دهندوشاهانو په زمانه کی قبضه کړی وه دوی دسلطان محمـود غزنوی په وخت کی د هغه سره دهند په حملو کی ملگری اودخپل یو مشر ملـك یحیی پـه مشرتـابـه دسومنات په حمله کی شامل وو(۱) دوی دلاهوردر اجاد کمزورتیا په وجه دخیبرله لاری پر پیښور باندی چی په هغه وخت کی بگرام ورته ویل کیده (۲) یـرغـل وکړاود توری په زوریی په د غه ځای باندی خپله قبضه ټینگه کړه ترڅو پوری یی چی دسند او یدیځی برخی یی هم ترلیری ځایونو پوری په خپله قبضه کی راوستی داسی روایتونـه موجـود دی کله چـی پـه پیل کـی د دلازاکـو قبیله دافغانستان ختیځو برخو ته داخله شوه نو دهغـوی نه وړانـدی دپیښور په ضلعه او دسند دریاب په لویدیځواو ختیځو غاړو کی سره کافراو سیدل او هغوخلکو ته چی سره کافر ویل کیدل دگریکو بـکترین له نسل نه وو او په لو مړی سر کی دد یگانانو او داصلی سو اتیو نیکو نه هم دپیښور دضلعی اوراولپنډی په حدودو کی ترجلال آباده پوری او سیدل چی بیا په تلرـ یجی تو گه دلازاکو دسوات او بونیرد غرونو لمنو ته په شاوتمبول او خپله قبضه یی پری ټینگه کړه . لنده داچی د دغی قبیلی داقتدار دوره دمیرزا الغ بیلك تـر وخته پوری ډیره مشهوره وه ، خو کلـه چـی دوی پـه خپل زوراو قـوت مغـرورشول نولو مړی دخلیلو او مومندو له خواچی د کابل نـه پیښور تـه راتللی مات او دپیښور پرینبودلوتـه مجبورشول . پـه هغه وخت کی پیښور ، دوابه ، باجـوړ ، ننگرهـار ، کلپانی اودهزاری ترسینده پـوری ټولی سیمی د دلازاکـو وی . په دغـه وخت کی یوسفزی هـم پـه کابل کی د میرزا الغ بیلك له خوا تکول شوی وواوپیښور تـه راغلی وو(۳) د یوسفزیو مشر ملك احمد ددلازاکو نه دیوسفزیو له پاره ډیوی

---

(۱) پښتانه دتاریخ په رڼا کی ۱۳۷۵ - مخ.

(۲) دغه نوم غالباً دکنیشکا په وخت کی ورکړشوی دی لرغونو یو نانیانو د کسپاپور په نامه یاد کړی دی. (دوست شینواری)

(۳) حیات افغانی ۴۵۶-۴۵۷ مخونه .

سیمی غوښتنه وکړه اوونه یې وویل چې ای دلازاکو! زما قام کو فتنه ما نده او ناتوانه‌دی داستوګنی له پاره یوه سیمه ورکړئ هماغه وچې دوی دوا به یوسفز-یوته ورکړه وروسته بیادوی ددلازاکوڅخه دنوروسیموغوښتنه وکړه اوورته یې وویل چې یوازی دوابه لږه ده په هغه موګوزاره نه کیږی بیاد لازاکوورته دانشکول، عنبراودباجوړسیمی هم ورکړی اودلازاکوته یې وویل چې اشنغو هم په دوابه پوری دی که څه زوراوقوت مووشي اشنغرهم په خپله توره له شلما نیوڅخه وا خلئ (۱)

وروسته بیاددلازاکواویوسفزیوترمینځ دځینوڅمکوپه نیو اوسختی جګړی رامینځ ته شوی چې ددوارو خوا وونه ډیرخلك ووژل‌شول . په پای کی د ملك احمد اوددلازاکود مشرملك محمد خان دلازاك ترمینځ سوله وشوه .

ددلازاکو څخه یوشمیر کورنی دمغولی واکمن جهانګیرپه وخت کی د کن ته ولیږل شوی چې تراوسه‌پوری هم‌ددلازاکویوزیات شمیرهلته استوګنه‌لری :

دلازاك په دوولویوښاخونو : لودی خیل اویعقوب خیل باندی ویشل شوی دی چې داښاخونه بیاپه نوروورو څانګوتقسیم شوی دی :

ددغی قبیلی یوشمیر د هزاره په ضلعه اویوشمیر یې په متفرقه‌توګه په چچ هزاره کی آباددی . همدارازپه پیښورکی هم یوشمیردلازاك استوګنه لری .

## دوړ

دوړ کرلاڼی پښتانه‌دی اودشمالی‌وزیرستان دتوچی دسیند په دواړوغاړوپراته دی . توچی دیوه وادی په څیر غرباً اوشرقاً پروت دی چې دتوچی سیند پکی بهیږی اودوړدتوچی سیند په دواړوغاړوپه سترو اوکوچنیو کلیو کی استوګنه لری اود څلور خواوونه دوزیرود قبیلی سره ګډه پوله لری . دوړدځ تاریخ نه دخچړی نه‌نیولی په لوید یځ کی ترخرکمرپوری چې (٤٠) میله اوږدوالی

(۱) تواریخ‌حافظ رحمت خانی ۳۰ - ۳۱مخونه.

لری په یوه شنه اوسمسوره سیمه کی پراته دی او دکرنی ډیری ښی ځمکی لری :

دوړ په دوو برخو ویشل شوی دی یعنی کښتنی دوړ چی په ختیځ کی د میرا۔ مشاه نـه ترخجوړی پوری پراته دی او بر دوړ (چی پـه میراشاه او په لوبـدیځو سیمو کی ترخړ کمره پوری استو گنه لری). په دوی کی یو بل دول ویش هم موجود دی چی دتپی ذوت دتورگوندی او مل ذوت د سپین گوندی په نامه سره یادیږی . (۱)

په کومو وړځو کی چی بنوځی (کیوی، سورانی) دشوال له غره نه دبنو سیمی ته راغلل نو دوړ هم په دغوو ځو کی دتوچی درود پـه دوارغاړو کـی آبادشول (۲) چی غالباً گومان دادی چی ددوی دوړ تګ نه په څه د پـاسه شپږ سوه کالـونه تیر شوی وی. خو په دی باب کوم معلو مات په لاس کی نشته چی لـه دوی څخه د مخه پـه هـغه ځای کی چی او س دد وی د سیمی پـه نـا مه یـا دیـږ ی څوك اوسیدل .

هغه وخت چی مغولی واکمن عالمگیر اورنگزیب د هندوستان امپرا توړونو په ۱۱۱۲ ه کال چی د (۱۶۹۶) ع کال سره سمون خوری د شهزاده بـهادرشا ه په مشری یو پوځ د بنوخواته ولـیږه اوغوښـتل یی چی دپښتنو سیمی لاندی کړی هم غه وچی څه موده یی سید حسین نومی د دوړ ود سیمی د حا کم په توگه و ټا که او دوړ و په سیمه یی هم د کال د ولس زره روپی مالیه وټا کـله چی وروسـته بیاد دغی سیمی انتظام خراب او دوړ بیرته آزاد شول. ترڅه مودی وروسته بیادرانی واکمنانو په وخت کی تابع شول او ددرانی زمانشاه تر دوری پوری یی (۱۲) زره روپی مالیه ور کوله، خو کوم حاکم یی نه درلود. یو یا دوه کاله وروسته بـه یو تن درانی افسر دیوشمیر پوځونو سره دوی سیمی ته ورته او دولس زره روپی مالیه به یی ټولوله (۳)

---


(۱) اضلاع ، ایجنسی ها وقبایل ایالات پښتونستان ۱۱۳-۱۱٤ مخ .
(۲) پښتانه دتاریخ په رڼا کی ۳۹۵ مخ .
(۳) حیات افغانی ـ ۶۰۰ مخ .

د سلوزواوبار کزود جګړواوشخړوپه دوران کې دوی بیا ځان د مالیې نه آزاد کړ(۱)


دوی ډیر جنګیالی خلک دی. خلک یې منځنی ونې لري اوغنم رنګه دی او اواکثره د کر کیلی اوسوداګری په چارو بوخت دی. د دوی د سیمې هوا په دوبی کی توده اوپه ژمي کی سړه ده. غنم، پنبه، جوار، ګنی، تنباکو، کوړ کمن اوزنجبیل یې غوره حاصلات دی.

دمیرامشاه بازاراو میرعلی بازارد دوی په سیمه کی موقعیت لري. په ۱۹۶۱ع کال کی ددوی شمیر(۵۸۱۴۸) تنه ښودل شوی دی (۲)

ددوړ ود مشهوروخیلونو نومونه په لاندی ډول دی: بردوړچی ملخ، همزانی اودرپه خیل په کی استوګنه لري اود دغو دریوخیلونوړی څانګی دا دی: نصرت خیل، لنډ، بویه، طوایف خیل، زیرا خیل، ابراهیم خیل، مریم خیل، علی زای اوګربزای.




(۱) پښتانه د تاریخ په رڼاکی - ۱۳۹۶ مخ.
(۲) اضلاع، ایجنسی ها وقبایل ایالت پښتونستان -۱۱۳ مخ.
(۳) اضلاع، ایجنسی ها وقبایل ایالت پښتونستان - ۱۱۴ مخ.




## دستوخیل

دوی په‌اصل کی غلجی پښتانـه دی او څانـونه په‌سلیما نخیلـوورگـڼوی. ددوی اکثریت دننگرهاارولایت دسره روداولسوالـۍ دخـیـر آباداوکښه‌ککڅ په‌کلیو او هم‌زیات شمیر یی دکـابل په‌شش‌درکی اوبینی حصارکی‌استوگنـه لری. دوی اکثره‌دسوداگری په چاروبوخت دی. ددوی تـول شمیـر د(۳۱۳۹) تنوپه شااو خواکـی ښـودل شـوی ی. (۱)

---

(۱)معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل ولایت‌سر حدی‌کشور ۱۰ مخ

# دولت خیل

— دنسب دشجری دخیرلونه جوتیږی چې دلوانی دزوی مما د دریـو زا منود جملی نه دیاسین داولادی نه‌ددولت خیلو څانګه رامینځ ته شوه . د مما دنـوری اولادی په‌نسبت‌ددولت خیلو څانګې د شمیر اوواك له مخې دومره برتری تر لاسه کړه‌چې دمماداولادی‌نوری وړی‌څانګې پۀدولت‌خیلو پوری مربوطی ګڼل کیږی(۱)

ویل کیږی چې ددولت خان نه وروسته په پنځم پښت کی کټی خان مینځ تـه راغی چې اولاده یې دکټی خیلو په نامه سره شهرت لری(۲)

مخکی تر دی‌چې دلوهانی ښاخونه لکه کټی‌خیل، دولت‌خیل، میاخیل ،مروت، تتوراونور په ټاك کی میشته شی تر لوپه پو و نده دول ژو ند کاوه او لږ انداز سوداګری یی هم کوله . که څه هم دوی اکثره پـه کټواز کی اوسیدل چې ددغی سیمی په سهیلی برخه کی‌یی یوه‌اندازه دکرنی ورځمکی هم‌درلودلی ،خودوانیه په غره او نوروغر نیوسیمو کی چیرته چې ښه څرځایونه ،وجودوه‌لمته دهالسدارو لوانیو کیږدی وی‌او کله کله بۀدژمی دتیرو لوله پاره ددامان دټاك سیمی تـه هم راتلل. کله چې دکټوازسیمه د سلیمان خیلو پۀواسطه له‌لوهانیو‌نه ونیول شوه له هماغه وخته‌په اوړی کی‌پۀوانیه او پۀژمی کی‌ددامان‌دسیمی ټاك‌ته‌دهغوی‌تګ راتګ پیل شو .

ویل کیږی‌چې‌ددولت‌خیلو‌او نوروڅانګونه‌وړاندی‌دټانك‌پۀسیمه کی پرانګی چې دلودی‌دقبیلی‌یو ښاخ‌دی استوګنه‌درلوده‌او ددغـ ځای‌ځمکی او نورملکیت‌ددوی‌پۀواك کی و، خو څرنګه چې‌دلوحانی دښاخ پوونـده دژ می پـه موسم کی دټاك سیمی ته تلل او اکثره‌به دهغوی څارویو دپرانګیو زراعت او کرنی ته‌صدمه ر سولـه نـو ځکه ددو ی تر منځ شخړی او کلـکی دښمنی را مینځ تـه شوی څو پـه پای کی پرانګیان‌او‌نور‌دمحمدبابر پاچا دغضب‌ورګرو ځیدل پۀدغه‌وخت کی دکټی‌خیلو نـه

---

(۱) پښتانه دتاریخ په رڼا کی ۱۳۴۹ مخ.

(۲) حیات افغانی -۲۹۳ مخ .

شهباز نومی چی دخانزمان لقب ور کړل شوی ودلوانی دښاخ تولی څانگی یعنی دولت خیل، تتور، میاخیل، مروت اونورلـه څانه سره یو کړل اودپرا نـگیا نـو نه یی دټاك دسیمی دترلاسه کولو تکل وکـړ. ده دټول لوانی ښاخ نـه لښکری را ـ ټولی اوهمدا رازله هغو پوونده وونه یی چی له پرانگیونه په تنگ شوی و و مرسته وغوښته اودټاك په اوسیدونکو پرانگیو اوروړیو باندی یی یرغل وکړ اوترڅو جگړو وروسته لوحانیو دشهباز خان یاخانزمان په مشری پر پرانگیانو باندی بریالی او له هغوی نه یی ځینی ژوبل اوځینی یی ووژل ځینی یی هم د ټاك له سیمی نه وشړل اودغه ځای شهباز خان ته په لاس ورغی اودخپل ښاخ (دولت خیل) اونور وڅانگو سره هلته میشته شول اودټاك سیمی دکرنی ټولی ځمکی یی دآ ب سیاه پـه گډون په ځلو روبرخو باندی وویشلی په دی ډول چی یوه برخه یـی دولت خیلو، یوه برخه یـی تتور، یوه برخه یـی مروتواو یوه برخه یـی هم میا خیلوتـه ور کړه او هغه وخت به چی کال پای ته ورسید نودمروتو اومیاخیلوخانان بـه د دولت خیلـو کتی خیلو مشرخان زمان حضور ته ورتلل اوهغه به په مناسبه اندازه دځلورمی برخی له بابته هریوه ته خپله برخه ورکوله اورخصتول به یـی .

دمروتو دځلور می بـرخی په ویش باندی لـه خانزما ن کتی خیل سره شخړی را مینځ تـه شوی اود خپـلی بـر خی د نیـولو په منـظور یـی پـه ټـا ك بانـدی یـرغـل وکـړ او پـه هغه جـگـړه کی چی د دوی تر مینـځ پـیښه شوه دولت ـ خیـلو مـاتـی وخـوړه او هغوی یی دخپـل مشر سره له ټاك نـه خارج اوپـه خ پله یی پرد غه ځای باندی قبضه ټینگه کړه خود کتی خیلو دمشر جلیل خان نه یی چی دگنډا پور یانو مشر واوپه هغه وخت کی دامان ته یی په پوونده ډول تگ اورا تگ کاوه مرسته و غوښته اودمروتوسره یی دمقابلی توان نه لاره نوځکه یی دټاك سیمه خوشی کړه.

تـر دغی جگـړی ازه موده وروسته د میا خیلو ځلور مه بـرخه ضبطه شوه نو ځکه د تتورله بر خی نه پرته د ټاك نوري تو لی سیمی دولت خیلو ته په لاس ورغلی چی اوس هم ددوی په لاس کی دی اوځرنگه چی دولت خیل دومره دیره

څمکه‌نه شي کرلی نوځکه‌له‌دوی سره‌دهمسایه‌یارعیت‌په دول میشته‌دی .

الفنستین په خپل مشهو راثر (An account of the Kingdom of Caubul کې) دولت خیل له‌خپل تول رعیت اولاندی‌شویو قو مونو سره اته زره کورنی ښودلی دي (۱) ددوي څو کورنی په کارنده ، زیمه ، کافر کلا اود کابل په شاوخوا کی‌هم استوګنه‌لري .

## دولت زی

ددغی قبیلی خلك غلجی پښتانه‌دی اوځانونـه په‌سلیمان خیلوورګډوي‌اووایی چی دوي دبیر پخواد کندهار واوغزنی‌دشااوخوا څمځه‌لیزد کړی ا ودننګرهارولایت دروداتود اولسوالی دچپرهارد علا قداری د دولـت زیو ، بـی بـی مهرواودچینی‌په کلیو کـی میشته شـوي دی .

همداراز د پکتیا ولایت دګردیزد ښارددولت زیوپه کلی، دزرمت په اولسوالی ، دسمنګانو ولایت دمر کزد ایبك په ښا ر ، دبغلان پـه مر کـز او همداراز د کابل دښاردچهاردهی اوپګرامیوداولسوا لیو په شااو خوا کلیو کـی هم‌یوشمیر دولت‌زی استو ګنه لر ي د دو لت ز یو یو ز یات شمیر دبلخ پـه و لایت کی هم اوسیزی.

دننګرهارولایت دو لت زي ددرویش ، خیلوا لله داد خیلو ، مندی خیل و او زاري‌خیلوپه څانګو ویشـل‌شوی دی (۲)

د دوی شمیر د ۱۳۶۰ کال د احصائیی له مخی (۴۶۵۹) تنو په شاوخوا کی ښودل شوی دی.همداراز دننګرهارولایت د مومندرې پـه اولسوالی کـی ددوی شمیر ۱۴۰۳ تنوتـه رسیږ ی (۳)

ددوی‌اکثره دکرنی په چاروبوخت دی. یو شمیریی د ولتـی دندی هم‌سر ته رسوی .پته دی پاتی نه‌وی چی‌د دوی یو شمیر تراوسه‌پوری کوچیانی‌ژوندلری .

---

(۱) دکابل ساطنت بیان ، ۶۰ مخ .

(۲) داهغه‌معلومات دی‌چی‌ما پخپله په‌دغه کالی کی دیرکاونه‌پخوا وا تول‌کړی‌دی (لیکوال)

(۳) معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل ولا یات سرحدی کشور ۲۹-۳۰ مخونه.

## دینار خیل

دینار خیل غلجی پښتانه دی او دسلیما نخیلو ستری قبیلی ته منسوبیږی . ددینار خیلو اکثریت په کندهار کی استوګنه لری . ددوی زیات شمیر د کندهار دولایت دارغنداب په اولسوالی کی اولږ شمیر یی د کندهار په مرکز کی استوګنه لری . ددوی شمیر د ۱۳۶۰ کال داحصائیی له مخی د(۳۳۸۸) تنو په شا وخوا کی اټکل شوی دی (۱)

یوشمیر دینارخیل دپکتیکادولایت مرکزشرنه کی هم استوګنه لری او یوشمیر دینارخیل دګردیز دښاردرباط په سیمه کی هم ژوندکوی .

## رتن زی

دوی بیټنی پښتانه دی، خونوربیټنی داسی عقیده څرګندوی چی په بیټنیو کی دبوبلک زوی علی بوکوچنی ما شوم چی نسب یی ښکاره اوڅرګند نه و موند او رتن نوم یی پری کیښود او هغه نسل چی دده له پښته رامینځ ته شوی د رتن زی په نامه سره یادیږی (۲)

## رځړ

داهم دمندړیوځانګه ده. دوی په پنځو کوچنیو څانګو ویشل شوی دی چی د ملک زی، مانی زی، اکوزی، خضرزی او محمودزی نه عبارت دی. مانی زی په ډاګی، ترلاندی، پرمولی اوادینه کی، ملک زی په یارحسین، شیردره او یعقو بی کی اکوزی په دو بیانو، سره چینه او اسمعیله کی، خضرزی په شیوه، کالو خان اوشیره غونډ او محمودزی په نوی کلی، شیخ جانا، اسوتا اونارنجی کی میشته دی. (۳)

---

(۱) معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور ۹۲-۹۳ مخونه .

(۲) حیات افغانی - ۳۸۸ مخ .

(۳) پښتانه دتاریخ په رڼا کی ۱۳۲۲ مخ .

# زاخیل

زاخیل په غوریو پښتنو کی یوه پښه ده (۱) چی پر «دولت یار» ورځی (۲) او په دولت یارو کی بیامو مندی په ځینو کتابونو کی راغلی دی:

«زاخیل دمومندو په دو یز یو ګډیږی»

استاد رشاد د راحت یاد په نامه اثر کی لیکی:

دوزیری او خویزی دمومندو دوی نامتو ځانګی دی. دوی د ګند او او کو دا خیلو تر مینځ میشته دی.

زاخیل زیاتره کوچیان دی دیشین. (۳) او غرشین هم پکی شته (٤) دننګرهار سیمه کی دکان او کتر غی تر مینځ میشته دی دننګرهار د کامی او سمرخیلو تر مینځ هم دزاخیلو ځو کلی شته دد کی ختیځ لورته د کابل سپند پوری خواته هم زاخیل پراته دی:

---

(۱) غوری هغه پښتانه دی چی دچنګیز د ٦٣٤ هـ ق مر په تاراکونو او دچنګیز یانو په ناتارونو کی له خپل اصلی مینی (غور) ځخه لیږد (مهاجرت) ته اړشوی دی. دغوریو پښتنو نوم دخوشحال خان (۱۰۲۲-۱۱۰۰ هـ.ق) په دیوان کی داسی راغلی دی:

هند ته یی روان کړم بدرګه می مستجاب

هم ملک، هم خان، هم د همه غوری ارباب

داورنګزیب عالمګیر (۱۰٦۸-۱۱۱۸ هـ. ق) دزمانی یوه بل شاعر حسین پکلی وال ویلی دی:

درقیب له ناکردو بهمی خلاص نه کا کـه جنبه می تمامی غوری، ښی شی

غوریو پښتنو ته غوری خیل هم ویل کیږی. میرداد خلیل د خان کجود تاریخ (دیوان ٤٦٦) (۱۰۳۱ هـ.ق تالیف) په مقدمه کی راوړی دی.

غور یه خیلـه پیغور مه کړه تو ـ ښی، یی سره وروو نه

(۲) دولت یار: دغور داداری مرکزد چغچران دکاسی په دره کی دیوه ځای نوم دی چی تراوسه پوری یی هغه زوړ نوم پاته دی او ددغی پښتنی قبیلی په نامه یاد یږی. وګڼ دپښتنو قبیلو دکشنری لومړی برخه ۵۰ مخ.

(۳) دکندهار پښتانه دیشین هغو پښتنو ته وایی چی کوچیان نه وی دمالونو دروزنی پر ځای کښت او کر وکړی او په کلیو او ښارونو کی اوسی.

-٤- هغه پښتانه چی په غرونو کی میشته دی غرشنه بلل کیږی. دکامی فشار پر ورو ستی هجادی، مفردیی غرشین دی. دپښتنو یوه تپه هم په دغه نامه بلله کیږی.

دننګرهارپرزاخیلوبرسیره په قندوزکی هم زاخیل میشته دی (۱) اودګورنیو شمیریې تقریباً دووزروته رسیږی مشهورکلی کی یې دا دی:

۱- زاخیل کلی دسپین زرشرکت شاته ۲- خوندان کلی: دچاردری دسیند پرغاړه ۳- پاچا قندر کلی: دزرخرید په سیمه کی (۲)

دکندزپه ننبارکی هم زاخیل شته ددغی سیمی نامتو بلهای نازکمیرخان زاخیل و د افغانستان نامتو لیکوال استاد عبدالروف بینواهم دپیښورنوښارکی دزاخیلو په نامه دیوه کلی نوم اخیستلی دی اوزیاته کړی یې ده چی دپښتو، پارسی، عربی او اردوژبو مشهور لیکوال او شاعر «راحت زاخیلی» په دغه کلی کی زیږیدلی دی (۳) خوپخپله اروانباد راحت دپیښوردنوښارپه سیمه کی دزاخیلو دری کلی ښودلی دی (٤) هانری جارج راورتی دنوښارد زاخیل کلی داز ی خیل په نامه یادوی (٥) خود هندوستان دجغرافیی نولنی ددغه کلی نوم زاخیل لیکلی دی اروانباد «راحت زاخیلی» هم کښلی دی چی دنوښارپه سیمه کی دازاخان باجوری دری زامنو دری کلی ودان کړی دی چی دری سره دزاخیلو پنامه یادیږی.

دزاخیلو کلی دنوښارپه جنوب غرب کی پراته دی. دزاخیلو اونوښارترمنځ دپیرپایی کلی پروت دی. پیرپایی له نوښاره څخه دوه نیم کروه وا تن لری. (٦)

---

(۱) قندزر دافغانستان له شمالی ولایتونو څخه دی. د آمو رودیی له شوروی تاجیکستان نه بیلوی ختیځ ته یی تخار، لویدیځ ته یی باخ اوسویل ته یی د بغلان ولایتونه پراته دی.

(۲) دپاچا قاندر زیارت په دغه کلی کی شته.

(۳) و.ګ. اوسنی لیکوال (۱-۱۲۱ ٤) داستاد عبدالروف بینوا تالیف دکابل دولتی مطبعه ۱۳٤۰.

(٤) وګوری لغات افغانی، دراحت زاخیلی تالیف ۱۲٤ مخ.دلاهور چاپ.

(٥) و.ګ. د تواریخ خورشید جهان په ۱۹۸ مخ کی ازی خیل دخمکنیو یوه ریښه بودل شوی ده خکمنی هم غوری پښتانه دی.

(٦) دکابل رود چی هاته یی لنډی بولی د نوښار په مینځ کی تیر شوی دی شمالی برخه یی داشنغر په نوښار شهرت لری او محمدزی پښتانه په کی اوسی جنوبی برخه یی چی دخالصه نوښار په نامه یادیږی ګدوله خلك پکی او سی په دغه ځای کی ز موږ مطاب له نوښار ، څخه خالصه (جنوبی) نوښار دی.

اوزاخیل له پیر پایی څخه یونیم کروه لیری دی . په دی حساب نودنوښار اوزاخیل تر منځ ځلو کروه لارده. دپېښور او اتلک ترمنځ پاچاهی لارد زاخیلو شمال ته تیریږی. دپېښورښار او زاخیلو تر منځ یوولس کروه واټن دی. دنوښار دزاخیلو کلی له پېښور ښار څخه شمال ته لږ مایل ختیځ اړرته واقع دی او د مشهور شاعر او لیکوال «راحت» دتاتوبی په نسبت یې د پښتنو په ادبی حلقو کې خاص شهرت په برخه دی. اروا ښاد راحت زاخیلی په ځلو روژبو (پښتو، پارسی، عربی اردو کی) دشپږو یشتو تالیفاتو او ترجمو څښتن دی (۱)

## زموخت، زمښت یازویمشت

زموخت دکرلانی قبایلو له جملی څخه دی چی دهغی دقبیلی یو مشهور ښاخ دی چی ددومشتی یادومختی په نامه هم یادیږی .

ددغی قبیلی پنځه ټپی په دی دول دی: خویداد خیل، واتسی زی، منتوال، منډان او دولت زی. نن ورځ دغه ټپی زیاتره په خپلو نو مو نورسره شهرت لری .
دزمښت قبیله دکورمی ایجنسی په جنوب ختیځ کی استوګنه لری . ختیځ ته یی اورکزی او بنګښ، شمال ته یی اورکزی، لویدیځ ته یی توری اوسهیل خواته دبنګښو سره پوله لری.
دوی په یوه غرنی سیمه کی استوګنه لری . په ۱۹٦۱ کال کی ددوی شمیر (۳۰۷۰٦) تنو ته رسیده. دوی سنی مذهبه او دسمل په ګروپ کی شامل دی ، خو نن د اورکزی قبیلی یوه برخه شمیرل کیږی (۲)

## زیرك (ځیرك)

درانیان یاابدالیان چی دسړبن په تولنیز ګروپ پوری اړه لری په دووسترو ښاخونو باندی ویشل شوی دی چی یویی ځیرك (زیرك) اوبل یی پنج پای دی .

(۱) زاخیل دراحت تاتوبی ، دراحت یاد، دکابل پوهنتون فرهنګی شورا ،کابل ۱۳٦۳ ش کال ۲٥٤-۲۰۰-۲٥٦ مخونه .

(۲) اصلاع، ایجنسی ها وقبایل ایالات پښتونستان ـ ۹۰ مخ .


لکه چې دابدالیانو په مبحث کې موږ وړی خبری و کړی داسلامي دوری په تاریخ کې لومړی نامتوسړی چې د(ابدال =اودل) په نامه یاد شوی دپښتني قبیلو مشهور نیکه دی چې دخپل نامتو کهول سره دسلیمان په غره کې اوسیده. دی دترین زوی، دشرخبون لمسی اود سړبن کړوسي دی اودده نوم په پښتوادبیاتو اوپخوانیو نسخو کې(اودل) اودجمع منسوب په صورت (اودلي=ابدالي) ضبط دی چې د ٤٤٠ ه یا١٠٤٨ م کلونو په شااوخوا کې یې پښتانه قبایل پرخان راټول کړی وواودده له ټوکمه ملك سلیمان دعیسی زوی چې په زیرك سره مشهورو پښتني قبیلي یې دسلیمان له غره څخه دکندهار سیمې ته بوتلي او هلته یې میشته کړی اودخپل ژوند په پای کې یې خپل زوی ملك بارك په مشری کښیناوه او تر بارك وروسته دزیرك بل زوی (ملك پوپل) خپل نفوذ (داوسني بلـو چستان) تـر شال اوژوبه پوری ورساوه اود پنځه شپیتو کالو تر مشرتوب وروسته د(٨٩) کلونـو په عمر مړ شو .

ویل کیږی چې دابدال تر مړینې وروسته رځړدخپلې کور نۍ مشر شواودده د خپلو زامنو له جملې څخه یې خپل مشر زوی عیسی خپل جانشین وټا که .

دعیسی دزامنو له جملې نه سلیمان ترټولو پوه اوهوښیارسړی وچې تراوسه پوری هم پښتانه هوښیارسړی ته ځیرك وایي. که څه هم عیسی د میرك په نامه مشرزوی درلود، خوسلیمان یې دهوښیاری له کبله خپل جا نشین وټا که .دزیرك په څلورو زامنو کې یې مشر بارك نومیده اوپلار دی د کورنۍ مشرټا کلی و ، خوڅه موده وروسته مشری دپوپل لاس ته ورغله.

لنډه دا چې په پای کې ابدالي احمد شاه چې د پوپلزیو دښاخ دسدوزیو د ځانگې څخه ود ١٧٤٧ع نه تر ١٧٧٢ع کاله پوری یوه لویه اوپراخه امپراتوری جوړه کړه .

درانیان له همدې کبله په دووستر و ځانگو یعنې ځیرك او پنج پای باندې ویشل شوی دی چې شجره یې په لاندی ډول ده :




## زیرمانی

دوی هم غلجي پښتانه دي او اکثره یې د تـوخـو په سیمه کي استوګنه لري ، خود کـابل نـه تر کندهاره پوري په ځینو کـلیو کـي یو یا دوه کـوره میشته دي اکثره زیرماني د کرکیلي په چارو بوخت دي خو ځیني خلک یې سوداګري هم کوي. (۱) د دوي د شمیر په باب کوم معلومات تر لاسه نه شول او نه یې د خیلونو ویش راته څرګند شو د زیرمان کلمه د او ستایي عصر سبر یمان را په زړه کـوي چي د سلیمان د کامي سره یي ریښه یوه او د سلیمان یعني د (روه) د سیمي معنایي لرله.

## زیـرانـی

دغوریا خیلو رمزوي زیران نومیده چي اولاده یي د زیراني نامه یادیږي. دوي د ننګرهار د زیراني په سیمه کي د تاجیکو سره یو ځای استوګنه لري او اکثره خلک چي د دوي د نسب له شجري سره آشنا نه دي هغوي تاجیک بولي (۲) لکه چي اخوند درویزه هم په خپل مشهور اثر تذکر الابرار والا شرار کي لیکلي دي چي د زیراني ښاخ د خپلو نو روورونو نه بیل او د ننګرهار د سیمي له تاجیکانو سره اوسیږي (۳) د دوي ځیني څانګي لکه پهار خیل ، دولت خیل ، احمد خیل او تار خیل د برو

(۱) پښتانه د تاریخ په رڼا کي ۱۳۲۶ مخ.

(۲) حیات افغانی - ۳۵۲ مخ.

(۳) تذکرة الابرار والاشرار (۶۹) مخ .

مومندو سره په غم اوښادۍ کې شریک دی (۱) همدارازددغې قبیلې یو شمیر خلک دلغمان ولایت دالینګار په اولسوالۍ کې هم استوګنه لري. (۲)

## ساپي

ساپیان دغرغښت په ټولنیز ګروپ کې یوه مهمه قبیله ده. ددغې قبیلې اکثره وګړي په کونړ، لغمان، کاپیسا او دمومندو په ایجنسۍ کې استوګنه لري.

دساپیو قبیله دتاریخ په اوږدو کې په مختلفو اوبېلا بېلو نومونو سره یاده شوې لکه ساپي، صافي، ساپین، سپین، صابیس، سابیت، سافیست، صافیت، ساپینګ، ساپیته، ساپیسته، اساپنتیه، سپینته، سوپتا اونور... (۳)

دغه قبیله په لوړې سرکې په لاندې ښو شپږو ښاخونو و پشل شوې ده: کندهاري، مسود، ګوربز- ودیر، ګاګیزي اوخادي خیل (٤)

داسې روایتونه شته چې ساپیان یوه پخوانۍ آریایي قبیله ده چې دیونانی کلاسیک مؤرخینو له خوا ذکر شوې ده او اسکندر دکونړ او لغمان په ځمکو کې ددغو خلکو سره مخامخ شوی دی اودیر جنګونه یې هم ورسره کړي دي. ددې خلکو څه برخه دباجوړ په شاوخوا کې هم داسکندرسره په جګړو کې مخامخ شوې ده(٥)

لغمان او کونړ ته ساپیو دراتلو په باب داسې ویل کیږي چې د ۲۰۰۰ ق م په شاوخوا کې باختري آریائیان دشمیرد زیاتوالي اودځای دتنګوالي په سبب په لیږ دپیل وکړچې دهندوکش له درونه دکاپیسا په حوزه کې ښکته شول او له دې ځای نه یې تقریباً دسیندونو طبیعي مجراګانې په مخه ونیولې سهیل ختیځ او سهیل لویدیځ خواوو ته خواره شول چې ددغو څخه یوې ډلې دکابل سیند

(۱) پښتانه دتاریخ په رڼا کې ۵۲ مخ.

(۲) پښتانه لو مري توك ۱۱۸ مخ.

(۳) عبدالمالك کوالکوال ساپی، «ساپیان او ددغوی قبیلوی ویش» دجرګې مجله ۱۳٦۵ کال ۳۵ مخ.

(٤) حیات افغانی - ۳٤۳ مخ.

(٥) مطیع الله چمبیلی «بیا هم ساپیان و پیژنی» دکابل مجلې ٤٤ ګڼه ۱۳۳٦ کال.

په مخه نیولی او د نجراب، تګاب، سروبی او لغمان لاری د کونړ د سیند حوزی ته رسیدلی دی.

په دی کی هیڅ دشك او تر دیدځای نشته چی ساپیانو دمیلادنه ۲۰۰۰ کاله دمخه په مهاجرتونو پیل کړی او اوس په کاپیسا، کوهستان، کوه ساپی، لغمان، کونړ، چندول، پشات، سوات او باجوړ کی میشته دی (۱)

دساپیانو د استوګنی سیمی:

دساپیانو زیات شمیر دکونړ په ولایت کی استوګنه لری چی په نوموړی ولایت کی یی شمیر تقریباً (۱۰۲۲۸۶) تنه ښودل شوی او داستوګنی ځایونه یی اسد آباد، نرنګ، سرکانی، دانګام، څوکی، نورګل، پیچ، چپه دره، بادیل، دیوه ګل، دمزاردره او شونګری دی.

همدارازدلغمان دولایت دعمرزیو، علی خیلو، پاچاخیلو، احمدزیو، باریزیو، سالاو، ګاګر، کوتالی، درویش آباد، دولت شاه، آتوك، چکله او دوګل کی هم ساپی ژوند کوی چی په نوموړی ولایت کی یی شمیر (۴۰۹۲۸) تنه ښودل شوی دی.

یو شمیر ساپیان د کاپیسا ولایت دتګاب په اولسوالی او نجراب کی هم استوګنه لری. همدارازدپروان ولایت په کوه ساپی، سیدخیلو، کوهستان او کوهدامن کی هم یوزیات شمیر ساپی میشته دی.

دننګرهار ولایت دخیوی داولسوالی په درهٔ نور کی هم ددوی یو کلی شته چی دبودیالی په نامه سره یا دیږی (۲)

همدارازیو زیات شمیر ساپیان دبلخ په ولایت کی هم استوګنه لری. هغه شمیر ساپیان چی دمومندو په ایجنسی کی استوګنه لری ددوی ځای دسره کمره په نامه سره یادیږی او د۱۹۶۱ کال دسرشمیرنی له مخی ددوی شمیر (۵۳۰۰۰) تنه ښودل شوی دی چی دمومندو دایجنسی دساپیانو کلتورکت مټ مومندوته ورته دی (۳)

(۱) مطیع الله چمبیای - بیا هم ساپیان و پیژنی ° د کابل مجای ٤٤ ګڼه ۱۳۳۶ کال.
(۲) معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور ۱٦٤ مخ.
(۳) اضلاع، ایجنسی ها وقبایل ایالات پښتونستان ٥٥ مخ.

دساپیانوله پښتنی تبرڅخه یوزیات شمیر کورونه په سیوی کی میشته دی خوځرګنده دی وی چی دغوساپیانواوس پښتوهیره کړی دهاودسند یانـوکلتوری حاکمیت یی پرځان منلی دی (۱)

## اقتصادی جـوړښت یـی :

دکونړساپیان له دی کبله چی دکرنی ځمکی یی لږی دی نـود هغی تـرڅنګ غواګانی، وزی، ګدیان او میښی هـم روزی چی دهغوی دغوښو، شیدواونـورو حاصلاتو نه استفاده کوی . ددوی دکرنی ځمکی اکثره للمی دی چی اوبـه نـه ورسیږی اویاد اوبو رسیدل ورتـه ناممکنه دی . اکثره بزګران یی پـه غـر یـیی کـی ژونـد تیروی پـه تیره بیا هغه بزګران چی دباداړانـو (دمځکـوخاوندانـو) ځمکی کوی مجبوراومکلف دی چی دتخم نـه پرته نوری تـولی ستونـزی لـکه غوایان، دبزګری آلات، دځمکی وهل، کرل، ریبل، راټولول او میده کول پخپله غاړه واخلی حتی دځمکی دخاوند کورته دحاصلاتو وړل هـم دبزګر پـه غاړه دی بزګر مجبوردی چی ددی نورو کارونو ترڅنـګ دخپل باداړ خره، غـواګانـی یـا میښی وساتی . همداراز بزګرخپل بادارتـه دغره نـه وړیالړ ګی راوړی، دبـزګرو ښځه دځمکی دخاوند دښځی اوامروته باید غاړه کیږدی . لنده داچی اکثره خلک یی غریب اونیستمن بزګران دی .

## خـوراك :

دوی پـه خوړو کی اکثره دجوارو ،اوربشواووریجونه استفاده کوی . څرنګه چی دوی دبزګری تـرڅنګ پـه مـالداری هـم بـوخت دی نـو اکـثره یـی دغواګانو اومیښو دمستو او شـرومبونـه هـم استفاده کوی اوغوړی یی یاپـه ښتمنو خلکوپلوری اویایی دننګرهار سیمی ته دپلورلوله پاره راوړی . همداراز دوی دغنمواووریجونـه هم ګټه اخلی .

---

(۱) پښتواو پښتانه په سهیای پښتونخوا کی -۴۹ مخ.

## جامـــې.

دوی اکثره دوړیواووزود وژغنونه ځانته مخصوصې جامې جـوړوي چې دریشی تــه‌ورته دی خوتنې نه لري . ښځې یې تورپړوني اراوزده کمیسونه‌لري : ددوي پرتگونــه چین داره وي . نــارینه یې دخمتاد تو کـر نــه هــم ځانته کالي جوړوي اواکثره یودول توپۍ چې پکوالونــه یې بولي اوداوړیونـه جوړشوي‌وي پـه‌سروي .

## میلمه پالنه:

داقتصادي تنگسی اوبی وسی سره سره ساپـیان میلمه پال خلکـدي . دوي دمیلمنوله پاره حجرې لري چې پـه دې کار کې یوله‌بل سره سیالي کوي . پـه دوي کې دمیلمنوقدرزیات دی . ددوي پـه حجروکـې د موسیقي آلات لـکه‌سیتار، رباب، منگی اونورشته :


## پـښتنـې ننگ :

ساپیان دقام په‌ننگ کې غیرتمن‌خلک دي. دوي‌دخپل وطن‌دآزاد ولو په‌خاطر دانگریزي ښکیلاکگرو سره څوځوځلې جنگیدلي‌دي‌اودول‌دول قرباني‌یې ورکړي دي.همدا سبب دی چې دکونړ پـه اولسي ژونـدکی دوسلې در لودل اوساتل ډیر اهمیت لري‌او دساپیوپه‌باب وایي چې یوه ورځ‌دیوه ساپي په کور کې‌نارینه ماشوم وزیږید ځرنگـه چې په اکثروپښتنوکې دارواج شته چې دنـارینه‌ماشوم توزیږیدو وروستـه‌دټو پک دزې کوي ځرنگـه چې دغه سړی تو پک نه درلود نـولاړ څو یوتوپک پیدا کړي اودزې وکړي خوچاخپل توپک ورنه کړ. کوم‌وخت چې بیرته خپل کورته را ستون شونوچا ورته وویل چې راشه زوی دی وگوره که نه کبر به وشي . نوهغه په ځواب کې ورته وویل چې زما زوی باید د لومړي ځل له پاره زما مخ ونه ویني ځکه زه دومره دنامردیـم چې‌دخدای په دی‌لویه د نیاکې یوتوپک هم نه لرم چې دزوی د زیږیدواعلان پری‌وکړم نو که هغه زما مخ وگوري نو


ښایي چې د هغه شخصه به هم زما غوندې بې همته سړی جوړ شي ښه به داوي چې دیوه نارینه او با همته سړي مخ ته وګوري .

ساپیان د غیرت او ننګ په تکي سر او مال ورکوي په دوی کې ښځو ته طلاق ورکول سخته بې ننګي ده . څوك چې د چا په ښځه تورن شي نو د هغه ژوند بیا په مرګ شمیرل کیږي . دچا په کروکې چې څوك مړ شي نو که نیستمن هم وي نو هغه مجبور او مکلف دی چې خیرات وکړي په دوی کې د خیرات نه پرته د مړي ښخول شرم ګڼل کیږي . همدا راز دوی ملایانو او میاګانو ته د خیرات ، صدقې او سرمایې نه هیڅکله هم غاړه نه غړوي .

دوی د عذر او ننواتي په مقابل کې د ډیرې لویې ګناه نه هم تیریږي . لنډه دا چې دوی په پښتنې ننګ کې ډیر ټینګ دي .




د لغمان په ولایت کې د عمرزیو صاپیانو نسب شجره



# سالارزی

که چیری د نسب شجره په غورسره وگورونو څرګنده به شي چې سالارزی سړبني پښتانه او د ترکاڼیو د څلورو ښاخونو له جملې څخه یو مشهور ښاخ دی چې د باجوړ په لرآمدك، برآمدك، لرسلدین، برسلدین، ښار، ناوه ګی، کوټکی، الیکی، چارمنګ، بابوقره اورود کې میشته دی.

په سالارزیو کې د برم اولاده برم خیل او د هلال اولاده هلال خیل د دانګام او اسمار د تاریخ سره نه شلیدونکی ارتباط لری.

د باجوړ څخه پرته د افغانستان د کونړ په ولایت کې هم زیات شمیر سالارزی استوګنه لری او د دوی د استوګنې ځایونه په دی ډول دی:

دانګام، شونګړی، اغذ باغ، اسمار، ساو، ساوخوړ، ناړی، څوکی، بارګام، ازیرګل، بریکوټ، ډمبرو، حساره، کرهاله، دم کلی، نرنګ، ګنجګل، دونوی او تاڼګوټره کې هم میشته دی (۱)

په سالارزو کې د قوم مشری دابراهیم خیلو (برم خیلو) په لاس کې ده. داسې روایت موجود دی چې په یوه وخت کې د سالارزو د لرآمدك په غونډی نومې کلي کې د کامران په نوم یوسړی او سیده په دی کلي کې د ده دیوی میرمنې څخه دوه زامن د هلال او ابراهیم (برم) په نامه وزیږیدل. د زلمیتوب په وخت کې دوی د خپل پلار سره بزګری کوله او د پلار ترمړینې وروسته، هم د بزګری په کارونو بوخت وو. یوه ورځ برم په پټی کې یوی کوله یو ملنګ په آس سپور د پټی ترڅنګ ودرید. ملنګ برم ته وویل: «لاړشه او ګره را ته راوړه» په شروموکې یخنی وریجی چې یوځای شي او ګره ورته ویله کیږی. برم لاړاو له کورنه یې او ګره ورته راوړه. ملنګ داو ګری کونډی (دلرګی کاسه) په لاس کې ونیوله او اوګره یې په څمکه تری کړه برم له کوره دری ځلي او ګره راوړه

---

(۱) معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور -۱۶ مخ.

او ملنګ دری ځلی تروی کړه ، خو برم هیڅ عکس العمل ونه ښود .
ملنګ لاسونه پورته کړل او په دعاکی یی وویل : « برمه ! خدای دی د تبو لو سالارزو خان کړه » له دعا نه وروسته ملنګ لاړ او برم په خپلی یوی بوخت شو. دیوی کولوپه وخت کی هغه په پټی کی د سرو زرو خزانه وموندله.
هلال پټی ته راغی. برم ورته تول کیسه وکړه. هلال په ملنګ پسی وزغاستل . ملنګ ورته وویل «د سالارزوخانی می برم ته ورکړه ستاپه خوله دی خدای برکت کړی .
اولسی جرګی دی ستاپه خوله فیصله کیږی او په کومه جرګه کی چی ستا اولاده نه وی هغه دی نه جوړیږی»(۱)
همدا سبب وچی اوس دده اولاده هلال خیل او لسی شخړی فیصله کوی.
سکندرزی دسدین او آمدك په دوولو یوښاخونو ویشل شوی دی :
۱ـ دسدین څانګی دادی: سین خیل ، کتکی خیل ، عالی خیل ، قلندر خیل ، خیرخان خیل ، کندر یان .
د آمدك څانګی دادی : ابراهیم خیل (برم خیل)، هلال خیل ، میرداد خیل ، شومه خیل ، اکاخیل ، محمود خیل ، بدل زی ، ګبری ، فتح خان خیل ، حیدر خیل ، تورخیل ، خرګند خیل او تاران .
د۱۹۶۱ ع کال دسرشمیرنی په اساس په باجوړ کی دسالارزیو شمیر (۷۰۵۰۰) تنه او دافغانستان دکونړ په ولایت کی ددوی شمیر د(۳۹۹۸۲) تنو په شاوخوا کی ښودل شوی دی.

## ساك (سهاك)

دنسب دشجری دلیدلو څخه څرګندیږی چی ساك(سهاك) دانـدړاوتـره کی وروردموسی زوی ، دابراهیم لمسی او دغاجی کړوسی دی. دساك په څانګو کی یوسف خیل دشمیر له مخی ډیردی. دوی اکثره دپکتیادولایت دزرمت په اولسوالی ،

(۱) دپښتنو تولنیز- اقتصادی جوړښت ، دپښتو څیړنو بین المللی مرکز ۲۱۹- ۲۲۰ مخونه .

دلوګردولایت په‌خروارنومی سیمه، دننګرهار ولایت په‌حصارك غلجی اودسره‌رو په اولسوالیو کی میشته دی. همدا ر از ددوی یو شمیرد کابل دو لا یت د پغمان داولسوالی پـه‌بیلك توت ، دبـګرامیوپه شیوکیـواودکاپیساولایت په‌تګاب کی اوسیزی. یوشمیریی په‌لغمان‌اودهندوکش دلری‌په‌نوروسهیـلی‌درو کی هم میشته‌دی (*)

دننګرهاولایت دسره‌روداوحـصارك غلزایی پـه اولسوالیو کی ددوی‌شمیـر (۲۲٦٨) تنه اوپه تـول‌افغانستان کی ددوی شمیر(۲۲۷۸)تنه ښودل‌شوی‌دی(۲) خوزه ددغی‌احصائیی سره موافق نه یم ځکه چـی دحیات افغا نی لیکوال دپټی- محمدحیات خان۱۳۰کاله‌پخوالیکلی‌د ی‌چی‌ساك (۷۰۰۰) کورنی‌دی (۱)

## سبر ی

سبری دکرلانی دتولنیزګروپ څخه دی‌اود خوست‌لویی ولسوالی دیعقوبیو په علاقداری کی‌استوګنه لـری. ختیځ ته‌یی باك اوتریزی، جنوب ته یی دخوست سیمه او دلویدیځ له خوادمنګلو دقبیلی سره پولـه‌لری:

دغه خلك دکرنی او مالداری په چاروبوخت دی . دوی دمزرونه پوزی، پری، جای نمازونه اوتورکری ګانی‌جوړوی. دیعقوبیوپه‌علاقه‌داری کی‌دسبریونه سوبیره یعقوبی او مولی هم ژو ند کوی :


ددوی سیمه ډیره‌ښه‌شنه،حاصلخیزه اوآباده‌ده. ددوی‌شیمر په تخمینی دول (۱۹۰۲٦) تنه ښودل‌شوی‌دی (۲)

---

(*) کـله چی ز ه پـه ۱۳۵٦ کال دفاریاب‌ولایت مرکز (میمنی) ته تللی وم‌نو دمـیمنی دښار شمال‌لویدیز خواته‌په‌پنځه‌یاشپږ کیلو متری‌کی‌په کیږدیو کی‌یـوشمـیر کوچیان‌اوسیـدل‌چی‌دوی ځانونه سهاك یاساکری کوچیان معرفی کول او ماد اسی و اور یـدل چـی دوی اوری اوژمی هم دلته په کیږد یوکی تیروی اوکوم بل ځای ته لیږد نه‌کوی (لیکوال )

(۱) معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل‌ولا یات سرحدی کشور - ۲۹ -۳۰مخونه.

(۲) معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل ولا یات سرحدی کشور - ۵۹ مخ.



(۱)

## سپندزی

دوی ته سیدان هم وایی او د ترین له قبیلی سره یو ځای د پشین په سیمه کی په کرکیلی او سوداګری بوخت دی، خو د دوی په باب زیات معلومات تر لاسه نه شول (۲)

## سپین ترین

لکه چی د تورو ترینو په مبحث کی ووو لوستل ترین د شرخبون زوی د سړبن لمسی دی زامن درلودل چی تور، سپین او دل نومیدل (۳)

سپین ترین په خلورو ښاخونو ویشل شوی دی او په شمیر کی د تورو ترینو په پرتله لږ دی. دوی په ژوره، تل، چوتیالی، هرنایی، دوکی او چو تیر کی میشته دی. د سپینو ترینو او تورو ترینو تر مینځ د کاکړو سیمه موقعیت لری. ترین په دودونو، رواجونو، خویونو او خصلتونو کی د ابدالیانو په څیر دی، خو ځینی رواجونه یی کاکړو ته هم ورته والی لری. دوی د کرنی او مالداری په چارو بوخت دی. خلک یی قوی او پیاوړی دی. په پخوا ختونو کی سره له دی چی د تورو او سپینو ترینو تر منځ واټن ډیر و، خو د وی د یوه ګډ خان ترادا ری لاندی وو چی د غه خانی ډیر کلونه د تورو ترینو د بتی زی په ښاخ پوری اړه لرله چی په دی باب یو مهم متل موجود دی چی وایی: «خانی ده په دوه کوره په لوحانی کی برکتی ده په ترین کی په بتی ده (٤)»

(۱) معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور د ٦٠ مخ چارت.
(۲) حیات افغانی ٦٣٠ مخ.
(۳) پښتانه د تاریخ په رڼا کی ۱۳۷۷ مخ.
(٤) حیات افغانی ۲٤۹ مخ.

## ستانکزی

ستانکزی غلجي پښتانه دي او د احمد زي قبيلې يوه څانګه بلل کيږي. ددغې قبيلې خلک زياتره د لوګر او ننګرهار په ولايتونو کي استوګنه لري. د ننګرهار په ولايت کي دوی د سره رود په اولسوالي او د چپرهار په علاقه داري کي استوګنه لري. چي په سره رود کي ددوی شمير د (۱۵۷۰) تنو او د چپرهار په علاقه داري کي د (۱۳۲) تنو په شاوخوا کي ښودل شوی دی(۱) خو ښايي په لوګر کي د ستانکزيو شمير بيخي ډير وي.

## ستاني زی

ستاني زي دغلجي په تولنيز ګروپ کي يوه پيژندل شوي قبيله ده چي د سليمان خيلو يو ښاخ بلل کيږي. ستاني زي دوردګو په شمالي برخه او د ننګرهار په حصارک غلزايي او سره رود په اولسواليو کي استوګنه لري. ويل کيږي چي جبار خيل او بابکر خيل دستاني زيو مشهوري څانګي دي چي د کابل او جلال آباد ترمينځ سيمو کي ميشته دي.

## ستوریاني

دغه قبيله په وصلي توګه د سړبن په تولنيز ګروپ کي شامله شوي ده. ددوی شمال ته شيراني لويديځ ته يي زمري، ايسوټ او موسی خيل او جنوب لور ته د (کسراني او بزدارو) بلوڅو سره پوله لري.

دوی دشميرله پلوه لږ دي او په دوو عمده برخو ويشل شوي چي احمد زي او ګدار زي نوميږي (۲)

مونټ ستوارټ الفنستين په خپل مشهور اثر (دکابل سلطنت بيان) کي دستوريانو په باب داسي کښلي دي :

«ستورياني تر دغو وروستيو وختونو پوري ټول کوچيان وو. ددوی سيمه په

---

(۱) معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور - ۳۲ مخ .

(۲) اضلاع، ایجنسی ها وقبایل ایالت پښتونستان ، ۹۷ مخ .

حقیقت کې د کرنې له پاره دومره مساعد نه ده. ډیر وخت نه تیریږي چې دوی د غه سیمه دد امان د بلوڅانو څخه ونیوله اوځمې به یې هلته اړول او په اوړی به یې خپلې مینې اوړمې د موسی خیلو کاکړوسیمې ته بیولې. دغه لیږد ېدنې دهغې جګړې له کبله چې ددوی او د کاکړو د یوې قومې څانګې ترمینځ شوې وی نا راحته - کوونکې ثابتې شوې په دې چې دوی مجبور وو د هغوی له ملکو څخه واوړی، نود ستوریانو قوم نیمایی برخې خپلې رمې و پلور لې او په کرنې یې پیل وکړ. هغې بلې برخې یې د پخوا په څیر خپل عادت ته دوام ورکړ، خو ډیر زر په دې مجبور شو ل چې دهغو نورو په لاره روان شي. د نویو او پخوا نیو میشته شوو ستوریانو ترمنځ له څو جګړو نه وروسته ټول قوم کرو ند ګر شو. یوازې دوه څانګې یې تر اوسه هم کوچیانې ژوند ته دوام ورکوی او اوس هم په پسرلي کې خپل مالونه سپوستا (Spusta) ته چې د سلیمان تخت په جنوب لوید یځ کې دی خیږوی.

سره له دې هم ډیر ستوریانې تر اوسه پورې سوداګر او د مالونو وړونکې پاتې شوی دی او داهغې ژوند دی چې د ګرځنده پروندوو ژوند ته نژدې دی. دوی معمولاً په خرو او غوایانو مالونه وړی او نږدې خلور زره کورنې حساب شوی دی» (۱)

دوی دد یره اسما عیل خان په ضلعه کې استوګنه لری. څرنګه چې ددوی سیمه دیره لیرې پرته ده نو افغانستان ته تګ او راتګ نه کوی (۲)

د شوروی عالم ستانیشفسکې A.B.staneshevski د اتنو ګرافیکو معلوماتو له مخې چې د ۲۰ پیړۍ په اپیل کې یې ورکړی دی ددوی شمیر یې د (۳۵) زرو په شا او خوا کې ښودلی دی.

---

(۱) دکابل سلطنت بیان دوهم ټوک ۶۳-۶۴ مخونه.

(۲) اضلاع، ایجنسی ها وقبایل ایالت پښتونستان - ۹۸ مخ.

# سدوزی

سدوزی د پوپلزیو یوه څانګه، ده چی په سربنی پښتنو ورګډیږی دد غی قبیلی لوی نیکه یا مورث اعلی اسدالله خان وچی په ۹۶۵هـ کال کی زیږیدلی او په ۱۰۲۱هـ کال وفات شوی دی. دی په عوا موکی په «سدو» مشهوروا و دده د نامه له کبله د اقبیله په سدوزیو سره مشهوره شوه. دی په شپږم پښت کی د ابدالی احمد شاه نیکه دی.

تاریخ حیات افغانی دسدوزیو په باب لیکی: «سدوزی د پوپلزیو یوه څانګه ده. سدوزیان تردیره وخته پوری نه یوازی دپوپلزیو بلکی د درانی د ټولی قبیلی خانان شمیرل کیدل او دا یوه یقینی خبره ده چی سد وزیان د درانی قبیلی د ټولو څانګو څخه دیر د درناوی او عزت ور څانګه ده. څرنګه چی پاچا د سدوزیو له کورنی څخه ونو ځکه سدوزیان یوه بیله قبیله بلله کیږی خو په اصل کی د پوپلزیو د څانګی یو ښاخ دی، کله چی د سدوزی پاچا یانو کورنی تباه او په لویدیځ افغانستان کی د امیر دوست محمد خان بارکزی سلطه ټینګه شوه نو ددغی کورنی قدر هم لږ شو. ددغو خلکو زیاتره آبادی د شهر صفا تر څنګ د ترنک دوادی په منځ کی موقعیت لری. ځینی سدوزیان په کندهار کی هم اوسیږی او د شاهی کورنی څخه د شاه شجاع اولاده دهند دپنجاب په لودهیانه کی دستلج د سیند په ختیځه غاړه کی اوسیږی او د احمد شاه ابدالی کورنی ته پاچا خیل هم وایی د سدوزیو څو کورنی په پیښور او لاهور کی هم میشته دی. پاتی سدوزی اکثره د کندهار شمال خوا ته د خاکریز په سیمه، او اکثره په غزنیو سیمو کی او سیږی. ځینی سدوز یان د کندهار په ده ذا کر، بالا کرز، شوراندام او څو نورو ځا یو نو کی هم استوګنه لری» (۱)


ملک سدویو دیر لایق سړی وچی د خپل قوم له پاره یی دیر خد متونه وکړل. په پای کی د پنځه او یا کلونو په عمر مړ شو. دده دو نه پنځه زامن پاتی شول خواجه خضر خان، مود ودخان، زعفران خان کامران خان او بها درخان چی بیا خواجه خضر خان دا ولس په خوښه په مشرتابه وټاکل شو او شل کاله یی دقام خدمت وکړ. دده دوه زامن درلودل چی خداداد سلطان او بل شیرخان نومیدل (۲)

---

(۱) حیات افغانی ۲۲۲ - ۲۲۳ مخونه.

(۲) پښتانه د تاریخ په رڼا کی - ۱۲۷۸ - ۱۲۷۹ مخونه.

لنډه داچې دابدالیانو د کورنۍ دسلطنت مؤسس او بانی احمدشاه دپوپلزو دسدوزیو دڅانګې پورې اړه درلوده چې د۱۷۴۷ ع نه تر۱۷۷۳ پورې دافغانستان یو ستر واکمن وچې دغې کورنۍ تر۱۸۱۸ع کال پورې په افغانستان اود پنجاب په ځینو برخو باندې حکومت کوه چې بیا وروسته سلطنت بارکزیو ته ولیږدید.



## سرکاڼي

سرکاڼي په اصل کي سړبني پښتانه دي او په الکوزیو ورګډیږي دوی په پیل کي په کندهار کي او سیدل چي وروسته بیا دځینو عوامـلو له کبله دکونړ سرکاڼیو اولسوالي ته راغلي دي. همدا راز ددوی یوشمیر داسمار په مرکز کي هم استوګنه لري چي په دي حساب دکونړ په ولایت کي د ۱۳۶۰ کال دا حصائیي له مخي ددوی شمیر ۵۶۸۳ تنو ته رسیږي. دکونړ دولایت نه پرته سرکاڼي د الکوزیو ديوه ښاخ په توګه دافغانستان په لویدیځ او جنوب لویدیځ کي استوګنه لري.

دوی اکثره د کرني او سوداګري په چاروبوخت دي چي دکونړ په ولایت کي دچارترا شو سوداګري هم کوي (۱)

## سرواڼي

دوی لودي پښتانه دي او داسي ویل کیږي چي دسلطان شهاب الدين غوري پاتر هغه وروسته دسرواڼي قبیله ددربند پادرابن او چودهوان شاو خوا سیمي ونیولي اودغه ځمکي یي په خپل تصرف کي راوستي چي دلته دمخه هندوان اوسیدل او اوریپالونکي وو چي دغه ځمکي ددغي قبیلي دسرپیال کوروني په تیره بیا دشیخ ملیح قتال اسلافو ته ور کړل شوي. شیخ ملیح قتال ددرابن پخوراني ښار متروك پريښود او هغه درابن چي اوس آباد دي د شیخ ملیح قتا ل سرواڼي له خوا جوړ شوی دی لکه چي د شمالي دروازي څلو د یوالي یي د شیخ ملیح قتال په نامه سره ونومول شوه. په هغه وخت کي ددراین ښار اباداو ډیري ښایسته او ښکلي ودانۍ یي لرلي اواوس دروانو او بوږنو ونـوا وخا مو کورونه پرته څه ښکلا نه ده ورپاتي.

سرواڼيو په دراین باندي تر ډیري مودي پوري سلطه لرله، خو د همایون دواکمني په دوره کي له دغه ځایه ووتـل او ددوی دوتلو دوه علتونه ښول شوي دي. لومړي ددوی دشمیر لږوالي او کمزوري اودوهم ددوی ماتي (۲)

---

(۱) معلومات مختصر در باره اقوام وقبایل ولایا ت سرحدی کشور - ۲۲ مخ .

(۲) حیات افغاني - ٤٤٧ مخ .

ددوی د کمزوروتیا علت داوچی دسوری ښاخ نه یوتن چی دروری دښاراو سیدونکی ودنو موری قوم یوه ښځه وتښتوله اودسروانی قبیلی ته یی پناه راوړه اودرابن ته راغی دسوری ښاخ دغه مجرم او ښځه له سروانیو نه وغوښتله سروانیو دهغو بیرته ورکول دپښتنی ننگ خلاف وگڼل اودتښتیدلی ښځی په بدل کی یی د پنځو ښځو ورکول ومنل، خوسوریانو دتعصب اوغرور په سبب دیوی ښځی په ځای دپنځو تښتو پیغلو نجونو ترلاسه کول ونه منل اودسروانیانو سره یی دجگړی له پاره تیاری ونیو له سروانیو هم دپښتنی غیرت په وجه له دوی سره دجگړی له پاره چمتو شول. په پای کی په زاره درابن کی ددواړو خواوو ترمینځ ستره جگړه رامینځ ته شوه چی له دوا- ړو خواوو نه دیر غښتلی او تکړه کسان ووژل شول. کله چی ددواړو خواوو پاتی کسان چی له مرگ نه بچ پاتی شوی وو داحالت ولید نو په دی کار دیر پښیمانه او جگړه یی مناسبه ونه بلله اود یو دبل له وژلو نه یی لاس واخیست او هر یوه قوم خپل مړی چی په زرگونو تنه وو ښخ کړل او بیرته خپلو استوگځیو ته ستانه شول. ددغی جاهلانه جگړی نتیجه داشوه چی له هغی وروسته دسوریانو او سروانیو شمیر دیر لږ او تر هغی اندازی پوری کمزوری او ضعیف شول چی دهیڅ مخالف قوم سره یی جگړه نشوای کولای. دهمایون پاچا دواکمنی په پیل کی کله چی دمیاخیلو، لوحانیو او بختیارو په پاتی سروانیو باندی یرغل وکړ نو ترلږی مقابلی وروسته یو شمیر سروانی ووژل شول او پاتی مغلوب اودرابن له سیمی نه یی لاسونه لنډ شول او دغه سیمه دمیاخیلو او بختیارو لاس ته ورغله اوسروانی چی شمیر یی دیر لږ وو ځینی یی خواره واره او ځینی یی دمالیر کوتلی مشرتیه چی ددوی دقوم نه وو ورغلل. ویل کیږی چی دراولپنډی دضلعی په چهچه نومی ځای کی هم څو کوره سروانی میشته دی. ددغه قوم ځخه دمالیر کوتله کورنی دیره مشهوره ده (۱)

---

(۱) حیات افغانی (۴۴۸ - ۴۴۳) مخونه.

# سریـپال

دوی لودی پښتانه اودسروانیو یوښاخ بلـل کیږی . ددغی قبیلی نـیکه شیخ احمد زنـده پیرو چی د هغه د پنځوزامنونـه یی مشر شیخ صدرالدین و چی پـه صدرجهان سره مشهوردی . دی یوعابـد او پرهیزگـار انسان و . دی دخپل اصلی تاتوبی درابن نـه د هند دلیدلولـه پاره روان شـواود مـالیرسیمی تـه چـی دهند دپنجاب پـه ایالت کی واقع دی ورسید اودستلج دسیند دیوی ویـالی پـه غاړه یی یوه څپره ودانـه کره اودخدای (ج) پـه عبادت بوخت شو . پـه هـغه وخت کی دمالیرد ودانی نښی نښانی هیڅ موجودی نـه وی ، خودجهوم پـه نوم یوکوچنی ځای دشیخ صدرجهان عبادت ځی تـه لنډ موجود و . کله چی صدرجـهان د هند دواکمن پهلول لودی له لورسره نـکاح وکړه دمالی له نا مه سره یی د(ر) تـوری چی درب دنوم لومړنی توری دی یوځای او پـه دغه‌سیمه یی دمالیرنوم کیښود صدرـ جهان دبهلول لودی له لور سره پـه دی توگه وا ده وکړچی کله سلطان بهلول لودی د دیلی دسلطنت د نیولـو پـه نیت روان شـونـوهغه یـوه ورځ د صدرجـهان جونگړی تـه نژدی دیره شواوله هغه‌سره یی ملاقـات وکـړ . هغه پـه خپل زړه کی نیت وکړ که چیری دیلی تـه ورسیږی اوسو به یی پـه برخـه شی نوخپلـه لوربـه دغـه عابد اوزاهد تـه ورکړی . دبهلول دغه مقصدترسره اودخپل نیت دپـوره کولوله پاره یی خپله‌لورنوموړی شیخ ته ورکړه اود ولس کلی اوشپږپـنځـوس کوچنی سیمی یی اودواده تړل‌اسبابونه‌یی‌هم ده ته ورکړل . تـرهـغه وروسته شیخ صدرـجهان دراجپوتانود کورنی دیـوی ښځی سره هـم وا ده وکـړ . ده پـه (۱۵۱۵) ع کال کی له نړی نه سترگی پټی کړی اودخاص مالیرددرگاه پـه انـگړ کی خاورو تـه وسپارل شوچی ده‌مزاردخاصواوعاموزیارتـگاه ده(۱)دده اولاده اوس هـم پـه مالیر کوتـله کی میشتـه‌ده، خوپښتوژبه یی هیره کړی ده‌اودهندی تمدن اوکلتورترتأثیراواغیزی لاندی را غلی ده .

---

(۱) حیات افغانی ـ ۴۵۰ مخ

# سړبني

دغه قبایل دخپل لوی نیکه سړبن په نامه په سړبني سره شهرت لري. سړبن به پښتنو کې ډېر مشهور نیکه دی او له پخواني زماني څخه مؤرخانو دده نوم او حال لیکلی دی او په پښتني عنعنه کې هم دا سړی یو خورا لوی پښتون او مشهور نیکه ګڼل کیږي. ددې عنعني تصدیق په خارجي مؤرخینو کې ابوالفضل علامي (۱۰۰۶ هـ) دا کبر مغولي پاچا د دربار مورخ په دې ډول کوي :

«په پښتنو کې درې ورونه بیټني، غورغښت او سړبن ډېر مشهور نیکونه دي (۱) » :

د روایاتو مطابق سړبن دقیس عبدالرشید زوی او د غور غښت او شیخ بیټ ورور دی. دده نوم ابراهیم دی، خو په سړبن مشهور شو. ددې وجه داوه چې دده اولادونه او په دې خبره به تل غمجن او پریشانه و، نو ځکه بیټ نیکه ده ته خپل زوی اسمعیل ورکړ (۲) سلیمان ماکو د بارکخان زوی په خپل مشهور اثر تذکرة الاولیا کې چې له (۲۱۲) هـ وروسته لیکل شوی دشیخ بیټني او دده د وروړ سړبن ذکر داسې کوي : «نقل هسې کاندي یارا نو چې په روزګار د شیخ بیټني دده وروړ چې سړبن نومیده او پر شیخ بیټني هم خوراګران و سړبن نه د رلود زامن او هر کله به یې ویل خپل وروړته. بیټني خپل زوی اسماعیل ورکاا و لوی شو د سړبن په کاله. خدای مهربان د اسماعیل په برکت سړبن ته نصیب کړه دومره زامن چې اوس شو ګڼون دهغو ... (۳)»

ویل کیږي چې د اسمعیل اولاده هم په سړبنو ورګډ یږي او ذکر یې په مراة لافاغنه کې دسړبني اولیاوو په لړ کې موجود دی (٤) .

سړبن دوه زامن درلودل چې دیوه نوم شرخبون (شرف الدین) او دبل نوم خرشبون (خیرالدین) وو. دشرخبون (شرف الدین) دژوندد حالاتو په باب کومه پښه نښته البته دخرشبون (خیرالدین) څه لږ شان حال په پټه خزانه کې موجود دی. دپټې خزانې مطابق شیخ خرشبون په ۳۰۵ هـ کال زیږېدلی و .

---

(۱) آئین اکبری، لومړی توك - ۱۹۱ مخ .

(۲) پښتانه دتاریخ په رڼا کې ۱۲٦٦ مخ .

(۳) عبدالحی، حبیبي دپښتو ادبیاتو تاریخ دوهم توك (کابل-۱۳٤۲) ۱۰٦ مخ.

(٤) پښتانه دتاریخ په رڼا کې ۱۲٦٦ مخ .

خرشبون هم دخپل تره شیخ بیټ پەشان یو نیك او خدای لمانځونکی انسان و. دخدای پاك (ج) په عبادت به لګیاو، ویل کیږی چی دی دکسی په غره کی اوسیده. دروایاتو مطابق دشیخ خرشبون دژوندانه پەزمانه کی دهغه پلاراو تره (سړبن او بیټ نیکه) لاژوندی وواو دوی تول سره په یوه ځای کی اوسیدل. خوشه موده وروسته خرشبون دخپل پلاراوتره پەاجازت دخپل اولاد سره دکسی دغره نه دغوږی مرغی(*) پەلوړپه کډه لاړ او هلته میشته شو.

لنډه داچی دسړبن اولاده چی پەسړبنیانوسره شهرت لری پەلاندنیو قبیلو ویشل شوی ده.

۱- ترین ۲- شیرانی ۳- بابړ ٤- هریپال ٥- جلوانی ٦- غرشین ۷- میانه ۸- بریڅ ۹- ابدالی ۱۰- پوپلزی ۱۱- سدوزی ۱۲- بارك زی ۱۳- اڅك زی ١٤- اسحاق زی ١٥- موسی زی ١٦- نورزی ۱۷- الیزی ۱۸ - ادوزی ۱۹- اسحاقزی ۲۰- خاکوانی ۲۱- ماکو ۲۲- یوسفزی ۲۳- مندړ ٢٤- ترکلانی ٢٥- ګګیانی ٢٦- مومند ۲۷- داودزی ۲۸- خلیل ۲۹- څوکنی ۳۰- زیرانی ۳۱ ملاګوری ۳۲- خیشکی ۳۳- کتانی ٣٤- مهمنزی ٣٥- کاسیان ٣٦- شینواری.

## سلطان خیل

دوی دسلیمان خیلوپه لوی ټبرپوری اړه لری او غلجی پښتانه دی دسلطان خیلو علاقەدا ری چی دغزنی په ولایت کی موقعیت لری هم ددوی دا ستوګنی لەکبله پەهمدی نامه نومول شوی ده. ددوی زیاتره برخه کوچیان او بیخی لږشمیری میشته خلك دی. ددوی زیاتره برخه ژمی په نوروو لایتونو کی تیروی دوه ډیر زړور، توریالی او پەخپل عرف اوعاداتو ټینګ دی.

ددوی دسیمی شمال تەډیله او آب بند، جنوب تەیی زرمت، ختیځ تەیی کتواز او اومنه اولویدیځ ته یی دمقرآب ایستاده موقعیت لری.

آب وهوایی په اوړی کی معتدله او په ژمی کی یخه ده. وا وره پکی اوری. په پسرلی او منی کی یی هوا مرطوبه اوپه دوبی کی وچەوی. اوبه یی دکاریزو، چینو اورودوڅخه، برابریږی چی دځینو له پاره هم صحی دی.


(*) غوږه مرغی دکلات پەسهیلی برخه کی دسره غره له جنوبی اړخ نه پیل کیږی او دلویدیځ خوا ته تر ارغستانه او بیا دکوزك تر غره پوری او بیا دکاکړستان او کسی او ساپمان غره پوری سیمه ده. (لیکوال)

ددې سره سره چې ددوی سیمه کافي اندازه او به نه لري، خو بیا هم غنم، اوربشې، جوار، مشنګ او مې په پوره اندازه پکې کرل کیږي. همدارازددغه ولایت داومنې په علاقه داری، ډیله او خوشامند کې هم ډیر سلطان خیل کوچیان استوګنه لري (۱)

## سلطان خیل

دغه قوم دسرهنګ داولادې یوه څانګه ده. دوی په پیل کې دخپلې قبیلې له پاتې خلکو سره دمیانوالي په سیمه کې آبادو، خوتقریباً (۱۵۰) کاله نـه کیږي چې له هغه ځایه دکورنیو شخړو له کبله دسلطان خیلو ښاخ دې سیمې ته راغی او دعیسی خیلو په مصلحت دختیکو غره ته نږدې میشته شول (۲)

دسلطان خیلو دنسب شجره




(۱) محمدولي ځلمی، دغزني تاریخي جغرافیا کابل: (۱۳۶۲) ۱۶۸ - ۱۶۹ - ۱۷۱ مخونه.
(۲) پښتانه دتاریخ په رڼا کې - ۱۳۵۵ مخ.

# سلیمان خیل

زموږ پښت پوهان (نسب پیژندونکی) سلیمان خیل د غلجي د تولنیز گروپ څخه شمیري . دغلجیو په ټولنیز گروپ کی د نورو قبیلو په پرتله د سلیمانخیلو قبیله د شمیر له مخي ډیره ده . ددوی عنعنوی ټاټوبی د پکتیکا اوسنی ولایت دی چي اکثره یی د کټواز او وازیخوا په اولسوالیو او دمیټا خان او داومنی په علاقه داریو کی استوگنـه لری . ددوی یو شمیر د پکتیا د ولایت په مرکزگرد یزاو د زرمت او څمکنیو په اولسوالیو کی هم استوگنه لـری .

یو شمیر یی د خپل اصلی ټاټوبی څخه مهاجرت کړی او د ننگرهار دولایت د سره رود او حصارك په اولسوالیو ، د لوگر په ازره او دکا بل او لغمان په ولایتو-او کی استوگنه لری چی نن ورځ د خپلو ښاخونو احمدزیو ، بابـکرخیلو اوجبارخیلو په نومونو سره مشهوردي (۱)

سلیمانخیل په یوه پراخه اوو سیعه سیمه با ندی قبضه لری : سلیمان خیل پر ډیرو ښاخو باندی ویشل شوی دی لکه ادیـن خیل ، نسوخیل ، قلندرخیل ، علي خیل ، شکی خیل ، شاه توری ، جلال زی ، کلاخیل ، محمود خیل ، مشن خیل او نور (۲)

د زرمت تقریبانیمه برخه په تیره بیاسهیلی برخه یی د سلیمان خیلو په قبضه کی ده او دنانی سیمه چی په کټواز پوری مربوطه ده دسلیمان خیلونه ډکه ده . د سلیما ن خیلو شمالی برخي ته ستانی زی ، سلطان زی او احمدزی په لو مړی درجه ښاخو نو کی راځی چی د دوی تر مینځ د ستانی زیو شمیرزیات دی (۳)

ستانیزی دوردگو په شمالی برخه کی استوگنه لری او دکر نی په چارو بوخت دی . د ستانی زیو مشهوری څانگی جبارخیل او بابکرخیل دی چی د جلال آباد او کابل ترمنځ استوگنه لری :


---

(۱) معلومات مختصر در باره اقوام و قبایل و لایات سرحدی کشور - ۷۴ مخ .

(۲) پښتانه دتاریخ په رڼا کی - ۳٤٥ مخ .

(۳) تواریخ خورشید جهان - ۲۱۹-۲۲۰ مخونه .

# د سلیمانخیلو د نسب شجره



دسلیمان‌خیلو ختیځ‌ته دخرو ته قبیله، جنوب‌خواته یې دڅپورند کرښه، لو یدیځ ته یې تره‌کی او شمال خواته یې اندړ موقعیت لری. پوشمیر سلیمان خیل د کوچیانو په ډول هم‌ژوند کوی چی په ژمی کی دوزیرستان شنو او نسبتاً تودو سیمو ته ځی او په دوبی کی دوازی‌خوا او پښتا او خواکی کیږدی وهی. ددغی قبیلی خلک ډیر زړوردی .

ددغی قبیلی دخلکو دنده کرنه او مالداری‌ده. ددوی یوشمیر د هندوستا ن په ځینو ښارونو لکه‌اسام، کلکته‌او بمبئی کی هم استوګنه لری او په سودا ګری او معاملاتو بوخت‌دی. همدارازددوی یوزیات شمیرپه پا کستان کی‌هم‌ژوند کوی.

دپکتیکا په‌ولایت کی‌ددوی شمیر د(۸۳۵۹۲) تنو اود پکتیاپه ولایت کی ددوی شمیر (٤٥٢١٠) تنه ښودل شوی دی‌چی کوچیان سلیمان خیل په دغه شمیر کی نه راځی (۱)

ددغی قبیلی‌دځینو مشهورو ښاخونو لکه‌علی‌خیلو، قلندرخیلو اونورو ذکر به‌په خپلو خپلو ځایونو کی وشی .

دسلیمان خیلو دکرنی ځمکی :

په‌کو مه سیمه با ندی چی سلیمان خیل قبضه لری نو هغه ځمکه ډیره اواره او داو بو مشکلات یې ډیردی چی اکثره خلک یی د کاریزونو نه‌استفاده کوی. په تیرو څو کلو نو کی واټرپمپونه‌هم پکی رواج شوی اود هغی په واسطه او به ر اباسی. ددوی ځای دکرنی ځمکی یوفصله او اکثره دجوارو کرنه پکی‌ازرد واج‌لری : ددی‌ځای‌اقلیم په ژمی‌ډیر سوړ اوپه دوبی کی تود دی.

دسلیمان خیلو په‌سیمه په‌تیره بیاپه شرنی اودهغه‌په‌شاا‌او‌خوا ځایونو کی چیرته چی سلیما ن خیل قبضه‌لری انګور، زرد آلو، منی، هند وانی اوختکی کرل کیږی.

(۱) معلومات مختصر در بار ه اقوام وقبایل و لایا ت سرحدی کشور – ۷٤ مخ .

## خوراک یې:

سلیمان خیل اکثره په خوړو کې دغنمو له ډوډۍ نه ډیره استفاده کوي. له دې کبله چې دوی په مالدارۍ هم بوخت دي نو د کرتو، شیدو، مستو، کو چو او هګیو څخه هم ګټه اخلي. دژمي په موسم کې د وچو میوو استعمال هم پکې رواج لري. دوریجو او جوارو استعمال پکې لږ دی.

## جامې یې:

سلیمان خیل عموماً اوږدې وریښمینه پګړۍ چې اکثره یې هندوستاني دي په سر وي. دوی څپل څادرونه د ټیټرون یا کتان نه جوړوي چې د (تازر) په نامه یې یادوي.

د ښځو جامې یې عمو ماً سرې او شنې دي، خوزړې ښځې یې تور کمیسونه اغوندي. په پیغلو ځونو او ځوانو ښځو کې د ګنډونو استعمال هم شته. دوی په جامو کې ډیرې مرۍ هم استعمالوي چې د کمیسونو لستوڼي په زرتارو، چرمو او لیسو نو باندې ښکلوي. د دوی پرتګونه ۱۴ یا ۱۵ ګزو ته رسیږي. ښځې یې عموماً پښې چې دوی یې پخپله ژبه (کپۍ) بولي په پښو کوي. (*)

---

(*) د پښتو څیړنو د بین المللی مرکز د غړي ښاغلي محقق نظام الدین سلیمان خیل شفاهی توضیحات.

## سنتیا

داهم دکاکړو یو مشهور ښاخ دی او د روایاتو له مخې دوی د سنت نیکه اولاده دی. د تاریخ په اوږدو کې سنتیا کاکړانو توری وهلي او تاریخي رجال یې پیدا کړي دي په کاکړو کې د شمیر په لحاظ له سنځر خیلو څخه وروسته د سنتیا کاکړانو شمیر زیات دی. هیبت خان کاکړ چې د خان جهان لودي د لوړې دسما ناحاکم و او د مخزن افغاني په تالیف کې لویه برخه لري د سنتیا کاکړو څخه و. دوی په هندو باغ، کان مهترزی، کچلاغ، هنه، سره غوړ ګی، سره خوله، نوحصار، غبر ګټ، غوشکی، خانوزی، بلوزی، رودملازی، مستنګ او په ځینو نورو ځایونو کې میشته ددی (۱) سنتیا په لاندنیو څانګو ویشل شوی دی:

۱- پانیزی ۲- مهترزی ۳- بازیان ٤- سارنګ زی ٥- شهزی ٦- ملازی ۷- عیسی خیل.

## سنځر خیل

سنځر خیل په کاکړو کې یوه پښه ده چې د غرغښتو پښتنو په تو لنیز ګر وپ پوری اړه لری. د روایاتو مطابق سنځر نیکه یو تورزن مشر او منلي روحاني شخصیت و چې د مغولو پر خلاف یې اوږدې مبارزې کړي دي او ویل کیږي چې دده مزار په ګوسه کې دی. ګوسه د کاکړستان د سیمې په ژوب کې موقعیت لري او ډیر شمیر خلک دده مزار ته ورځي.

پروفیسر اسیا کاکړ په خپل کتاب «پښتو او پښتانه په سهیلي پښتونخوا کې» د سنځرخیلو کاکړو په باب لیکي:

«د کاکړو نوابي او سرداری له پخوا څخه د سنځرخیلو په لاس کې ده. دوی د شمیر په لحاظ د کاکړو تر بل هر ټبر زیات دی (۲)»

سنځرخیل په لاندنیو څانګو ویشل شوی دی:

---

(۱) پښتو او پښتانه په سهیلي پښتونخوا کې ٦٥ مخ.

(۲) همدا اثر مخ ٦٥.

۱ـ علی زی ۲ـ عبدالله زی ۳ـ کب زی ٤ـ برت خیل ٥ـ سنخیل ٦ـ اتمانخیل ۷ـ حرمزی ۸ـ تیمنی ۹ـ عرب خیل ۱۰ـ پښیزون ۱۱ـ نیستی ۱۲ـ کدنیری ۱۳ـ دومړان

## سوری

ددغې قبیلې د اوسیدو اصلي ټاټوبی دغورتار یخي سیمه ده چې په مرکزي افغانستان کې موقعیت لري.

دغه قبیله په لودیو پښتنو پورې اړه لري لکه چې دنسب په شجره کې کښل شوې دی د سیانی د زوی پړانګي دویم وروراسماعیل نومیده چې داسماعیل له دریو زا منونه یې مشر سورنومیده چې د ده اولاده اونسل د سوریانو په نامه سره شهرت لري چې دد غې کلمې نه په پښتو ژبه کې مقصد سور رنګ دی.

دسورکورنۍ د پړانګي له ښاخ سره یوځای په دامان کې میشته وه او کله چې یې له دغه ځایه په لیږدیدلو پیل وکړنو په هندوستان اوافغانستان کې خواره واره شول لکه چې اوس هم په دامان کې د سوری اوپړانګي څوکورنۍ میشته دی. د راولپنډۍ د ضلعې په چهچهه کې هم تقریباً (۳۰) کوره سور یان استوګنه لري خو په افغانستان کې دغه کورنۍ دور کیدو په حال کې ده (۱)

دسوریدواکمنا نونو له جملې نه یوهم سوری شیرشاه و چې اصلي نوم یې فرید خان و. دی: حسن خان زوی او دابراهیم خان لمسی وچې په ډیرښه تدبیر او انتظام سره یې په هندوستان کې پاچاهي وکړه.

فرید خان په (۱٤۷۹ع) کال کې په حصارفیروزه کې چې په سترام کې موقعیت لري وزیږید. دی یومدیرواکمن واودده په وخت کې ډیرسړکونه، کاروان سرایونه اونورعام المنفعه کارونه ترسره شول :


دمسا پرانو دهوسایی له پاره یې له بنګال نه نیولې د سند هه تر دریاب پورې دعامو لاروترڅنګ په هرپنځه کروه وا ټن کې یې پاخه سرایونه، جو ماتونه اوڅاه ګانې جوړې کړې چې دغه سرایونه ترا وسه هم په اکثرو ځایونو کې موجود دی (۲)

---

(۱) حیات افغانی ـ ٤۳۰ مخ .

(۲) نوموړی اثر ۲۹۰ مخ .


فرید خان دهند مغولی واکمن همایون مات اود حضرت علی او شیرشاه لقب یی غوره او د هندوستان په تخت کښېنا ست او تر شپږکاله واکمنی وروسته یې په (۹۵۲) هجری کال د ربیع الاول دمیاشتی په (۱۲) نیټه د کالنجر د کلادنیولو په وخت کی د بارو تود اورد اخیستلو په نتیجه کی مړ شو او د هندوستان د بهار دایالت په ساسرام نومی ځای کی ښخ شو . تر شیرشاه سوری وروسته یې زوی سلیم شاه پاچاشو چی له هغه وروسته یې دولس کلن زوی فیروزخان ته واکمنی په لاس ورغله، خو هغه د نظام خان دزوی مبارزخان له لاسه چی د سوری شیرشاه وراره و ووژل شو او دده د محمد شاه عدلی یا محمد شاه سوری په نامه سره قدرت ترلاسه کرچی بیا همایون په (۹٦۲ ه) کال کی په هندوستان کی واکمنی ترلاسه کره .


سور
شادی خیل
سارخیل
یونس خیل
لکی
ترکی
محموزی
شیرخیل
دولت خیل
شادی خیل
داود خیل
لوری میرمن
دویمه میرمن
محمد
کوتی
بهرام
نورخیل
محموزی
بهاوالدین
رکن الدین
صدرالدین یا قدرالدین
ابراهیم خان
محمود
جهانشیر
تندی خیل
حسن خان
فرید خان
اشیر خان،
نظام خان
سلیمان
احمد
علی
یوسف
مدح
مبارز خان یا ممریز خان (عدلی)
جلال خان (اسلام شاه یا سلیم شاه)
عادل خان
فیروز شاه (چه د خپل ماما مبارز خان له لاسه ووژل شو)

# سیدگی ( سادات )

هغه یوشمیر خلک دسیدگی په نوم سره یادیږی چې دمحلی ناسمو روایتونو له مخې اصلاً سیدان بلل شوی دی اودشمالی وزیرستان دځوی، دویگر، دند، ورغر، ورباط ؛ برمل، اودخوست په د بکی کی اوسیږی.

دغه خلک نن ورځ دیری کوچنی قبیلی په توگه موجود دی . دوی په لومړی سر کی په دوو برخو ویشل کیږی ملکا خیل اوذکرخیل . دقبیلوی اتحاد له مخی ملکاخیل دابراهیم خیلو وزیروسره متحد دی(۱) په لاندینی جدول کی ددوي دخیلونونومونه اوداستوگنی ځایونه راغلی دی :




( چې په د ننداو رباط کې استوگنه لري )

---

(۱) اضلاع، ایجنسی‌ها و قبایل ایالت پښتونستان ۱۱۲ مخ .

- کاکا خېل
- مره ګنده
- تره کي ګنده
- غوټي ګنده
- میاګل خېل

په ډنډکي استوګنه لري

- شودي خېل
- لاد خېل
- جمن خېل
- تولم بيګ خېل
- کمهي خېل
- آتک خېل
- رومي خېل
- ملک خېل
- سرور خېل
- مرک خېل
- زوبر خېل
- نظر بيګ خېل
- اخوند

دوی په دوېګرا او خوی کي استوګنه لري

| لولی فقیران | ورغړ میدګی | بوبکی میدګی |
| --- | --- | --- |
| په دوبیر کی او میږبی | په ورغړ کي او میږبی | په شوال کی او میږبی |

- ملکا خېل
- بودر خېل
- میري خېل
- ایاز خون خېل
- ګري خېل
- خدري
- ګرېمل
- میشون خېل
- خرمشوېه

دغه رباط شمېزلي په خوی او ښې شمېزلي په دوېګرکي استوګنه لري

همدا راز حکیم خېل په ډنډي او رباط کي استوګنه لري

# شلمانی

دشلمان کلمه دسلم ، سیریمان او سلیمان سره دیره ورته بنکاری چی دپښتنو دیوی لرغونی سیمی (روه) نوم دی .

شلمانی په اصل کی سربنی پښتانه او په مومند وورگډیږی . دوی دلوارګی دشینوارو شمال ته دتاتری په شااوخوا کی استوگنه لری او دخیبر ایجنسی یوه کوچنی قبیله شمیر له کیږی . دتاتری په شااوخوا کی لوی شلمان ، کم شلمان او پرانګ دره مشهور ځایونه دی .

شلمانی ډیر میلمه پالونکی او غیرتی خلک دی . دوی دمیلمنو له پاره بنی حجری لری . په دوی کی د کر کیلی چاری لږی دی ځکه چی سیمه یی غرنی ده . ویل کیږی چی د دوی شمیر داتو زروتنو په شااوخوا کی دی (۱)

دحیات افغانی له روایت نه هم د شلمان او سلیمان ارتباط بنکاری . حیات افغانی لیکی : «په پیل کی دوی دکورمی دسیند په غاړو کی اوسیدل او دشلمان دسیمی په سبب دوی په شلمانیو بانندی مشهور شول . له دغه ځایه بیا د تیراخوا ته لاړل او له هغه ځایه بیاد پیښور په هشت نگر (هشنغر) کی میشته شول . یوسفزیو په پنځلسمه عیسوی پیړی کی دوی له هغه ځایه وشړل او تر هغه وروسته سلطان اویس سواتی هغوی ته د سوات د سیمی په الاد ند کی ځای ورکړ . ددوی نه یی ځینی اوس هم له یوسفزیو سره ولیدل کیږی او ددوی همسایه (رعیت) دی خو شمیر یی دومره لږ دی چی با یسد مخ په ور کیدو وګڼل شی اودا هم زیاتوی چی شلمانی دافغانانو په پخوانیو تاریخونو کی دهګانان بلل شوی خو دا روایت صحیح نه دی . (۲) ځکه چی په پښتنی شجرو کی دوی سربنی پښتانه دی .

---

(۱) پښتانه ، لومړی ټوک - ۱۹۲ او ۱۸۱ مخونه .

(۲) حیات افغانی - ۶۷۳ مخ .

# شمل زی

غلجي پښتانه دي او د توخو يو ښاخ شمېر ل کيږي. ددوی زیات شمېر د نیمروز ولایت د کنګ په اولسوالي کې استوګنه لري چې شمېر یې د ۱۳۶۰ کال د احصائیې له مخې (۳۴۰۶) تنو ته رسیږي (۱) یو شمېر شمل زي د پکتیا ولایت د زرملي په اولسوالي کې هم استوګنه لري. په غزني کې هم زیات شمېر شملزي استوګنه لري.

# شیتك

د کرلاڼي په ټولنیز ګروپ کې د شیتکو قبیله ډېره مشهوره ده. ددغې قبیلې نه مقصد دوړ، بنوڅي او تني دي.

ویل کیږي چې ددغې قبیلې مشر نیکه شاه فرید نومیده چې وروسته په شیتك مشهور شو. د شیتك مور ککي نومېده. په لومړي سر کې دوی د شوال په غره کې اوسیدل چې اوس هم په دغه غره کې ددې خلکو د پخوا نۍ استوګنې ځای په ککي میله (۲) مشهور دی. ویل کیږي چې د شیتك د ښځې نوم بانو و او په دې وجه ددوی اولاده په ((بانوزو)) مشهوره شوه چې وروسته ددغه لفظ د استعمال په وجه بنوڅي شول (۳)

شیتك درې ښځې درلودلې د یوې ښځې اولاده یې تني او دوړ دي د دویمې میرمنې یعنې بانو اولاده یې کیوي او سوراني او د دریمې ښځې یې دوه زامن درلودل چې جیلم او هوید نومیدل چې ددوی اولاده ډېره لږه او په کیوي او سوراني کې شامله ده.

دوی په پیل کې د توچي د سیند په جنوب د غره په لمنه کې اوسیدل، خو د سلطان شهاب الدین غوري په زمانه کې شیتکو د بنو په اوسني سیمه باندې بریدونه پیل کړل

(۱) معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور - ۱۴ مخ.


(۲) میله = مینه یا مسکن (لیکوال).

(۳) پښتانه د تاریخ په رڼا کې - ۳۹۶ مخ.

په هغه زمانه کې په دغه سیمه کې دهني او منګل قومونه اوسېدل . ددې حملو په نتیجه کې دشیتک په اولاده کې د کیوي اوسوراني اولس حملې جارې وساتلې چې وروسته بیا منګل او هني له دغه ځایه وکوچېدل دهني د قبیلې لږ شمېر د هند خواته لاړل او یو شمېر یې د منګلو د قبیلو سره یو ځای د سپین غره په جنوب کې آباد شول . دهني او منګل د قبیلو تر وتلو وروسته دغې قبیلې دخپل پیر په لار ښودنه د بنو سیمه په خپل منځ کې په دې دول سره وویشله چې د میرۍ د مشر زوی کیوي اولادې ته یې سهیلي برخه چې اوس په میرۍ سره مشهوره ده د ککي تر ختیځو برخو پورې چې په هغه وخت کې زیاته آباده او ښه سیمه وه ور کړه او د کیوي د دویم زوی (سمي) ته یې ترنار پورې منځنۍ برخه ځمکه او د سوراني اولادې ته یې د کورمې درود شمال ته ـ ((تل)) پورې سیمې ور کړل شوې.

دا سیمه په هغه وخت کې خرابه او ځنګلي وه ، خو اوس ډېره ښه ځمکه ګڼله کېږي(۱) دشیتک د اولادې یعنې دوړو ، بنوڅیو او تنیوذ کړ په خپلو خپلو وردیو نو کې راغلي دي.

(۱) حیات افغاني ۷۲۲ـ ۷۲۳ مخونه.


شتک
لومړی میرمن
دویمه میرمن
دریمه میرمن
تنی
دوړ
کیوی
سوراني
جیلم یا ژیلم
هوید یا اود
مولی
ابراهیم
مبارکشاه
زیرکی
تپی
میرام شاه
ابراهیم خیل
حکیم
منه خیل
بلالی
قوری خیل
فیروزخیل
پیین خیل
کبیرخیل
اجی خیل
ظفرخیل
صحی خیل
رندی خیل
مروت خیل
تیغانی
اتمانخیل
مادی خیل
علی خیل
نصیخیل
قیلمت خیل
ایوبی
دولت خیل
زیرکی
محمدی
نصری
بی بکی
حسن خیل
کری خیل
سلیمانخیل
لنه
ممل خیل
بوبی
بی بکی
مریز
سخیل
حیدرخیل

# شیـــرانی

که چیری دنسب شجره وگوروونوځرګنده بهشي چې شیرانی دسړبن په ټولنیز ګروپ پوری یوه اړونده قبیله ده. شمال ته یې دوزیرو قبیله، لویدیځ ته یې ژوب اوډ منډوخیل وسیمه، جنوب ته یې دکاکړو قبیله او ختیځ ته یې هغه قبایل میشته دي چې په ډیره اسماعیل خان کې استو ګنه لري. (۱)

درواياتو له مخې شرخبون پنځه زامن درلودل یعنې شیرانی، ترین، میانه، بړیځ اواورمړ. ویل کیږي چې د شرخبون مشر ځوی وخوپلاردمشرۍ پګړی ترین ته په سر کړی وه(۲) له همدې کبله شیرانی دخپل پلاراوورو ونه خپه او یو پیغام یې کاکړ ته چې د ده مورنی نیکه و په دې شرحه واستاوه: چې زه دلته ډیر په تنګ شوی یم، راشه او ماله ځانه سره بوځه. کله چې کاکړ دا خبره واوریده دخپلو څو تنوزامنو سره د شرخبون کورته راغی او ورته یې وویل چې شیرانی پریږده چې زماسره لاړ شي. شرخبون په دې خبره راضي نه و کله چې شیرانی په تللو باندې ټینګار وکړنو په دغه وخت کې ترین په قهرشو او ورته یې وویل چې شیرانی پریږده چې د کاکړ سره لاړ شي کـه چیري هغه دلته نه وی نو ځه بهو شي. په پای کې کاکړ شیرانی له ځانه سره بوت او شیرانی هم ځمنه وکړه چې ده اودده اولادې ته دې هیڅکله سړینی نه ویل کیږي (۳) په همدې توګه د خپل مورنی نیکه یعنې کاکړو په کورنی کې شامل شو او په بشوا ویـدو کې دغوغښت د ټولنیزې دلی سره اړیکی لري.

دشیرانیو سیمه دګومل درې جنوب ته موقعیت لري. د ملیمان غرهم ددوی په سیمه کی پروت دی اودوزیرو په شان ددوی سیمه هم غرنۍ ده.

شیرانی په عمومي ډول په ونه منځنی، ډنګر، غښتلي، سخت سري اوفعاله دي. شیرانی اکثره د کرنی اومالداری په چارو بوخت دي. که څه هم د کروندی

(۱) اصلاح، ایجنسی ها وقبایل ایالت پښتونستان ۹۷ مخ .

(۲) پښتانه دتاریخ په رڼا کی ۱۲۷۷ مخ .

(۳) حیات افغانی ـ ۲۵۰ مخ.

ځمکې يې لېږي ،خو دوه فصله دي اوغنم ، اوربشې ، وريجې جوار اوتمباکو پکې کرل کيږي . همدا راز د دوی د غرونو لمنې په للمې د ول سره کرلې کيږي. دوی دغو اياناو سخونډرروز نه کوي او هغه شيرانۍ چې په غرونو کې استوگنه لري نو دوی د پسونو او وزو رمې هم ساتي .

دوی قبيلوي خصوصيات لري او دقوانينو تابع نه دي . ددوی سره د قبايلو په څير چلند کيږي دوی ددېره اسماعيل خان په ضلعه کې استوگنه لري .

دشيرانيو قبيله په دريو عمده خيلو نوو يشل شوې ده چې په لاندې ډول دي : اوبه خيل ، حسن خيل اوجوهرخيل . ددوی دشمير صحيح پته نشته. خو په ۱۹۶۱ ع کال کې دستوريانو او شيرانيو مجموعي شمير (۱۷۲۸۲) تنه ښودل شوی دی (۱)

## شينواري

شينواري دپښتنو يوه مشهوره قبيله ده چې د سړبن په تولنيز گروپ پورې اړه لري او دسپين غره په شمالي لمنو او دننگرهار په جنوب ختيځ کې ميشته دي . ددوی يوه برخه په لوارگي ، خوکورني بې د کوهاټ په ځنگلونو کې ، دکونړ په سره کمره ، دپروان ولايت په غوربند او کشمير کې هم استوگنه لري .

په «پښتانه دتاريخ په رڼا کې» دشينوارو په باب داسې راغلي دي : « لکه چې دشجرې څخه ، معلوميږي کاسيان په يو ولسو څانگو يشل شوي دي چې دشينوارو قبيله هم په دوی کې شامله ده . لکه چې دپټې خزانې د روايت نه معلوميږي دخرشبون په اولاده کې دکند او ځمند اولاده دغوړي مرغې نه د غزنۍ ، کابل او دپېښوردوادۍ په لورمهاجرت پيل کړ . نو په دغه وخت کې کاسيان بيرته د سليمان غره ته لاړل اوهلته ميشته شول . البته دکاسيانو يوې قبيلې (شينواري) د خانې خيلو سره مهاجرت وکړ او دخيبر په شمال اوجنوبي غرونو کې ميشته شول (۲)

---

(۱) اصلاع ، ايجنسي هاوقبايل ايالت پښتونستان ۹۷ مخ .

(۲) پښتانه دتاريخ په رڼا کې ۱۳۲۶-۱۳۲۷ مخونه.

دشینو اوشمال او یدیځ ته دخوګیانیو قبیله ، شمال ته یې دکا بلې سیندا او دمومندو قبیله ،ختیځ ته یې دپیورینډ کرښه ترلواړګې پورې امتداد اودا پر یدیو دقبیلې سره پوله لري اوجنوب خواته یې سپین غر موقعیت لري. د وی د هسکې مینې (ده بالا) ،مومنددرې ، نازیانو ، اچین او دوربا باپه اولسوالیو اود چپرهار په علاقه داري کې استوګنه لري.

دغه قبیله په لومړي سر کې په دوو پلارو ویشله کیږي چې یوه ته سه پای او بل ته عبدالرحیم خیل وایي. چې سه پای مشرورورا وعبدالرحیم خیل کشر وروردی. مشرورورپه خپل منځ کې اووه تپې دي : حسن خیل، حمزه خیل، لیاس- خیل، ریندادخیل ،حیدرخیل ، بابر خیل ،سلیمانخیل او کشرورور یې په دری تپرو یشل شوی دی اوهغه له علي شیرخیل ، عدل خیل اوسنګوخیلو څخه عبارت دي :

ددغو خیلونو داستوګنې ځایونه :

۱- حسن خیل: حسن خیل دهسکې مینې داولسوالۍ په اوغز، ګورګورۍ، پاپین ، شیخ میدان، باغي بند، شپوله او ګیزاره کې پراته دی. یوشمیرحسن خیل په غوښت دره کې هم استوګنه لري. ویل کیږي چې د حسین خیلوشمیر به (۱۶۰۰) تنه وي .

۲- حمزه خیل: دوی په خپل مینځ کې دوه تپې دي چې یوه احمد خیل او بله یې مغدود خیل دی. احمد خیل اکثره په ده بالا او لږشمیریې په تنګی ،شرمینې اولرواحمد خیلو کې اوسیږي. مغدود خیل په ګاګره ، ګجبه ، مریز، سنګوتا او راوګې کې استوګنه لري .

۳- لیاس خیل: لیاسخیل (الیاس خیل) اکثره په هسکې مینې، ګیزاره لږشمیر یې دهسکې مینې په تنګي او یوشمیرپه نري او بوکې اوسیږي اودجعفریانو په نامه څوکورنې یې بیادکوچیانو په دول ژوند کوي .

٤– ریندادخیل: دمامند په‌تنګی، باغ، اچین اوګـردی کی پـراتـه دی. دانبناخ په څلوروڅانګرویشل شوی‌دی اودپا خیلو، الیکه خیلو، بام خیلو اوخلیفه‌خیلوڅخـه عبارت دی .

٥– حیدرخیل: داتپه پـه خپل مینځ کی دو ه پلاره دی چی یوه تـه «نیمی‌در» اوبل ته «ممه خیل» وایی . ممه خیل په لندی، مورګی چینه، د اوبنی، اسدخیلو، تریلی، میدانك، سره کلا اوهجـوم کلی کی میشته دی.

٦– سلیمان خیل: پـه توتګی، وچکوټ اودکوشتل په کلیـوکی اوسیزی :

٧– بابـرخیل :دایوه کوچنی څانګه ده چی یـوشـمیریـی پـه صندق، بتن‌او چهل ګزی کی اوسیزی :

٨– علی شیرخیل :داد عبد الرحیم خیلویوه څانګه ده چی څه برخه یی پـه لوارګی اوڅه یـی پـه افغانستان کی میشته‌ده. دوی پـه اووتپو باندی‌ویشل‌شوی دی اوهغه له عیسی خیلو ، باخیلو، تـرخیلو، پیروخیلو، اش خیلو، خوګا خیلو اوشودن‌خیلـوڅخه عبارت دی.

٩– عدل خیل: داهم دعبدالرحیم خیلویوه پښه ده . داتپه پـه خیل مینځ کی دوه پلاره دی یعنی عثمان خیل اوکرګـوخیل .

سنګوخیل: سنګوخیل په‌دریوپلارینو باندی‌ویشل‌شوی‌دی: ګدوخیل، څلورپلاری اوغنی‌خیل. سنګوخیل دمندئی‌څخه ترغنی‌خیلوپوری دنازیانو په دروکی پراته‌دی.

له دی کبله، چی د شینواروبوه برخه‌دخیبردتاریخی دری په شـا اوخـواکی استوګنه لری نوځخیبریانوپه نامه سره‌هم یا دیزی چی اودکزی اواپریدی هـم په همدی نوم‌نوسره مشهوردی .

دتورخم اوشمشاد سیمی هم د علیشیرخیلوشینواروداستوګنی‌سیمی د ی .

دلوارګی شینواری‌په خپلوخیلونوکی ویش د حجری له مخی ترسره‌کوی چی اوس دهرخیل حجری‌په‌لاندی ډول دی :

خوګاخیل (۱۷۲) حجری، شیخ مل خیل ۶۸ حجری، اش خیل ۲۳ حجری، مختارخیل ۲۱ حجری اوغنی خیل ۳۵ حجری. دلوارګی شینواری اکثره د سوداګری په چاروبوخت دی اوهغه ترانسپور تی تجارتی لاری چی دکابل او پیښورترمینځ چلیږی دهمدی خلکو په لاس کی دی (۱).

د لوارګی شینواری د افغانستان د شینوارو سره ښی اړیکی لری.

د لوارګی دشینوارو شمال خواته شلمان شمال ختیځ ته بی ملا ګوری اوجنوب ختیځ ته یی اپریدی موقعیت لری. دلوارګی سیمه د تور خم نه دخیبر داپریدوتر سر حده شپږ میله اوږده اودری څلور میله پلنه ده:

شینواری په میلمه پالنه کی مشهوردی. ددوی حجری تل دمیلمنواومسا پرو پرمخ خلاصی وی. دحجروترڅنګ یی جوماتونه هم شته په دوی کی د جرګی سیستم ډیرقوی دی اواکثره خلک خپلی لانجی دقومی جرګوله لار د اواروی: دلوارګی شینواری اکثره خپلی جرګی په سپین جوماتکی چی دلوارګی ترمینځ دلو یی هدیری سره موقعیت لری جوړوی په شینوارو کی لکه د نورو پښتنی قبیلو په څیردننواتی دودهم ډیرقوی دی چی اوومرویی قبلوی اومنی یی.

په دوی کی دسولی کولودودهم دپخواپه شان په خپل حال پاتی دی چی (تیږه) یی بولی اواپریدی ورته (کانړی) وایی (۲).

همدارازدباجوړ په الینګار، چمرکند، څاوګی، شیخ با با اوسره کمره کی هم شینواری استوګنه لری:

دشیګل شینواری تقریباً دری سوه کاله پخوادڅیدوعواملوله کبله د سره کمره خواته تللی دی اودشیګل څمکه یی له نوروقومونوڅخه چی په هغه وخت کی کافران وونیولی وه. دشینوارورا تګ شیګل ته اودنوروقومونوڅخه دشیګل نیول دشیخ باباپه مشری چی اصلی نوم یی (ذکریا) دی ترسره شوی دی.

---

(۱) اضلاع، ایجنسی ها وقبایل ایالات پښتونستان ۵۷ مخ.

(۲) پښتانه کابل ۱۳۴۹-۲۸۰-۱۸۶ مخونه.

ددوی سره دشینګل په نیولو کی ماموندوهم ملګرتیاوکړه . شینواری دګافرانو دسخت مقاومت سره مخامخ شول په تیره بیاهغه وخت چی دکندروکلا محاصره شوه نوشیخ باباامروکړچی ټول شینواری دی دکلادسو څولوله پاره یوه یوه ګیډی لرګی راوړی نوموړی کلاوسوځل شوه اوشینواری بریالی شول چی وروسته شیخ باباد شینواروترمینځ شینګل وویشه چی په دی ویش کی ادرم خیلو (عبدالرحیم خیلو) ته کټه سید، امان کوټ ، ګربوړی، کندرو ، زبربت داګ، ملا علم کلی ، شینکی ، غرتنګی اوشنګرشاورسیدل.

سلیمانخیلوته چاکوړی ، شینګرګل ، نیم لاچی ، سیمه لام ، بنوډیت ، سورمل ، برګله یی اوماتینه ورسیدل (۱)

په لواړګی کی دعلیشیرخیلو ځانګی دادی : خوګاخیل ، شیخ مل خیل ، پسیرو خیل ، میردادخیل ، اش خیل ، مختارخیل ، غنی خیل ، پتمی خیل ، بسی خیل ، طالب خیل ، سیدخیل ، اشرف خیل ، طوطی خیل ، شوبی خیل ، بابی خیل ، شدانخیل ، مادورخیل ، میاخیل اوعالم خانی :

دننګرهار په ولایت کی دشینواروشمیر (۱۵۵۲۷) تنه ، دکونړ په ولایت کی (۵۰۰۰) تنه (۲) دلواړګی شینواری (۱۳۷۷۰) تنه اودسره کمره شینواری (۱۳۰۰۰) تنه ښودل شوی دی (۳)

## طوطاخیل

دانډړودقبیلی یوښاخ اودغلجیودټولنیزګروپ په ډله کی راځی. څرنګه چی ددوی اصلی ځای دغزنی په ولایت کی ونودوی دځینو هواملو له کبله څپل اصلی ټاټوبی. پری ایښی اواوس دپکتیا په ولایت کی استوګنه لری. دغه خلک په سیدکرم کی دګردیزیو ، منګلو ، ځاځیو ، محمدرانیواوداحمدزیوترمنځ

---

(۱) دپښتنو ټولنیز اقتصادی جوړښت ۲۸-۲۹- ۳۰ مخونه.

(۲) اصلاع ، ایجنسی ها وقبایل ایالات پښتو نستان ۵۷ - ۵۸ مخونه.

(۳) نوموړی اثر (۳۷) مخ.

ژوند کوی. دوی د کرنی ، مالداری اوسوداګری په چارو بوخت دی. دپکتیاولایت دطوطاخیلو شمیر په ۱۳۵٤ کال کی (۲۲۳٤۰) تنوته رسیده (۱)

## عبد الرحیم زی (ادریم زی)

دغه قبیله دغلجیو په تولنیز ګروپ کی شامله ده او داحمدزیو یوښاخ ګڼل کیږی. عبدالرحیم زی اکثره دننګرهار او لوګر په ځینو برخو کی استوګنه لری. یوشمیر عبدالرحیم زی دلغمان دولایت او ننګرهار ترمینځ دتورغره په لمن کی او سیږی چی دوی کوچیان دی (۲) همدار ازد لغمان دقرغیو په اولسوالی کی ددوی شمیر (۳۵۵۷) تنوته رسیږی.

ددغی قبیلی تول شمیر د(٦۲۲۰)تنو په شااوخوکی ښودل شوی دی. یو شمیر عبدالرحیم زی دننګرهار ولایت دکامی په اولسوالی اودکوزکونړ په اولسوالیو کی هم میشته دی (۳)

## علی خیل

که چیری دنسب شجره په غورسره وکتل شی نوجوته به شی چی سلیمان چی دهغه څخه دسلیمانخیلو قبیله رامنځ ته شوی د وهم وروړ علی نو میده چی دهغه او لاده په علی خیلو سره شهرت لری. دوی غلجی پښتانه دی. حیات افغانی دعلی خیلو په باب داسی لیکلی: «دزرمت سیمه چی پښتانه یی زرمله بولی نیمایی اوسیدونکی یی علی خیل دی. پاتی یی په مقراو نوروسیمو کی استوګنه لری. دعلی خیلو دمندوزی دښاخ یوه څانګه اسماعیل زی دی چی دوی وری څانګی یی پیدنخیل او چندنخیل دی چی ددری کوټی په نامه سره هم

(۱) معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور-۳ ٥ مخ.

(۲) دادر یم زیو کوچیانو سره دلیدنی او کتنی په ترڅ کی می دهغوی دځینو سپین ږیرو مشرانو څخه هم دومره معلومات راتول کړل. (لیکوال)

(۳) معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور-۱۱ مخ.

پادیزی چې دخوست په سیمه کې ددوی تقریباً خلور سوه کورنی میشته دی (۱).

پوزیات شمیر علی خیل دپکتیکادولایت په مرکز شرنه کې استوگنه لری چې ددوی شمیر د ۱۳۶۰ کال داحصائیې له مخې (۳۶۸٤۷) تنو په شا اوخوا کې ښو دل شوی دی.

دغزنی په ولایت کې علی خیل دغزنی په مرکز، دمقر په اولسوالی، دگیلان په علاقه داری، دقره باغ په اولسوالی اود آب بند په علاقه داری کې استوگنه لری چې په هغه ولایت کې ددوی شمیر (۳۲۸٤۸) تنه ښودل شوی دی.

لنډه داچې په ټول افغانستان کې ددوی شمیر د(۸۳۵٤۳) تنو په شااوخوا کې دی (۲) دپکتیاولایت دځاځیو په اولسوالی کې هم یوه ځانگه د علی خیلو په نامه پادیزی، مگر دغه علی خیل ځاځی دی.

## عمر خیل

عمرخیل هم دپښتنو دغلجی دټولنیزی دلی پوری یوه اړونده قبیله ده چې ددوی داستوگنی اصلی ځایونه دمیدان ولایت دنرخ علاقه داری اودلغمان ولایت دمرکز پوری مربوط دچهارد هی سیمه اوهمدارا زدکندز ولایت د علی آباد سیمه ده. همدار از یوشمیر عمرخیل د بلخ دولایت دشولگری په اولسوالی کې هم استوگنه لری.

عمرخیل اکثره د کرنی اومالداری په چارو بوخت دی، خوځرنگه چې ددوی دعلم او پوهی سره ز یاته مینه لری نو یوشمیر یې په دولتی ملازمتونو مصروف دی (۳)

دلغمان ولایت دمیشته عمرخیلو شمیر (۲۱۸۸) تنه ښودل شوی دی (٤)

---

(۱) حیات افغانی - ٤۱۰ مخ.

(۲) معلومات مختصر در باره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور - ۷-۷۳- ۷۷ او ۷۸ مخونه.

(۳) دعمرخیلو دسپین ږیرو اومشرانو سره دمغوی په باب تر لاسه شوی معلومات.

(٤) معلومات مختصر در باره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور - د۲٤ مخ څلورل.

## عیسی خیل

عیسی خیل غلجی پښتانه دی او ځانونه په سلیمانخیلو گڼوی. دوی باید د هغو عیسی خیلو سره اشتباه نه شی چی د نیازی داولادی څخه دی. عیسی خیل اکثره د کابل ولایت او یو شمیر یی په نورو ځایونو کی په متفرق او خواره واره ډول اوسیږی.

## عیسی خیل

دوی په اصل کی متوزی پښتانه دی او په لودی قبایلو پوری یوه اړونده قبیله ده. عیسی خیل په اصل کی د نیازی ابن لودی اولاده گڼله کیږی.
ویل کیږی چی په پیل کی د نیازی قبیله چی عیسی خیل یی یوه څانگه گڼله کیږی د شلگر په سیمه کی چی د غزنی له توابعو څخه دی میشته وو چی وروسته د اندړو او نورو غلجیو د غلبی له کبله د دغه ځایه څخه لیږدیدلو ته مجبور شول او د سلیمان دغره په ختیځو لمنو او تیانک کی میشته شو ل. دوی په هغه وخت کی د شمیر د لږ والی له کبله د غلجیو سره د مقابلی توا ن نه درلو د.
کله چی په (۱٤۵۰) عیسوی کال کی بهلول لودی د هندوستا ن واکمن شو نو د خپل قدرت د پیاوړتیا له پاره یی له افغانستان نه د خپلی قبیلی خلک او نور پښتا نه د نوکری او نورو پوځی دندو ترلاسه کولو له پآره راوغوښتل او په هند وستان کی یی د پښتنو د میشته کیدلو له پاره یو عا م فرمان جاری کړ. نو په د غه وخت کی د نیازیو له قبیلی نه هم اکثره خلک هندوستان ته و کوچیدل او په شاهی دربا رکی یی ملاز متو نه ترلاسه کړل چی د هغوی له جملی نه هیبت خان نیازی او عیسی خان نیازی چی اولاده یی په عیسی خیلو سره شهرت لری د سوری شیرشاه د واکمنی په وخت کی د خپل لیاقت او پوهی په سبب د امارت رتبی ته ورسیدل او دومره شهرت یی ترلاسه کړ چی هیبت خان د اعظم همایون خطاب ترلاسه کړ او د پنجاب صوبدار

شواوعیسی خان دشاهی دربارخاص مشاورو چی ددی وروسته د سلیم شاه سره په جګړه کی ووژل‌شواودوی دهندوستان نه د غی سیمی ته راستا نه شول (۱)

دعیسی‌خیلوسیمه داباسین په اوږد و کی‌تردیرشومیلوزیاته غزیدلی‌ده. سوریی دولس میله دی او په دریو خوا وو کی لوړوغرونو په غیږ کی نیولی‌ده . د دوی سیمه‌ډیره‌حاصلخیزه‌ده‌چی‌پریمانه‌اوبه اوګڼ شمیرنفوس لری او ډیرښه کښت پکی کیږی (۲)

کله چی عیسی خیلو د لو مړی ځل له پاره په دغه ځا ی کی خپله قبضه ټینګه کړه نودوی پرخپلوښاخونوبا ندی مقبوضه سیمه وویشله په دی ډول چی ممون خیلو ته یی یوبرخه، زکوخیلوته‌یی یوه برخه، اپوخیلوته یوه‌برخه‌او ښښیره‌ته یی یوه برخه ورکړه . ددوی نوری څانګی دا دی : شمشی خیل ، احمد خیل ، خضرخیل ، بهارخیل، بادین زی ، پرالی‌خیل، شیخ عمرخیل ،عثمان‌خیل ،عمرخیل، میرزا خیل‌او خا نی خیل(۳)

## غرشین

د غرشین قبیلی‌دسیمی‌دتسمیی دوجهی‌په باب داسی ویل‌کیږی‌چی‌د دوی نیکه یوډیر منلی‌اوخدای لمانځونکی‌انسان وچی‌د خپلی دعا په سبب یی یووچ غرشین کړ. حیات‌افغانی لیکی: څرنګه چی د پښتوپه ژبه کی‌دده نوم له دووکلمو(غر) او (شین) نه‌مرکب شوی دی‌نو دده‌او لاده هم د هغی په سبب په غرشینو باندی مشهورشوی دی .

غرشین اکثره د کندهارپه‌غرنیوسیمو کی میشته دی او دوی ته خلك په‌درنده سترګه‌ګوری . د غرشینو څوکورنی دراولپنډی د ضلعی د برهان د سیمی په غرشین نومی ځا ی کی استوګنه لری (٤)

(۱) حیات افغانی - ۸۷۹- ۸۸۰ مخونه.
(۱) د کابل سلطنت بیان دوهم‌توك ٤۷ مخ.
(۲) حیات افغانی ۷۸٤ مخ .
(۳) نوموړی‌اثر ۲۵۷ مخ .

# غرغښت

دپښتنو پـه قبایلوکی یوهم دغرغښت تـولنیز گـروپ دی چې په دغـه تولنیزگروپ پوری یوشمیر قبیلی ،څانگی اوخیلونه اړه لري. دوی دغـرغښتي پښتنو په نامه سره هم شهرت لري .داسري په پښتنو کی ډیر مشهورنیکه دی اوله پخوازمانوڅخه مورخانوددهٔنوم اوحال لیکلی دی. په پښتنی عنعنه کی همدا سړی یوخورالوی پښتون اومشهورنیکه گڼل کېږي . ددی عنعنې تصدیق په خارجی مؤرخینوکی ابوالفضل علامی (۱۰۰٦ ه ) داکبرمغولی پاچامؤرخ پهدی ډول سره کوی «په پښتنوکی دری وروڼه بیټنی ،غرغښت اوسړبن ډیرمشهورنیکونه دی»(۱)

دروا یاتوسره سمدی د۳۸۸ه کال پهشااوخواکی ژوندی و.

ده پښتواو پښتانه په سهیلی پښتو نخوا» نومی کتاب لیکوال د غـر غښتوپـه باب داسی عقیده لري : «غرغښت اصلاله دووتورو(کلمو) څخه مرکب دی چی غراوغښت دی اودغهٔ زړه آریایی کلمهٔ دگورگښت ، گرگښت ، غورگښت اوغرگښت څخه را وتلی ده چی معنی یی دغروگرځیدونکی یاپه بله ژبه د غ رواوسید ونـکی راځی اومـوږ غرغښتیان دغروال ، فرزندان کوه، زاده گان کوه او یاد غرزیږو په نومونوسـره هـم یادولای شو (۲)

درواياتو مطابق دغرغښت دری زامن درلود ل یعنی دانی ، بابی اومندو چی پهدوی کی ددانی داولادی شمیرزیات دی اوددانی پهاولاده کی دکاکړوقبیله د یره مهمه گڼله کیږی (۳) چیذکربهیی په خـپل ردیف کیشـو ی دی .

په غرغښتوکی نوری مشهوری څانگی دادی : ۱ـ پنی ۲ـ ناغر۳داوی ٤ـ گدون یاجدون. دغرغښتو یوشمیردراولپنډی دضلعی پهچهچهه اوهم د هزاره پـه سیمو کی میشته دی لـکه چی په چهچهه کی یوهسیمه دغرغښتی په نامهسره یادیږی.(٤)


(۱) آئین اکبری لومړی ټوك ۱۹۱ مخ .

(۲) پښتو اوپښتانه پهسهیلی پښتونخوا کی ـ ۳۷مخ.

(۳) پښتانه دتاریخ پهرڼا کی ـ ۱۱٦٤ـ ۱۳۲۷ مخونه .

(٤)حیاتافغانی۳۷۹مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غلجي

دپښتنو دقبیلو په لړ کې یوهم د غلجي قبیله ده چې دبي بې متوله نسله څخه ده چې دبیټ نیکه لوروه چې غرزۍ، غلجي اوغلزۍ یې هم بولي. دانوم یې له شکه د(غرزی)او(کوهزاد)په معنادی څکه چې په افغانستان کې د سړیو اوځایونو دزیاتو نو مونوریښې دپښتو د«غر» د کلمې څخه راوتلي دي اوحتی دغور، غرچه، غرج غلج اوخلج دتولو کلمو ویښسې له دې کلمې څخه راولاړې شوې دي چې په منځنۍ آسیا کې دځایونو او قبیلو له پاره استعمالیږي.

بارتولد وايي: «دغرج، غرچ یاغورش کلمه یوه پخوانۍ آریایي کلمه ده چې تراوسه په منځنۍ آسیا کې دخلج په نامه اود مرغاب په تاپوکي دآریائیانو استو-گنځی ته ویل کیږي (۱) » خوتوماشلك عقیده لري چې: «دګر ( Gar ) یعنی غر کلمه لوغوني باکتری کلمه ده او ( غرچه) داموړو لوړی خواته دغزني ولایت د آریايي اوسیدونکو نوم دی او له دې جهته غرچه، خلج ، خلج او غرچ دغره زوی یا غرزی دی او دکوهزاد په معنی گنهل کیږي. دغه کلمه اوس هم په پښتو کې دغره په معنی ژوندی اومسلطه ده. داو ستاپه (هوم یشت) کې ګیری راغلي چې په خرده اوستا کې هم لیدل کیږي او په سنسکریټ کې هم ګیر او ګیری د غره په معناده. حتی عربانو دپخوانی ګرشاه لقب (ملك الجبال) چې دتعریب په اصولو جرشاه دی (تاریخ طبرستان ۵۶ ـ ۸۳ مخونه) په پښتو کې غرڅه، غرڅني د (کوهی ـ غرني) په معنی دی چې د غرچه ، غلچه او غلجي نوم هم له هغه ځایه راوتلی دی

عربي جغرافیالیکوونکو هم دې ټکي ته اشاره کړې ده چې غر دجبل په معنی د غرشستان اوغرجستان په تاریخي نومونو کې دخیل و. یاقوت دالبشاري په حواله وايي چې: غرج اصلاً دغره په معنی دی اوخراساني مور خانوچې داکلمې دخپلو هیواد والو څخه اوریدلي دی هم دغرجستان نوم په اصلي شکل «غرستان» لیکلی

(۱) قدرت الله حداد « غرزی ، غلجي او خلجي دتاریخ پوها نوله نظره »، دکابل مجله ۳ گڼه ۱۸ جلد ۱ ٤ مخ .(۱۳۳۸ کال .

دی چی دغرستان څخه عبارت دغره اوسیدونکی دی . منهاج سراج جوزجانی چی زموږ ده یوادد مورخینو څخه وزیاتره دغربو دغرجستان او غرشستان پر ځای غرستان لیکلی او دطبقات ناصری په زړو نسخو کی څو واره غرستان لیدل کیږی .

په هر صورت غلجی یا غلزی یو پخوانی نوم دی چی معنی یی دغره زوی دی او دافغانی غلجیانو لومړی نیکه په همدی نامه یاد یده . ده دری زامن درلودل او دزامنو نومونه یی هم آریایی زړو نوموته ورته والی لری چی هغه توران ، تولر او بولر دی اوموږ پوهیږو چی «تور» له هغو پخوانیو اریایی نومونو څخه دی چی په اوستاکی راغلی دی اودانوم تر اوسه پوری هم په پښتنو کی په مختلفو صورتو (تور- توراني – تورك – توری) سره رواج لری.همدارازبولر یا بلور یو زوړ نوم دی چی دگلگته څخه نیولی دنورستان دسیمو پوری خلکو باندی اطلا قیده او دبارتولد په قول تر اوسه هم دهغه ځای ځینی تورپوښه قبایل ځانونه «بلور» بولی او دا کلمه تر (۱۸ ع) پیړی پوری په چینی کتابونو کی لیدله کیږی . په هر صورت دغلجی ، توران ، تولر او بولر کلمی او نومونه ټول پر دی باندی دلالت کوی چی دوی پخوانی آریایی ریښی لری او داثابتوی چی افغانی غلجیان هم دآریایی نژاد سره تینګه اړه لری .

غلجی اولودی قبایل په متوزیو سره هم شهرت لری .


متوزی په دووڅانګو ویشل شوی دی : غلجی او لودی .

دغلجیو دقبیلی ویش : — درو ایاتو مطابق ددوی لوی نیکه غلجی وچی دغه قبیله په لومړی سر کی په دوو ښاخونو باندی ویشل شوی ده چی لومړی توران اودویم ابرا هیم .

څرنګه چی توران د غلجی مشرزوی ؤنو ځکه دغه ښاخ لومړی درجه ګڼل کیږی . دتوران ښاخ په دووڅانګو باندی ویشل شوی دی لومړی هوتك دویم توخی چی دغه دواړه څانګی وروسته بیا په نورو ډیرو شعبو او څانګو باندی ویشل شوی دی (۱)

(۱) حیات افغانی ، ۲۶۸ مخ

ابراهیم دوه زامن درلودل چې دهغه د شپږو لمسیانو نه شپږ لوی ښاخونه رامینځ ته شوی دی چې دابراهیم غلجیو په نامه سره یادیږي په دی ډول چې سلیمانخیل، علي خیل او اکاخیل چې دا دری واړه ښاخونه مجموعاً دخپل نیکه (ایزب) په نوم بلل کیږي. څلورم سهاك، پنځم اندړ، شپږم تره کی چې له دوی نه وروسته نوری ډیری څانگی هم رامنځ ته شوی دی .




(۱)

---

(۱) پښتانه د تاریخ په رڼا کی ۱۳۳۳ مخ .

# غوریاخیل

ددغی قبیلی خلك هم ځانونه سړبني پښتانه بولي اوویل کیږي چې د سړبن دزوی خرشبون له اولادې څخه دي . څرنګه چې ددوی لوی نیکه غری یا غوریا نومیدنوله دی کېله ددوی نسل ته غوریاخیل هم وایی. په تاریخ حیات افغانی کی کښل شوی دی چې: «غوریا څلور زامن درلودل ۱- دولت یار: چې دهغه له اولادې څخه دمومند واوداود زیودوه ښاخونه مینځ ته راغلی دی.
۲- خلیل ۳- څمکنی ٤- زیړان .

د پښتنو دتاریخ مؤلف قاضي عطاالله خان لیکي: مومند، خلیل اوداودزو ته غوریا-خیل وایی . تقریباً د ۱٤٥۰ ع کال په خوا اوشاکی دوی دغزنی لوید یځ ته دترنك سیند په خواکی اوسیدل. بابر په خپل تزك کی د دی قبیلی داوسیدو دځای ذکر د(مشد) اوسمګانه کلیو په خوا وشاکی کوی د څیړنونه وروسته معلومیږي چې داکلی دغزنی جنوب ته واقع دی . هرکله چې بابر دغلجیو دملك دتقسیم له پاره په ۱۵۰۷ ع کال کی غزنی ته روان شو اودسرده په مقام باندی کوزشو (سرده ۲۵ یا ۳۰ میله دغزنی نه سویل ته موقعیت لري) نوبابر وایی چې ماته خبر وشو چې دمومندو لویی اویی قبیلی په مشد او سمګانه کی پرتی دی امیرانوماته وویل چې ددوی اوت کول په کاردی ، مګر بابر وایی چې ما ورته وویل چې موږ خپل رعیت ته نقصان رسول مناسب نه ګڼو.

څرنګه چې ددغی قبیلی په شمیر کی زیاتوالی راغی نودوی دغزنی نه کابل اودکابل څخه دننګرهار خوانه راوخوځیدل اودننګرهار نه یې دخیبر په لاره پیښور ته کوچ وکړ اودلازاکوله قبیلی سره یې چې لادمخه یې پرپیښور باندی قبضه

ټینګ کړی وه د سلطان پوری په سیمه کی چی خلک یی جنګړه پوری هم بولی مخامخ او د دوی تر مینځ سخته جګړه پیښه شوه او دیو روایت له مخی میرزا کامران په دی غرض چی د هما یون په مقابله کی د طاقتوره قبیله د خان سره ملګری کړی په دغه جګړه کی یی له دغی قبیلی سره مرسته وکړه چی په نتیجه کی دلازاکو ماتی وخوړه څینی د جنګ په ډګر کی ووژل شول او څینی یی هم د هزارخانی په ویاله کی ډوب شول که څه هم دغه ویاله په معمولی ډول دومره او به نه در لودی چی څوک دی ډوب کړای شی، خود دغی ویالی په پور تنی برخی کی دو مره زیات باران اوریدلی وچی دلازاک یی ډوب کړل. تردغی صوبی وروسته تو موړی سیمه د مومندو، داودزیو او خلیلو لاس ته ورغله او د پیښور پراخه، اواره او میدانی سیمه یی ونیوله او دلازاک د لنډی سین څخه پوری وتل او دلنګرکوټ په میره او نورو ځایونو کی میشته شول بیا وروسته هغه وخت چی د یوسفزیو مشر خان ـ کجو و نود دغی قبیلی او یوسفزیو تر مینځ د شیخ تپور په سیمه کی ډیره سخته جګړه وشوه او غور یا خیلو ته ډیر زیات نور سید په تیره بیا د خلیلو د ښاخ نه چی خلک یی ډیر جنګیالی وو زیات شمیر کسان ووژل شول، خود ماتی سره سره یوسفزیو د دی جرئت و نه کړ چی د دوی مقبوضه سیمی و نیسی. د دغی قبیلی ملک یا خان ته په پیښور کی غوریا خیل ارباب وایی خو د هغوی د واک تر مینځ تو پیر شته، د دغی قبیلی په څینو ځایونو کی ملک د ډیر زیات واک څښتن دی خو په څینی ځایونو کی یی اختیار لږ وی.

داخبره هم د یاد و لوور ده چی د غور یا خیلو د لیږد په وخت کی یو شمیر په غزنی، لوګر، کابل او ننګرهار کی پاتی شول چی تر اوسه هم په دغو سیمو کی استو ګنه لری.

## قاضی خیل

دوی سړبنی پښتانه دی او د مندړو دامازی په ښاخ پوری اړه لری. د مامازی ځانګه د یوسفزیو د سیمی په سد هوم او د مقام درو د پرغاړه او لږ شمیر یی د مهابڼ د غره

(۱) حیات افغانی ۳٤٤ ـ ۳٤٥ـ۳٤٦ مخونه .

په شمالي خنډه کښي میشته دي. په دوی کې قاضي غلام قادر خان (چې په قاضي قادرو) سره مشهور و او ددهٔ زامن قاضي سعدالله، قاضي فضل قادر او قاضي نصرالله دانګریزي سرکار ښه خدمتګاران وو (۱)

## قلندرخیل

دوی غلجي پښتانه دي او د سلیمان خیلو د لوی ټبر یو ښاخ ګڼل کیږي قلندر خیل په کټواز کې استوګنه لري چې ټو دي د یرش میله د غزني په سهیل کې پراته دي (۲)

د کټواز شمال ته دا ندر و سیمه، جنوب ته یې ارګون، ختیځ ته یې ګردیز او زرمت او لویدیز ته یې د غزني لویه ناوه پرته ده.

د کټواز د مځکو لسمه برخه په کاریز و اوبه کیږي او پاتې مځکه یې د دښت او مال څر په شکل ده چې په دې وروستیو کلونو کې ځینې تجارانو او هغو کسانو چې په هند کې یې پیسې بندې کړې دي د کټواز د ځمکو یوه برخه دژور و څاه ګانو او والړ پمپو نو په لګولو سره تر کرنې لاندې نیولې ده او د داد ور حاصل ځینې اخلي. مهم حاصلات یې غنم، جوار او پالیز ونه دي (۳)

## قوال خیل

لکه څرنګه چې د یو سفز یو، ګڅیا نیو او تر کلانیو په بحثونو کې راغلي دي هغه وقت چې خاښي خیل او غوریا خیل په تیره بیا د یو سفز یو قبیله د کندهار د شاا و خوا سیمو څخه د کابل خواته و کو چیدل نو په هغه وخت کې چې کله کابل ته راغلل نو مغولي سلطان ابو سعید په کابل حکومت کاوه او به دغه وخت کې د خاښي خیلو او ی مشر ملک سلیمان شاه بن ملک تاج الدین بن ملک رځر و. تر هغه وخته وروسته کله چې مرزا الغ بیګ پاچاشو سلیمان شاه خپله لور مرزا الغ بیګ ته ورکړه. تر هغه وروسته د یو سفز یو او میرزا الغ بیګ ترمینځ مخالفتونه رامینځ

---

(۱) حیات افغانی ـ ۶۷۸ مخ.

(۲) د کابل سلطنت بیان دو همټوک ـ ۱۳۶ مخ.

(۳) دغزني تاریخي جغرافیا ـ ۱۶۰-۱۶۱ مخونه.

تهشول . مرزاالغ بیگ‌هم دیو سفز یوپر خلاف بانی لتولی هو چی یوه‌ورځ یی
دیو سفز یو نهه سوه‌تنه مشران میلمانه کړل او په دی توګه یی غوښتل چی دوی له
منځه یوسی چی په پای کی یی همدا سی وکړل . کله چی یی دوی دمیلمستیا له پاره
وغوښتل نو دخپلو کسانو په واسطه یی دوی بی وسلی (خلع سلاح ) کړل. ددغو بندیا-
نو په جمله کی یو قدوة المکا شفین شیخ عثمان بن موتی مولیزی چی دهغه وخت
دلو یوولیا نو څخه شمیرل کیده او دیوسفز یو اولس هغه ته دیره عقیده او ارادت
درلود هم شامل و. په هغه وخت کی چی مرزا الغ بیگ دغه اشخاص بندیان کړی
وو نو دیوسفزیو یو تن نامتو شیخ او درویش (تورقوال) چی دیوسفز یو دمولیزی
دښاخ څخه و کندهار ته دسیاحت له پاره تللی وهغه هم په دغه وخت کی درباره ته
راننوت. په دغه وخت کی شیخ عثمان غږ کړ چی:((وګوری هغه دی تورقوال
هم راغی په دی واقعه کی راسره شریک شو))

په اوسنی وخت کی هم دیو سفز یو دمولیزی په څانګه کی یوه دله شته چی په
همدی د(تورقوال ) او اولاده او دقوال خیلو په نامه سره یادیږی (۱)
یو شمیر قوال خیل دلغمان دولایت دقوال خیلو په کلی کی هم استوګنه لری.

## کاسی

که چیری دنسب شجره وګورو نو څرګندیږی چی کاسیان د سړبن په
تولنیز ګروپ کی شمیرل کیږی. کاسیان په یوولسو څانګو ویشل شوی دی
چی دشینو او رو قبیله هم په دوی کی شامله ده. ویل کیږی چی دسړبن زوی څرشبون
څوری زامن درلود ل چی عبارت وو له (کند ، زمند او کاسی څخه). پښتانه دتاریخ
په رڼا کی دکاسیانو په هکله وایی: « د پټی خزانی د روایت نه معلومیږی
چی دڅرشبون په اولادکی دکند او ځمند اولاده دغوری مرغی نه دغزنی ، کابل او
دپیښور دوادی په لور مهاجرت غوره کړ ، نو په دغه وخت کی کاسیان بیرته

(۱) تواریخ حافظ رحمت خانی ۲۴ مخ.

دسلیمان غره ته لاړل او هلته میشته شول، البته ددوی یوی قبیلی (شینواړو) دخانبې خیال وسره مهاجرت وکړ اودخیبر په غرنیو سیمو کی میشته شول چی تر اوسه پوری هم هماغلته میشته دی (۱)

## کاکړ

کاکړ دغرغښت په ټولنیز گروپ کی یوه ستره قبیله ده. دځینو روایاتو مطابق ددغی قبیلی لوی نیکه کاك نومید چی یو زاهد او نیك انسان و اوداسی وبل کیږی چی کاك نیکه دغیاث الدین غوری دواکمنی په وخت کی وفات شو او مزار یی دهرات دجامع جومات په دروازه کی دی.

ددوی اصلی او پخوانی ټاټوبی په پخوانیو زړو کتابونو کی دکاکړستان په نامه یاد شوی دی او تر اوسه پوری زموږ خلك دژوب اوبوری تار یخی ناوی دکاکړستان په نامه یادوی .

په تاریخ حیات افغانی کی راغلی دی: «دکاکړو دسیمی شمال ته دغلجیو دسیمی جنوبی څنډی موقعیت لری . شمال لویدیځ ته یی دار غستان سیمه اوهم دټوبی هغه برخه موقعیت لری چی اڅکزی درانیان پکی اوسی، لویدیځ اوسهیل ته یی دبلوچستان سیمه دسپینو تر ینو دعلاقی یوه برخه اودسلیمان دغره یوه لړی موقعیت لری. ددوی ټوله سیمه تقریباً دسلو میلو په اندازه ده چی ټوله غرنی اودغرونو په واسطه احاطه شوی ده اوتر ټولو څخه لوی غر یی له شمال څخه جنوب خواته غزیدلی دی. که چیری ددغه غره دلویدیځی خوانه څوك شمالی خوانه راشی نولوړی به دسیونا داغ سیمی ته راورسیږی چی یو لوړاوسوړ میدان دی چی یو ازی دمالونو څرولو له پاره مناسب گڼل کیږی، خو لویدیځ ته یی دیری لویی وادی گانی چی د غرونو په مینځ کی موقعیت لری

(۱) پښتانه دتاریخ په رڼاکی - ۱۳۲۷ مخ.

شنه چې دهغوله‌جملې نه دتوری‌مرغه، برشور، ترین، توگی او هنه وادی گانی دیری‌مشهوری دی (۱)

اروابناد استاد عبدالروف بینوا په خپل مشهوراثر پښتونستان کی د کاکرو سیمی‌داسی معرفی کوی:

۱- دبرشوردره : چې د«اوری» له چینی څخه راشروع شوی ده بیادپښین ترعلاقی پوری پرته ده شمال ته یې د توبې دحد سره نښتی ده او په دی علاقه کی دکاکرو«تره غری» او«سنتیا» ټبرې اوسیږی.

۲- دکنچوغی دره : دایوه تنگه دره ده‌چی دکنډ دغره لمرلویدیز خوا ته واقع او تخمیناً دیرش میله‌اوږده او ښه آباده ده. په دی‌علاقه کی دکاکرو دسنتیا تپه میشته ده اوددی علاقی خان په «ورگس» کی او سیږی.

۳- دهنه دره : د«شال» دعلاقی سره لگیدلې ده. د اعلا قه داعلیحضرت احمد شاه بابا له خوادقلات نصیرخان ته دده دخد متونو په بدل کی ورکړل شوی وه.

۴- دبوری‌سیمه : دبوری‌علاقه‌ښه‌پراخه اوزرخیزه ده‌یوروردهم پکی ښه‌ږی او څو کاریزونه هم‌لری په‌دی علا قه‌کی دکاکرودولس طایفی‌اوسیږی .

توره مرغه، ترین‌اوتوگی یې‌هم مشهور دی.» (۱)

دکاکرو دځینو ښاخو نوتفصیل په‌لاندی‌دول دی :

۱- سنځرخیل ۲- سنتیا ۳- تره غری‌چی اوس به‌هریو ښاخ په‌لاندی توگه وپیژنو:

۱- سنځرخیل: ـدروایاتومطابق سنځر نیکه یوتورزن‌مشراومنلی روحانی شخصیت‌وچی د مغولوپرخلاف‌یې اوږدی مبارزی کری‌دی. ویل کیږی چی دده مزارپه‌کوسه (*) کی دی او‌دیر شمیر خلک‌دده‌مزاوته ورځی.

---

(۱) حیات افغانی ۲۳۴ مخ.

(*)کوسه دکاکرستان‌دژوب په سیمه‌کی موقعیت‌لری(لیکوال)

پروفیسر سیال کاکړ دسنځرخیلو کاکړو په باب په خپل کتاب (پښتو او پښتانه په سهیلي پښتونخوا) کې لیکي:

«د کاکړو نوابي او سرداري له پخوا څخه د سنځرخیلو په لاس کې. ده دوی دشمیر په لحاظ د کاکړو تر بلې هر ټبر زیات دی (۱)»

دسنځرخیلو ښاخ په لاندنیو څانګو ویشل شوی دی:

۱- علي زی ۲- عبدالله زی ۳- کب زی ۴- برن خیل ۵- سنخیل ۶- هرمزئی ۷- تیمني ۸- عرب خیل ۹- پښېزون ۱۰- نیسی ۱۱- کدېزی ۱۲- دومړان.

۲- سنتیا: داهم د کاکړو یو ښاخ دی. د روایاتو له مخې دوی د سنت نیکه او لاده دی د تاریخ په اوږدو کې سنتیا کاکړو توري وهلي او تاریخي رجال یې پیدا کړي دي په کاکړو کې دشمیر په لحاظ له سنځرخیلو څخه وروسته د سنتیا کاکړو شمیر زیات دی. هیبت خان کاکړ چې دخان جهان لودي دلوري دسمانا حاکم و اودمخزن افغاني په تالیف کې لویه برخه لري د سنتیا کاکړو څخه و.

دوی په هندوباغ، کان مهترزی، کچلاغ، هنه، سره غورګی، سره خوله، نوحصار، غبرګ غوځکی، خانوزی، بلوزی، رود ملازی، مستنګ او په ځینو نورو ځایونو کې میشته دي (۲)

دسنتیا ښاخ په لاندې خیلونو ویشل شوی دی:

۱- پانېزی ۲- مهترزی ۳- بازیان ۴- سارینګ زی ۵- شموزی ۶- ملازی او عیسی خیل.

۳- تره غري: تره غري هم د کاکړو یو مشهور ښاخ دی چې زیات شمیر نفوس لري تره غري په دریو څانګو ویشل شوي یعنې احمدخیل، سلیمان خیل او بارکزی.

موسی خیل:

د کاکړو دغه ښاخ د کاکړستان دبوري د تاریخي ناوې په موسی خېل تحصیل

---

(۱) پښتو او پښتانه په سهیلي پښتونخوا کې ۶۵ مخ.

(۲) پښتو او پښتانه په سهیلي پښتونخوا کې (۷۷-۷۸) مخونه.

کي آباددي . په کندهار، زابل، سیوۍ اوغزني په ولایت کې له پخوا څخه موسی خیل کاکړاستوګنه لري :

دغزني دولایت دشلګرپه اولسوالي کې تراوسه پورې هم موسی خیل کاکړ آباد دي .

کسایي :

کسايي دکاکړوښاخ دی چې دشال په دره کې آباداومیشته دی ، خواحمدشاه ابدالي دادره دبلوڅومشرنصیرخان ته دهغه دخدمتونو په بدل کې ورکړې وه او اوس دغه دره دبلوچستان یوه برخه ګڼل کیږي (۱)

هندوستاني کاکړ :

په( پښتنو) کې بسه داسې یوه لویه قبیله یاښاخ نه وي چې او لاده یې په هندوستان کې ونه لیدل شي ، خو په هغوی کې ځینې داسې خلک هم شته چې دخپلي وراندینۍ قبیلي داوسیدوله ځای نه خبرنه دي اودوروړوګلوی ار یکې خو په مطلق ډول په کې نشته . په همدې ډول دکاکړواکثره دلي دهندوستان په ځینو ضلعو کې میشته اوځمکوخاوندان دي لکه چې درهتک د ضلعې په کوها نه نومي ځای کې دتفرق ابن کاکرداولادې دعلي خیلوله ښاخ څخه دابوسعید زی ښا نګه اونور کاکړ آباددي اوشمیرېې دحیات افغاني له مخې تقریباً (۳۰۰۰) درې زرو تنو ته رسیږي . داسې روایت هم شته چې دسلطان ابراهیم لودي دواکمنۍ په و خت کې عبدالمالي (*) ابوسعیدزی کاکړدخپلودریوورونوسره هندو ستان ته لاړ او په کوهانه کې میشته شو. دسلطان ابراهیم لودي ترمړینې وروسته عبدالمالي بیرته خپل اصلي استوګنځي یعنې بوری ته راستون شو ،خودهغه وروردنورو کاکړو سره هلته میشته شو (۲)

---

(۱) دپښتنو تاریخ لومړی توک - ۲۸ مخ .

(*) فاضل استاد پوهاند عبدالشکور رشادپه لودي پښتنا نه نومي اثر کې دده نوم عبد العلي ښو دلی دی. (لیکوال)

(۲) حیات افغاني ۳۷۹ مخ .

دبلندشهر په ضلعه کی دپښتنو (۹۶) سیمی شته چی دهغوله جمله نه د ولس ځایونه مشهوردی او په هغه ځایونو کی هم پښتانه کاکړ او سیږی په تیره بیا ددوی زیات شمیر دخورجه په سیمه کی ژوند کوی. په غالب گومان د بلند شهر په ضلعه کی ددوی شمیرله څلور زرو کسانو نه اړنه دی. ددی نه پرته نور پښتانه هم دلته ډیردی اوداسی اوریدل کیږی چی په بنگال او دکن کی هم د کاکړو دقبیلی څو کورنی شته او په نورو ضلعو کی هم کاکړ لیدل کیږی. هندوستانی کاکړ په فزیکی جوړښت: دود اود ستورکی په هیڅ دول د افغانستان له کاکړو سره ورته والی نه لری (۱)

## ددغی قبیلی داستوگنی ځایونه:

د کاکړو قبیله په پښین، سیوی، مستنگ، کندهار، هرات، اوروزگان، ارغنداو، هلمند، زابل، غزنی، کوهدامن، معروف، کرز، پنجوایی، افغانی ترکستان، ننگرهار، لغمان، پیښور، اشنغر، باجوړ، سوات، مردان، هزاره ایبټ آباد، شکارپور، بنگله دیش، ایران او دهند په اکثرو ځایونو کی میشته دی (۲)

## د کاکړو دود اود ستور:

د کاکړو په څیر لویه قبیله کی دیوه واحد دستور او دود شته والی ناممکن دی په تیره بیا دکاکړو قبیله لکه څرنگه چی، د نسب په شجره کی لیدل کیږی په دیرو ښاخونو باندی ویشل شوی ده او بیا له دغو ښاخونو څخه نوری وړی څانگی راوتلی دی او بیا د کاکړو په لویه سیمه کی خواره واره شوی دی نو څکه د دوی دود او دستور او رواجونه سره توپیر لری.

د کاکړو هغه ښه چی دبورشور په سیمه کی استوگنه لری رواجونه او دودونه یی د دوی همسایه قبیلی ترین ته ورته والی لری اود پاتی لوید یځو کاکړو پوښاک او دود اود ستور اڅکزیو د رانیوته نژدی والی لری او هغه شخړی او لانجی چی

---

(۱) حیات افغانی ۲۷۹ مخ.

(۲) پښتو او پښتانه په سهیلی پښتو نخوا کی ۵۶ مخ.

د دوی ترمینځ پیښې شي دکلیو د ملکانو او سپین ږیرو په مرسته او سلا مشوره بې فیصله کوي، خو په ختیځو کاکړو کې بولږ څه بې انتظامي موجود ده. د بورۍ او سپېړو نکې عرب خیل عموماً په خپلو مینځو کې جنګونه او شخړې کوي که څه هم ځینې وختونه سپین ږیري او منصفان د شخړو داوارو لوله پاره هڅې او تلاشونه کوي، خو عموماً دغه شخړې د تورې په زور فیصله کیږي.

## کسبونه

د کاکړو د قبیلې خلک عموماً په دوو کسبونو یعنې کرنې او مالدارۍ بوخت دي، خو خرنګه چې د کرنې ځمکې د دغه بې شمېره قبیلې د ګوزارې له پاره کافي نه دي نو دوی په خپلو کسبونو کې زیار کښنه دي د غرونو په منځ کې دپروونده کاکړو کېږدۍ او د پسونو د پېرۍ رمې تر سترګو کیږي. بو شمیر خلک یې په دولتي دوایرو کې هم کار کوي.

ختیځ کاکړ زیاتره د میږو او وزو او لږ شمیر د غوایانو رمې هم ساتي، خو او یدیځ کاکړ او ښان هم ساتي. دوی په سوداګرۍ هم بوخت دي خو دخپلې سیمې نه بهر ته لږ تګ او راتګ کوي.

## پیداوار

د کاکړو په سیمه کې غنم، جوار، اوربشې، تماکو، مرچ او زیره کرل کیږي همدا راز د دوی په سیمه کې بادام، انګور، زردالو، مڼې، انځر، انار، توت، او آلوچې پیدا کیږي.

همدا راز د دوی په سیمه کې پیاز، شلغم، مولۍ، ګازرې، نورې، بینډۍ، کدو، بانجان او پالک هم په پریمانه اندازه کرل کیږي.

## پوښاک

د کاکړستان سیمه په کلتوري لحاظ ډیره بډایه او د پښتونخواد ډیرو سیمو نه په تهذیبي ډګر کې وړاندې ده. د دوی کراستې، کمبلې، پوستینچې او د چکن جامې ډیر شهرت لري.

دوی دلمځی دوله تورکرانو څخه د برښـه کومی جوړوی . و یـل کیـږی چی ابدالی احمدشاه دځپلی واکمنی په وخت کی یوه ورځ د توبی په غره کی په ښکار کولو بوخت واوهلته یی د کوسی پـوښو کاکړوڅخه ددغی جامی د نامه پوښتـنه وکړه دوی ورته وویـل چی داکوسی دی، خواحمد شاه بابا وویـل چی په دغی جامی باندی بایدد (راحت جامی) نوم کیښودل شی (۱)

اوس ددوی د نارینـه وو پوښاك نورو پښتنوته ورته والی لـری .

## کرلاڼی

د پښتـنی قبایلوپه لړکی یوهم دکرلاڼی تولنیز گروپ دی چی په بیـلو بیلو ښاخونـو ویشل شوی دی . دکرلاڼیو دپلرونواو نیکو نو په باب ډیر مختلف او بیل بیل افسانوی روایات موجود دی د مثا ل په ـه توگه دلا زاك چـی د کرلاڼی پښتنو یوقوی ښاخ دی عقیده څرگندوی چی د کرلا ڼ پلارسید قاف نومیدچی په اتم پښت کی حضرت امام حسین (رض) ته وررسیږی .

د ختټکو قبیله دکرلاڼی پلارهونی بولی اوشینکك عقیده لری چی کرلاڼی دکوم شهزاده زوی و . همدا رازدخوگیا نیوښاخ عقیده څر گندوی چی دی د عبدا لـه اورمړ زوی دی. دکرلاڼی داولادی نه ځینی خلك وایی هغه وخت چی کرلاڼ نومی (۲) ماشوم نوی دنیاته راغی نوپه هغه ځای کی لښکر یو ه شپه تم شوی او بیا له هغه ځا یه تللی و. دغه ماشوم داوسپنی تر یوی کړا یی لا ندی و او بیاد عبداله نو می لـه خوا چی داورمړود قبیلی څخه وو موندل شو نو ځکه د کړا یی د نوم له کبله دکر لا ڼی نوم پری کیښودل شواو دداسی پیښی را منځ ته کیدل د امکان نه لیری خبره نه ده . حیات افغانـی لیـکی چی: دپښتو پـه یوه پخوانـی کتاب کـی لیـکل شوی دی چی دغه هلـکك په لویدیځ ا فغا نستا ن کـی په ژمنی کلـی ( قشلاق )کـی پیدا شوی واوعبداله اورمړ د نارینه اولاد د نشتوالـی له کـبله کرلاڼ په زویتوب ومانه او

---

(۱) حیات افغانی - ۳۶۶ مخ .

(۲) نوموړی اثر - ۴۵۵- ۴۵۶ مخونه .

دهغه روژنه‌اوپالنه‌یـی وکړه چـی وروسته یـی دوه زامن دنیاته‌راغلل چی په یوه باندې یې کودې او په‌بل‌یې کـکې نومونه کیښودل (*) .

خودغه ټول‌دافسانوي روایتونو نه‌پرته‌بل څه‌نه‌دي. اروا ښادپوهاندعبدالحی - حبیبي «دافغانستان‌لنډتاریخ کې لیکي: « په‌پښتني‌نسب‌نامه‌کـی دکرلاڼ یاکرلاڼي په‌نامه‌یوه بله څانـګه‌هـم‌شته‌چی‌دوی له‌هغودریونوروڅانـګو(غرغښت، بیټنی‌او سړه‌بن) سره‌خپلوي لري او سوچه پښتانـه دي (۱) . »

لنډه داچي کرلاڼي پښتنو پـه تاریخ کې مهمـه برخه اخیستې ده که څه هم د لودیانو دسلطنت په‌زمانه‌کـې په هندوستانـی پښتنو کی کرلاڼي‌قبیله غیرمعروفه وه ولـی دسوري کورنـی دواکمنی په‌وخت کـی دغـی‌قبیلـی‌دپرشهرت وموند اوددې شهرت باعث د دې قبیلـې یودوه نومیالـی غړي تاج خان او سلیمان خان وو چـی دجمال خان کرلاڼي زامن وو.

دپښتنوپه تاریـخ کـی په‌لومړي ځل دتاج خان‌اوسلیمان‌خان‌نومونه‌دشـیر شاه دجرنیلانوپه توګه دقنوج په جنګـ کـی‌لیدل لـی شو داجنـګ شیرشاه د مغولـی پاچا همایون پرخلاف ګټلی و(۲)

دکرلاڼي ټولنیزګروپ پـه لاندې نـیو قبیلـو ویشل شوي دي چی نومونه‌یې دادي: دلازاك ،اورکزي ،منګل ، هنی ،وردك ، اپریدي ،ختك ،ځدراڼ ،اتمانخیل ، خوګیاڼي ، پربه ، عبدالرحمن یادرمـان ،څاځي، تـوري ، وزیـر ، مسید ، لالی یالیلی وز یر ، ګوربز ، دوړ ، تڼي ، بنوڅي ، بنګښ ، مقبل ،سبري ، مند وزي ، اسماعیل‌خیل ،زمـوخت ( زمښت )او نـور .


دکرلاڼي په ټولنیزګروپ پورې د بیلوبیلوقبیلو ذکر به پـه مفصله توګه وشي اوپه ضمن کې به ددوي دنسب شجري هم پـه پوره ډول وکښل شي .

---

(*) زمـاپه‌عقیده کرلاڼي پښتانه هغه پښتانه‌دي چی دکرکیلي اوکرنی په‌چار و بوخت دي او له همدې کبله دکرلاڼي کلمه دکراوکرڼي سره اړخ لګولی شي . ( لیکـوال )

(۱) پوهاند عبدالحی حبیبي ، دافغانستان لنډ تاریخ - ۱۸۴مخ.

(۲) پښتانه دتاریخ په رڼاکی - ٦٤٠ مخ.


کرلان
کودی
ککی
لوړی میرمن
دویمه میرمن
دلازاک
اورکزی
موسی زی
منګل
وردګ
علی زی
متوزی
دولت زی
اسمعیل زی
لشکرزی
موسو خیل
جانی خیل
یعقوب خیل
کمال خیل
حسن خیل
احمد خیل
عمر خیل
یحیی زی
شموزی
علیشیرزی
ملموزی
امازی
یاسین خیل
مانی زی
ابلخیل
میراحمد خیل
عبدالعزیز خیل
سید خیل
احمد خیل
سادزی
حاجی خیل
میر خیل
شموزی

# کروخیل

د غلجیو احمدزیو یوه څانګه ده چې اکثره یې کابل په شا اوخوا ورد کابل، خاك جبار، چکری او دبت خاك په شا اوخوا کې ترسرو بې پوری میشته دی.

د کروخیلو قبیله په پنځو خیلو نوو یشله شوې ده او هغه دادي:

۱ـ عنایت خیل ۲ـ عبداله خیل ۳ـ دوران خیل ٤ـ شریف خیل ٥ ـ ولی خیل .

عنایت خیل چې د کروخیلو اکثریت او دمشرزوی اولاده او دشمیرزیاتوالی له کبله په پنځو کوچنیو څانګو یا خیلونو باندې ویشل شوی د چې عبارت دی له: فتح خیل، وحمن خیل، دلور کورنی، دطلب کورنۍ اونذیر کورنی چې اکثریت یې د خاك جبار په علاقه داری کې استوګنه لری او یو شمیر په لوګر، کندز او تخار کې اوسیږی.

همدا راز شریف خیل هم په دوو خیلونو ویشل شوی دی چې فقیر خیل او ګودر خیل نومیږی. دنورو خیلونو په بوخه کې زه پوره معلومات نه لرم که چیری امکانات پیدا شول نوزه به پوره معلومات ترلاسه کړم او لوستونکوته به زیاته رڼا پری واچوم.

کروخیلو دامیر شیرعلی خان له زمانی څخه دمخه په نیمه کوچې دول ژوند کاوه او ځمکې یې نه لرلی. په هغه وخت کې جبار خیل په هغه ځمکه او سیدل چې نن ورځ یې خاك جبار بولی همداغه وچې د کروخیلو او جبارخیلو ترمنځ چې هغه هم غلجي پښتانه دی د ځمکو له کبله اختلافات رامنځ ته شول. ددغو اختلافاتو خبر امیرشیرعلی خان ته ورسید. هغه د کروخیلو او جبارخیلو مشران چې سعدالدین کروخیل او عصمت الله خان جبارخیل هم پکې شامل وو وروغوښتل چې ددوی ترمینځ سوله وکړی چې دموګلی په نتیجه کې دواړخواوو دامیردا امرومانه چې دخاك جبار ځمکې کروخیلوته ورکړل شي او په بدل کې یې دننګرهار ولایت په جوکان او حصارك کې جبارخیلوته ځمکې ورکړل شی چې همداسی وشول. څرنګه چې کروخیلو په خپل مینځ کې ډیر یووالی درلودنو دامیرشیرعلی خان مقصد داوچې په خاك جبار کې دانګریزی بنکیلاکګرو په مقابل کې یو دفاعی کرښه تشکیل کړی او د انګریزانو په تګ ولو کې نما له برخه

واخلي چې همداسې هم وشول . کړوخيلو دانګريزي استعمارسره زياتي جګړي کړي دي او د کابل په بالاحصاروکي د کيوناري په وژلوکي يې هم ستره ونډه اخيستي ده. په کړوخيلوکي مشرتوب تل د عنايت خيلو د ښاخ د فتح خيلو په څانګي پوري مربوط وچي په دوو وروستيوپيړيوکي ددوي مشران داوو :

علي مدد کړوخيل، د هغه زوي سعدالدين کړوخيل د هغه زوي محمدرحيم کړوخيل له هغه وروسته د سعدالدين کړوخيل دوهم زوي محمد شاه کړوخيل (چي په محمد شاه خان غازي ) هم مشهور و بيا د محمد رحيم زوي بيرګ‌ډ عمرا خان کړوخيل، د محمد شاه زوي کرنيل ميرداد خان کړوخيل اوله هغه وروسته د محمد رحيم خان دلمسيانواوميرداد خان دزامنوپه لاس کي و.

د اميرعبدالرحمن‌خان په وخت کي کړوخيل‌تبعيداوفرارشول ځکه چي هغوي اميرعبدالرحمن خان ته بيعت ونه کړ. دوي د دو توي سيمي ته چي په تيرا ه کي موقعيت لري لاړل .دوي داميرعبدالرحمن‌خان د پوځ‌سره په ميرزکه‌اوشينواروکي هم جنګيد لي خو د ماتي سره مخامخ شوي د ي . هغه وخت‌چي اميرحبيب-الله‌خان‌دخپل‌پلارترمړيني‌وروسته په کابل کي د چارووا ګي ترلاسه کړې‌دوي ته يي فرمانونه وليږل او دوي بيرته خپلي اصلي ځايونوته راستانه شول چي نوموړي فرمان تراوسه پوري هم موجود دي .

کړوخيل اوس د کرهني په چاروبوخت دي اوبوشميريي دولتي ملازمتونه هم سرته رسوي . دوي ډيرزړه ور اوجنګيا لي خلک د ي .

کله‌چي‌دانګريزانوله خوا پرافغانستان‌باندي‌دري‌واري‌يرغلونه‌وشول‌نوکړو - خيلوورته غابس ما تـوونکي ځواب ورکړ چي په خاک جبارکي يي ښه مثالونه موجوددي اوآثاريي پاتي دي.

دلته بايد يادونه‌وشي چي‌ددغي‌قبيلي‌مشران‌په‌نوموړو يادوشوو جګړوکي داوو : په لومړي‌جګړه کي سعدالدين کړوخيل‌چي په‌سادو کړوخيل‌مشهورو‌په‌دوهم‌ځل‌جګړه کي د سعدالدين کړوخيل زامنو(محمدشاه‌خان‌غازي‌اومحمدرحيم‌خان کړوخيل)

چې د محمد شاه خان غازي په نامه یوه بدله هم ویل شوې وه چې بدله په لاندې دول ده :

کوز له لندنه ګورکیان راغله
په پښتونخواکې یې حملې کړي
محمد شاه خان غازي ورماتې رسا لې کړي
د ګړوخیلو په ځوانانو یې ناري کړي
غازي محمدشاه خان

ورونه وراپاڅي په وطن یې ستړګې سرې کړي
نو بیا پرې ځوانانو د توپکو سرې لمبې کړي
محمدشاه خان غازي چې الله اکبر ناري کړي
دبا جوړ راوبه یې بیا په ویښو سري کړي
غازي محمدشاه خان

په هغه ورځ باندې یې ورګډې رسالې کړي
له سینه پورې یې خیمې دوداولمبې کړي
له انګریزانو نه یې میمې راستنې کړي
له پرنګیانو سره یې نرمې بیا پنجې کړي
غازي محمد شاه خان

د پرنګیانو په چوڼیو یې حملې کړي
نو یې ورتښې بیا تو بري کړي
د مشهد یو د کلداروی یې ولجې کړي
د بابوګانو خیتې یې خیرې په نیزې کړي
غازي محمدشاه خان

دباجوړ له سینه یې پورې چې حملې کړي
د پرنګیانو یې پلتنې ورستنې کړي
د ښنوزمریانو یې سواتیانو ننداري کړي

دګور کیانو په خیموبی ولولی کړی

غازی محمدشاه خان (۱)

## کسایی

کسایی دکاکړو یو ښاخ دی چی دښال په دره کی آباد او میشته دی ، خو احمدشاه ابدالی دادره د بلوڅو مشر نصیرخان ته دهغه دخدمتونو په بدل کی ورکړی وه او اوس دغه دره دبلوچستان یوه برخه ګڼله کیږی (۲)

## کوتـــی

دوی پـه اصل کی سیدان دی، خو اوس پـه وصلی توګه له بیټنیو سره یوځای شوی دی . ویل کیږی چـی دبیټ نیکه لمسی دورسپون زوی ابراهیم یود سیدزوی پـه زوی توب ونیواوهغه ، یی لوی کړچی د غه ماشوم کوتـی نومیده چی د کوتـی ښاخ هـم دده پـه نوم نومول شوی دی . هغه دابراهیم داصلی زوی دوتانی څخه نیمه برخه واخیسته نوځکه دبیټنی پـه قبیله کی وشمیرل شو. اوس هم دده اولادی تـه سیدان وایی اودبنوپـه ضلعه کی یوه سیمه د (کوتی سادات) په نامه بلل کیږی چی هلته دده نسل استوګنه لری اوددوی ښځی ، وجود اونورفزیکی جوړښت دبیټنی له نورو ښاخونو سره توپیر لری (۳)

## کـــورم خیل

دوی هـم غلجی پښتانـه دی او ځانو نـه پـه سلیمانـخیلو ورګډ وی . ددوی زیات شمیر دننګرهـاردولایت پـه مرکزدجلا ل آبـاد پـه ښار کـی استوګنه لری او شمیر یی پـه نومو ړی ولایت کی د ۱۳۶۰ کال احصائیی له مخی د(۲۴۴۰) تنو په شاا و خوا کی ښودل شوی دی (٤)

---

(۱) د کړو خیلو په باب معلومات می دمحترمی نوشیروان کړو خیل څخه تر لا سه کړ ل. (لیکوال)

(۲) دپښتنو تاریخ لومړی ټوک -۲۸ مخ .

(۳) حیات افغانی ۳۸۸ مخ.

(٤) معلومات مختصر در باره اقوام و قبایل و لا یات سرحدی کشور .۲۹مخ.

## گــاړي

پـه اصـل کې غلجي پښتانـه دي . يو شميريې د ننګرهـار پـه ولايت کـې او يوشميريې دبغلان ولايت پـه شاالوخواکليو کـې استوګـنه لـري .

ګاړي دننګرهـار پـه ولايت کې دحصارك غلجايي پـه اولسوالي کـې استوګنه لري پـه نوموړي اولسوالي کې ددوی شميرد(۱۹۸۰) تنو پـه شااوخواکې ښودل شوی دی . دبغلان ولايت دګاړو دشمير باب مې صحيح معلومات ترلاسه نـه شول. کراي پاتې ګاړي پـه خواره واره ډول استوګنه لـري .

## ګبــــري

دوی پـه اصل کې ترکلاني پښتانـه دي اودسالارزيو يوښاخ شمير ل کـيږي خود دوی پـه باب جلا جلا نظريې هـم موجودي دي . دځينو پـه نظرکله چې په ښپارسمې پيړی کې ترکلانيو دباجوړسيمه ونيوله دباجوړ پـه ګبرنـومې ځای ګبر ياکافران اوسيدل (۱) څه وخت چې ترکلانيو دګبرسيمه ونيوله دګبراو سيد نکې پې مسلمانان کړل چې اوسنی ګبري دګبرداوسيدونکواولاده داود ځينو په نظرڅه وخت چې ترکانو دګبرسيمه ونيوله دګبراوسيدونکي کافران دباجوړ شمال دانګام اونور دروته وتښتيدل نو په ګبرکې کافران پاتې نه شول . د باجوړ دځمکو دو يش پـه وخت کې دسالارزويوه خيل تـه دګبرسيمه په ويش کې ورسيد له چې دوخت پـه تيريد وسره دغه خيل دسيمې پـه ارتباط دګبر يو په نامه سره شهرت پيدا کړ ددوی پـه نظر ګبري پـه ختـه سالارزي دي امادځای پـه ارتباط ورتـه ګبري ويل کيږي.

ګبري دسالارزوسره يوځای دانګام تـه راغلي دي او د سالارزوسره يوځای اوسيږي او اکثريت يې خپلې ځمکې لري .

سالارزي هـم ددوی تـه دسيا ل پـه نظرګـوري همـد ارازد لغمـان ولايت دالينګار پـه دره کې ددغه ولايت مرکز تـه نژ ی هـم يو کلی دګبريـو پـه نامـه شته چې ممکن دوی هـم تر لا ني واوسي :

---

(۱) دپښتنو ترلنيز ، اقتصادی جوړښت (۲۲۹) مخ .

# ګګیاڼي

دوی سړبني پښتانه دي او د اقبیله د خپلې مور په نامه په ګګیاڼي مشهوره ده. د روایاتو مطابق د شیخ او مرجاني دوه زامن وو. یو یې مند نومید چې اولاده یې یوسفزي او منـدړ دي. د بل نوم یې ملک ؤ. ملک یوه لور درلوده چې ګاګي نومیده او د زیرکي په نامه یوه تن ورسره واده کړی و. دده اولاده اوس په ګګیاڼیو سره شهرت لري. د ملک د زامنو اولاده د بره نه شوه او هغه هم په ګګیاڼیو کې ورګډ یږي. په موجوده وخت کې ګګیاڼي د پېښور د ضلعې په دوآبه کې میشته دي د دوی ملـک تمځکـه دوآبه وایي چې د دووسیندونو ترمینځ واقع دي. د ګګیاڼیو لومړنی استو ګنځی غوړه مرغۍ وه. دوی د خوارلسمې عیسوی پېړۍ په پیل کې کابل ته مهاجرت وکړ او په هغه وخت مرزا الغ بیګ د کابل حکمران و.

مرزا الغ بیګ په پیل کې د بناخې خیلو په قبیلې دیر مهربان و، خو په پای کې د ګګیاڼیو او یوسفزیو ترمینځ یې بې اتفاقي را چوله او وروسته یې د ګګیاڼیو او خپل پوځ په ذریعه په دوی حمله وکړه او له دوی څخه یې ډیر کسان ووژل. یوسفزیو هم د مرزا الغ بیګ او ګګیا ڼیو سره په جګړې لاس پورې کړ چې په نتیجه کې مرزا الغ بیګ سخته ماتې وخوړه مرزاالغ بیګ د سولې نه پرته بله چاره و نه لیده یوه ورځ یې د یوسفزیو څخه د پاسه (۸۰۰) اته سوه تنه مشران په داسې حال کې چې ټول یې بې وسلې کړي وو میلمانه کړل او د یوه تن ګګیاڼي چنګانو مې په مشوره یې ټول و وژل چې ددغو ملکا نو ترو ژل کیدو. وروسته پاتې یوسفزي او خښکي د کابل او شا او خوا نه په ډیر بې وزلې حالت سره وشړل شول.

لږ موده وروسته ګګیاڼیو چې د یوسفزیو په مقابل کې یې د مرزا الغ بیګ مرسته کړې وه د مرزا الغ بیګ له لاسه د کابل نه په وتلو مجبور شول او هغوی هم ننګرهار ته راغلل.

کله چې د تیمورډ کورنۍ طاقت مخ په زوال شو نو پښتنو تر پخوا ډیر اقتدار موندلی و. ددې په نتیجه کې غوریاخیل هم ددوی دلاسه په مهاجرت مجبور شول او مخ په شمال په خاښي خیلو پسې رارووان شول. ددوی نه وړاندې د ننګرهار په علاقه کې ګګیاڼي او مهمنزي آباد شوي وو. دغوریاخیلو په راتلو سره ګګیاڼیو د خپل ځان له پاره د نوی علاقې د پیدا کولو هلې ځلې پیل کړې. ترکلاڼیو په دغو ورځو کې خپله یوه دله د حالاتو د معلوملو په غرض باجوړ ته ولېږله. ګګیاڼیو هم ددوی په سیالۍ کې خپل مهمني اشخاص ولېږل، خود ترکاڼو له لاسه یې ماتې وموندله او بېرته راستانه شول. کله چې د باجوړ نه یې لاس لنډ شو نو د مهمنزو په سلا او مشوره یې خپل سپین زیري او مشران یوسفزو ته په ننواتي ورولېږل او د ملک احمد نه یې د استوګنې لپاره مځکه وغوښته. ملک احمد چې د خاښي خیلو تر مینځ یې اتحاد غوره باله نو ددوی ننواتې یې ومنله او دوی ته یې ددوی د استوګنې له پاره د دوآبې مځکه ورکړه

ګګیاڼیو ته چې د استوګنې له پاره ځمکه په لاس ورغله نو دوی دلې دلې او ټپې ټپې د کړپې له لارې دوآبې ته راغلل او هلته مېشته شول. کله چې ګګیاڼي په دوآبه کې مېشته شول نو د دلازاکو سره یې داسې ناوړه سلوک غوره کړ چې ملک احمد هم پرې خپه شو او ددوی له مرستې نه یې لاس واخیست. همدا وچې ددې نه وروسته د دلازاکو او ګګیاڼیو تر مینځ د ګل بېلې په مقام چې د داودزو په علاقه کې یو کلی دی جګړه وشوه چې په دې جګړه کې ګګیاڼي د دلازاکو له خوا مات شول. د ګګیاڼیو د غه ماتې ملک احمد بیا قبایلي اتحاد ته تمایل کړ او هغه د دلازاکو سره قطعي فیصله کول غوره وګڼل دوې وجه داوه چې د دلازاکو له دلاسه د یوسفزي هم په تنګ وو. همدا وچې ټول یوسفزي مندړ، ګګیاڼي، مهمنزي، اتمانخېل او ګدانه په یو سلا او مشوره یو لښکر مرتب کړ او د دوارو قبیلو تر مینځ د کاټلنګ او شاه بازګړي تر مینځ جګړه وشوه. داخون درویزه په قول په دې جګړه کې اتمان خېلو ډېره مېړانه ښکاره کړه او دلازاکو ماتې وخوړه او اوس ګګیاڼي د پېښور په ضلعه د دوآبې په ځمکه کې مېشته دي. (۱)

(۱) پښتانه د تاریخ په رڼا کې ـ ۳۲۳ مخ.

# گندا پور

دگنداپور دموُرث اعلی (لوی نیکه) نوم ستوری یاستوریانی دی چی دوی په اصلی توګه سرین په ټولنیز ګروپ کی شامل دی. ستوری یاستور یانی پنځه زامن درلودل چی نومونه یی دادی : شیخی، مریړی، تری (ګندا پور)، امرا او هم هرچی په دوی کی دامرا اولاده دپلار په نامه په ستوریانی سره مشهوره ده اودپاتی څلورو وړو اولاده په ګنداپور سره شهرت لری . (۱)

ګنداپور په پیل کی پوونده اوکوچیان وو په ژمی کی به د امان ته راتلل او په دوبی کی به بیا افغانستان ته تلل .

ویل کیږی چی په پیل کی دستوری ټول ښا خونه دلویدیځ افغانستان په ستریانی (ځاه) نومی ځای کی چی دکند هار نه اووه منزله شمال ختیځ ته پروت و استوګنه درلوده اودستوری له ټولو زامنو دجملی نه تری (ګنداپور) ښایسته و په هغه باندی دشیرانی دقبیلی دمشریوه پیغله لورمینه شوه دهغه لوردخپل موراو پلاردله خوښی نه پرته دګنداپورکورته ورغله . کله چی ګنداپور، ددغی نجلی ښاایست ولیدنو ځان ته یی دهغی دنکاح کولونیت وکړ، خو دګنداپور پلارستوری اودهغه نوروورو نو دی ددغه کارڅخه منع کړ اوله ګندا پور نه خپه شول اودهغه سره بی له خبروا و ند ـ دیوالی څخه ډډه وکړه له دی کبله ګنداپور په ستوریانی (ځاه) کی دخپلو وروڼو اود پلارنه مرور او په تردی نومی ځای کی چی دستوریانی (ځاه) نه دوه لندمزلونه واټن لری استوګنه غوره کړه اوپلار یی هغه ته د ګنداپور یعنی د (خراب زوی) لقب ورکړ اودا دګنداپور دتسمیی وجه ده چی دتری په ځای ورته استعما لیږی. لنډه دا چی ګندا پور په تردی نومی ځای کی استو ګنه غوره کړه. دی د کرنی په چارو بوخت او کاریزونه یی جوړ کړل . ګندا پور دخپلی هغه میر منی نه چی په مین توب سره یی واده کړی وه دد ریو زا منو خاوند شو چی ابراهیم، حسین او عمران

---

(۱) پښتانه دتاریخ په رڼا کی ـ ۳۹۷ مخ .

نومیدل اوځلورم اولاد یې یوه لور وه چې ( خوبې ) نومیده او د بلې میرمنې نه یې د یعقوب په نامه ځلورم زوی جهان ته راغی . گنداپو په تردې کې مړشو او تر هغه وروسته د هغه زوی ابرا هیم د گنداپور یانو مشر وتا کل شو . کله چې د شیخی، امرا اومریري اولادې دگنداپوردنسل اوشتو زیاتوالی او پرمختګ ولیدنو په ستور یانې (شاه) کې یې خپله استوګنه پریښوده او په تردې کې دگنداپور یانو سره یو ځای میشته شول چې تر دې وروسته دوی په گته اوتاوان کې سره شریک شول (۱)

د شاه جهان په زمانه کې د مرو تواود ولت خیلو تر مینځ یوه جګړه وشوه چې مروت پکې غالب اودولت خیل دتانک نه په وتلومجبورشول . ددولت خیلولوی خان خان زمان دګنداپور نه د مرستې غوښتنه وکړه او مروت یې دخپلې سیمې نه وشړل . د فتحې نه وروسته د خان زمان په غو ښتنه گنداپوریان دروهړي په سیمه کې استوګن شول . دګنداپورشمال ته دولت خیل، جنوب ته یې میاخیل، لویدیځ ته یې د سلیمان غر او لمرخا نه ته یې دیره اسماعیل خان موقعیت لري.(۲)

د دوی مشهور خیلو ګانې دادي: ابراهیم زی، حسن زی ، موسی زی ، یعقوب زی ، راني زی، خوبې زی اودرې پلاره .

د دوی داستو ګنې سیمې دادي:

۱ـ کلاچی : چې د گنداپور یانو دمشربارا خان په وخت کې آبادشوې دی.

۲ـ ټکواره: دعمران زیوګنداپوریانو دآزادخان دخانی په وخت کې آبادهشوی ده.

۳ـ لونی : چې دسلیمان دغره په ختیځولمنو کې دلونې دویالې په غاړه موقعیت لري اوداغرنی ویاله دګنداپوریانودسیمې دځمکو دخړوبولو پاره ډیره ګټوره ده.

---

(۱) حیات افغانی ـ۶۱۵ـ۶۱۶ مخونه .

(۲) پښتانه دتاریخ په رڼا کې ۱۳۹۸ مخ .

٤ـ مدی: چې ددیره اسماعیل‌خان‌دلارې په پورتنۍ برخه کې موقعیت‌لري.
٥ـ روهړي.
٦ـ کوټ ظفر.

کسبونه یې: ګنداپوریان په عمومي ډول په سوداګرۍ او دکرنې په چارو بوخت دي. دوی په خپلو کسبو نو کې ډیر زیات زیار کښلی دی. دګنداپوریانو سوداګران په ژمي کې هندوستان او په دوبي کې لویدیځ افغانستان ته تنګ او راتنګ کوي. غوره حاصلات یې غنم، جوار، اوربشي او باجره دي. (۱)

## ګوربز

که چیرې دنسب شجره په غوره سره وګورو نوتري څرګندیږي چې ګوربز هم دکرلاڼي پښتنو په توانیزګروپ کې شامل دي او د وزیرو یو ښاخ شمیرل کیږي. ویل کیږي چې دوزیرود قبیلې لوی نیکه وزیر دسلیمان زوی دوه زامن درلودل چې لالی او خدری نومیدل. خدری چې دوزیر مشر زوی وو دده زامنو خاوند وچې ترټولو نه یې کوچنی زوی مبارك نومیده چې بیادمبارك زوی ګوربزواو دهغه اولاده په ګوربزو سره مشهوره ده.

که څه هم ګوربزدوزیرودقبیلې یوښاخ دی، خواوس دسیمې اورواجونو له کبله داسې سره جلاشوي دي چې ددوی ذکر دپاتې وزیرونه په جلاډول سره کیږي. په پیل کې ګوربز د مسعودو (مسیدو) و زیرو سره یو ځای ددوی د غره په شمالي برخه کې میشته وو لکه چې د شکتو په دره اودبابر و په غره کې تراوسه پورې هم ځینې پخواني سپین ږیري وزیر دګوربزو دوخت داو بودو یالوا وکوډو نو نښې نښاني ښيي. تقریباً د دوه سوه کلونو څخه زیاته موده تیره شوې ده چې دغه خلك له دغه ځای نه خارج شوي او د تللو سیمو یې د اسبودل شوي دي

(۱) حیات افغاني ــ ٦٢٤ــ ٦٢٥ــ ٦٢٦ مخونه.

چې د ګبر په غره کې لومړی د بیټنیو دوړ ګاړی ښاخ استوګنه درلوده . وروسته بیا ګوربزو پر دوی یرغل وکړ او د ګبر غربي تري ونیو . تر هغه وروسته لکه چې د بیټنیو په حال کې لیکل شوي دي د بیټنیو د کجین ښاخ پر دوی یرغل وکړ او تر سختو جګړو وروسته د ګوربزو قبیلې ماتې وخوړه او د ګبر غربیا د بیټنیو لاس ته ورغی او څرنګه چې ګوربز په جګړو کې کمزوري شوي وو نو له دې کبله د وزیرو د سیمې په لویدیځ او شمالي څنډو کې د خوست د سیمې د جنوب ختیځ او د دوړو د سیمې په شمالي لویدیځ غرنیو سیمو کې میشته شول. د دوی په دغه غرني سیمه کې دژمي په دوو میاشتو کې واوره اوري .

ګوربز ډیر غریب ، خو جنګیالي خلک دي. د ګوربزو پوښاک او دود او دستور اکثره د خوست د سیمې د نورو اوسیدونکو قبیلو په شان دي. خو د دوی فزیکي جوړښت، بڼې، څیرې او رنګونه د وزیرو په شان دي. ګوربز د نورو وزیرو سره په ګټه او تاوان کې شریک نه دي، خو هغوی خپل ورو ښه ګڼي. دوی پخوا د وزیرو په نرخ باندې عمل کاوه، خو اوس نوموړی نرخ د دوی له خوا نه عملي کیږي (۱)

په حیات افغاني کې د دوی د وسله والو کسانو شمیر (۱۰۰۰) تنه ښودل شوی دی . د دوی عموماً د کرنې او مالدارۍ په چارو بوخت دي، خو ځیني یې د سوداګرۍ کارونه هم کوي.

د دوی شمیر د (۱۱۰۰۰) تنو په شاوخوا کې ښودل شوی دی او په اوسني وخت کې د (زودین او نصرالدین) په دوو ټپوو ویشل شوي دي(۲)

خوراک یې :

ګوربز اکثره د جوارو، غنمو، زدنو، کرتو، شیدو، مستو، کوچو او پیروي څخه استفاده کوي، خو د خلکو عمومي خوراک یې جوار دي چې د میزان د میاشتې نه د جوزا تر میاشتې پورې یې خوراک دوام کوي.

---

(۱) حیات افغاني ـ ۴۱۴ـ۴۱۵ مخونه .

(۲) معلومات مختصر درباره اقوام و قبایل ولایات سرحدی کشور ـ ۶۹ مخ.

## میوی یی :

دگوربزو په سیمه کی متلک (چارمغز) ، مڼی ، زرد آلو ، انگور ، آلوچی ، توتان ، گورگوری ، ورگی اوممانی ډیری پیدا کیږی چی ددغو میوو څخه یی ځینی تازه او ځینی یی په وچ ډول مصرفیږی .


## جامی یی :

دگوربزو د نارینه وو جامی د پښتنو وزیرو په شان دی ، خو د ښځو جامی یی د نورو پښتنو سیمو د جامو نه ډیر توپیر لری . د ښځو کمیسونه یی عموماً د (۱۰) متره و نه نیولی تر (۲۰) مترو پوری گنډ وی . همدارازدوی سره ، سپین او تورتیکری هم په سر وی . همدارازدوی ښځی د مزرو څپلی په پښو کوی .

## لاسی صنعت :

دوی د مزرونه ښکلی توکری گانی (شکرونه) ، پړی ، څپلی ، ترنگر ، دکټ بوڼ او دخروڼی کټی جوړوی.

دگوربزو مشهور کلی دا دی : خانډبر کلی ، بگی خیل ، ملایانو کلی ، د پښانو کلی ، شهید کلی او نور ۰۰۰۰۰(۱)




(۱) دافغانستان د علومو دا کاډمی د ژبو او ادبیاتو د مرکز د عامی غړی محترم محقق میر احمد ( گوربز) شفاهی توضیحات .

(۲) معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور(۷۰) مخ.

## لالي يالیلي وزیر

لکه چې دنسب د شجرې نه ښکاري لالي د ځدري ورو رو اودوزیرو دقبیلي یوښاخ شمیرل کیږي چې دخپلي قبیلي دپاتي برخې نه را بېل شوي (۱) اودسپین غره په شمالي او لویدیځه برخه کې اوسیږي او ددوی دلیږدېدو باب داسي ويل کیږي چې لالي د وزیر زوی دخپل پلار سره دشوال په غره کې اوسیده چې په ناڅاپي توګه دغه دلاسه دشیتك داولادي ځینو ځایو کوم پوښتنې ووژل شو . په دغه وخت کې دی د بدل اخیستلو له ویرې دخوګیا نیو سیمي ته لاړاو هلته یې واده هم وکړ (۲) تاریخ حیات افغاني دلالي یالیلي وزیرو شمیر په هغه وخت کې (۵۰۰۰) تنه ښودلی دی.

## لواڼي (لوحاني)

دوی هم لودي پښتانه دي اودنسب شجرې له لیدلو نه داسي جوتیږي چې د اسمعیل زوی لوحان له خپلو دوو میرمنو نه څلور زامن درلودل ویل کیږي چې دده اصلي نوم نوح وچې وروسته په نوحان یالواڼ سره شمهور شوا ود هغه اولاده د لواڼي په نامه سره یادیږي ، خو پښتانه یې په خپلو ورځنیو خبرو اترو کې دلوحاني ، نوهاني یالواني په نامه سره یادوي (۳)

دلواني دلومړۍ میرمنې نه چې شیرې نومیده د مروت په نوم یوزوی ترې ته راغی چې اولاده یې دمروتو په نامه سره یادیږي. دمروتو دقبیلي ځیني خلکو له سپین لواڼي هم هم وایي .لواني دخپلي دویمي میرمنې نه چې توري نومیده پنځه زامن درلودل چې اولاده یې دتورو لوانیو په نامه سره یادیږي (٤)

دوی اکثره په شلګر ، اندړ ، قره باغ ، کلات او کندهار کې په خواره واره دول اوسیږي . ددې قبیلي ځیني خلک په بدخشان اودافغانستان په شمالي ولایتو نو کې هم استوګنه لري. دوی اکثره دځمکو څښتنان دي ، زیات شمیر خلک یې سوداګري هم کوي نوځکه شتمن دي . ددوی څخه (۵۰۰) کوره په شلګر او (۳۰۰) کوره

---

(۱) پښتانه دتاریخ په رڼا کې ۱۳۹۵مخ.


(۲) حیات افغانی ٤۱۵ مخ.

(۳) نوموړی اثر ٤۳٤ - ٤۳۵ مخونه.

(٤) پښتانه دتاریخ په رڼاکي ۱۳٤۷ - ۱۳٤۸ مخونه .

په قره باغ کی استوګنه لری (۱) ددوی یو شمیر د بلوچستان په دکی او سیبوی کی هم استوګنه لری .

## دلوانی ابن اسمعیل دنسب شجره




(۱) پښتوا و پښتانه په سهیلی پښتونخوا کی ٤٥٦ مخ .

# لودیان

دوی په اصل کی متوزی پښتانه‌دی. ددغی قبیلی لوی نیکه ابراهیم نومید چی په لودی سره مشهور وچی دشاه‌حسین غوری زوی‌و. بیټ نیکه‌چی دمخه‌یی ذکرد بیټنیو په ردیف کی شوی‌دی خپله لوربی بی‌متوشاه‌حسین غوری‌ته ورکړه چی دهغی نه‌دوه‌زامن پیداشول چی دیوه‌نوم غلجی‌اودبل نوم ابراهیم وچی وروسته په لودی سره‌مشهورشو .


داسی‌روایت موجوددی چی یوځل کله چی شیخ بیټ له‌کلی څخه بیرته‌دخپلی استوګنی غره‌ته ستون شونوخپلی میرمنی‌ته‌یی وویل چی بسم‌الله کړه‌اود پخوانی نغری څخه اوروباسه اودوی پخه‌کړه‌اوماته یی راوړه ځو چی زه یی پخپله وویشم اوراته خرګنده‌شی چی زمادلمسیانود جملی نه‌کوم یوبختوردی کله چی یی دوډی پخه‌کړه‌نود بی‌بی‌متوکو چنی زوی(ابراهیم) هغه‌دوډی په چالاکی سره واخیسته اوشیخ بیټ ته‌یی راوړه بیټ نیکه‌خورشحاله‌شواوویی ویل چی ابراهیم لوی دی چی له هغی ورځی نه‌ابراهیم دلودی په‌نامه سره شهرت وموند چی دده اولاده‌دلودی اولردیانو په‌نامه سره‌یادیږی (۱) چی‌اولاده‌یی‌دسیانی، پرانګی، نیازی، لوانی، دوتانی، سوری‌اومروت څخه‌عبارت دی. په افغانستان کی د لودی د زوی سیانی داولادی نه دلوانی خانګه دنوروخانګوپه سبب هم دشمیر هم داستعداد اوهم دشتمنی له‌مخی برتری لری چی اکثره‌په‌شلګر، اندړ، قره‌باغ، کلات اوکندهارکی په خواره‌واره‌ډول استوګنه لری. ددوی څخه وروسته نیازی په‌لودیانوکی دوهم مقام لری (۲) دهندپښتنی واکمنان بهلول لودی، سلطان سکندرلودی اوسلطان ابراهیم لودی دلودی پښتنود جملی څخه وو .

---

(۱) حیات افغانی ۳۹۲ مخ .

(۲) پښتانه دتاریخ په رڼا کی ۱۳٤۷-۱۳٤۸ مخونه.

دابراهیم لودی بن شاه حسین غوري د نسب شجره



## لودین

دوی غرغښتي پښتانه دي. ددوی اکثریت دننګرهار په ولایت کي استوګنه لري. په کندهار او دکوټي په شاوخوا کي هم یو شمیر اودینان میشته دي دلودین قبیله دننګرهار دولایت دکامې او کوز کونړ په اولسوالیو کي او سیزي چي په نوموړي ولایت کي ددوی شمیر د ۱۳۶۰ کال د احصائیې له مخې (۱۱۸۹) تنه ښو دل شوی دی (۱) ددوی یو شمیر دغلجیو په سیمه کي په خوارهوارهٔ دول ژوند کوي.

## ماکو

دوی سړبني پښتانه دي او ددرانیو د پنج پای په ښاخ پوري اړه لري. ددوی دوګړو شمیر ډیر لږ دی. ددوی یو شمیر په کندهار اویو شمیر يي دنورزیو سره یو ځای میشته دی (۲)

ددوی یو شمیر دهرات په ولایت کي هم استوګنه لري . په کندهار کي ددوی شمیر (۱۵۷٤) تنه ښودل شوی دی چي دنوموړي ولایت ددامان او ارغستان په اولسوالیو کي استوګنه لري . همداراز دماکو د قبیلي هغه برخه چي په هرات کي استوګنه لري. دانجیل، کشک او دکرخ په اولسوالیو کي میشته ددی . په هرات کي ددوی شمیر (۲۶۸۸) تنه ښو دل شوی دی .

په ټول افغانستان کي دماکو دقبیلي شمیر د (۶۲۶۲) تنو په شاوخوا کي دی (۳).

## مامونډ

ددوی دسړبن په ټولنیز ګروپ کي شمیرل کیږي او دښاخي خیلو دترکاڼي (ترکلاڼي )په قبیلي پوري اړه لري .

---

(۱) معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور ۱۰ مخ.

(۲) حیات افغانی -۱۲۸ مخ .

(۳) معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور -۱۰-۹۳-۱۰۹-او ۱۱۰ مخونه .

ماموند پهلومړي سر کي پهدوو مهمو ښاخونو ویشل کیږي.

۱ـ لوی ماموند: چي کاکازي هم ورته وايي.

۲ـ واړه ماموند(۱)

دماموندولوی اکثریت پهباجوړکي اوسیږي. ددوی ختیځ ته سالارزی؛ شمال ته یې دانګام؛ شمال لویدیځ ته یې دشوړتن اومروری دری؛ لویدیځ ته یې چارمنګ اوجنوب ته یې دنبار ریاست پروت دی. لوی ماموند د ماموندو دسیمي پهجنوب ختیځ اوجنوب لویدیځ ته او واړه ماموند د ماموندو شمال او پهلویدیځ کي میشته دی. په ختیځ کي دلو یو ماموندو او سالار زو ترمینځ برید (حد) دملا سیدغر دی او دلو یو اووړو ماموندو ترمینځ برید لوی خوړدی (۲)

دلو یو ماموندو دخیلونو نومونه دادي: مسعود خیل، عمرخیل، یوسف خیل، صلیمان خیل او خلو زی.

دوړو ماموندو خیلونه دادي: بروزی، اوریازی او برم کازي.

دلو یو ماموندو ځیني خیلونه دمروری پهدره کي هم استوګنه لري.

دوړو ماموندو ځیني خیلونه پهشوړتن، دانګام او د پیچ دری پهوتهپورکي میشته دي او برسیره پر دې د ماموند و دیرشمیر کورونه د کونړو لایت پهسیمه کي هم پراته دي. واړه ماموند د سالار زو څخه وروسته دانګام ته راغلي دي. دوی دجنوب له خوا دغرڅایونو په هڅه دګوریګا غرونو ته را وختل او دلته یې بانډي جوړي کړي. دمالداری سره یې دګوریګا په دره کي ځمکي واخیستي او دلته میشته شول. دګوریګا ماموند دځمکوالي څخه پرته رمي هم لري (۳) په ماموندو کي او به لږي دي. اکثره ځمکي یې للمي دي.

د لویو ماموندو کلي دادي: غاښي، شبنتر، ذکي کتور ت، ګیری، زری او ترخو.

---

(۱) پښتانه لومړی توک ۷۳ مخ.

(۲) دپښتنو تو لنیز ـ اقتصادي جوړښت ۲۲۵ مخ.

(۳) دنوموړی اثر ـ۲۲۶ مخ.

دوړومامونډو کلي دادي: څپري ، موضي ، کگي ، وړوکي خرکي ، باندہ ،
شاهي‌تنګي ، لوی خرکي ، بډان ، دمه دوله ، او دبر .


کرنه : دمامونډوځمکې په عمومي صورت غنم ، اوربشې ، نسلك او مشنګ کوي ځکه چې للمي دي . دمامونډوهوا معتدله ده په کو موځایونو کې یې چې دچینواوبه شته نوهلته دشفتالو ، توتانو اومالټو باغونه شته (۱) په باجوړ کې دمامونډو شمیر (۸۰۰۰۰) او د افغانستان دکونړ په ولایت کې ددوی شمیر (۱۸۳۹۱) تنه ښودل شوی دی (۲)

## متــون

دمتون سیمه دخوست دبازار شمال ته موقعیت لري . متون په اصل کې دکوم قوم یا قبیلې نوم نه دی ، بلکې دیورو حاجي شخص نوم دی چې دمتون دغونډۍ په سرښخ دی او دهغه په سبب دوی دمتونو په نامه یادیږي.

په متون کې د پښتنو مختلفې قبیلې سره یوځای شوي اود یوه قبیلوي واحد په توګه رامینځ ته شوي دي چې هره برخه یې دونډۍ په نامه سره یادیږي .

دمتون والو شمیر (۸۰۰۰) تنو ته رسیږي (۳)




---

(۱) محمد صفدر سالارزی ، پښتانه لومړی ټوك ، کابل - ۱۳٤۹ کال ۷٤ مخ .

(۲) اضلاع ، ایجنسی ها وقبایل ایالات پښتونستان -۱۱۹ مخ.

(۳) معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور ٦٥ مخ .

## متی زی

دوی سړبني پښتانه او په غوریاخیلوو رګډیږي. ویل کېږي چې شیخ متي دشیخ عباس زوی دعمر لمسی او دخلیل کړوسی و. خلیل دغوریا او غوریاد کنداین خرښبون زوی و چې دحضرت سړبن قدس الله سره له زامنوڅخه و.

دپټې خزانې په روایت شیخ متي په (۶۲۳هـ) کې زیږیدلی او د پنځه ښپیتو کلو نو په عمر دترنک پرغاړه وفات شوی دی او په هغه غونډۍ ښخ دی چې کلات باله‌شي.

وروسته دده اولادی په لیږدېدل وکړاو په پېښور او بدنې کې میشته شول چې دهغوی څخه لوی لوی پښتانه راووتل (۱) دده اولاده اوس دمتي و زیو په نامه یادیږي او په پښتنو کې یوه مشهوره قبیله ده. یو شمیر متي زي په زابل اودغزني په شلګر کې هم استوګنه لري.

## محمد زی

که چیری د نسب شجره په غور رسره وګورونو څرګنده به شي چې محمدزي د سړبن په تولنیز ګروپ کې شمیرل کیږي. دوی په اصل کې دزیرک دښاخ دبارکزیو د څانګې څخه دي.

لکه چې دابدالیانو په مبحث کې موولوستل د پوپلزیو په ښاخ کې دسدوزیو قبیلې د۱۷۴۷ ع نه تر ۱۸۱۸ع کاله پورې په افغانستان کې واکمنی درلوده په ۱۸۱۸ع کله چې وزیر فتح خان مړشونو دسدوزیو او محمدزیو ترمنځ دتخت په نیولو جګړې رامنځ ته شوې.

دمحمدزیو په کورنۍ کې دپاینده‌خیلو کورنۍ مشهوره ده چې دحاجي جمال خان نه پیل کیږي. حاجي جمال خان دنادرشاه افشار په پوځ کې سردارو. کله چې نادرشاه افشار له منځه لاړنو دافغانستان دتخت دتر لاسه کولو له پاره دی دیر امیدوار و او حقیقت هم دادی چې دسدوزو د حکومت په زمانه کې د حکومت په چارو کې ده ډیر لاس درلود.

(۱) پټه خزانه، دکابل چاپ ـ ۱۳۵۶ کال ـ ۱۲ مخ.

دمحمد زود حکومت مؤسس او ینست ایښودونکی امیر دوست محمد خان دی چې په (امیر کبیر) سره هم شهرت لری او د سردار پاینده خان کشرزوی دی .
دافغانستان حکومت ددوست محمد خان په کورنی کی د۱۹۲۹ع کاله پوری دوام وکړاو دویم ځل دسقاو د زوی تر ماتی وروسته په ۱۹۲۹ ع کال کی هغه وخت پیل کیږی چې نادر خان د چاروواکی په لاس کی نیسی .
تر نادرخان وروسته دهغه زوی محمد ظاهر شاه او په هغه پسی محمد داود حکومت کړی دی چې د ۱۹۷۸ ع کال په اپریل کی دد غی کورنی سلطه له مینځه لاړه .
محمدزی دافغانستان په بیلا بیلو برخو په تیره بیا په کابل، کندهار، هلمند، هرات او ننگرهار کی استوگنه لری. دوی ته عوام خلک سرداران هم وایی .

د دوی داستوگنی ځایونه :

لکه چې دمخه موورېل دوی دافغانستان په بیلابیلو ولایتونو کی اوسیږی چې دلته په هر ولایت کی ددوی داستوگنی ځایونه ښودل شوی دی او هغه دادی : .

۱ـ دکندهار په ولایت کی :

دکندهار په ولایت کی دوی دکندهار په مرکز دمیوند، پنجوایی، ارغنداب، ارغستان او معروف په اولسوالیو کی استوگنه لری چې دکندهار په ولایت کی ددوی ټول شمیر (۳۲۳۸۷) تنوته رسیږی (۱)

۲ـ دننگرهار په ولایت کی :

دننگرهار په ولایت کی دوی دننگرهار په مرکز دجلال آباد په ښار دکامې، سره رود او خوگیانیو په اولسوالیو او د بهسود و په علاقه داری کی استوگنه لری.
دننگرهار په ولایت کی د دوی شمیرد (۹٤٥۰) تنو په شا اوخوا کی ښودل شوی دی (۲)

---

(۱) معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور ـ ۹۱ ـ ۹۲ مخونه.
(۲) نوموړی اثر ۲۷ ـ ۲۸ مخونه.

### ۳ـ دهلمند په‌ولایت کی:

دهلمند په‌ولایت کی دوی‌دهلمند په‌مرکزاودنهرسراج اوناد علی‌په‌اولسوا لیو کی استوگنه لری او شمیریی په نوموړی و لایت کی (۵۰۱۶) تـنه ښو دل شوی‌دی (۱)

### ٤ـدهرات په ولایت کی:

په‌هرات کی د دوی اکثریت داوبه په اولسوالی کی استو گنه لری .چی ددوی شمیر(۹۸٤) تنو ته رسیږی .

### ۵ ـ دار زگان په ولایت کی :

دا رز گان د ولایت‌په‌مرکزکی تقریباء (۲۰۰) تنه محمد زیان میشته دی . همدا را زیوشمیر محمد زی د کابل او لغما ن په ولایتو نو کی هم استو گنه لری . د دوی یو شمیر کـور نی دپاکستان اوهند وستا ن په بیلا بیلو برخو په تیره بیا د هند په پنجاب او هم د د یره دون‌په‌ښارکی‌چی‌دهند دا ترا پرا دیش په ایا لت کی وا قع دی ا ستوگنه لر ی . په ټو ل افغا نستان کی د د وی مجموعی شمیر د ( ۵۰۰۰۰ ) تنو په شاا وخو اکی ښو دل شو ی دی .

## مرو ت

جوته ده چی د دغه قو م لوی نیکه دنوحانی یا لوانی زوی او دسیانی ابن لود ی لمسی دی . لوا نی دوی میرمنی در لـودی یـوه یی تو ری نـومیده چی د پنځو زامنو مور وه د ویمه یـی شیری نومیده چـی د هغی نه د مر وتو د قوم لو ی نیکه زو کړی دی او د د غـه قـو م نـو م د ده پـه نو م یعنی مر وت سره مشهو ر شوی‌دی (۲)

مر وت‌په‌سپینو لو انیو سـره هم‌شهرت‌لری په‌پیل کی‌دوی د کتـواز په‌سیمه

(۱) معلومات مختصردرباره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور (۹۱) مخ

(۲) حیات افغانی ـ۵۸ه مخ .

کې چې اوس د سليمان خېلو غلجيو په لاس کې دي استوګنه درلوده. که څه هم د دوی اصلي ټاټوبی کټواز و، خو د ګرمۍ په موسم کې به يې د کوچيانو په څېر خپل اکثره مالونه دوابه په غره کې څرول. دوی به پوازې د کټواز په سهيلي برخه کې په کرکيله بوخت وو چې هلته تراوسه هم د يوې ورې سيمې څمکه د مروتو په نامه سره مشهوره ده. دوی اوس د بنو د ضلعې د لکي مروت په تحصيل کې اوسېږي او هم داراز شمېر يې په پنياله او د ټانک د تحصيل په شااوخوا کې د بنو په ضلعه کې استوګنه لري. په ۱۹٦۱ کال کې د لکي مروت د تحصيل د خلکو شمېر چې مطلق اکثريت يې مروت دي (۱٤۸٤٤۹) تنو ته رسېده.

دکټواز له سيمې نه د مروتو د لېږېدو علتونه:

دکټواز له سيمې نه د مروتو د وتلو په باب داسې ويل کېږي چې په هغه وخت کې چې د غلجيو د سترې قبيلې د سليمانخېلو د ښاخ د سلطان خېلو د څانګې لوی ملک آزاد خان ښځه چې وسيلي نوميده د ده د يوه مريي له خوا وتښتول شوه او د مروتو قبيلې ته په ننواتي لاړ نو غلجيو لښکر ترتيب او هلته يې ولېږه او خپل مجرمان يې له دوی نه وغوښتل ولې مروتو د پښتني ننګ له مخې د غه پناه اخيستونکي دوی ته ورنه کړه د دغه دښمنۍ په سبب د غلجيو ټولې ښاخونه لکه تره کي، اندړ او نور د سليمانخېلو په ننګ د مروتو، د ولت خيلو او ميا خيلو سره د جنګ له پاره ملا وتړله او د مروتو اکثره خلک ووژل شول او غلجيانو بر ياليتوب تر لاسه کړ له همدې کبله مروت مجبور شول چې د کټواز سيمه پرېږدي او د دامان خوا ته يې په لېږديدلو پيل وکړ.

په هغه وخت کې د ديره اسماعيل خان د ضلعې د دامان په سيمه کې بلوڅانو استوګنه درلوده او د ټانک په سيمه کې هم پړانګيان مېشته وو چې په هغوی باندې دلوانيوله خوا يرغل شوی وا و پر هغه ځای باندې يې خپله قبضه ټينګه کړې وه. دلوانيو ويش په وخت کې د مروتو قبيلې ته هم څلورمه برخه ورکړل شوه چې تريوې مودې پورې يې د غه ځای په لاس کې وا و د ګرمۍ په موسم کې به دوابه د

غره ختیځې برخې ته تللی او دیخنې په موسم کې به بیرته تا نلك ته راتلل تر څو چې ددوی او مسیدو ترمنځ د ښځودپټ له کبله شخړې رامنځ ته شوی. څرنګه چې وزیر ددوی د تګ را تګ په پور تنیو او ښکتنیو لاروباندې پراته وونو دد ښمنې له کبله غرونو ته ددوی تګ راتګ بیخې وترل شوپه همدی وخت کې د تانک دسیمې دلانجو له کبله دلوانی داولادی ترمینځ دښمنی رامینځ ته شوه دو لت خپلو قدرت ومو ند او تریوی جګړې وروسته یې مروت له تانک نه وایستل.

اودغه قبیله دبین ددری نه نیولی دپیزو ددری پوری په غرنیو سیمو کې میشته شو ل. په دویم کال بیا دولت خپلو دسیمو دنیولو په منظور یرغل وکړاو تا نـک یې ونیو خو کتې خپلو دګنډ اپور له قبیلی نه مرسته وغو ښته او دوی یې بیرته په شاتمبولـو تـه مجبور کړل چې ددغه ځای دتسمیې وجه هم دمروتو له نوم څخه اخیستل شوی.

ددوی ملک تقریباً پنځه دیرش مربع میله دی چې له بنو څخه ترمه کلروا او د سلیمان غرونو څخه دهغو تیټو غرونو ترسلسلې پورې رسیږي چې لارګی ( Largee ) له اباسین څخه بیلوی، خو اوسیدونکي یې خواره واره دی.

دمروتو بڼې، څیرې اوعادتونـه:

مروت غښتلي، لوړغنم رنګه، پراخه تندي، ګردی څیرې او بادامي سترګی لري اوپیاوړی خلک دی دوی ؛ زیارګالو نـکي، متحمل، صابر، قانع اوبااستعداده دی. دمروتو سپاره توره، ډال اولیندی استعمالوی. خو پـلي یې توری، سپر ونه، غشي اولیندی استعمالوی.

مروتو په پخوازمانو کې په پووندہ دول ژوند کاوه اوسوداګری به یې هم کوله خو کله چې په دی سیمه کې میشته شول یوازی دځمکې په چا رواو کروند ګری پوخت اوپه خپل کسب کې ډیرزیارګالو نکي دی او آن تـردی چې دکلي ملکان یې هم په خپله دیوی او کر کیلې چاری په خپله سرته ر سوی :

که څه هم دمروتو په سیمه کې دخوراك له پاره غله پریمانه ده، خودڅیناك د اوبو له پاره دهغو کلیو نه پرته چې دکمیله، کور مې یادلنګر درودونو په غاړه موقعیت

لري په پاتي مروتوکي داوبوتګسه ډیره ده . دځینو کلیو خلک دلس یا یوولس میله ترواتن وروسته دګمیله داوبو درا وړلو له پاره راځي او ددوی داوبو راوړل د ښځو په غاړه دي چې ددی کار له پاره دخرونه استفاده کوی .

خوراك یی :

مروت په اوړی کی دغنمو دوډی اوپه ژمی کی دباجری ډوډی استعمالوی .
هغه متوسط اوغریب خلك چی په سیمه کی یی نخود کرل کیږی نودغنمو داوړو سره دنخودونیمایی برخه اوړه هم یوځای کوی اوډوډی تر ینه پخوی .

دوی دسیمی پیداوار ددوی له خوراك څخه ز یاتیږ ی ، که څه هم ددوی ورځني خوراك ساده دی خوپه میلمه پالنه کی دخپلی دوسی سره سم کوښښ کوی .

میلمه پالنه :

که چیری په مرو تو کی کوم قدر من سړی میلمه شی نود هغه له پاره پسه حلالوی اودغنمو نازك چپاتی په یوډول ډیر ښه تبی باندی پخوی چی دمروت وښځی ددغو نازکو چپاتیو په پخولو کی ډیری مشهوری دی . که چیری د میلمنو شمیر لږ وی اوڅوك دپسه د حلالولو قدرت و نه لری نومیلمنو ته یو یا څو کورنی چرګان حلالوی . دوی د کاسو پرځای دیوډول لویو ښانګو نونه استفاده کوی چی دهر ښانګك نه ګرد چاپیره اته کسه کښینی او ښوروا یاوریجی خوری .

دوی دقدرمنو میلمنو نه پاره د پورتنیو خوړونه پرته د یرښه پولاو او غوښه پخوی په خوږو خوړو کی دحلوانه پرته دګوړو بی استعمال هم زیات دی. دګړو بی ترکیب اودجوړولو طریقه داده چی د ګوړ ی شربت ته ډیر جوش ور کوی او تر پخیدو وروسته یی په ښانګک کی اچوی اودهغه په مینځ کی دپسه دلم غوړ ی چی داوسپنی په ارکاره کی دڅیرو غوړ یو په شان ګر م شوی وی او دپاسه پر ی نازکی ډوډی میده کوی. هغه میلمه چی عام اودکوم بل ملك نه راغلی وی او هغوی یی و نه پیژنی اودمسا پر په ډول کلی ته راشی نو دکلی داوسیدونکو ته یوتن په جومات کی غږ کوی چی نن ز موږکلی ته د مو مره میلمانه را غلی دی بیا نو

دده ځای داوسېدونکو نه یو تن یادوه تنه مېلمانه په خپلو منځو کې سره وېشي او له خپلو کورونو نه ورته ډوډۍ راوړي. لنډه داچې د مېلمه قدر کوي او وزګار یې نه پرېږدي.

## د مړو تو کلي او دا ستو ګنې ځایونه:

په پخوا زمانو کې چې داخلکو دایمي استو ګنځي نه درلودل نو اکثره و به په کېږدیو کې ژوند کاوه. اوس په دوی کې د کېږدویو رواج نشته. خلک په ټولو کلیو کې د خپلې استو ګنې له پاره د مړو خټو جوړوي او د دوی دا خبره سمه ده چې دا بودنشتوالي په سبب د خټو ونه پرته د یل ډول ودانیو جوړول ګران کار دی. د دوی د اصلي کلیو نه پرته د خپلو لېږی لېږی ځمکو د ساتنې او داو بنا فڼ او نورو ښاریود څر ولوله پاره په څرځایو نو کې یا هغه ځای ته نژدې باڼډې جوړې جوړوي. مالداران او کروند ګر یې د ضرورت له مخې دوه کورونه جوړوي یو یې په اصلي سیمه کې دویم په باڼډو کې. د دوی اصلي کلو ته مېله وایې چې مقصد یې مېنه ده.


## پوښاک یې:

د دوی پوښاک عموماً داسې دی چې کوچنۍ پګړۍ په سر کوي او پراخ او اوږده کمیسونه چې تر پونډیو پورې یې رسېږي اغوندي همدارازد پرتوګ پر ځای په دوی کې د نیلي یا سپین لنګ رواج ډېر دی، خو ملکان د لونګ په ځای پراخه پرتوګونه اغوندي. د دوی ځینې خلک د خپلو سرونو نه د ستمالونه هم تاوه وي.

بزګران او غریب خلک د دغو تو کرانو پر ځای د پسو نو یا داو ښانو له ورېو نه پوډول تو کران جوړوي چې له نیمایي نه یې لونګ اوله نیمایي نه یې پو ډول کمیسونه جوړوي چې ګرېوانو نه یې ښکاره وي او لستو ڼې نه لري.

د مړو تو ښځې اکثره سره تور یا نیلي تو کران په سر وي او اوږده چین داره کمیسونه چې اکثره سره یا تور رنګونه لري اغوندي. همدارازدوی یو ډول د بل رنګه تو کر چې سپینې لیکې لري او پاسني برخه یې پراخه او پایښې یې پلنې وي اغوندي. د پېغلو نجونو کمیسونه یې چین لرونکې نه دي.

## د لوانی د نزوی مروت د نسب شجره



## مسعود (مسید)

دغه قبیله په کرلانیو پښتنو کښې یوه مشهوره او جنګیا لۍ قبیله ده. که څیری دنسب شجره یې په غورسره وګورو نو څرګندیږي چې د وزیرلو مرنی زوی خدری دری زامن دولودل چې موسی، محمود او مبارک نومیدل. چې موسی یې په دریش سره مشهور و ده محمود زوی مسعود نومیده چې اولا دی ته یې مسید وزیر هم وایی (۱).

لویدیځ او جنوب ته یې احمد زی وزیر، شمال ته یې اتمانزی وزیر او د ختیځ خواته د بیټنی قبیلی سره پوله لری .

ددوی سیمه دجنوبی وزیرستان دایجنسی پوری مربوطه ده او دافغانستان سره کوم ګډ سرحد نه لری (۲).

ددغې قبیلې اصلي ځای دبرمل غر و چې دسلیمان غره یو ښاخ ګڼل کیږی او هغه وخت چې ددغې قبیلې په شمیر کښې زیا توالی راغی نو په دغه وخت کی ددغی قبیلی خلکو دخپل اتحاد په زور په خپلو ګاونډیو باندی غالب او په خپریدو یې پیل وکړ او تر ټولو دمخه دسلیمان دغر نیو سیمو نه شوال او دهغه شاا وخوا سیمې ددغی قبیلې لاس ته ورغلې چې هلته دمخه شیتک اونور آباد وو په هغه وخت کی داور مړو قبیله چې په کانیی ګرم اونورو نژدې سیمو کښې میشته وه اکثراً لوګړاو نورو سیمو ته لاړل او ددوی د یراز شمیر په دغه ځای کی پاتی شول . په دغه وخت کی وزیرو او مسیدو ته موقع په لاس ورغله او په هغوی یی یرغل وکړ او په لومړی حمله کښې یې دبدر او شهیر سیمې ونیولې او په کانیی ګرام کی هغو اورمړو چې ددوی سره مقابله وکړه دمسیدو له خوا یې ماتې وخوړه. ورو سته یې د بیټنیو قبیله هم د ټاکید دری او د هغه شا وخوا غرنیو سیمو له یې و ایستله او پخپله یې

(۱) حیات افغانی ـ ۵۵۶ مخ .

(۲) اضلاع، ایجنسی ها وقبایل ایا لت پښتونستان ـ ۱۱۶ مخ .

په غرځايونو باندې قبضه ټينګه کړه. ددوی سيمه د کوهاټ د ضلعې نه نيولې دديره اسماعيل خان تر درې پورې غزيدلې ده او د سيمې اوږد والی يې (۱۴۰) ميله دی (۱)

مسيد په دريو عمده ټبرو ويشل شوی دی چې علي زی، شمن خيل او بهلول زی دی چې هره يوه ټبر يې په نورو ډيرو خيلونو باندې ويشله شوی ده (۲).

يو انګريز مورخ په خپل مشهور اثر وزيرستان کې د مسيدو (مسعودو) په باب داسې ليکلي دی:

«مسيد په وزيرو کې خوراپياوړی او جنګيالی خلك دی. دوی متحمل او سخت سري دی، ښه مسلح او ډير بې نيازه دی، ځکه چې ددوی احتياجات دومره طبيعي دی چې د هغوی په نشت کې لاهم د وی ته څه زيات تکليف او ضرررنه رسيږي او دهيڅ رازموا نعو پروانه کوي. دخپل کوچني توپك په استعمال کې عجيب مهارت لري او په دې کې خورا ماهردی چې د خپل دښمن له جزوي اوورو کې سهوې څخه ډيره لويه استفاده وکړي. که دښمن په شمير په وخت او يا مدافعه کې ازڅه ضعف يا سهوه وکړه د مسيدو او وزيرو له خوا به درنه جزاومومي او له داسې پيښو څخه دوی خورا ښه استفاده کولای شي. په جنګ کې دومره داوضاع و مراقبې او مواظبت وی چې هيڅوك يې محاصره کولای نه شي او نه يې دښمن تر ارخ تيريدلای شي. دوی په عقبي خطوطو او کوچنيو پارټيو باندې په حمله کې خورا بې نظيره ماهران دی او په جګړه کې دنورو قبايلو په شان خورا ډيره طبيعي حوصله او صبر لري او دهر ډول مشکلا تو او موانعو سره دومره په صبر او حوصله مجادله کوي چې د ډير تعجب او حيرانتيا موجب ګرځي، په يوه ګړی کې ارامه خو په بله ګړی يې بيا توپك په اوږو بهترين جګړن شي. په جګړه کې ډير کسان بې وسلې له وسله لرونکو سره دروومي او د توری او يا دلاس جګړه که، ضرورت ورته پيښ شي کوي يې (۳)»

---

(۱) حيات افغانی ـ۵۰۲ مخ.

(۲) اضلاع، ايجنسی ها وقبايل ايالت پښتو نستان (۱۱۶) مخ.

(۳) پښتونستان ـ۲۴۶ مخ.

دمسیدو رواجونه، خوراك، نرخونه او تری کټ مټ دوزیرو په شان دی.

غنم، اوربشی، جوار، شولی، می، باجری، زدن او پتیا تی یی مشهور حاصلات شمیرل کیږی.

دجنوبی وزیرستان هوا په ژمی سړه او په اوړی توده ده، خو څرنګه چی په عمومی ډول غزنی سیمه ده نو هوا یی معتدله ده.

دمسیدو مشهور کلی دادی:

مکین، خیسور، دره، نیدون، کانی ګرام، بدر، څلو یښتی، شکتوی، وانه، دشر کی سیمه، شهرنه، شم، رزملك، شکی، شوال او نور (۱)

مشهور سیندونه دګومل، تیا نـلك زوم، خیسور، شکتوی، سپلی تـوی، وانه تـوی، شوزه، شنګی او شاهوردی (۲)

مسید ښکلی، زړور او جنګیالی خلك دی. سرو یلیم پار تن د دوی دجنګیا لیو میرونـو شمیر (۱۸۰۰۰) زره تنه ښودلی دی. (۳)

د دغی قبیلی شمیر د ۱۹۶۱ کـال د احصائیی لـه مخی (۱۸۷۳۲۳) تنه ښودل شوی دی (٤).

دمسیدو خیلو نو شجره دراتـلونـکی مخ په جدول کی وګوریٔ:


---

(۱) پښتونستان-۲۱٤ مخ.

(۲) اضلاع، ایجنسی ها وقبایل ایالت پښتونستان-۲۵ مخ.

(۳) پښتونستان-۲٤ مخ.

(٤) اضلاع، ایجنسی ها وقبایل ایالت پښتونستان-۱۱۶ مخ.




(۱)

(۱) اضلاع، ایجنسی ها او قبایل ایالت پښتونستان: ۱۱۷ - ۱۱۸ مخونه.

# مشواڼي

مشواڼي په اصل کې هم ښتي پښتانه دي، خو دوی کله ځانو نه سیدان بو لي او کله يې هم په کاکړ وورګډوي. ددوی اکثره په خوا وه ار ه د و ل ژو نـد کوي.

ددوی يوشمیرپه برکونړ کې استوګنه لري چې دساپيو دکـلـتور او عنعنا تو تـر اغیزې لاندې راغلی دی او دکونړ په ناړي، دانګام او اسمار کې استوګنه لري.

دکونړپه ولایت کې ددوی شمیر ۱۰۱٤۷ تنه ښودل شوی دی. هممدارازیـو شمیر مشواڼي دننګرهار ولایت په بټي کوټ کې هم استوګنه لري چې ددوی شمیر ۲۳۸۵ تنه ښودل شوی دی (۱)

حیات افغاني لیکي: «ددوی ځلو رسوه کورنی په کوهدامن کې چې دکا بـل نـه پنځه ویشت میله شمال خواته موقعیت لري استوګن دی. دکوهدامن مشواڼي په کرکیله او ځیـنې يې پـه سوداګـري بـوخـت دي او هـمدارازدوی دخپلو اوښانو په ذریعه تجارتي مالونه ان تر بخارا پورې انتقالـوي او دوی دهوساژونـد خښتنا ن دي! ددوی څو کوره په کندهار کې هم میشته دي. دګندګر په شما لي برخه یعني دهزاره ضلعې په سرې کوټ کې هم مشواڼي اوسیږي، خو ددی پته نشته چې کلـه هلته تللي دي. پښتانه دمشواڼي قبیله دستانه او پیرانو په نامـه بولي. دوی د نـیلـك چلند څاوند ان دي په تیره بیاددغې قبیلې دلودين ځا نګ، چې د غلجیو په ملك کې په متفرق ډول سره ژوند کوي (۲) پته دي پاتې نه وي چې يوشمیرمشواڼي د هند په ځینو برخو کې هم شته.

دمشواڼیو په هکله دپښتنو تولنیزـاقتصادي جوړښت په کتاب کې داسې راغلي دي: «دمشواڼیو اکثریت دد یراوجندول په سیمو کې میشته دی. لومړی ددوی ځینو خیلو نود څرڅایونو په هـ څه خپلې رمې د (ښشي کندو) له لارې له دانګام نه شمالي

---

(۱) معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور ـ ۲۰ مخ.

(۲) حیات افغاني ـ ٦۳۲ مخ.


غرونو ته راوستلي. يوسلواو پنځوس کاله پخوا د دری په ختيځ او شمالي غرونو کی د غرځايونو شاوخوا يې باندی جوړی کړی. د پسرلي د پيل نه د مني تر پايه به هغوی په باندو کې او سيدل او بيا به د رمو سره د ځنګلونو ته ښکته کيدل. سل کاله مخکې د مشوانيو ځينو خيلونو خپلې رمې په پای کې د ځنګلونو پر ځای قاسم اوزوړ براول ته راښکته کړی. په دې وخت کې د غه دواړه کلي نه وو، بلکې لومړی ځينو شپنو دلته کوډ-ونه جوړ کړل او په ژمي کې به په کډونو کې اوسيدل ورپسې يې د کورونو شاوخوا آبادی شاړی ځمکې آبادی کړی. کارينو نه (ميني) يې جوړی کړلی او تقريباً د لسو کلونو په دوران کې څو کورونه په کليو بدل شول. د سلو کالو را هيسې د وی د شمالي غرونو په لمنو کې په شاړو ځمکو کې باندی جوړولی چې اوس د قاسم خان اوزوړ براول پر سيره د مشوانيو کورونه او کلي د غره په لمنو کې د دری تر خولی اسمار ته نژدی رارسيدلي دی.


مشوانې د ځينو کورونو نه پرته په عمومي توګه نا داره اولس دی ځينې شتمنې کورنې د ځمکو سره يو ځای مالداری، تجارت او مامور يتونه لری. د دوی د نا دا رو اکثريت ځينې خلک د سالار زوا وماموند وشپانه او بزګر دی. ځينې د غنمو او اوربشو کرلونه وروسته د ميزان په مياشت کې د کار او غريبی له پاره ځنګلونو، باجوړ او د کونړ ولايت مختلفو سيمو ته ځی د لته دوی د جوماتونو د لرګبانه (دژمی په سړو کې اولس د جوماتو د تود لوله پاره لرګبه (جمع لرګبانه) نيسی. لرګبه له غره څخه لرګی را وړی او د کلي خلک ورته د مياشتې د ير ش منه غله او د اوسيدو کوټه ورکوی.)

او يا په کلي کې همسايه کيږی. همسايه مشوانې په کلي کی د اوسيدو کوټه پيدا کوی. د دوی نارينه د غرونو څخه لرګی راوړی چې بوګيدی (دشا بار) په يوه من جوارو او ياد هغه معادل په څلو يښت افغانيو خرڅوی. د نورو قبيلو په تناسب په مشوانيو کې د ليږديدنې عمليه ډيره ده. د دوی نيستمن خلک د مني په پای کې د کورو

لږ سامان او دخوړلو مواد په خروبارو‌ی ښځی او نارینه یوځای دجنډول، باجوړ او کونړ په لور روان وی. د پسرلی په میاشت کی بیرته دری ته راستنیږی (۱)

دمشواني دنسب شجره




---

(۱) دپښتنو تولنیز ـ اقتصادی جوړښت ـ ۲۲۶ ـ ۲۲۷ مخونه.

دغه قوم هم دنیازی دنسل څخه شمیرل کیږی . ددوی داوی نیکه نوم موسی ابن خاکوابن نیازی وچی دموسی نوم د ډیر استعمال په وجه په عام وخلکو کی په موشیانی یامشانی سره مشهورشو. د دغه قوم خلك لومړی دسرهنګو د قـوم سره دسند ددریاب په ختیځ غاړه کی میشته شوی دی لکه چی اوس هم دداو دخیلومشانیو ښاخ په داود خیل نومی ځای کی او دموندی ښاخ په تیتی کی چی په میانوالی کی موقعیت لری میشته دی. پاتی مشانی دسند ددریاب لویدیځی برخی ته راغلل اومیشته شول (۱) مشانی دمروتواوعیسی خیلو په دښمنی کی دمروتـوملګری وو. داطـایفه اوس په دادیخیلواوشادی خیلو سره شهرت لری (۲)


مشانی لویدیځ ته د ختکوتوغوه پوری قبضه لری .ددوی د هغـوځمکـونه پرته چی دسیند په غاړه پرتی دی نوری ځمکی یی ښی نه دی خود بندونواوها رانی ویالوپه ذریعه دللمی ځمکوغنم او باجری ښه حاصل ور کوی .

ددی قبیلی خلك اکثره کینه کښی اوکورنی دښمنی پکی ډیری دی.داو دخیل په یوه ګوندی کی اوشادی خیلو په بله ګوندی کی دی چی ددواړو ګوند یوترمنځ سخته دښمنی موجوده ده.

(۱) حیات افغانی ۵۹۹ مخ .

(۲) پښتانه دتاریخ په رڼا کی دپېښور چاپ : ۱۹٦٤ کال ۱۳۵۵ مخ .

# دمشانی ابن خاکو ابن نیازی دنسب شجره



## معروف خیل

دوی غلجي پښتانه او د احمد زیو دقبیلي یوه څانګه شمیرله کیږي. دوی دننګرهار ولایت د غلزی حصارک اوسره رود په اولسوالیو کی استوګنه لری؛ په غلزایي حصارک کی د دوی شمیر ۳۳۰۰ اودننګرهار دسره رودپه اولسوالی کیدوی شمیر ۹٤۱۸ تنه ښودل شوی دی چیزیاتره یی دبالاباغ دسیمی په شاو خوا کی ژوندکوی د معروف خیلو څانګی په لاندی دول دی :

بادین خیل ، شکرخیل ، محمدخیل ، عبدالرحمنخیل او سرکی خیل.

په غلزایی حصارك کی معروفخیل په لاندنیو کلیو کی میشته دی : یاغی بند ، علم کڅ ، محمدی ، ناصرخیل ، کلاله ، تری ، انګورتاك ، بهاولی ، راغه ، جوکان ، لاجیګر ، سیابعلیا ، دوبی او محمد کلاکی.

## مقبل


دوی د کرلانی پښتنو په ټولنیز ګروپ کی شامل دی . سهیل ته یی څاځی میدان او سبری ، لویدیځ ته یی دمنګلو قبیله ، شمال ته یی خمکنی ، شمال ختیځ ته یی څاځی اوختیځ ته یی د ډیورند د کرښی سره پوله لری چی دسرحد نه پوری خوا په ستر غوزك ، میته ، سنګر او کمکی غوزك کی هم مقبل استوګنه لری اود سرحد په دننه کی مقبلو سره قبیلوی اړیکی لری .

هغه مقبل چی د افغانستان په دننه کی ژوندکوی ټول دپټان په اولسوالی کی په دوو درو کی چی دوځ زیګار اولوند زیګار په نامه یادیږی استوګنه لری چی په دغه سیمه کی ددوی شمیر(١٠٤٦٤) تنوته رسیږی. دپټان په اولسوالی کی دمقبلو نه پرته منګل او څاځی هم استوګنه لری (١)

ددوی یو څو کورنی دخوست او لکن په سیمه کی هم دهمسایه په دول ژوند کوی(٢)

(١) معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور، ٥٧ مخ .
(٢) حیات افغانی - ٦٢ مخ.

ددوی اکثره خلك دكرني، مالداري‌او سوداگري له‌لاري‌خپله‌گوزاره كوي . دغه خلك لوگي‌او چار تراش هم خرڅوي .




## ملا خیل

ملاخیل غلجي‌پښتانه‌او کثره‌یی کوچیان دي‌چي‌په‌لاندنيوا تو ښاخونو و یشل شوي‌دي : شاران، پیروخیل، عثمان‌خیل، قادر خیل، خواگاخیل، شاهراد خیل، خواجه خیل او‌الیس خیل . ددوی زیات شمیر دغزني په اجرستا ن کي‌استوگنه لري‌چي‌شمیریي (۱۵۹۹۶) تنوته‌رسیږي. څرنگه‌چي‌دوی کوچیان دي نو د یوې متمدني قبیلي ښه نه لري (۱) داجرستان دملاخیلو څانگي په لاندي دول دي :

۱ - لنگرخیل
۲ - ادن خیل
۳ - عباس خیل
۴ - خوزه خیل
۵ - رضا خیل
۶ - صید خیل
۷ - عثمان خیل
۸ - قلندرخیل
۹ - پېروخیل
۱۰ - چکمك

---

(۱) معلومات مختصر درباره اقوام وقبايل ولايات سرحدی کشور ۸۴ مخ .

## ملکزي

دوی خلجي پښتانه دي، خوشمیر یې چندان ډیر نه دي. ددوی یو شمیر د ننگرهار دکوزکونړ په اولسوالي کې استوگنه لري، خوشمیر یې بیخي لږ دی او یوازې په دغه ولایت کې یې شمیر د ۲۰۰ تنو په شا او خوا کې ښودل شوی دی (۱)

## ملاگوري

دوی سړبني پښتانه او د مومندو د ستري قبیلي پورې اړه لري. دغه ښاخ پـه څلورو څانگو ویشل شوی دی په دې ډول چې: پهار خیل، تارخیل، احمدخیل او دولت خیل. ددوی په باب ځینې اختلافونه موجود دي. ځینې وایي چې د دغه ښاخ لوی نیکه په وصلي توگه دمومندو پر قبیله ورگډ شوی او دویم روایت دادی چې ددې ښاخ اصلي مورث (لوی نیکه) هم دمومندو له قبیلي څخه و. داسې روایت دی چې یوه ورځ څو تنه مومند د لاروهني له پاره یو ځای ته لاړل او کله چې یې دغه عمل ترسره کاوه یو تن ملا هم چې ددوی سره ملگری و له هغوی نه لیرې او جلا ودرید او دوی ته یې په کتلو پیل وکړ دغو له دلې نه یوه سړي په پښتو ژبه وویل چې «ملاگوري» چې دهغې وروسته یې په هغه باندې دملاگوري نوم کیښود او دغه اصطلاح د نوموړي ښاخ دتسمیې وجه شوه. که څه هم د دغه روایت په ریښتینوالي کې شك موجود دی خو او س دغه خلك د غرنیو مومندو سره یو ځای دهغو سره په غم او ښادۍ کې شریك دي. ددغه ښاخ اکثره خلك د تاتري پـه دره کې اوسیږي او دکوني پـه چاروبوخت دي:

دحیات افغاني دتاریخ لیکوال محمد حیات خان لیکي: «ددې ښاخ ټول شمیر (۵۰۰) پنځه سوه تنه ښودل شوی دی» (۲)

استاد حمزه شینواری دپښتانه دکتاب په لومړي توك کې دملاگورو په باب

---

(۱) معلومات مختصر در باره اقوام و قبایل ولایات سرحدی کشور ۸۲ مخ.

(۲) حیات افغاني ۳۵۲ مخ.

داسي ليکي: « ملا ګوري دژبې، لهجې او کړووړو په لحاظ دمومندو دسترقام سره تعلق لري او دپراخي سيني خاوندان دي. دوی دکمکي شلمان نه دلمرخاته په لورد دبسر غرنه لاندې پراته دي اودتا تري دمشهور غره پـه لمنو کي استوګنه لري. دسيمو نومونه يې مرداڼد، شهيد مينه، لوړه مينه اوژوره مينه دي. دلته دمرمرو د ډبروبوکان هم شته او ابـرك هـم پيداکيږي (١)»

دوی اکثره دسيند پـه غاړه استو ګنه لري اوشميريې په اوسني وخت کې د (٨٠٠٠) تنو په شاوخوا کي ښودل شوې دی.

منډر

که چيري دنسب شجره په غورسره وګورونو څرګنده به شي چـې ددغه قبيلي مشرنيکه منډنوميده چي دخښي يا خشي زوی و. منډدوه زامن درلودل ديو نوم يوسف وچې اولادې ته يې يوسفزي وايي اوبل يې عمر نوميده. عمـر يوزوی درلودچـې منډرنوميد او اولاده يې په منډرو سره شهرت لري.

داسي روايت موجود دی چي دمنډر پلار عمر چـې يو ديـر باد يانته انسان و هندته سفر وکړ او هلته يې د يوی قريشي ښځي سره خپلوی وکړه چي منډر يـې دهماغي ښځي نه پـيداشوی دی. کله چي عمرپه هندکي مړشو نو وروريې يوسف خير شو اودخپل وروردکونډې او اولادونو دراوستلو له پاره پسی لاړ. نوموړی ښځي ورته وويل چي ته غواړی ماځان ته په نکاح کړی اوزما مال دځان کړی خو زه ژمنه کوم چي بل ميړه به نه کوم هماغه وچي يوسف هم قسم وکـړچي داکار به نه کوی تردی وروسته يې لو موری ښځه او اولادونـه وطن ته راوستل کله چي منډرځوان شونو يوسف خپله لور ده ته ورکړه. منډر دری ځامن درلودل چي منور، خضر اورځړ نوميدل منورهم دوه زامن درلودل ديوه نوم عثمان اودبل نوم اتمان و. عثمان هم دوه زامن درلودل يو يـی کمال اوبل يـی امان نوميدل. دکمال

---

(١) پښتانه، لومړی ټوك داستاد امير حمزه شينواری مقاله، کابـل ١٣٤٩ کال ١٨٢ مخ.

اولادی ته کمال زی وایی چی په خپلو کی په دوو څانگو و یشل شوی دی : یوه څانگه یی مشران زی اوبله څانگه یی کشرانزی دی :

داتمان اولاده هم دوه ښاخه دی چه یو ښاخ کی اکازی کنازی ، اوعلی زی شامل دی. دوی ته اتمان نامه هم وایی اودا باسین په غاره دمهابن په جنوب کی میشته دی. توپی ، مینی ، کوټه ، اومرغزد دوی په علاقه کی مشهور کلی دی .

مندړ دمردان په ضلع کی آن تر چملی پوری میشته دی. دچملی ختیځ ته اباسین ، اویدیځ ته یی یوسف زی ، شمال ته یی بونیر او سویل ته یی مهابن موقعیت لری. داسیمه دیوی دری په شکل پرته ده . میدان په کی کم او ځمکه یی ناهمواره اوغرنی ده دامیلی مشهوره جگړه هم په ۱۸۶۲ کال په همدی ځای کی پیښه شوی وه . داسیمه دمندړو مرکز دی. همدارازپه صوبی او مردان کی هم د مندړو مختلفی څانگی استوگنه لری.

دمندړو ښاخونه اودوی داستوگنی ځایونه:

اباخیل : اباخیل په گندف ، زیده ، هند اوشاه منصور کی استوگنه لری .

عمرخیل : عمرخیل په کالادره ، صوابی اومانیری کی اوسیږی.

بهزاد خیل: بهزادخیل په کلابټ کی اوسیږی.

خلوخیل: خلوخیل په پنجتاری ، براکی ، توتایی ، باجا او بام خیل کی استوگنه لری

رزړ: داتپه په پنځو څانگو ویشله شوی ده مانی زی ، ملک زی ، اکوزی ، خضرزی اومحمودزی ( ماموزی ).

مانی زی : مانی زی په داگی ، ترلاندی ، ترکی ، پرمولی اوادینه کی اوسیږی.

ملک زی: ملک زی په یارحسین ، شیو دره او یعقوبی کی .

اکوزی: اکوزی په دوبیانو ، سره چینه اواسماعلیه کی.

خضرزی: خضرزی په شیوه ، کالوخان اوشهره غوند کی .

اومحمـودزی: په نوی کلـی، شیخ جانا، اسو تا اونارنجی کی میشته دی (۱).
مندړپه کړوړو کی یوسفزیو ته ورته دی. حیات محمدخان په هغه وخت کی دمندړو شمیر(۱٤۰۰۰) تنه ښودلی دی.

## مندو خیل

که چیری دنسب شجره په غورسره وګورو نوځوګنده بهشي چی مندوخیل هم په غرغښتو پښتنو ورګـډ یږی.

مندوخیل دژوب د وادی په دواړوغاړو میشته دی چی دژوب سیند دهندو-باغ لهغرونه پیل اوشمال ختیځخواته غزیدلـی دی اودسرماغی تورخنګ د ګومل سره یوځای اوجنوب خواته یی مخه کړی ده. دژوب دسیندا وبه اکثره له ځانه سره نورمواد هم لری چی دکوټی اوزراعت له پاره دیری ګټوری دی. هغه ویاله چی دژوب دسیند نه بیله شوی اوښـکته ځـی نو یوی میدانـی سیمـی ته رسیږی چی هلته غنم اونوردول دول غله کرل کیږي. ددغـی ویالـی په دواړو غاړو دمندوخیلو کلی پراته دی. همداراز دغه میدانـی سیمه ښه څړ ځایونه لری اودرمو اوځارویو دپوولونه هم ورنه ګټه اخلی اوپه پورتنی برخه کی یی دپوونده وو دیری کیږ دی ترسترګو کیږی. دژوب دوادی شمالی برخه دسیوناداغ دجنوبی حدله غرنیوسیمو سره پوله لری اودګومل ددری جنوبی غره کی هغه ځای چی د ژوب، بوری او سلیمانغره کی په مینځ کـی پروت دی دبابړو او هرپیال د ښاخونو ځمکـی دی او په ختیځه اوسهیلی برخه کی یـی یوه غیرآباده اوشاړه سیمه موقعیت لری چی دایسوت اوموسـی خیلو ښاخونه خپلی دمی پیایی او ختیځ خواته یـی مخامخ د حسن خیلو اوباخیلو شیرانیوغر موقعیت لری. دژوب ځمکه حاصلخیزه او اکثره د نهر ونو په ذریعه خړوبیږی. د مندو خیلو دود، دستور او کسبو نه هغو کاکړو ته ورته دی چی ددوی په مینځ کی دی اودهغوی په شان سپین ږری، ساده او بی آزاره خلک


(۱) پښتانه دتاریخ په رڼاکی -۱۳۲۲ مخ.

دی. دوی‌هم د کرنـی اومالداری په‌چارو بوخت د ی (۱)

## مندوزی

دوی‌په‌اصل کی خو گیانی‌ دی ، خو په پښتونخوا کی خوست ته‌لیږدیدلی دی اواوس د خوست په لویدیځه برخه کـی او سیږي. لویدیځ ته‌ یی دځدرانو قبیله اوجنوب‌ته‌یی دشمل سیندمو قعیت‌لری‌چی اسمعیل خیل اومندوزي یی سره جلا کړي دي ختیځ خواتـه د اسمعیل خیلو سره‌پوله لري او د شمال خواتـه هم دځدرانو سره گډ سرحد لري. ددوي شمیر (۱۲۰۰) کورنیوته رسیږي . دوي اکثره د کرنـی په‌چارو بوخت دي اودښوونـی اوروزنـی‌سره زیاته‌مینه لري (۲)

مندوزی




## مو سی خیل

دوی غر غښتی پښتا نه دی او د کاکړ و یو عمده ښاخ گڼل کیږی . دکاکړو دغه ښاخ د بوری د تاریخی نا وی د موسی خیلـو په تحصیـل کـی آبا د دی . په کند هار، زابل ،سیو ی او د غز نی په و لایت کـی له د یر ی لرغو نـی زمانی څخه موسی خیل کاکړ آبا د دی ، همدا راز دغزنی ولایت دشلگر په اولسوالی کی‌هم تراوسه پوری زیات شمیر مو سی خیل کاکړ استوگنه لر ی ،

## مو مند

مومند دسربن پـه ټولنیز گروپ کـی یـوه‌دیـره ستره قبیله ده اودوی غوریاخیل

---

(۱)حیات افغانی-۲۴۳ مخ -

(۲) معلومات مختصر در پاره اقوام وقبایل ولا یات سرحدی کشورخ۶۳ مخ.

پښتانه دی . داسی روایت موجود دی چی د غوریاخلو زامن وو چی دولت یار، خلیل، خوکنی او زیرانی نـو میده ل . بیادولت یا ر دوه‌ز امن د رلو دل چی یو مو مند او بل داود نـو میده .

د مو مند و کومه اولاده چی پـه میدانی سیمه کی استو گنه لری هغوی ته کوز مو مند او کوم چی په غرنی سیمه کی آباد دی هغوی ته بر مـومند و ایی، خو په اصل کی دوا ړه یو دی . شمال‌ته یی باجوړ، لویدیځ ته یی د کو نړ سیند، جنوب لویدیځ ته یی دخیبر دره او ختیځ ته یی د پیښـور ضلعه مـو قعیـت لـری.

د اسلا م دین ترخـپریدودمخه دغی سیمی ښه تاریخی اهمیت دراو د . د اسی ویل کیږ ی‌چی اوی کنشکا هم د دی سیمی په شا او خوا کی یوه موده‌اوسیدلی دی اویو شمیر بو د ایی راهبا نوهم دلته ژوند تیر کړی دی .

د اسی عقیده موجوده ده چی دوی په پیل کی د کند ها ر په غوره مرغه کی میشته و و چی ورو سته له هغه ځایـه د غزنی لویدیځ د تر نک غاړوته ولیږ دیدل. با بر پخپل مشهو ر کتاب توز ک بابری کـی چی په (۱۴۵۰)ع کا ل یی کښلی دی د دغی قبیلی د موجو دیت ذکر یی دغزنی په سهیل کـی کـړی دی. څـرنگـه چی ورو سته د دغی‌قبیلی په شمیر کی زیا توا لی راغی نودوی د غزنی نه کابل اوبیاله هغه‌ځایه‌د ننگرهارخواته وخوځیدل اود ننگـرهار نه یی د خیبر پر لاره پیښور اود دوی د استوگنه اوسنی سیمی ته لیږد وکړ(۱). هغه مومند چی په افغانستان کی استوگنه لـری ددوی سیمی دادی:

۱ـ دننگرهار پـه ولایت کـی :

د شینوا رو په لویی‌او لسوالی، په مومند دری، لعل‌پوره، بتی‌کوټ، کامه، گوشته، کوز کونړاودچپرهارپه علاقه داری کی‌استوگنه لری. دننگرهار په‌ولایت کی ددوی‌شمیـر(۱۷۳۶۷۹)تنـه ښـودل شـوی دی (۲)

(۱) حیاتِ افغانی ۳۴۷ مخ.

(۲) معلومات مختصر در باره اقوام وقبایل و لایات سرحدی کشور، ۲۷ـ ۲۸مخونه.

## ۲- د کونړ په ولایت کې :

دوی د کونړ په ولایت کې په اسدآباد، خاص کونړ، سرکانړیو، نورګل او نرنګ کې میشته دي چې په ټول کونړ کې د دوی شمیر (۶۳۵۸) تنه ښودل شوی دی (۱) همدا راز یو شمیر مومند د هرات د ولایت دانجیل په اولسوالی او د غزنی په ولایت کې هم میشته دي. همدا راز یو زیات شمیر مومند په باجوړ کې هم استوګنه لري.

په پاکستان کې دوی د مومندو په ایجنسی کې استوګنه لري د دغې ایجنسی څلور- خواوې دادي: لویدیځ ته یې افغانستان، جنوب ته یې د خیبر ایجنسی، ختیځ ته یې د پیښور او د پرضلعی او شمال ته د باجوړ د ایجنسی سره پوله لري.

ددغې ایجنسی مساحت ۸۸۷ میله مربع دی. همدا راز د خیبر په ایجنسی کې هم یو شمیر مومندا وسیږي چې په دغو دواړو ایجنسیو کې د دوی شمیر (۱۸۸۸۱۲) تنه ښودل شوی (۲) د مومندو مشهور خیلونه دا دي :

| | |
|---|---|
| ۱- خویزی | ۱۰- نظرخیل |
| ۲- حلیم زی (الیم زی) | ۱۱- عیس خیل |
| ۳- اوتمانزی | ۱۲- برهان خیل |
| ٤- بایزی | ۱۳- باره خیل |
| ٥- کوداخیل | ١٤- موسی خیل |
| ٦- کاچی | ۱۵- خوګاخیل |
| ۷- اتمرخیل | ١٦- میرو خیل |
| ۸- ترکزی | ۱۷- بابازی |
| ۹- خواجه زی | |

دمومندو دځینو مشهورو خیلونو داستوګنې ځایونه دادي :

۱- خویزی: دمومندو یو مشهور خیل دی چې ختیځ ته یې ګنداب، لویدیځ ته

(۱) معلومات مختصر درباره اقوام و قبایل ولایات سرحدی کشور (۱۲) مخ .
(۲) اضلاع ایجنسی ها وقبایل ایالت پښتونستان -۱۱۹ مخ .

یی کوداخیل او بابازی او جنوب ته یی د کونړ سین بهیږی . ددی قبیلی څمکی للمی دی. دمشهورو کلیو نو مونه یی دادی : محمد کور، کنګ، سمغا شی ،وچه ژوره ، ملا نهیم کلی ، زناورچینه ،سورابیان او شین ورسک . داسی ویل کیږی چی ددوی شمیر تقریباً شلوزرو تنوته رسیږی .

۲ـ حلیم زی (الیم زی) :

دوی د بایزو په شمال ختیځه برخه کی ، په کمالی دره او ګنداو کی استوګنه لری او په مومندو کی د ډیرنفوذ خاوندان شمیرل کیږی .

۳ـ او تما نزی : ددی قبیلی ختیځ ته دانشکول ، لویدیز ته یی کندهاری ،شمال ته یی ددویزو غرونه او جنوب ته یی کمالی دره موقعیت لری. داتمانزو څمکه اواره ، خاورینه او للمی ده . خلک یی اکثراً د کرکیلی له لاری خپله ګوزاره کوی . دخلکو شمیر یی لسوزره تنوته رسیږی او ددوی لوی کلی په لاندی ډول دی :

یخدند او هاشم کورچی ددوی تول کلی دیخدند په نامه سره یادیږی .

٤ـ بایزی :

داخانګه دمومندو په قبیله کی ډیره مشهوره ده چی دلمرپریواته خواته غرونو کی میشته دی .

٥ـ کو داخیل :

ددی څانګی ختیځ ته خویزی ،لمرپریواته ته یی داتمر خیلو دلنبکر کلی او جنوب ته یی بره دره موقعیت لری. ددی څانګی شمیر تقریباً دیرشوزرو تنوته رسیږی . دانګریزی استعمارسره په غزاګانو هم دوی دمومندوترنورو خیلونو په نسبت زیاته ونډه اخیستی ده او ډیر خلک یی شهیدان شوی دی .

٦ـ کاچی :

دادمومندو یوه څانګه ده چی خلک یی د کابل او پیښورترمینځ دسوداګری دمالونو دحمل اونقل له لاری خپل ژوند تامینوی .

۷- اتمرخیل :

اتمرخیل د جروبی دری په سهیل کی استوګنه لری او پدیخه څنډه یی د دورخیلو سره نښتی. شرق خواته یی بابازی او کودا خیل او شمال ته یی هم بابازی پراته دی، ددی قبیلی شمیر تخمینا شلو زرو تنو ته رسیږی او مشهور کلی یی عبارت دی له تورخیل، خنجر کلی، وتکی، تنی، حاتم کلی، الهکر کلی، قاسم کور، متنه، هرلی او مزری چینه.

۸- ترکزی :

د نورګری څخه چی دالیزو او ترکزو پوله ده تر دانشکول پوری او بیا د دانشکول نه ترمنی پوری په برابر خط پراته دی :

۹- خواجه زی :

د مندوجورا والکی کوهی نه چی د بایزو او خواجه زو پوله ده تر خایښی او اتمرخیلو پوری پراته دی .

۱۰- نظرخیل :

د اتمرخیلو په جنوب کی د نظرخیلو قبیله میشته ده . ددوی ځمکی غرنی دی او خلک یی په مالداری خپله ګوزاره کوی . ددی کلی دادی : ګوز کلی، بر کلی او د ملاخیلو کوز کلی . ددوی د نفوسو شمیر دری زرو تنو ته رسیږی .

۱۱- بابازی :

بابازی د بید منی او شمشاد په دروکی میشته دی . ددوی د سیمی ځمکی للمی دی او غنم او اوربشی یی زراعتی محصولات تشکیلوی . یو شمیر خلک یی د سوداګری چاری هم پر مخ بیایی . همدا راز برانخیل، عثمانخیل او مصاخیل هم د دومنډو مشهوری څانګی دی .

پته دی پاتی نه وی چی یو شمیر و منډ د کونړ د ولایت په پشد، خاص کونړ، د ننګرهار د ولایت په باریکاب، لاچه پور، غازی آباد، کامه، د چپرهار په دولتزو، المه، تریلی، غزو کلی، غورآباد، هډی، باسول او هزارناو، ډکه، لال پوره، ګوشته، ګردی، همدا راز د کونړ په شګه، ارځی او سوروداګ کی هم میشته دی .

همدارازدافغانستان په نورووولایتونو لکه بلخ ، سمنگان ، کندز ، هرات ، کلات او هلمند کی هم یوشمیرمو منداستوگنه‌لری. یوشمیرمومند په‌افغانستان کی دکوچیتوب ژوند هم تیروی .

د مومندو مشهوري دري او داگونه :

(۱) دگنداب دره :

په دی دره کی حایمزی اوسیږی . ددی دری ختیځ ته دکړپی دغونډیو سلسله پرته ده . لویدیځ ته یی د خاپښی غرواقع دی اوجنوب ته یی دکونړ سیند بهیږی . ددی دری اکثره ځمکی للمی دی . ددی دری د خلکو شمیردیرشوزرو تنوته رسیږی اولوی کلی یی دادی : توره تیزه ، شاتی کور ، کټی ، سور داګ ، ظفرغونډی او کته سنګ .

(۲) دپنډیالی دره :

په دی دره کی دترکزی دښاخ د عیسی خیلو او برهان خیلو خانګی استوګنه لری . دا دره لکنډی ته وتلی ده په دی دره کی للمی اوآبی ځمکی هم شته . دخلکو شمیر یی لسوزروتنوته رسیږی اولوی کلی یی د یخډنډ او هاشم کورڅخه عبارت دی.

(۳) کمالی دره.

په دی دره کی د حلیمزی د ښاخ د پوشاخیلو او ابراهیم خیلوخانګی استوګنه لری خلک یی اکثره دبزګری په کارونو بوخت دی او مشهور کلی یی اتوخیل ، غازی بیګ کور او کچلک شاه دی .

٤ـ سرکنډدره :

په‌دی دره کی میتاخیل استوګنه‌لری‌چی‌پښتو ګاخیلوور ګډیږی په‌دی دره کی د کرنی ځمکی لږی‌دی اوخلک یی‌په‌مالداری ګوزاره کوی . ددی ځای خلک دخپلوغرونو لرګی په‌کامه او کونړ کی خرڅوی. ددوی شمیر تقریبا لسو زروتنوته رسیږی‌او

مشهور کلی یې سپین جومات ، نری اوبه، سپین تنگی، باره خان ، څپری ، سربند او بیله دی.

همدارازشونگړی دره، جروبی دره، شالی هولی دره او سلالا دره هم د مومندو دلویو او مشهورو درو له جملې څخه دی .

دد انشکول او یخبند داگ :

په دی داگ کی اتمانزی او ترکزی عیسی خیل استوگنه لری چی ځمکی یې ښې او للمی دی .

بهی داگ :

دا داگ (۲٤) میله اوږدوالی او پنځلس میله پلن والی لری چی په دی داگ کی کوډاخیل ، بابازی او خویزی پراته دی .

دسر کو داگ :

دا داگ دخوگاخیلو او اتمرخیلو دغرونو لمنو څخه راغزیدلی او په د یرش میله اوږدوالی او شل میله پلن والی دگوښتی او خویزو علاقی ته ورغزیدلی پروت دی. په دی داگ کی خوگاخیل ، ماماخیل ، دوړخیل او لزشمیر اتمرخیل میشته دی (۱)

## مهمن زی

مهمنزی دسړبن په ټولنیز گروپ کی شمیرل کیږی او دخرشبون د زوی زمند او لاده گڼله کیږی . ویل کیږی چی دزمند په اولاده کی دممن زی یا مهمنزی ښاخ دشمیر له مخې زیات دی. دغه ښاخ دزمند له پاتی نسل ترونډلو وړاندی دیوسفزیو دقبیلی سره یوځای دارغستان له سیمی نه وشړل شول او ورپسی دیوسفزیوسره یوځای دکابل په نورو پیښو کی شریک وو ،خو کله چی دوی دکابل څخه دننگرهار خواته وکوچیدل نود دوی ترمینځ دیوی لانجی په سبب جگړه پیښه شوه چی په دغی جگړی کی یوسفزی په دوی باندی بریالی شول. مهمنزی ترڅه مودی پوری

(۱) پښتانه لومړی ټوک ۱۲۲ مخ.

په ننګرهار کې اوسیدل. او کله چې د یوسفزیو یومشهور و مشو ملک احمد غو ښتل چې د دلازاکو سره وجنګیږي نو هغه د ننواتې په دول مهمنزیو ته ورغی او مرسته یې وغوښتله مهمنزي هم په دې شرط ورسره یو ځای شول چې د (اشنغر) سیمه دوی ته ورکړل شي لکه چې توسوبې وروسته دغه شرط تر سره او اشنغر و مهمنزیو ته ور کړل شو چې تراوسه هم د دوی په واك کې دی او د دوی مشهور کلي هلته د چارسدې، تنګي نوښهره (نوښار) او پړانګ څخه عبارت دی .(۱)

دوی په عمومي توګه با تعلیمه او متمدن خلك دي. دا ستعماري ضد نهضت مشر او د پښتنو ستر شخصیت خان عبدا لغفا ر خان د مهمنزیو د ا تمان زیو د ښاخ څخه و.

دمهمنز یو مشهور ښاخونه دادي :

۱ ـ الیاس زی

۲ ـ بارك زی

۳ - بټوزی

٤ ـ عمرزی

٥ ـ اتمان زی

٦ ـ تنګي

۷ ـ رڅړ

۸ ـ شیرپاو .(۲)

د حیات افغانی مورخ (۱۲۵) کاله پخوا د دوی شمیر تقریباً (۸۰۰۰) کورني ښودلي دي او دوی د پیښور د ضلعې د چارسدې په تحصیل کې استوګنه لري .

---

(۱) حیات افغاني، ٥٦٠ مخ .

(۲) پښتانه د تاریخ په رڼاکې ۱۲۹۳ مخ شجره .

# میا خیل

دوی لودی پښتانه دی او میاخیلو ته میانخیل هم وایی چی دلوانی یا نوحانی ددویمی څانګی توری زوی و. میاخیل په پخوا زمانو کی ټول پوونده وو او په تجارت او مالداری بوخت وو لکه څرنګه چی ددولت خیلو په برخه کی دامان ته د لوحانی ښاخونو درا تګ څرنګوالی لیکل شوی دی په هماغه ډول دد غه ښاخ خلکو هم دامان ته تګ اوراتګ کاوه او د میاخیلو د استوګنی د مخه په خاص درابن او چوډ هوان کی سروانیوا ستوګنه درلوده. کله چی دکتی خیلو مشرخان زمان دپرانګی قبیله د تاک او دسوری ښاخ له روړی نه وشړل او په تاک باندی دولت خیلو قبضه ټینګه او روړی وران شونوتر هغه څو کاله وروسته دبختیار قبیلی او دسروانیو تر مینځ چی پخوایی په درابن باندی قبضه درلوده د زراعت دمینځه تللو په سبب جګړی وشوی.

دبختیار دقبیلی هغه مالداران چی دمیاخیلو سره په ښه او بده کی شریک وو سروانیو ته ماتی ورکړه او هغه سروانی چی له مرګ نه بچ پاتی شوی وو هغه یی له دی سیمی نه وشړل او بیا یی دمیا خیلو په سلا او مرسته ددرابن په سیمه په ګډه سره قبضه ټینګه کړه او للمی ځمکی یی پرخلورو برخوو ویشلی.

دری برخی میا خیلو ته ورکړل شوی او څلورمه برخه د بختیارولاس ته و رغله او هغه ځمکی یی چی دویالو په ذریعه خړوبیدلی هغه یی هم په خپلو مینځو کی سره وویشلی او له دوارو فاتحو قبیلو نه ځینی خلکو دلته دایمی استوګنه غوره او دکرنی په چارو بوخت شول او ځینو نو روبی په پوونده ډول ژوند غوره کړ او تر او سه پوری په دوارو قبیلو کی دا دلی شته یعنی ځینی یی د ځمکی څښتنان او ځینی یی هم پوونده سوداګردی. دمیاخیلو هیڅ یوه داسی څانګه بښه وی چی خلک دی از زیادیرپه دغو دوو کارونو بوخت نه وی، خوسید خیل او شادی خیل تقریباً ټول په دایمی ډول استوګنه لری او دکرنی په چارو بوخت دی.

دپوونده میاخیلوځینې سوداګر ډیرشتمن دي اوله ټولوپوونده وونـه میاخیلو لومړی ترلیري لیرې ځایونوپورې پـه تجارت اوسوداګرۍ لاس پورې کړچې په دغه برخه کې دوی له بخارا نـه ترکلـکتې پورې مشهوردی (۱)

دحیات افغانی دمؤلف حیات محمدخان په قول دمیاخیلوټول شمیرپه هغه وخت کې دری زره کوره ښودل شوی دی چې دهغوی نه یې ځلورمه برخه بختیارتشکیلوی.

ددغې قبیلې نه تږدي اووه ـ اته سوه کورنې پـه ډیره بندکې استوګنه لرې او نږدې پنځه سوه کورنۍ یې پـه مرغه کې هـم استوګنه لـری (۲) .

## میچـن خیل

دوی اودی پښتانـه دی . میچن خیل دخاکـو اولاده او دنـیازی دقـبیلې پوری اړه لری دده پـه باب داسې ویل کیږی چې یوه ورځ دی پـه داسې حالت کې چې دصحرا خواتـه روان اوتیزتګ یې کاوه او دخدای پـه مینه کې مست و نوکله چې نورو پښتنو دی ولید نودده دتیزۍ او چالاکې پـه نسبت یې ده تـه دمیچن لقب ورکړ میچن پـه پښتوژبـه لاسي ژرنـدی ته وایی له هغې ورځې دده اولاده په میچن خیلو باندی مشهوره شوه چې اوس یې اولاده پـه مجموعی توګه پـه میچن خیلو سره یادیـږي. (۳)

خلک میچن خیلوتـه پـه سپیځلې اودرنـه سترګه ګوري اودرنا وي یې کـوي پـه خطرناکو وختونوکې ددوي کورو نه دخلـکو پناه ځاوي اود ساتنې ځایونه دي .

دمیچن خیلوداکثروخلـکو چال چلند نیک اوغوره دي . شیخ میچن دوه زامـن لرل چې ددوي دنسب شجره دنیازیوسره یوځای ذکرشوې ده ددي قـوم خلک پـه متفرق اوخپراره واره ډول سره استوګنه لری لـکه پـه بنوکې منجاخیل خود دوی زیات شمیرپـه ټهټې میچن خیلوکې چې دکورمی درود شمالي برخې تـه دڅلورو میلوپـه واټن موقعیت لری میشته دی.

---

(۱) حیات افغانی ۲۹۶ - ۲۹۷ مخونه.

(۲) د کابل سلطنت بیان دوهم ټوک ۶۱ مخ .

(۳) حیات افغانی ۸۴۸ - ۸۴۹ مخونه.

دلته دوی په خاص دول باندی دیادونی وړدی دغه قبیله دپاتی نیازیو قبیلی سره گډ اوپه دی سیمه کی میشته شوی دی . هغه وخت چی دسرهنگ، عیسی خیلو اوموشانی ښاخونه دمروتوله خواله دغه ځایه وشړل شول نوتر هغه وروسته دغه فرقه دنقیرتوب او سپینځلتوب له کبله دمروتونه په امن کی پاتی شوه اود پخواپه شان په همدی ځای کی اوسیدل. میچن خیل په افغانستان کی په متفرق دول استوګنه لری . ددوی د(۱۵۷۰) تنوپه شاوخوا کی دننگرهارولایت دسره رود په اولسوالی کی استوگنه لری . (۱) همداراز یو شمیرمیچن خیل د زابل ولایت په کلات کی هم استوگنه لری چی شمیریی د(۳۰۰) تنو په شاوخوا کی ښودل شوی دی .

## میانه

دوی سړبنی پښتانه دی اودغی قبیلی خلك پهمجموعی دول په کوم خاص ځای کی استوگنه نه لری ، بلکی پهخواره واره اوتیت اوپرك دول ژوندکوی . څرنګه چی د دوی شمیردیرلږ دی نوپه افغانستان کی یی نوم چندان شهرت نه لری . ددغی قبیلی څخه دتوغ ښاخ د بنگښو په سیمه اوله پاتی ښاخونو نه یی ځینی دکندهار په شاوخوا کی اوسیږی .


دشکون له اولادی دکتران دځانګی یوشمیردگرانګ په سیمه کی میشته دی. له یوه روایت له مخی حضرت سلیمان چشتی چی مزاریی ددیره غازیخان ضلعی په تونسه نومی ځای کی دی د دغی قبیلی څخه و (۲)

---

[۱) معلومات مختصر در باره اقوام وقبایل ولا یا ت سرحدی کشو ر ۲۸ مخ .

(۲) حیات افغانی ، ۲۵۷ مخ .

د میانه ابن شرخبون ابن سړبن د نسب شجره




## منګل

د نسب د شجرې د لیدلو څخه څرګندیږي چې منګل په اصل کې کرلاني پښتانه دي.

منګل د پکتیا ولایت د مترو قبیلو له جملې څخه شمیرل کیږي. شمال ته یې ځاځي، شمال ختیځ ته یې څمکني او مقبل، او لویدیځ ته یې ځاځي، شمال ختیځ ته یې څمکني او مقبل، لویدیځ ته یې توتاخیل او احمدزي او جنوب ته یې ځدران او دخوست قبایل او ختیځ ته یې سبوری او مقبل پرواته دي (۱)

د څېنو رایتو له مخې دوی تقریباً شپږ اووه سوه کاله د مخه د هغې د قبیلې سره یو یو ځای د بنو په سیمه کې اوسیدل او د شیتکو د غلبې په وجه یې د بنو سیمه پرېښوده او دخوست او کورمې لویدیځو غرنیو سیمو ته راغلل او هلته میشته شول چې تر اوسه پورې هم هماغلته استوګنه لري (۲)

منګل اکثره د کرنې او مالدارۍ په چار و بوخت دي. ددې له پاره چې ځمکې یې لږې دي نو کرنه هم په کې لږه ده. دوی ډیر جنګیالي خلک دي. منګل عموماً د خپل ژوندانه اړتیاوې دلرګو د سوداګرۍ او موټرونو چلولو له لارې تأ مینوي.

منګل د پکتیا ولایت د موسی خیلو او جاني خیلو په اولسوالیو او د قلندر په علاقه داري کې استوګنه لري څو د دوی یو شمیر په سید کرم، ځاځیو، څمکنیو، ځاځي میدان او خوست

(۱) معلومات مختصر در باره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور ۷ مخ .


(۲) حیات افغاني، ۲۶۱ مخ .

په او یه اولسوالی کی هم ژوند کوی .

همدارازد دوی تقریباً (۱۰۰۰) زر کورنی د ډیورنډ کرښی نه پوری خوا په تری منګلو او کوتری منګل کی چی په کورمی ایجنسی پوری مربوط دی میشته دی چی شمیر ئی ۷۰۶۸ تنه دی او د افغانستان د منګلو سره نژدی اړیکی لری.

منګل د کرنی او مالداری نه پرته عموماً د چارتراشو دلرګیو تجارت هم کوی .

دغه راپور له مخی چی په ۱۳۵٤ کال کی د پکتیا د وخت د والی له خوا د پلان وزارت ته ورکړ شوی و د دوی شمیر د پکتیا په ولایت کی (۱۱۹۲۱٤) تنو ته رسیده همدارازد دوی یو زیات شمیر خلك په سعودی عربستان او د خلیج په نورو عربی هیوادونو کی په مزدوریو بوخت دی (۱)




---

(۱) معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل ولایات سرحدی کشور ٤۷ مخ.

# ناصر

دوی ستوزی پښتانه او دغلجي یو ستر ښاخ ګڼل کیږي. دحیات افغانی مولف دناصرو پښتنو په باب داسی لیکی: «ناصر دا ستوګنی کومه بیله او علیحده سیمه نه لري دوی اکثره کوچیان دی. ددوی کډی په پسرلی کی دنوخوا وهوتکو غلجیو په ملک کی شپی او ورځی تیروی او له دغه ځایه دتجارت مالونه کندهار، کابل او نورو ځایونو ته دخرڅلا وله پاره وړی او دخپلو مووږی او پسونه هم خرڅوی او کله چی داوبو کموالی احساس شی نو اکثره یی داوړی په نیمایی کی درمود څروالو دپاره دوښو دپیدا کولو تلاښ کوی ه دمنی دموسم په پیل کی دجرګی په ډول سره راټولیږی او خپلی کیږدی ټولوی اودتودوسیمو یعنی دامان ته چی ددیره اسماعیل- خان په ضلع کی پروت دی روانیږی . په دامان کی هره قبیله ځانته بیل بیل ځای لری چی هلته دوی په ژمی کی استوګنه غوره کوی. د مالواورمودڅروالو په وخت کی په هرځای کی چی ښه څرځا یونه ومومی هلته دخپلو حیوا ناتورمی او ګای بیایی. پوونده ناصر په تجارت او مالداری خپلی ورځی تیروی. هغوی دخپلو میږو له وړیو نه کیږدی، تغر او نور ضروری شیان او بی اوله شیدو نه یی کوچ، پنیر او کرت ترلاسه کوی. په دوی کی دغوایانو، اوښانو او په تیره بیا دپسو نورمی دیری دی. دناصرو کیږدی وړی او سپکی دی. ناصر اکثره رختونی او بی آزاره خلک دی.


قبیلی ویش یی :

دناصرو قبیله په دریو برخو ویشل شوی ده تور ناصر چی عمرزیو ته وایی، سره ناصر چی نسو خیلو ته ویل کیږی او سپین ناصر چی ملی زی دی.

دناصرو ځینی نور مشهور ښاخونه دادی. داود خیل، اتمان خیل او ملی زی چی بیا دغه ښاخونه په نورو فرعی څانګو ویشل شوی دی.

ددوی داستوګنی سیمی :

ناصر په لاندنیو سیمو کی استوګنه لری :




۱ـ دننګرهارپه ولایت کې:

دننګرهارپه ولایت کې ناصرپه حصارك اوبتي کوټ کې استوګنه لري اوپه نوموړي ولایت کې یې شمیر (٦٠٩٦) تنه ښودل شوی دی.

۲ـ دلغمان په ولایت کې:

دلغمان په ولایت کې ناصردقرغیوپه اولسوالي کې استوګنه لري چې شمیریې (۷۱۱۹) ته ښودل شوی دی.

### ۳-دزابل په ولایت کی:

دزابل په ولایت کی هم یوشمیرناصر دشاه جوی په اولسوالی او داتغر په علاقه داری کی استوګنه لری، خوشمیریې دیر محدود او دشپږسوه (۶۰۰) په شا او خوا کی ښودل شوی دی.

### ۴- دپروان په ولایت کی:

یو زیات شمیر ناصر دپروان ولایت په کوهدامن، شکر دری او کاه دره کی هم استوګنه لری چی دوی هلته یوشمیر باغونه هم لری.


## ناغر

که چیری دنسب شجره په غورسره وګورونو څرګنده به شی چی دناغر کوچنی قبیله په غرغښتی‌پښتنوورګډیږی .دوی په لومړی سرکی په دووښاخونو ویشل شوی دی چی بیانوری وړی څانګی ورنه مینځ ته راغلی دی.

د«پښتانه‌دتاریخ‌په رڼا کی» لیکوال دناغروپه باب لیکی: «ناغر یوه وړه قبیله ده چی اوس په کیتهرانوورګډه‌ده (۱) »

دڅیړنوسره سره ددغی قبیلی په باب پوره اوبشپړمعلومات لاس ته نه دی راغلی. نوځکه ویل کیږی چی دا یوه مشهوره قبیله نه ده او کوم ناغرچی موجود دی هغه هم دکاکړوسره ګډ شوی دی (۲)

دناغرابن دانی دنسب شجره




(۱) پښتانه‌دتاریخ په رڼا کی۱۳۲۹مخ. (۲)حیات‌افغانی ۳۷۰ مخ. (۳)نوموړی اثر ۳۲۳ مخ.

# نور زی

نور زی سربنی پښتانه دی چی د درانیو د پنج پای یو ښاخ گڼل کیږی . نورزی هم د بارکزیو په څیرپه شمیر کی ډیر دی او ددوی یوزیات شمیر کوچیان دی . د کوچیانو څخه پرته ډیرشمیر نورزی د کندهارنه ترهراته پوری په بیلابیلو سیمو کی استوگنه لری . دنورزیو ډیره سیمه په فراه اوشین ډند کی ترهراته پوری اوپاتی د کندهارجنوب ته پرته ده .

د هغوی کوچیان په دوبی کی د غور رڅړ ځایونوته چی دسیاه بندپه نامه یادیږی لیږد کوی. په ژمی کی دنیمروز ، هلمند اوفراه د کوچیانوپه نامه سره یادیږی. نورزی ډیرمیلمه پال خلك دی ددوی ځینی خلك په مالداری اود کرنی په چاروهم بوخت دی.

اوس ددوی د استوگنی سیمی اوشمیرپه لاندی ډول ښیو :

## ۱ـ دزابل په ولایت کی :

هغه نورزی چی دزابل په ولایت کی استوگنه لری نو دوی دزابل دمرکزپه کلات ، د میزان په علاقه داری او دترنك اوجلدك په اولسوالی کی استوگنه لری چی په نوموړی ولایت کی یی ټول شمیر (۱۰۸٤) تنه ښودل شوی دی .

## ۲ـ دارزگان په ولایت کی :

نور زیان دارزگان دولایت په لاندینی ځایونو کی استوگنه لری : دزابل په مرکزترین کوټ اودچوره ، خاص اورزگان ، گزاب ، کجران ، شهید حساس اوددهراود په اولسوالیو اودنیش په علاقه داری کی چی په اورزگان کی دد وی ټول شمیر (٦٩٩٨٩) تنو ته رسیږی :

## ۳ـ د کندهارپه ولایت کی :

نورزی په کندهار کی په لاندنیو سیمو کی میشته دی :

د کندهارپه مرکز ، ددا مان ، میوند ، پنجوایی او سپین بولدك په اولسوالیو او دریگ په علاقه داری کی. په کندهار کی ددوی ټول شمیر (٧٦٨٨٨) تنه ښودل شوی دی

همداراز دوی د ارغنداب دسیند پـه خیتځه غاړه په سپیروان نـومی ځای کی هم استوګنه لری .

## ٤ـ د هلمند په ولایت کی :

په دغه ولایت کی نورزی په لاندنیو اولسوالیو کی استوګنه لری : د هلمند په مرکزلښکرګاه ، دناد علی ، موسی کلا ، ګرمسیر ، ناوه بارکزایی ، نوزاداونهرسراج په اولسوالیو اودواشیو اوریګستان په علاقه داریو کی . په دغه ولایت کی ددوی ټول شمیر (٨٤٥٠٧) تـنه ښودل شوی دی .

## ٥ ـ د نیمروز پـه ولایت کی :

په نومورړی ولایت کی دوی دنیمروزدولایت په مرکزاو دخاش رود په علاقه داری کی استوګنه لری چی مجموعی شمیر یی (٨١٨١) تنه دی .

## ٦ـ د فراه په ولایت کی :

نورزی ، دنو موړی ولایت په مرکزد قلعه کاه ، بالابلوك ، بکوا ، ګلستان اواناردری په اولسوالیو اودخاك سفید په علاقه داری کی استوګنه لری . دفراه په ولایت کی ددوی شمیر (٤٩٧٧٤) تنه دی .

## ٧ـ د هرات په ولایت کی :

نورزی دنو موړی ولایت دانجیل ، ګذری ، ګلران ، غوریانو ، کهسان اوادرسکن په اولسوالیو کی میشته دی چی په نوموړی ولایت کی یی شمیر (١٤٨٣٠) تـنه ښودل شوی دی .

همداراز ددوی یوزیات شمیرد باد غیس په ولایت کی د مرغاب اوغورماچ په اولسوالیو کی هم استوګنه لری .

لنډه داچی د افغانستان په لویدیځو او جنوب لویدیځو ولایتونـو کی ددوی شمیر (٤٨٤٤٩٣) تنه اټکل شوی دی .

# نیازی

کمچیری دنیازیو دنسب شجره و گوروونو څرګندېږي چي دوی دمتوزيو په ټولنيز ګروپ کي شمېرل کېږي او دلودي اولاده ده. نیازي دلودي زوی دڅپلو دریو میومنونه دری زامن درلودل یعني: باهي، جمال او څاکو چي پهدوی کي باهي چي دسروانی دلور زوی و دېر پرهيزګاره او باتقوی شخص و. نیازي په پيل کي دغزني په شااوخوا کي اوسيدل. دوی دانـد روغلجيا نود دښمني په وجـه له دغه ځای څخه ليږدو کړ.

په ۱۴۵۱ ع کال چي بهلول لودي په هند کي دپښتنو سلطنت قايم کړ نو ديوه فرمان په ذریعه یې ډېر پښتانه هندته وبلل چي دوی هتله لاړل او په عسکري څانګو کي يې دنده تر سره کوله دوی پر سلطان بهلول لودی باندې ډېر ګـران وو. د سوري شېرشاه دواکمني په وخت کي دوی تهلو ړلو ړ دولتي پوستونه او منصبونه ورکړل شول چي ددوی په جمله کي هيبت خان نيازي او عيسى خان نيازی دډير اقتدار خاوندان ؤ وچي هيبت خان نيازي ته داعظم همايون لقب ورکړل شوی و او دلاهور او پنجاب صوبه اروتا کلي شوی و. پـه هندوستان کـي نيازيـو دومره قـدرت او پـر مخـتګ تـرلا سه کـړان تردی چـي د سليم شاه سوري سره يـي سخته مقابله وکړه چي ددی بغاوت او سرکشي له کبله دوي دتباهي سره مخامخ شول. په افغانستان کي دعيسى خيلو موشانيو او سرهنګ دښاخـونونه پرته دنيازيـو نـور ښاخونه او څانګي دومره مشهوري نه دي او اکثره په خواره واره ډول ژونـد کـوي.

نيازيان دا باسيند په دواړو غاړو د کالا باغ نه تر پنيالي پـوري او د ختيځ و د غـره دشرقي لمني نه ترميانوالي پوري ميشته دي. همداراز د بنګښو دسيمې په توغ نومي ځای کي هم نيازي استوګنه لري. که څه هم دنيازيو ځيني ښاخونه لکه مرهل، کنډي او متيهي په پوونده توب او سوداګري باندي بوخت دي خودشمير له مخي ډير لږ دي. د کنډي له ښاخ نه يوشمير په خوست کـي اوسيږي او د ځمکـو خاوندان دي.


همدا راز يوزيات شمير نيازي دلغمان ولايت د الينګار پـه اولـسوالي کـي دنيازيو په نامه کلي اونوروکليو کي استوګنه لـري چي شميريې هلتـه (۱۵۳۹)

تنه‌ښودل‌شوي‌دي. دغزني ولايت دده‌يک په‌علاقه‌داري کې‌هم يوشمير نيازي‌استوگنه لري. همدارازدزابل په مرکز کلات، دهلمند دنادعلي‌په‌اولسوالي، دلوگرولايت په کلنگار اودکابل په شا اوخوا په تيره بيا په شيو کيو کې هم‌يوشمير نيازي اوسيږي.

دلغمان دالينگار داولسوالي نيازي په لاندنيوکليو کې ميشته دي : اکين آباد، شاآباد، شين گاري، شورآباد، نيازيو، الوخيلو، حاجي کلا، مياخيلو، کلاو، سلينکار، قصبه، تيگور، قلعه‌تک، نيمناني، کوتاخيلو، شيخانوکلااوسنگره کې :

لنډه داچې نيازي دپښتنويوه مشهوره قبيله ده. ددوی دنسب شجره په‌لاندېنۍ جدول کې وگورئ:

دنيازي ابن لودي ابن شاه‌حسين غوري دنسب شجره



# وردگ

دوی په اصل کې کرلاني پښتانه دی . ددغې قبیلې دپیدا ینبت اصلي تاتوبی دسلیمان دغره لړی دبرمل غردی چې له هغه ځایه څخه وروسته دکرلاني توله قبیله خوره شوه او په اوسني سیمه کې میشته شول .

ددوی لویدیځ ته دهزاره جات غرونه او پاتې دریوخواوو ته یې دغلجیو دقبیلې سیمې موقعیت لري.

ددوی سیمه دوادی په دول شمالا او جنوبا اوږده پرته ده اوختیځ او لویدیځ ته یې غرونه موقعیت لري . (۱)

ددوی سیمه دپاراپامیزاد اونوروغرونوترمینځ چې هغه غرونه لوګرله خرواره پیلوی دیوه اوږده ګوګ په دول پرته ده (۲) ختیځ ته غربي په لوګرا و خروار پوري او لویدیځ غربي په هزاره جاتوپوري مربوط دي. هغه سین چې په غلطه دغزني دسین په نامه نومول شوي دي ددوی د ځمکوپه جنوب کې بهیږي او د یری ځمکې خړوبوي هندارازدوردګوشمالي خواوې دلوګردسین په واسطه اوبه کیږي .

تنګی ، شیخ آباد ، سیدآباد ، شنیز ، خوات ، جغتو دامیرداد اوچلک ددوی دسیمې مشهور ځایونه دي.

دسیدآباد ، چلک ، جغتواوداميرداد نه پرته یوشمیر وردګ د کونړ ، هرات ، هلمند ، زابل ، غزني او بغلان پوولایتونوکې هم استوګنه لري هغه وردګ چې په کونړ کې اوسیږي نو ددوی داستوګنې ځایونه اوي ګوریګا ګانشال اوجندول دي . دګانشالیانو مشران وایي چې د دوی اصلي تاتوبی دوردګو سیمه ده او په ختمه مایار دي. تقریباً ۱۷۰ کلونه مخکې یوشمیروردګ د دیرسیمې ته راغلل چې ځیني یې ددیرپه سیمه کې پاتې شول اود یوشمیر یې دجندول ګانشال ته راغلل . د

(۱) حیات محمد خان ، حیات افغاني ، ۶۳۱ - ۶۳۲ مخونه .

(۲) الفنستون ، دکابل سلطنت بیان دوهم توک ۱۴۴ مخ .

گانشال څخه دور دگو ځینې کورونه یوسلو څلویښت کاله پخوا د اسمارد خانې پهدوره کې دانګام ته راغلل. دراتګ نه وروسته دوی، د خانانو سالارزو داولسې ځمکو بزګران شول او بزګری یې کوله. دوخت په تیریدو سره دوی به ګوریګا کې شاړې ځمکې آبادې کړی او ځینې ځمکې یې په نغدو پیسو واخیستلې چې اوس هلته یوشمیر وردګ دخپلو ځمکو او ځینې یې هم دا سالارزو دځمکو بزګری کوی. یـو شمیر وردګ ادعا کوی چې ددوی پلرونه او وه نوی کاله پخوا دامیر عبدالرحمن خان دپاچاهـی په لومړی کال دوردګو له سیمې څخه دلته را وتښتیدل. ددوی پلرونه په ختهمایاردی. دراتـګ نه وروسته داسمارخان دوی ته په ګوریګا کې ځمکې ورکړی او دوی دګـانشالیا نوسره یوځای استوګن شول. دوی دخپلو ځمکو دبزګری چارې پخپله ترسره کوی. په دوی کې مالداری بیخی لږه ده او دسالارزو او ماموندو سره بیخی خلط شوی دی. دژبې دلهجې په ګډون ددوی دژوند ټول اړخونه د سالارزو اوماموندو تر اغیزې لاندې راغلی دی (۱) همدارازدوردګو قبیلې هغه شمیر چې پههرا ت کې استوګنـه لري نودري ځانتـه یـوه محلهلـري چې دوردګانو محله یـې بولـې اودانجیل دولسوالی په اداري واحد پوري مربوطه ده. یوشمیر وردګ د هلمندو لا یت دناد علی او ناوه بارکزایی په اولسوالیو کې هـم میشته دي.

دوردګو دقبیلې یو زیا ت شمیر کورنی دراولپنډي دضلعی په چچ او نتو کـی اوسیږي. دوردګو سیمهډیره شنه، سمسوره او زرخیزه ده، خودمنی موسم یې ډیرلنډ دي. غنی وریجی، غنم اوا وربشی یې غوره حاصلات دي. وردګ ټول دکرکیلی په چارو بوخت اوزیا ر کښ خلک دي. ځینـی خلک یـی دمالـداري پـه چارو هـم بوخت دی. ددوی کلی کوچنـی دی.

د دوی د مشهورو خیلو نونومونه پـه لانـدی دول دی: ممکما یار، میرخیل، نوری، لرم، ګدایی، ملکیارخیل، خورم خیل، ادین خیل، او مصری خیل.

په وردګو کی د میرخیلو ځانګه د شمیرله مخی زیا ته ده چی وریښی دمایارو

---

(۱) دپښتنو ټولنیز - اقتصادی جوړښت ۲۲۷ - ۲۲۸ مخونه.

اونوری ځانګی په شمیرکی زیاتی دی (۱)

حیات افغانی د ترلووردګوشمیرلس زره کوره ښودلی دی (۲)

### د وردګود نسب شجره

وردګ

مملك — معیار یامایار — میرخیل — نوری — لرم — ګدایی

معیار یامایار: ملکیارخیل — خورمخیل — ادینخیل — مصری‌خیل

## وزیر

وزیرپه کرلانیو پښتنوکی یوه ستره قبیله ده . د روایتونولـه مخی دد غـی قبیلی مورث اعلی (لوی نیکه) وزیرنومیده چی د سلیمانزوی اود کرلان لمسی و.

وزیردوه زامن درلودل چی یویی خدری او بل یی لالی نومیدل (۳)

داسی روایتونوموجود دی چی وزیرلومړی د خوست د شوال غره ته نژدی د برمل په سیمه کی د شیتك د اولادی سره یوځای اوسیدل اودخوارلسمی عیسوی پیړی په وروستیو کی دوی د لویدیځ پرخوا و غزیدل اود توچی په قطب دښواو کوهات په سرحدی غرونوکی استوګن شول او په کرارکرارد کـورمی د رودنـه دګومل تردری پوری داستوګنی دیره سیمه یی په خپله قبضه کی راو سته او هلته میشته شول چی ددوی د استوګنی په وجه داسیمه د وزیرستان په نامه مشهوره شوه چی ددغه ځای مساحت (۷۰۰۰) مربع میله دی (۴)

(۱) پښتانه د تاریخ په رڼا کی - ۱۳۷۷ مخ .

(۲) حیات افغانی ۶۳۲ مخ .

(۳) نومړی اثر ۶۳۳ مخ .

(٤) پښتانه د تاریخ په رڼا کی ۱۲۹۱ مخ .

د شجری مطابق د وزیرلومړی زوی خدری دری زامن درلودل یعنی موسی، محمود اومبارك چی موسی یی په درویش سره هم مشهور و. موسی ته له دی کبله ددرویش لقب ورکړی شوی وچی دی یو پرهیزگاره اوزاهد سړی وچی اوس هم دده اولاده دی یه ولوی ولی گڼی او د هغه مزارچی په بومل کی موقعیت لری د خاصه او عاموزیارتگاه ده .

موسی درویش دوه زامن درلودل چی یو یی اتمان نومیده او اولاده یی په مجموعی توگه د اتمان زیوپه نامه سره شهرت لری : د وزیر په خپله ورځنی محاوره کی اتمان زیو او احمد زیو ته درویش خیل یا درویش وزیرهم وایی.

دخدری ددویم زوی (محمود) زوی مسعود (مسید) نومیده چی اولادی ته یی مسعود (مسید) وزیر وایی اودخدری ددریم زوی (مبارك) زوی گوربز نومیدچی اولاده یی تراوسه پوری هم دگوربزو په نامه سره یادیږی او دخوست په سیمه کی استوگنه لری (۱)

وزیر په لومړی سرکی په دوولویو ښاخونو باندی ویشل شوی دی چی داحمد زی وزیرو او اتمانزی وزیرو په نامه سره یادیږی . ددوی سیمه داداری پلوه په دوو واحدونو ویشل شوی ده یو یی شمالی وزیرستان چی اوتمان زی وزیرو کی استوگنه لری اوبل یی جنوب وزیرستان چی احمد زی وزیرپکی میشته دی چی د۱۹۶۱ ع کال دسرشمیرنی له مخی په جنوبی وزیرستان کی داحمدزیو شمیر (۴۲۳۷۴) تنه او په شمالی وزیرستان کی د اتمانزیووزیرو شمیر(۸۹۷۶۳) تنه ښودل شوی و.

همدا رازد بنوپه سیمه کی هم یو شمیر وزیر اوسیږی چی داوتمانزیووزیرو شمیرپکی (۲۴۴۹۹) تنو او داحمدزیووزیروشمیرپکی (۱۵۳۳۹) تنوته رسیږی. ددغو معلوماتو له مخی څرگندیږی چی ددوی مجموعی شمیر د (۱۷۱۹۷۵) تنو په شا او خوا کی دی.

---

(۱) حیات افغانی ۵۰۴ مخ.

اوتمانزی وزیر دافغانستان سره اوزده پوله لری چی دخوست داو یی ولسوالی ځخه دپکتیکا دولایت دبرمل تر علاقـه داری پوری ادامه مومی.

همدارنگه د ۱۳۶۰ کال داحصائیی له مخی دبرمل دعلاقـداری نفوس چی داوتمانزیو وزیرودولی خیلو څانگی پکی میشته دی (۲۰۵۱۸) تنه ښودل شوی دی.(۱)

دوزیرود قبیلی نوی مشهوری څانگی اوخیلونه په لاندی ډول دی :

۱ـ اوتمانزی : داوتمانزیو وزیرو خیلونه په دی ډول دی : کابل خیل ، ولی خیل ، ذلی خیل ، ممیت خیل ، ابراهیم خیل ، مده خیل ، توری خیل ، منظر خیل ، ووزی اخیل ، حسن خیل ، بوره خیل ، خدرخیل اونور.

۲ـ احمدزی وزیر : داحمدزیو وزیرو خیلونه دادی : ذبی خیل ، کالو خیل ، نصرای ، بومی ، شبودی ، سپیرکی ، محمد خیل ، سعدی خیل ، سودان خیل ، سین خیل ، هاتی خیل ، عمرزایی ، سرکی خیل ، بودین خیل ، بیزن خیل ، خوجل خیل ، توزی خیل اونور.

۳ـ مده خیل وزیر : سرکی خیل ، علی خون خیل ، خضرخیل ، لغریاډودی خیل ، توریا بازید خیل ، پایوخیل ، وادین خیل ، نظرخیل ، تخمل خیل ، ادم خیل ، تورسم خیل ، جمیی خیل ، دری پلاری ، مچه ، میرسنی ، عمل خیل ، بوزی خیل ، باشی خیل ، خوشکی تنی ، اخر اونور (۲)

دوزیرو دقبیلی داستوگنی سیمی :

۱ـ دشوال سیمه :

په دی سیمه کی دوزیرو څانگی لکه کابل خیل ، جانی خیل وملکشی استوگنه لری :

۲ـ دشاکی سیمه :

شاکی دغـرونو په مینځ کی یوه اواره سیمه ده چی ملکشی ، میامی ، شادیگی

(۱) اضلاع ، ایجنسی ها وقبایل ایالات پښتونستان ۹۹ مخ .

(۲) نوموړی اثر ، ۱۰۱ ، ۱۱۷ مخونه.

اوخو ناخیل پکی استوگنه لری. سر بیره پردی په د غه ځای کی سدن خیل ، هانی-خیل اوسپیرکی وزیر هم میشته دی .

۳- دبرمل سیمه :

دوزیرو په سیمه کی برمل دیوی وادی په شکل موقعیت لری چی ځمکه یی ډیره اود کر کیلی له پاره ډیره مساعده ده چی پکی کابل خیل و زیر استوګنه لری اووزیر ددوبی په موسم کی خپل مالونه پکی څروی چی دموسی درویش مقبره هم دلته موقعیت لری .

٤- درزملک سیمه :

دایوه کوچنی سیمه ده چی ښه آب وهوا لری . په دی سیمه کی داوتمانزو وزیرود توری خیلو او ممیت خیلو ځانګی استوګنه لری .

٥- دخیسور دره :

داسیمه ددوړ ودعلاقی سویلی برخی ته موقعیت لری . ددی دری په پورتنی برخه کی ممیت خیل ، په منځنی برخه کی یی توری خیل اوپه ښکتنی برخه کی یی ددوړو ځانګی استوګنه لری .

٦- شرنه :

دغه سیمه ددوړولوید ېځ ته پرته ده چی مداخیل ، خدرخیل اوورو کی په کی استوګنه لری .

٧- دشکتو سیمه :

داهم یوه کوچنی دره ده چی په پورتنی برخه کی یی توری خیل او په منځنی برخه کی یی ممید میشته دی (۱)

٨- وانه :

وانه دجنوبی وزیرستان مرکزدی . داسیمه دوزیرودسیمی دسهیلی برخی نه

---

(۱) حیات افغانی ۵۰۶ - ۵۰۷ او۵۰۸- مخونه.

دګومل دری دهغواو چتوغرونولړی ده چی جنوبی برخهیی دګومل تردری پوری رسیږی : وابه دشمال نـه سهیـل خواتـه امتداد لری چی اوږدوالی یـی تـقریباً (۱۵) کروهه دی . دلته یوخوړبهیږی چی دګومل د سیند سره یو ځای کیـږی . دجغرافیوی موقعیت پـه لحاظ دوابه هوا ددوبی پـه موسم کی ډیره ګـرمـه د ه . پـه وابه کی دوتانی چی داو دیو پښتنو یوه څانګه ده استوګنه لری . همدا رنګ پـه نوروبرخوکی یی ذلی خیل او احمدزی استوګنه لری .

۹ـ دبـد رسیمـه :

پـه دی سیمه کی سپیرکی وزیراوشنګی وزیراستوګنه لری چی اوږدوالی یـی تـوکاښی ګرام پوری پنځه کروهـه واټن اوپلن والی یـی تقریباً یومیل دی .

دوزیرو کسبونـه :

پـه پیلکی ددغی قبیلی خلك اکثره دغوایا نواورموپـه ځرولو اودمالګی په سوداګری بوخت ور، خواوس اکثره دکرنی، مالداری او وړیو دځرخلاوله لاری خپله ګوزاره کوی. ددوی دپسونـوورړیاعلی جنسیت لری. همدا رازدوی دوړیو دځرخلاوله درکه ډیره ګټه ترلاسه کـوی .

غرنی وزیرد وزورمی هـم ساتی، خوپه اوارو سیمو کی یـی وزی لـږی دی . دوی داوښانو ګلی هم لری ، پـه تیره بیاهغه کوچیان یی چی دسفراولیږد پـه وخت کی پـه هغوباندی دکوراسباب او کیږدی باروی . دوي کله کله ددغـو اوښانـو څخه دمالګی دسوداګری له پاره هـم استفاده کوی .

ددوی په سیمه کی غنم، جوار، اوربشی‌اوو ریجی کرل کیږی، خـو پـه غرنیو سیمو کی ددوی ځمکی ډیـری لـږې دې ، لـو ځـکه یـی دځمکو حاصل د دوې کلنی ارتیاوې نهشـی پوره کولاې. همدا سبب دې چی په دوې کی ځمـکی په لوړه بیه پلورلـی کیږې. ددوې د اوارو سیمو په ځمکو باندې اکثـره احمد زې وزیر قبضه لرې چی دوې عموماً پهدغو ځمـکو کی غنم اونخود کرې او دمنی په موسم

کې باجرې ترهغې اندازې زياتې دې چې ددوې دخوراك لس چندهته رسيږي اودهغوې دخــر خلاو نه ديره گټه ترلاسه کوې.

## خوراك يې:

دوې په خوړو کې عموماً دغنمو، جوارو اوا وربشو له دوديو او همدارازد پسونو له غوښو څخه ډيره استفاده کوې. ددوې ډير خوندوراوغوره خواړه دادې چې غتې وريجې دڅيرو غوړيو سره يو ځاې پخوې.

د معمولي خوړونه پرته ددوې پـه غرو نـوکې د خـرنجې دو نې ميوه چې دوې يې پورگې بولي اوړه کـوې او اکثره يې دا ور بشو ددو ډې سره گډ وې او بيا يې خوري.

## پوښاك يې:

۱ـ دنارينه وو پـوښا ك:

ددوې نارينه عموماً اوږدې پگړې چې اوږدوالى يې له دريو گزونه تراووگزو پورې رسيږي په سروي او دغه پگړې اکثره نيلي ياتورزنگ لري. د دوې کميسونه چې د بيلا بيلو تو کرانو څخه يې جوړوې چين داره او بـې چينه وي. همدارازدوې يو بل دول پراخه کمیـ ونه چې ددبلو وريښو تو کرا نو څخه يې جوړوې اغـوندې اودوې ورته په خپله سيمه ييزه اصطلاح يتـکو ې وايـې. همداراز دوې ډيرې ښـې شړۍ هم جوړ وې چې ښندې او مخکينې برخـه يـې په ژيړو او سرو وريښمو او سپينو پاندې ښکـلې کړاې شوې وې چې دغه کارددوې دښځو له خوا ترسره کيږي او ددغو شړيو اغوستل په دوې کـې زيات رواج لرې.

۲ـ د ښځو جامې:

دوزيرو ښځې په عمومي ډول تورتيکرى په سروې چې دغه تيکرې د ډبلو تو کرانو څخه وې، خو ځـوانې ښځې چې دوى ورته په خپله ژبه نـيا زمنې ښځې وا يـې اونوى پيغلې هغه تيکرى چې چمې يـې بـولي او سرى ژيـړى اوترړى ليـکې ولرى

په سروی او ښځینه کمیسونه چې دوی یې خت بولي په عمومي توګه په دوه ډوله دي.
لومړی نجلانه خت او دوهم یې ګریوانه خت.

لومړی ډول کمیسونه (ختونه) عموماً د پیغلو نجونو له خوا اغوستل کیږي او د رنګه ټوکرا نو څخه یې جوړوي، د دغه ډول کمیسونو په ټټر باندې خامك دوزي نشته او هم چینداره نه دي. دویم ډول کمیسونه چې د واده شوو ښځو له خوا اغوستل کیږي له سور نیلي یا تور رنګه ټوکرانو څخه یې جوړوي او د دغو کمیسونو ګریوانونه ټټرونه په سرو او یا ژیړو ورېښمو باندې ښکلي شوي دي چې دغه کار اکثره له ښځو له خوا ترسره کیږي. د دغو کمیسونو د ټټر لاندېنۍ برخه تر هغې اندازې پورې چینداره وي چې ټول یو ډول ښکاري، خو د ټټر برخه یې ډیره تنګه وي چې د دغو کمیسونو اوږدوالی د پښو نه تر ښنګرو پورې رسیږي.

د واده شوو ښځو پرتګونه له څو ډوله ټوکرانو نه چې رنګونه یې ژیړ، نیلي او آسماني وي او هغوی ورته په خپله ژبه بیګمي، ژیړ خیش او سور خیش وایي جوړ شوي وي. دغه پرتګونه چین لرونکي او ښکتنۍ برخې یې تنګې وي، خو د زنګنونو نه پورتنۍ برخې یې پراخه وي. هغه وزیر چې په غرونو کې او سیږي او غریب دي د پرتوګ پرځای یو ډول پټۍ د ښنګرونه نیولې تر زنګنو پورې تاووي چې دوی دغو پټیو ته په خپله ژبه وربلي وایي. په وزیرو کې د پیغلو نجونو او واده شوو ښځو ترمینځ دیر ښکاره توپیر په دې کې دی چې پیغلې نجونې یې سپین پرتګونه او ساده بې چینه کمیسونه اغوندي په داسې حال کې چې واده شوې ښځې یې برخلاف اوږده چین لرونکي او ګریوان لرونکي کمیسونه اغوندي.

د وزیرو بڼې او څیرې :

د دغې قبیلې اکثره خلك پیاوړي، قوي او اوږدې ونې لري. دوی ښکلي، ګردې سترګې او پراخې تندې لري او اوږده ویښتان او ځنې پریږدي چې خپل ویښتان د شړشمو په تیلو او ژیړ و غوړ یو غوړوي.

مېلمه پالنه :

داخلك په ډېره مينه او شوق خپلو مېلمنو او دوستانو ته مېلستيا وي او ركوي او كله چې د مېلمنو شمېر تر اتو كسانو زيات وي ورته پسه حلالوي او ددوى مېلمانه په عمومي ډول په درې كېگوريو ويشل كيږي .

۱ ـ دمږه مړى يا ښكره وره مړى :

دوى قدرور مېلمنو ته پسه حلالوي او دوسي په اندازه وريجې ، ډوډۍ ، جوارې ، او اوگره ور سره پخوي او دغه ته دمږه مړى يا ښكره وره وايي .

۲ ـ كونډې مړى :

چې په دې مړي كې چرگان حلالوي .

۳ ـ وچه مړى :

چې وچه تيكله هم ورته وايي ، لنډه داچې ددوى مېلمه پالنه د مېلمه په حيثيت پورې اړه لري يعنې داچې د قدرور مېلمه ته ښه خواړه برابروي . (۱)

## شمالي وزيرستان

دوزيرو قبيلې د پيژندلو پر برخه كې په بده نه وي چې ددوى داستوگنې سيمې هم وپيژنو . دجغرافيوي او اقتصادي پلوه وزيرستان يوه سيمه ده خو د اداري پلوه په دوو برخو ويشله شوې ده چې يو يې شمالي وزيرستان او بل يې جنوبي وزيرستان دى . په وزيرستان كې پنځه عمده قبيلې استوگنه لري : وزير ( احمدزى او اتمان زى ) ، مسيد ( مسعود ) دوړ ، گوربز او بيټني . چې مسيد ، احمدزي وزير او بيټني په جنوبي وزيرستان كې استوگنه لري او بيټني داداري پلوه ډېره اسماعيل خان او بنو پورې مربوط دي . اتمان زى ، وزير ، دوړ او گوربز په شمالي وزيرستان كې اوسيږي .

دپاكستان له خوا دوه تنه پوليټيكل ايجنټان ( Political Agents ) ټاكل شوي دي چې

---

(۱) حيات افغاني ۵۸۲ مخ .

یو دشمالي وزیرستان په میرامشاه اوبل د جنوبي وزیرستان په وانه کي مؤظف دی. دیوه واحد په توگه دوزیرستان څلورخواوی په دی ډول دی: لوېدیځ او شمال لوېدیزته یې دپکتیا اوپکتیکا ولایتونه، شمال اوختیځ ته یې کورمه، ټل، بنواو دیره‌اسماعیل خان اوجنوب ته یې ژوب اودشیرانیو سیمه موقعیت لري:

## دشمالي وزیرستان څلورخواوی:

دشمالي وزیرستان ایجنسي دطول البلد په ۷۰ درجواودعرض البلد په ۳۳ درجوکي موقعیت لري. شمال ته یې دخوست لویه اولسوالي، لوېدیځ ته یې دشوال اوبرمل سیمه، جنوب ته یې جنوبي وزیرستان اوختیځ ته یې دبنو ضلعه موقعیت لري. دشمالي وزیرستان مساحت ۱۸۱۷ مربع میله دی.

دفزیکي اوتوپوگرافي پلوه شمالي وزیرستان په لاندنیوسیموویشلای شو: د توچي، وادی دخیسور وادی، د شکتوی وادی، دشیره تله دښته، دکتي وادی او دکورمي دوادی یوه برخه، دپورتني توچي وادی، ددنـدی دښته، لـکه‌دښته او درزملک دښته. دشمالي وزیرستان مشهورسیندونه توچي، کورمه، کیسوی، خیسور او شکتوی دی اواکثره ځمکې یې دتوچي دسیند په واسطه چې ۶۳ میله اوږدوالی لري خړوبیږي:

شمالي وزیرستان داداری پلوه په شپږواداري واحدونو ویشل شوی دی چې دتحصیل په نامه یادیږي او هغه په دی ډول دی: میرا مشاه، دوسلي، دته خیل، سپین وام، میرعلي او رزملک.

د ۱۹۶۱ ع کال داحصائیې له مخې ددغې ایجنسي شمیر (۱۵۹۳۶۶) تنوته رسیږي چې په سلو کي ۸۲،۸ تنه په پښتوژبه خبری کوي (۱)

## جنوبي وزیرستان:

جنوبي وزیرستان یوه غرنۍ سیمې ده. څلور خواوی یې په لانـدی ډول

---


(۱) اضلاع، ایجنسي ها وقبایل ایا لت پښتونستان ۲۱- ۲۲ او ۲۳ مخونه.

دی: شمالي ته یې شمالي وزیرستان، لویدیځ ته یې دپکتیکا ولایت اوجنوب ته یې ددیره اسماعیل خان ضلعه موقعیت لري. دجنوبي وزیرستان مساحت ۲۵۵۶ مربع میله دی :

سیندونه یې دلویدیځ نه ختیځ ته بهیږي اودسلیمان دغرونو دلړۍ نه راوتلي او دسند په ددریاب کی توئیږي . مشهور سیندونه یې گومل او تانك زام دی . دجنوبي وزیرستان نور سیندونه خیسور، شکتوی، سپلي توی، وانه توی، شوره، شنگي او شاهوردی :

دجنوبي وزیرستان عمده قبیلې مسید او احمدزی وزیر دی په ۱۹۶۱ ع کال کی د دوی شمیر ۲۳۵۴۴۲ تنه ښودل شوی دی (۱)

د وزیرود نسب شجره




(۱) اضلاع، ایجنسی ها و قبایل ایالت پښتونستان ۲۵- ۲۶ مخونه.

(۲) پښتانه دتاریخ په رڼاکی ۳۶۳ مخ .

## هریپال

هریپال سړبني پښتانه دی او په شیرا نیوورگ‌ډیږي. دکیپ یاکپ زی ښاخ چې د ودم‌اولاده ده‌هم په هریپال‌ورگډیږي اودوی دغرنیوسیمو ترخنګ دګومل ددری سهیلی ته دوانیه په سیمه کی پراته دی . ددوی رواجونه، عنعنات اودوداودستور کټ مټ دشیرانیو په شان دی (۱)

هری یوه هندی کلمه ده چې دښښتن، بادار، خاوندا وخدای په معنا استعمالیږی ددوی یوشمیر په ژوب هم استوگنه لری (۲)

## هزاربز

دوی په‌اصل کی سړبني پښتانه‌دی او په مومندو پوری مربوط یوښاخ‌دی :
اکثریت شمیر یې د ننګرهاردولایت دروداتوپه اولسوالی پوری مربوط په‌څینوکلیو کې استوگنه لری. ددوی یوزیات‌شمیر په کابل کی‌دمیرویس میدان او‌خوشحال‌خان مینې‌په‌سیمو کی‌استوگنه‌لری‌چې‌زیات‌شتمن‌اودسوداگری‌په‌چارو بوخت‌دی(۳).ددوی شمیرد۱۳٦۰ کال‌داحصائیی‌له‌مخې‌د(۳۱۱۰) تنو په‌شااوخوا کې‌ښودل‌شوی دی(٤)

## همړ

لکه چې دستوریانی په مبحث کی هم راغلی دی ستوری چې په ستوریانی‌سره مشهورو پنځه زامن درلودل چې تری، شیخی، مربری اوامرا نـو میدل چې ددوی هلووروارواولادی ته په مجموعی‌توګه‌ګنډاپوروایی .

دستوری پنځم زوی چې همړنـومیده دده اولاده دستوریانی په نـامـه سره یادیږی . همړدری زامن درلودل چې‌مشا ،چرمش اواهدونومیدل .

---

(۱) حیات افغانی ۲۵٦ مخ .

(۲) پښتو او پښتانه په سهیلی پښتونخواکی ٤۷۰ مخ.

(۳) ماد هزار بوزو دسپین زیرو اومشرانو سره ددوی په باب همدو مره معلومات ترلاسه کړل (لیکوال)

(٤) معلومات مختصر در باره اقوام و قبایل و لا یات سرحدی کشور ۱۰ مخ .

دوی دبابړو دقبیلې په سهیل کې پراته دي چې یوشمیریې په اوا روسیه او یو شمیریې په غرنیو سیمو کې استوګنه لري. ددوی سهیل ته کسرانی بلوڅان او لویدیځ ته یې دامرزیو قبیله استوګنه لري . د دوی لوی کلي امکئ، پیور کوی، وچه کوی، منګلي او ګنډی دي . دوی په پیل کې د مالداری په چارو بوخت او پرونده وو . چیرته به یې چې کوم ښه څرځای ولید نو هلته به یې خپله ګوزاره کوله . ډیره موده نه ده تیره شوې چې دوی خپله اوسنۍ سیمه له بلوڅونه تر لاسه کړې وه . دوی ددامان دتوخو او سیدو نکو قبیلو دښاخونو نه وروسته میدان ته راغللي او وروسته یې دبابړو دسیمې شمالي برخې هم دتوري په زور په خپلو حدودو کې شاملې کړې، دوی به په ژمي کې په همدغه میدان کې او سیدل او په دوبي کې به د موسی خیلو کاکړ و غره ته تلل ، خو په پای کې د دوی ترمنځ یو لړ شخړې رامینځ ته شوې په پای کې هم مجبور شول چې نیمایي خلک یې خپلې رمې او ځاروی خرځ او د کرنې په چارو بوخت شول ، خو په دوی کې دوش زی ښاخ دپخوا په څیر په پورنده بوخت دی (۱)

دوی دمنې په موسم کې په خپلو مځکو کې با جرۍ او په پسرلي کې غنم کري په حقیقت کې ددوی مځکه دکرنې له پاره چندان مساعده نه ده .

دوی دشمیر له پلوه لږدي او په او وعمده برخو ویشل شوی دي چې احمدزی اوګدارزی نومیږي . دوی ددیره اسماعیل خان په ضلعه کې پراته دي (۲) او د شوروی اتحاددیوه عالم ستانیشفسکي داتنوګرافیکو معلوماتو له مخې چې د ۲۰ پیړی په پیل کې ښودلی دی ددوی شمیر د(۳۵) زروتنو په شاوخوا کې ښودل شوی دی.

## هني

ویل کیږي چې دهني قبیله هم دکرلانې قبیلې یوه څانګه او هني د منګلو ورور و. څرنګه چې دبنو په تاریخ کې راغلي دي دهنی قبیله په بنو کې له منګلو سره

(۱) حیات افغانی ۲۸ - ۲۹ مخونه.
(۲) اضلاع ، ایجنسی ها وقبایل ایالت پښتونستان ۹۷ مخ .

یوځای اوسیده چې تراوسه پورې په دغه ملک کې دهغې منګلو په نامه شهرت لري. دشیتک اولاره چې بنوزي (بنوځي) دي او دبنوسیمه اوس ددوي په لاس کې ده تقریباً (۶۰۰) کاله وراندې یې هغې او منګل له دغې سیمې څخه و شړل چې په دغه وخت کې یوشمیرهغې هندوستان ته لاړل او یوشمیریې دمنګلو دقبیلې په لوبد یځ غره کې میشته شول (۱)

اوس دهغې دقبیلې مشهوره څانګه زومخت، زومښت یازویمشت د ی چې په کو رمه کې د سپین غره ختیځ لور ته په غرونو کې آباده او دغه څانګه بیا په نورو څانګولکه: خویدادخیل، هوتې زي، (واتي زي)، منتوال، منډان او دولت زي باندې ویشل شوي ده.

تاریخ حیات افغانې ددغې قبیلې دوسله والو کسانو شمیر (۹۰۰۰) تنه ښودلې دی. دوی لور قلونه لري اومضبوط خلک دي. اکثره خلک یې په کرکیله او د شیانو په خرڅولو بوخت دي. ځینې خلک یې د بهادر خیلو له کان نه مالګه استخراجوي اوګټې ترلاسه کوي.

په دوي کې کورني دښمنې هم موجودې دي، خود چاسره سخته بهرنې دښمني نه لري. دوي په یوه غرنې سیمه کې ژوند کوي اوسني مذهبه او دسمل په ګوندي کې شامل دي. د۱۹۶۱ ع کال دسرشمیرنې له مخې ددوي شمیر (۳۰۷۰۶) تنه ښودل شوی دی (۲)

---

(۱) حیات افغانی ۶۳۰- او ۶۳۰ مخونه.

(۲) اضلاع، ایجنسی ها و قبایل ایالت پښتونستان - ۹۰ مخ.

## دهـنی دنسب شجـره

دولت | بوغـری | زومخت | خـوسـت | اودن

زومښت

بازویمشت

خویداد خیل | هوتی زی یاواتی زی | منتوال | منـډان | دولتزی

## هـوتـک

هوتک بابا چې د(٦٦١ — ٧٤٠ ﻫ ق )پـوری یې ژونـدکاوه دباروزوی دتولریاتوران ګلمسی اودغلجي کروسی دی چې پـه (٦٦١ ﻫ ) کال کې پـه اتغر کې زیږیدلی دی. څرنګه چې هوتک یوروحانی شخصیت ونو ځکه خلـکو هغه تهپه درنـه سترګه کتل اودډیرعزت اوحترام پـه سبب یې هغه تـه دبابا لقب ورکـړ چې پـه وروسته کې پـه هـوتک باباسره مشهورشـو .

دغلجیوپـه قبیله کې دهوتکوښاخ له دې کبله پـه لومړی سرکې شمیرل کیږی چې دغلجیانو پاچا له دغه ښاخ نه راوتلی و . دهوتکو ښاخ پخواد شمیرله مخې ډیرزیات و ، خود غلجیودسلطنت دانتقال اوزوال په وخت کې ددوی په شمیر کې لزوالی راغی .

څرنګه چې هوتک بابایوبزرګوار انسان ونو ځکه ده داتغر(*) اوسپوری مشری هـم په غاړه درلوده اودملی مشرپـه نامه یاد یده .کلـه چې مغولـود ارغنداب ددریاب پرغاړه پراتغراواولان باندی تیری وکړنو هوتک بابادملی مدافعینو په څنګ کې ولاړاود یوباتجربـه قوماندن پـه توګه یې دافغانی قـواووسوق اواداره کو له. هغه دیرغلـګروقواوو په ضد سختی جګـړی وکړی، پـه تیره بیا پـه هغه جګـړه

---

(*)اتغر مرکب دی د(اته)او(غر)نه یعنی اته غرونه اوداهغه ځای نوم دی چې دکلات په سهیل ختیزکې موقعیت لری چې دهوتکواوتوخوداستوګنی ځایونه دی. (لیکوال)

چې د هوتکو او مغولو ترمنځ سور طره نـه نـږدې پېښه شوه د هغـه وخت د شدېدو جنګونو په جمـله کې شمېـرل کـېږي :

هوتك بابا تر هغه وروسته چې تېـرې کوونکو نه یې درانـده تلفات وارول او هغوی یې د خپل ملك نه وشړل نو په خپلې قبیلې کې یې ډېر شهرت پیدا کړ او د هغه اولاده په هوتکیانو سره مشهوره شوه .

کله چې هوتك بابا په (۷٤۰ هـ ق) کې له دې نړۍ نه سترګې پټې کړې نو تر هغه وروسته د هغه (۲۵) کلن زوی ملکیار د قوم مشری په غاړه واخیسته . ملکیار بابا ډېر زړور او جنګیالی سړی و . کله یې چې د قوم مشري په خپله غاړه واخیسته نو سمدستي د ځمکو د آبادولو او کرنې چارو ته متوجه شو دده په وخت کې ډېرې شاړې ځمکې آبادې او ډېر کاریزونه وکیندل شول تر څو چې تېرې کوونکي د ملکیار ددې اقدام له کبله په ویره کې شول او تر ټولو ړومبی دهند مغولانو دده د زراعتي پالیسي او پرمختـتګ د فلجولو په لاره کې لوی خنـډونه ایجاد او په ناڅاپي ډول یې پر سیوري باندې حمله وکړه او د ملکیار سره یې سختې جګړې وکړې . که څه هم په پیل کې پښتنو ددې ناڅاپي یرغل له کبله ډېر ځاني او مالي زیانونه او تلفات ولیدل او ډېرې کورنۍ یې له د غه ځایه ژوب ، مرغه اووازې خواته وکوچېدلې ، خو سره له دې هم پر یرغلګرو باندې بریالي او دوی یې له سیوري نه وشړل . (۱)

په دې باب چې ملـکیار څو کاله دقوم مشري په غاړه درلوده او په کومه نېټه وفات شوی صحیح او ثقه معلومات په لاس کې نه لرو . بارتولد د هوتکو د عروج په باب لیکي :

« د ۱۸ پېړۍ په لومړي سر کې پښتنو په فارس کې د صفویانو دولت له لویدلو او په هند کې د مغولو د ستړې واکمنې لـه نړیـدونـه استفاده وکـړه او هماغسې چې غوري غزنـي ( لـه غـور نـه ) پـه دولسمه پېړۍ کې اوچت شوي وو او بـوه لوېه ستره واکمني یې جوړه کړې وه بیالوری پولې ته ورسیدل (۲)

(۱) هوتکي ها ۳- ٤- او ۵ مخونه .

(۲) کابل مجله ، ۱۳۳۸ کال ۳ ګـڼه ٤۱ مخ .

په ۱۷۰۹ کال میرویس نیکه د غلجیانو (غلجیانو) مشر پر کندهار برشو او خبره یې دی حد ته ور سوله چې د ده زوی محمود شاه په ۱۷۲۲ ع کال کې ایران و نیوا و د ایران تولواك هم شو نادرشاه چې د غلجیانو له اهمیت نه خبرو د هغوی د ماتوله هڅه یې کړه او هم یې دابدالي پښتنو مشران په خپلو لښکرو کې سرلښکران کړل. احمد د ابدالیانو مشرله هماغه وخته هڅه په کندهار کې پایتخت ونیوا و افغانی خپلواك د ولت یې جوړ کړ. »

ایرانی نادرشاه د کندهار تر نیولو وروسته د هوتکو د ښاخ پنځلس سوه کورنی ایران، ترکستان او هندوستان ته تبعید کړي چې له هغوی له جملې نه یو شمیر یې په بخارا، مازندران او د ایران په اردبیل کې میشته دي.

دافغانستان په څینو ولایتونو کې دوی په لاندې دول میشته دي:

## ۱ - د زابل په ولایت کې:

د زابل په مرکز د کلات په ښار، د شاه جوی او شینکی په اولسوالیو او د میزان او اتغر په علاقه داریو کې چې په ټول زابل کې د دوی شمیر د (۱۶۱۲۶) تنو په شا او خوا کې ښودل شوی دی (۱)

## ۲ - د کندهار په ولایت کې:

یو شمیر هوتك د کندهار په مرکز کې هم استوګنه لري چې شمیر یې د (۲۰۰۰) تنو په شا او خوا کې ښودل شوی دی.

## ۳ - د غزنی په ولایت کې:

دغزنی ولایت د جغتو د اولسوالی د رشیدانو په نامه دره کې زیات شمیر هوتك استوګنه لري چې شمیر یې دا توزرو تنو په شا او خوا کې ښودل شوی دی. (۲)

---

(۱) معلومات مختصر در باره اقوام و قبایل سرحدی کشور ۸۹ مخ.

(۲) د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځی د استاد ښاغلی پوهنمل خالق رشید څخه په غزنی کې د هوتکو په باب معلومات.

## ٤- د نیمروز په ولایت کې:

د نیمروز د ولایت په مرکز زرنج او د کنګ په اولسوالۍ کې یوزیات شمیر هوتک استوګنه لري چې په نوموړي ولایت کې د دوی مجموعي شمیر (٦٣٩٣) تنه ښودل شوي دي. هوتک د زابل په ولایت کې عموماً په مرغه، بادین، دسورغره په دواړو خواوو او د مقر په سهیلي برخو کې د توخو سره یوځای میشته دي او په عمومي ډول د کرني او سود اګرۍ په چارو بوخت دي:


د هوتکو ښاخونه په لاندې ډول دي:

بابزی، ملیزی، لغزی، عمرزی، رمیزی، اکازی، بابوزی، شیرزی، اسحاق‌زی، باوخیل، شریف‌خیل، خردی‌خیل، ملوی‌خیل، اتل‌خیل، شاکم خیل، مندیزخیل، ادی زی او کوندی زی (١)

همدا را زیوشمیر هوتک د لغمان ولایت د قرغیو په اولسوالي کې هم استوګنه لري چې شمیر یې چندان ډیر نه دی: د هوتکو څو کورني د کابل د خرخي پلـه پـه شاا و خوا کې هم استوګنه لري.

(١) معلومات مختصر در باره اقوام و قبایل ولایات سرحدی کشور ٩٠ مخ.

## د هوتک ابن هارو دنسب شجره




(۱)

## هو د

د حیات افغانی په تاریخ کی د لوانیو دنسب په شجره کی دهو د ذکر شوی دی . دا یوه مشهوره قبیله ته ده او نه یی نوم چندان شهرت لری.

(۱) حیات افغانی ۲۵۷ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مندړ او یوسفزی، خونن وروخ مندړ هم د یوسفزیو په نامه سره یادیږی. یوسفزی عموماً په سوات، پیښور، ملکنډ، مردان او هزاره کی میشته دی.

خرنګه چی د نسب په شجره کی راغلی دی خرشبون د سړبن زوی و. خرشبون دری زامن درلودل چی کند، زمند او کاسی نومیدل.


کند دوه زامن درلودل چی یو غری نومید چی دهغه اولاده د غوریاخیلو په نامه سره یادیږی دوهم یی یی خښی، شخی یاخاښی وچی یوسفزی هغه په پښتو ژبه د خوخی په نامه یادوی.

داخون درویزه په قول چی په دغه قبیله کی یی ډیر ژوند کړی دی داسی ویل کیږی چی د شخی یاخاښی لومړنی میرمن مرجانه نومیده او مند او مکک یی زامن وو.

داخون درویزه د وینا سره سم مند دوه زامن درلودل. دیوه نوم یوسف وچی اولادی ته یی یوسفزی وایی دویم عمر نومیده چی اولاده یی په مندړو سره شهرت لری.

داسی ویل کیږی چی یوسف پنځه زامن درلودل چی عیسی، موسی، مالی، اکو او اوریا نومیدل. دعیسی یوولس زامن وو. داسی ویل کیږی چی یوځل مغولو د وی ځاروی بیولی وو او عیسی د خپلو زامنو په ملګرتیا مغول تعقیب کړل چی نه ومو ری دخپلو نهو وارو زامنو سره د مغولو سره په جګړه کی وو- ژل شو. پاتی دوه زامن یی چی ژوندی پاتی وو یو یی حسن نومیده چی اولاده یی دحسن زیو په نامه سره یادیږی دویم یی یعقوب نومید چی نسل یی په یعقوب زیو شهرت لری. پته دی پاتی نه وی چی د عیسی یو زوی دده تر مړینی وروسته هم زیږیدلی و چی اکا نومید او اولاده یی په اکازیو سره شهرت لری: دعیسی د دری وارو زامنو اولاده د تورغره نه نیولی دمهابن ترغرونو پوری میشته دی او اکازی د اباسین په ختیځو غاړه او مداخیل د اباسیند په لویدیځه غاړه آباد دی.

دیوسف دوو زامنو اولاده موسی او مالی اولاده په بونیر کی آباد دی.


يوسفزى
يوسف
مندر
حسن زى
ملاخيل
الياس زى
دولت زى
اكوزى
چغرزى
كمال زى
اتمانزى
بايجى زى
خولجوزى
رانى زى
ماليزى
سلطانخيل
نظرالدين خيل
پايندهخيل
اكازى
كنازى
على زى
ابا خيل
عمرخيل
ميراحمدخيل
خدوخيل
مانى زى
ملك زى
اكوخيل
خضرزى
محمودزى

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا راز د یوسف د پښتو زامنو په جمله کې اوریا له دې کبله په (بادي) سره مشهور و چې دی دیر کبرجن انسان واو دده اولاده د بادي خیلو په نامه سره یادیږي.
داسې روایت موجود دی چې کله اوریا د خپلو ورونو سره پلرني جایداد ویشه نو موریې هم دخپلې برخې غوښتنه وکړه چې په دغه وخت کې ده خپلې مورته ښکنځلې وکړې او د هغې سپکاوی یې وکړ. چې موریې هم ورته ښیراوې وکړې او دهغه د ښیراوو د قبلیدو له کبله دده اولاده دیره نه شوه او په څرزو کې شامل دي.

د یوسف د پنځم زوی نوم اکو و چې اولاده یې په کوز او برسوات، دبراو پنجکوړې کې میشته دي. اکوزي بیا په دوو څانګو ویشل کیږي چې یو یې خواجو زي او بل یې رانیزي دي چې رانیزي هم په او وڅانګو ویشل شوي دي: سم رانیزي او بر رانیزي، سم رانیزي د مقبوضه سیمو نه د ملکنډ تر غرو او پورې آباد دي بر رانیزي د ملکنډ نه پورته میشته دي :

یوسفزي اکثره د کرنې په چارو بوخت دي. ځینې یې د سوداګرۍ چارې هم سرته رسوي.

## د یوسفزیو لومړنی استوګنځی :

داسې ویل کیږي چې د یوسفزیو لومړنی استوګنځی غوره مرغې وه چې اوغستا ن ته نږدې د سو رغره او غندا ن تر منځ موقعیت لري. حیات محمدخان په خپل مشهور اثر حیات افغاني کې لیکي : د مرغه نه مقصد چمن او دغوره نه مقصد آباد او شین دی چې د دواړو کلمو معنی (شین چمن )دی همدا رنګه یودول غرنیو ونو ته هم غوره وایي او دغه بوټي ښایي دمرغه په نامه په کوم ځای کې راشین شوي وي او دنو موړې بوټي د زیاتوالي په سبب دغه ځای په غوره مرغه نومول شوی وي.

کله چې پښتنو د کندهار شا او خواسیمې سره وویشلې نو د نورو برخه د کند او ځمند یعنې د خانې خیلو او غوریا خیلو تر منځ و رسیدله. د غه وجه وه چې په ښه بدله کې به د کند او ځمند اولاد ه یو له بل سره مرسته نه

شوه کولای . د آبادی په وجه، د خاښي خيلو قبيله چې يوسفزي او مندړ يې ښاخونه دي د غوريا خيلو په پرتله تر يڼو ته نژدې دي او د هغوی برخه دارغستان ويا له يا نهر و چې هغه ويا له تر يڼو ته نژدې وه او د هغې ويالې په سر د خښې او تر يڼو تر منځ شخړې را مېنځ ته شوې چې په نتيجه کې د هغه شخړې د وينو په تو يو او باندې بدلې شوې. په دغه جګړو کې تر ين د خاښي خيلو په قبيلې باندې بريالي تو ب تر لاسه کړ چې ځيني خښي و وژل شول او پاتې يې له ملکه وشړل . دز منداو غوريا خيلو څخه هېڅوک ددوی ملاتړ ته را او نه رسيدل ، په پای کې د خښې قبيلې خپل و رور غوريا خيل ته پناه وروړه او هغوی دوی ته يوه تو ته خرابه ځمکه ورکړه. ويل کېږي چې د کندهار په ځمکو کې د پسرلي په موسم کې د زياتو اورښتونو په سبب ډول ډول واښه زرغونېږي او داوړي په موسم کې د ګرمۍ په پيل سره دغه واښه وچيږي او توييږي او په دغو ښو باندې ټول کال حيوانات ګوزاره کوي او خوري يې. کله چې داورښت په موسم کې زيات باران نه وشي نو سيلاب دغه واښه له ځانه سره وړي اورمې او مالونه له سختيو سره مخامخ کېږي له بده مرغه په هغه کال هم داورښت د زياتوالي له کبله دغوريا خيلو مالونه او رمې له سختې سره مخامخ شول نو په دغه وخت کې دوی بې همتي وکړه او هغه ځمکه يې چې خښيو ته ورېخښلې وه په زور يې له دغې قبيلې څخه واخيسته او دغه قبيله له هغه ځای څخه هم وشړل شوه او په ګارا اونوشکي کې ميشته شوه. دغه ځای چې دشت لوط ته نږدې دی د بلوچستان شمال ته پروت دی . د لوط دښته يوه لويه مالګينه دښته ده چې اوس يو بلوڅ خان پرې قبضه لري.

لنډه دا چې په هغه وخت کې يوسفزي يا مندړ چې د خاښي د قبيلې يو ښاخ دی دوګړ وشميريې ډېر لږو. څه موده وروسته يعنې د خوارلسمې عيسوی پېړۍ په پيل کې چې له هغه وخت نه تقريباً شپږ اووه سوه کاله تيرېږي دغه قبيله د ګارا او نوشکي څخه د کابل په لور وخوځيده. د ترکلانيو او ګګيانيو نه پرته چې هغه هم د کرلاني

یا کړ راني یوښاخ دی د تراك او ګومل دری له لارې را روان او په دغه قبیله کې ورګډ شول. دمهن زیو قبیله چې دزمنده له نسل څخه ده هغه هم دزمندله پاتې قبیلې څخه ناراضه او دیوسفزیو سره د کابل په لور روانه شوه او کله چې ددغه ځای شاو خوا ته راورسیده نو په دغه ځای کې یې استوګنه غوره کړه او دابوسعید دزوی مرزا الغ بیګ سره یې د تخت دنیولو په وخت کې ډیره مرسته وکړه او د دوی په مرسته تیموریو د کابل په تخت کښېنا ست .

مرزا الغ بیګ په پیل کې په دغه قبیلې ډیر مهربان وا وکله چې ددغې قبیلې په شمیر او شتو کې زیاتوالی راغی نو دکبر له کبله یې د مرزا الغ بیګ حکومت ته اهمیت نه ورکاوه او سرکښي او بغاوتونو ته یې ملاوتړله . مرزا الغ بیګ چې په دغه وخت کې یې قوت او نفوذ زیات شوی و د دوی دا کارونه ونه شو لای زغملای نو ځکه یې د هغوی دله منځه وړلو له پاره په یو لړ اقداماتو پیل وکړ په دغه دول یې دیوسفزیو او ګګیانیو ترمنځ بې اتفاقي واچوله او وروسته یې د ګګیانیو او خپل پوځ په ذریعه پر دوی حمله وکړه. له دوی څخه یې ځوتنه ووژل او پاتې یې د کابل په غرونو او درو کې خواره واره شول . په دغه وخت کې په تیموري قبیله کې دری تنه شیخان موجود وو چې دوه یې سره ورونه وو چې یو یې مراد او بل یې مدد نومیده او د یوسفزیو قبیلې د عیسی زي مناخ څخه و دریم یې شیخ عثمان وو چې ملي زی و. یوسفزیو له دغو دریو تنو څخه یې د ولیکر دمشرو تاکه او د مرزا الغ بیګ او ګګیانیو سره یې په جګړې لا س پوری کړ . مرزا الغ بیګ سخته ماتې وخوړه. له دغه بریالیتوب څخه وروسته یوسفزی زیات یاغي او خپل سري شول.

مرزا الغ بیګ د سولې نه پرته بله چاره ونه لیدله. ده څو تنه سري یوسفزیو ته واستول. د دوی ملکان یې راوغوښتل او دهغوی یې ډیر عزت وکړ. یوسفزی د مرزا الغ بیګ په دغه چل وانه وغو لیدل او هره ورځ به یې له ده سره تګ او راتګ کاوه. یوه ورځ مرزا الغ بیګ د یوسفزیو اته سوه تنه مشران په داسې حال

کی چی تول یې بې وسلې وو پرته له یوه تن نه چې د چغرزي د بناخ څخه و او د محمدزي محمود نومیده له ځان سره په پټه یوه چاره راوړې وه میلمانه کړل کله چې محمود د مرزاالغ بیگ بد نیتي ولیدله نوخپلو ملگروته یې وویل که ستاسې خوښه وي نو زه به مرزاالغ بیگ ووژنم خو تولو ملگرو یې دی له دغه کاره څخه منع کړاوورته یې وویل چې باید د نملك حق اداکړې شي او دی له موږ سره بدونه کړي .

د جنگنامه نامه یو تن چې گنگیاني و او د یوسفزیو سره یې دښمني درلوده د کابل پاچا مرزاالغ بیگ ته داسې مشوره ورکړه چې په دوه مره زیات شمیر کسان په یوه ځای کې بې وسلې لاس ته راتلای نه شي باید وخت غنیمت وبولو او تول ووژل شي چې مرزاالغ بیگ هم نوموړی مشوره ومنله او تول یې ونیول . پرته له یوه تن نه چې ملك احمد نومیده او د مقتولو ملکانو دوروستي غوښتنې په سبب بچ پاتې شو نور تول یې ووژل .

ملك احمد ډیر ځوانمرده او دلوړ همت خاوند و . د دغو اتو سو وتنو ملکانو تر وژنې کیدو وروسته پاتې یوسفزي او خشي د کابل د شاه او خواله په ډیر بې وزلې حالت وشړل شول او د ننگرهار خواته وکوچیدل . د ترکلانې بناخ په لغمان یالمغان کې میشته شول . څه موده وروسته د یوسفزیو او احمدزیو ترمینځ اختلاف پیداشو او حصارك ته نژدې دد وارو قبیلو ترمینځ سخته جگړه رامنځ ته شوه . په پای کې یوسفزي په دوی باندې بریالي شول . تر دغې جگړې وروسته یوسفزي او مندړهم د پیښور خواته وخوځیدل او د خیبر درې له لارې دغه ځای ته ورداخل شول .

په هغه وخت کې د پیښور ښار له نن څخه ډیر تو پیر دراود . هغه قبیلې چې اوس هلته میشته دي په هغه وخت کې په لویدیځ افغانستان کې اوسیدلې او د پیښور میدان او اواره سیمه او ورسره تړلې نورې سیمې دیوه داسې قوم تر سلطې لاندې شوې چې اوس هیڅ هلته نشته او شړل شوي دي . د ترکلانې قبیله چې پخوا په لغمان کې اوسیده اوس د باجوړ په سیمه قبضه لري .

کله چې یوسفزي د پېښور ختیځ خوا ته سیمو ته را ورسیدل نو د سفید سنګ په نوم یو ځای ته راغلل او ملکانو یې د جرګې په ډول د دلازاکو له قبیلې څخه د خپلې ګوزارې له پاره ځمکه وغوښته چې نوموړې قبیلې د سخاوت له مخې یوه ټوټه ځمکه دوی ته ورکړه . کله چې نوموړې قبیله په ځمکه کې میشته شوه نو د شلماني قبیلې څخه یې داو بوغوښتنه وکړه او کله چې هغوی داو بوله ورکولو نه ډډه وکړه نو دهغوی سره یې په دښمنۍ لاس پورې کړ .

یوسفزي دوا بې ته راغلل او هلته میشته شول او په دغه ځای کې یې د شلماني له قبیلې سره چې په پخوا وختو نو کې یې په اشنغر باندې سلطه ټینګه کړې وه د جګړې له پاره تیارې ونیو . په دغه جګړه کې د شلماني قبیله له اشنغر څخه وشړل شوه چې دغه شړل شوي خلک د سوات خوا ته ولیږدیدل .

د سوات واکمن دوی ته دالاډهنډ په سیمه کې داوسیدو له پاره ځای ورکړ . دیوسفزي ـ و قبیلې ته داشنغر نه پرته د باجوړ د سیمې هغه برخه هم په لاس ورغله چې د دلازاکو پورې متعلقه ده . په دغه وخت کې دیوسفزیو او دلازاکو ترمنځ دښمني پیل شوه . که څه هم د دغه دښمنۍ اصلي علت د ځمکې دنیولو له کبله وخو ښکاره علت یې آخون درویزه داسې لیکلي دی : «په هغه وخت کې دلازاک دمیرۀ لنګرکوټ په سیمه کې میشته وو او یوسفزي په دغه وخت کې په اشنغر کې پراته وو ، خوځرنګه چې دلازاک دمیره لنګرکوټ ځړځایونه ونیول نو دیوسفزیو رمې او مالونه دغو ځړځایونو ته تلل او دغه مالونه به ددلازاکو په واسطه لوټیدل او هم کله به چې دیوسفزیو نه کوم تن د سوات د ګرې له پاره ددوی سیمې ته تګ او راتګ کاوه هغه به یې خوراوه . لنډه دا چې دوی نل ددلازاکو له لاسه په تنګ و او ملک احمدخان چې په دغه وخت کې دیوسفزیو او مندړو د قبیلې مشرو داسې پریکړه وکړه چې بایده ټول دخانې خیلو په مرسته د دښمنۍ قبیلې سره په جګړه لاس پورې کړ . دمهمن زیو قبیلې سره له دې چې دیوسفزیو سره یې دښمني درلوده په دغه وخت کې له یوسفزیو سره

يوځاي شوه. پهدغهوخت کي ملك احمد دوي ته پهننواتي ور غي اوهغوي هم له يوسفزيوسره مرسته ضروري وګڼله ګګياڼي هم لهدوي سره يوځاي شول او اتمان خيل لادپيل نهلهدوي سره يوځاي و. دتر کلانيو نه پرته نور ټول خښي، مهمن زي، اواو تمانخيل هم سره يوځاي شول او ددلازاکو جګړي ته يي ملاوتړله . لهبلي خوا دلازاك چي پخپلو ميړ و باندي مغر ور وو په جګړي پيل وکړ چي دعيسي دلګيدو په سبب زيات شمير خښي ووژل شول په پاي کي ددوار وتر منځ دتو رو په ذريعه ديره کلکه جګړه وشوه او کله چي ددلازا کو دقبيلي مشر دزنګي زوي ووژل شو نو په دغه وخت کي دلازاك له ميدانه وتښتيدل او دکابل يا لندي سين نه قطب خواته د دوي ټول ملك يوسفز يو لاس ته ورغي . ددوي مقصد دتر لاسه کولو وروسته دوي په دي فکر کي شول چي سوات هم ونيسي اوددوي دمشرانو ملك احمد او شيخ ملي په اجازه ټو لو قبايلو په دي اتفاق وکړ چي دسوات په لوري وخوځيږي اودشاه کوټ دري ته نږدي خپله اردوګاه جوړه کړي . دسوات خلك پههغه دري باندي راټول شول او لا ره يي بنده کړه. لندهدا چي دوي په تدريجي ډول ددولسو کالو په موده کي ټول سوات ونيوه او د تالاش وادي هم ددوي لاس ته ورغله. کله چي سلطان اويس سواتي په ځان کي دمقابلي کولو توان ونه ليدنو دسوات نه دکافرستان په لور روان شو او هلته يي ديوه نوي دولت بنسټ کيښود. »

هغه وخت چي يوسفزيو د سوات سيمه ونيو له نو بيا شيخ ملي نو موړي علاقه په دوي باندي وويشله په دي ډول چي اشنغر يي مهمن زيو تـه ور کړ. ددي لهپاره چي دوي په ننګرهار کي ديوسفزيو دجګړي پـه وخت کي چي ددلازاکو سره يـي کړي وه ديوسفزيو سره مرسته کړي وه دوابه يي ګګيانيوته ور کړه چي تر او سه پوري هم هلته استو ګنه لري. پاتي ملك يوسفزيو او مند ړوته پري ښودل شو. که څههم د شيخ ملي دويش وخت معلوم نه دي خو داسي اټکل کيږي چي د(۱۵۲۰ع) په شاوو خوا کي په ترسره شوي وي .

## دیو سفزیو مشهوری څانگې :

حسن زی، مداخیل، اکازی، الیاسزی، چغرزی، نورزی، اکوزی، خواجوزی، باچی زی، رانیزی، مالیزی، سطان خیل، نصرالدین خیل او پاینده خیل.

## داستوگنې سیمې او شمیریې :

### ۱- ددیر په ضلعه کې :

ددیر په ضلعه کې دیوسفزیو بیلا بیلې څانگې لکه: پاینده خیل، نصرالدین خیل، سلطان خیل او عیسی خیل استوگنه لري چې په نوموړې ضلعه کې یې شمیر د ۱۹۶۱ ع کال د سرشمیرنې له مخې (۲۵۹۶۹۶) تنه ښودل شوی دی .

### ۲- دملاکنډ په ایجنسی کې :

په ملاکنډ کې دیوسفزیو شمیر (۵۸٦٤۲) تنو ته رسیږي .

### ۳- په سوات کې :

په سوات کې د یوسفزیو شمیر (۶۲۶۹۹) تنه ښودل شوی دی .

### ٤- د پیښور په ضلعه کې :

دپیښور په ضلعه کې دیوسفزیو شمیر (۱۱۷۱۸۳) تنه ښودل شوی دی .

لنډه دا چې په سوات، پیښور، ملاکنډ، مردان او هزاره کې د دوی مجموعي شمیر(۱۲۸۷۹۶) تنو ته رسیږي .

دپورتنیو سیمو څخه پرته یوشمیر یوسفزي د افغانستان د کونړ، ننگرهار کندز، لوگر او د کابل په ریشخورو کې هم استوگنه لري. په ننگرهار کې یوسفزي د کامې په اولسوالۍ کې استوگنه لري چې شمیر یې د(۱۶۳۱) تنو په شااو خوا کې ښودل شوی دی .

همدا راز یوشمیر یوسفزي دهند په فرخ آباد، بهوپال، کرنال، رام پور، روهیلکنډ، بریلي، نگینه او کشمیر کې هم میشته دي .

# نتیجه گیری

دپښتني قبیلو داتنوګرافی په باب دغه لیکنه چې دالفبا په ترتیب سره ستاسو مخې ته پرته ده زما دد وه کلنو علمي هلوځلو اوڅېړ نو نتیجه ده. ماددغه اثر په څیړنه کې هڅه کړې ده چې پښتني قبیلې، ددوی ښاخونه، څانګې اوخیلونه، ددوی داستوګنې سیمې، دنسب شجرې، ددوی شمېر ،دتسمیې وجه اوهمداراز ددوی ددودونو په باب څه ناڅه معلومات وړاندې کړم، خوله کومه خوا څرنګه چې ددغه کتاب په سریزه کې ما ښودلې دی چې دغه څیړنه اکثره په کتابي او کتابتوني څیړنو ولاړه ده او ماله بده مرغه دمساعد وشرایط دنشتوالي له کبله ونه شول کولای چې په دغه برخه کې ساحوی څیړنه اوریسرچ وکړم چې البته دساحوی ریسرچ او څیړنې په صورت کې به داکار نور هم ښه شوی وای ځکه په دی دی برخه کې ساحوی څیړنه شوی وای کیدای شو ډیر هغه موضوعات چې دلته زما په څیړنه کې پاتې دي رابرسیره اوپه ډاګه شوی به وای .

زه بشپړه عقیده لرم که چیرې په راتلونکې کې داډول اتنوګرافیکي څیړنه ترسره کیږي په حتمي توګه دی دساحوی څیړنو امکانات او زمینې برابرې شي خو زما په کار بانـدې یو څـه نور معلـو مات هم ورزیات شوی وی، خو سره له دې هم زه دپښتني قبیلو په باب له دغې څیړنې څخه لاندې نتیجه ګیری کوم او خپل پیشنهادونه هم وړاندې زیاتوم:

۱ ـ که څه هم په دغـه لیکنه کې د ځینو قبیلـو ددود ونو اوددوی دکلتور په باب څه ناڅه لیکل شوی دی خو څرنګه چې داکار زما په پروژه پوری اړه نه درلوده نوهغه مې په لنډه توګه بیان کړی دی که په راتلونکې کې داډول څیړنې

ترسره کېږي نو بیا به نه وي چې کلتوري برخې يې هم په بشپړه توګه وڅېړل شي که څه هم پښتانه په مجموع کې که د پښتنو په هر ترانسيز ګروپ او دلي پورې اړه ولري ډېر ورته دودونه، ترخونه او ځلي لري چې بنسټ يې پر پښتونولۍ اېښودل شوي دي، خو دغه دودونه او ترخونه کله کله په بېلا بېلا پښتنې قبيلو کې سره توپير اري.

۲- زما په عقيده که چېرې په راتلونکي وخت کې داسې څېړنې ترسره کېږي نو دهغو قبيلو په باب چې اتنوګرافيکي څېړنې کېږي ددوی د استوګنې دسيمو او نورو کلتوري برخو نقشو او عکسونو ته هم اړتيا ليدله کېږي.

۳- که چېرې په دغه برخه کې دراتلونکو څېړنو له پاره د هر ولايت په سطحه چې هلته پښتانه اوسېږي يو يو تن با صلاحيته او مجرب محقق وټاکل شي نو دا کار به ډېره ګټوره نتيجه ولري.

٤- که چېرې په راتلونکي کې د پښتو څېړنو د بين المللي مرکز په سطحه دقبايلو او کوچيانو د څېړلو په مقصد جلا جلا د يپارتمنتونه جوړ او په دغه برخه کې تکړه او پياوړي کسان چې په دغه برخه کې د تحقيقاتو او څېړنو توان ولري وټاکل شي نو په راتلونکي کې به په دغه برخه کې زموږ هغه نيمګړ تياوې ليرې شي چې موږ ورسره لاس او ګريوان يو.

٥- همداراز د پښتنو داتنوګرافۍ په برخه کې بايد د پښتو څېړنو دبين المللي مرکز هغه شمېر غړوته چې په دغه ساحه کې پلټنې او تحقيقات کوي دتکړه او مجربو کسانو ترلار ښوونې لاندې علمي کورسونه دا ير او جوړ شي څو زموږ محققين ترڅېړنو دمخه داتنوګرافۍ په باب علمي پانګه ولري.

په هرحال زه پای کې دخپلې دغې څېړنې څخه دانتيجه ترلاسه کولای شم چې زما دغه اثر چې د پښتني قبيلو دپيژندلو په باب لومړنی منظم اثردی نوي ګټې به نه وي او دهغو کسانو په وښتنو ته په ځواب ورکړای شي چې په دا راز تحقيقاتو بوخت دي.

# مأخذونه او منابع


۱ـ الفنستون، مونټ ستوارټ، دکابل سلطنت بیان، دوهم ټوک، ددوکتور محمد حسن کاکړ ژباړه، دپښتو څیړنو بین المللی مرکز، دآریانا مطبعه ۱۳۶۱ هـ . کابل .

۲ـ بانډه وال، حسن گل، دپښتنی خیلونو قاموس، دپښتو څیړنو بین المللی مرکز ۱۳۶۵ هـ کابل، (ناچاپ) .

۳ـ بړیڅی، حافظ الملک نواب حافظ رحمت خان، خلاصة الانساب(پېښور اکیډیمی) پبلک آرټ پرس، ۱۹۷۳ ع کابل .

٤ـ بینوا، عبدالروف، هوتکی‌ها، کابل، دولتی مطبعه (۱۳۳۵) هـ کابل .

٥ـ بینوا، عبدالروف، د افغانستان نومیالی، لومړی ټوک، داطلاعاتو او کلتور وزارت، دولتی مطبعه ۱۳۵۳ هـ . کابل .

٦ـ بینوا، عبدالروف، پښتونستان، کابل عمومی مطبعه، ۱۳۳۰ هـ کابل .

۷ـ پښتانه کوچیان، دپښتو څیړنو بین المللی مرکز، کابل، دولتی مطبعه ۱۳۶۰ هـ . کابل

۸ـ پیرمعظم شاه، تواریخ حافظ رحمت خانی پېښور : پښتو اکیډیمی، پېښور یونیورسټی، پبلک آرټ پرس، ۱۹۷۱ هـ . کابل .

۹ـ حبیبی، عبدالحی، دپښتو ادبیاتو تاریخ، لومړی ټوک، کابل : دولتی مطبعه ۱۳۲٥ هـ . کابل .

۱۰ـ حبیبی، عبدالحی، دپښتو ادابیاتو تاریخ، دوهم ټوک، کابل، دولتی مطبعه ۱۳٤۲ هـ . کابل .

۱۱ـ حبیبی، عبدالحی، پنجاه مقاله، داجتماعی علومو مرکز، کابل : دولتی مطبعه، ۱۳۶۲ هـ . کابل .

۱۲- ختک، افضل‌خان، تاریخ مرصع، (پونیورسیتی بک ایجنسی) ۱۹۸٤ ع کال.

۱۳- حلمی، محمدولی، دغزنی‌تاریخی جغرافیا، داجتماعی علوموم‌رکز، کابل دولتی مطبعه، ۱۳٦۲هـ . کال.

۱٤ - دافغان یاد، دمقالومجموعه، دهیواد مل په زیار، دکابل پوهنتون، ۱۳٦۰ هـ . کال

۱۵ - دامیر کروړ یاد، د مقالومجموعه، دهیوادمل په زیار، دژبواوادبیاتومرکز کابل ،دولتی مطبعه ۱۳٦٤ هـ . کال

۱٦ - دپښتنوتولنیز ـ اقتصادی جوړښت، دجلات خان حکمتی په ادیټ او سریزه ،دپښتوځیړنوبین المللی مرکز۱۳٦۲ هـ . کال

۱۷ - دراحت یاد، دمقالومجموعه، دهیواد مل په زیار،دکابل پوهنتون دژبواواد بیاتوپوهنځی ،۱۳٦٤ هـ . کال

۱۸- دروېزه، اخون، تذکرة، الابرار والاشرار، پېښور، ادارهٔ اشاعت‌سرحد ۱۹٦۰ ع کال:

۱۹- دوړ، شیررحمن، (اضلاع، ایجنسی هاوقبایل ایالت پښتونستان) کابل: دقومونو اوقبایلوچارو وزارت ۱۳٦٤ هـ . کال.

۲۰- دوړ، شیررحمن، معلومات مختصردربارهٔاقوام‌وقبایل‌ولایات‌سرحدی کشور، کابل : دقومونو او قبایلو چارو وزارت، ۱۳٦۳ هـ . کال.

۲۱- رشاد، عبدالشکور دخمکنیومیاعمر، داجتماعی علومو مرکز دافغانستان دعلوموا کادمی، کابل: دولتی مطبعه۱۳٦۵ هـ کال.

۲۲- رشاد، عبدالشکور، لودی پښتانه، پښتوټولنه، کابل: (۱۳۳٦)هـ . کال.

۲۳-ساد، خیرمحمد، لرغونی آریائیان، دپښتوځیړنوبین‌المللی‌مرکز، ۱۳٦۳ هـ کال.

۲٤- سیال کاکړ، ولی محمد خان، پښتواو پښتانه په سهیلی پښتونخوا کی، کویټه۱۹۷٦ ع کال.

۲۵- شینواری، دوست محمد، د افغانستان ژبی اوتوکمونه، پښتوټولنه

(کابل : ۱۳۵٤ هـ .)

۲٦- شینواری ، دوست ، د جرگی مجلی د دریم کال ۱۱- ۱۲- او ۱٤ گڼې :

۲۷- ظفر ، کاکا خیل ، سید بهادرشاه ، پښتانه د تاریخ په رڼا کې ، (پېښور یو- نیورسیټي بك ایجنسي ) ۱۹٦۲ ع کال .

۲۸- عطایی ، محمد ابراهیم ، د پښتنی قبیلو اصطلاحی قاموس ، د پښتو ټولنې د بین المللی مرکز دولتی مطبعه ۱۳۵۸ هـ . کال .

۲۹- عطایی ، محمد ابرهیم ، خیل او ویش ، د اجتماعی علوموعلمی او تحقیقی مرکز د افغانستان د علوموا کاډمي ، کابل ۱۳٦۰ هـ . کال .

۳۰- غبار ، میرغلام محمد ، افغانستان درمسیرتاریخ ، کابل : دولتي مطبعه ۱۳٤٦ هـ . کال :

۳۱- قاضی عطاءالله خان ، د پښتنو تاریخ ، اومړی ټوك ، کابل ۱۳۵٦ هـ . کال .

۳۲- کامل ، دوست محمد ، خوشحال خان ختك ، اداره اشاعت سرحد ، پېښور ۱۹۵۱ ع کال .

۳۳- گنداپور ، شیر محمدخان ، تواریخ خورشید جهان ، (لاهور : ۱۸٦۷ ع ) کال .

۳٤- محمدحیات خان ، حیات افغانی ، پښتو ژباړه ، دفرهادظریفی او عبداللطیف طالبی ، کابل : د قومونو او قبایلو چارو وزارت ۱۳٦۲ هـ کال :

۳۵- ناغر ، زردارخان ، صولت افغانی ، کانپور ، ۱۸۷٦ ع . کال .

۳٦- هروی ، نعمت الله ، مخزن افغانی یاتاریخ خان جهانی ، ډهاکه ، ۱۹٦۰ ع کال .

۳۷- هیوادمل ، د محمد هوتك ژوند او مزار ، دبایزید روښان پوهنتون ، د لوړو او مسلکی تحصیلاتو مطبعه ۱۳٦۲ هـ . کال .

۳۸- یوری ، گانکوفسکی ، د درانیانو امپراتوری ، د پوهنوال دوکتور گل محمد نورزی ژباړه ، پښتو ټولنه ۱۳۵۷ هـ . کال .

39· H·J· Roverty' Notes On Afghanistan and Baluchistan' London' 1880·

40· Bellew: The Races Of Afghanistan, Delhi' 1980 ·


41· Kandra and Bawas The History Of Muslim Rule In India, Jullunder Bhambri Printing Press 1976·

42· The Dictionary Of Patan Tribes' Army Headquarter Culcutta' 1910.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دې اثر دليکوال نور آثار په لاندې ډول دي:

## الف : چاپ شوي آثار:



د کتاب ليکوال

۱ـ (دخوشحال خان ختک په نامه اثر ترجمه) چې دافغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا د آريانا په مطبعه کې چاپ شوی دی.

۲ـ (دداود تاريخ ترجمه) چې د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا د آريانا په مطبعه کې چاپ شوی دی.

۳ـ حيات افغاني (دښاغلي ظريفي سره ګډه او مشترکه ترجمه) چې د سرحدونو چارو وزارت "د نشراتو او فرهنګي چارو رياست له خوا د آريانا په مطبعه کې په دريو ټوکونو کې چاپ شوی دی.

٤ـ پښتني قبيلې چې همدا اوسنی اثر دی او د علومو اکاډمۍ له خوا د ښوونې او روزنې په مطبعه کې چاپ شوی دی.

## ب . نا چاپ آثار.

۵ـ حيات حافظ رحمت خان، چاپ ته چمتو دی.

۶ـ شيرشاه او د هغه زمانه (دښاغلي ظريفي سره ګډه ترجمه) د چاپ له پاره چمتو دی.

۷ـ سکهان او د دوی مذهبي لارښوونکي (ناچاپ)

هغه آثارچې د ټولنې کتاب دلیکوال له خوا اهتمام شوي دي، دادي:

۱ـ ارغوني آريائيان.

۲ـ د پښتنو ټولنيزـ اقتصادي جوړښت .

۳ـ خوشحال خان ختټک اوده ادبي مکتب .

٤ـ تورکمې مرغلوری .

٥ـ د ساحوی ریسرچ د ستونزواو پرابلمونود مقالومجموعه .

٦ـ خوشحال خان ختټک .

۷ـ داودی تاریخ .

۸ـ د ادب د تیوری اساسونه .

۹ـ سوالنامه

۱۰ـ امیر کروړاو رچند پښتو شاعران .

۱۱ـ د ننګرهار کرنیزه جغرافیه .

۱۲ـ د اقتصادی سیاست په رڼا کی د ټولنیزـ اقتصادی پرمختیا پلان جوړونه.

PROPERTY OF ACKU

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Pashtun Tribes

## (paṣtaní qabilé)

by

Abdul Latif Talebi

Afghanistan Academy of Sciences
International Centre for Pashto Studies
Kabul, 1991

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**